بسم الله الرحمن الرحيم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکري پوهنه

شپږم چاپ

- فکري جګړه
- پردي معيارونه
- ډيموکراسي کفر ده، که اسلام؟
- امريکايي اسلام
- معاصر فکري ارتداد
- د کابل مسيحي پوهنتون

ليکوال: مولوي عبد الهادي (مجاهد)

Download from: aghalibrary.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم : فکري پوهنه

لیکوال : مولوي عبدالهادي (مجاهد)

کمپوزر : (حقمل)

دچاپ کال : ۱۳۹۶ هـ ش (۲۰۱۷م)

چاپ وار: شپږم

دچاپ شمېر: (۲۲۰۰) ټوکه

د ترلاسه کولو پته: د افغانستان او پښتونخوا ټولې مشهورې کتابخانې

د چاپ او هر ډول نشر حقوق يې له مؤلف سره خوندي دي.

Download from: aghalibrary.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهداء!

دا کتاب هغو مېړنيو زلميو ته اهداء کوم چې په لږه تجربه او کمو وسائلو، خو په قوي ايمان او د الله تعالی پر ذات په محض توکل يې د صليب د لښکرو رسېدلي پاخه جنرالان د پوځي جګړې په ډګر کې په ګونډو کړل، خو د فکري جګړې ډګر يې لا په مخکې هماغسې نافتحه شوی پاتې دی.

عبد الهادي (مجاهد)

Download from: aghalibrary.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

اهداء... ۴
فهرست.. ۵
د دریېم چاپ په اړه یادونه ۱۳
د دوهم چاپ سریزه... ۱۵
د لومړي چاپ سریزه.. ۲۰
فکري جګړه.. ۲۴
ولې فکري جګړه؟.. ۲۵
د فکري جګړې تعریف ۲۶
د فکري جګړې وسائل.. ۲۷
د فکري جګړې تاریخ ۲۸
د فکري جګړې اهداف ۳۶
اول هدف- په مسلمانانو کې دغرب په مقابل کې د مقاومت روحیه له منځه وړل: ۳۶
دوهم هدف- مسلمانان داسلام په دین، تمدن او انساني ارزښتونو شکمن کول:... ۳۷
دریم هدف- غربي ټولنو ته دریښتني او مکمل اسلام درسېدو مخنیوی:... ۳۸
څلورم هدف- د اسلامي نړۍ لپاره جعلي او دپردیو په لاس جوړ شوي قیادتونه رامنځته کول:... ۴۱
د فکري جګړې خطر ۴۴
د فکري او عسکري جګړې ترمنځ توپیرونه................................... ۴۵
عسکري جګړه ښکاره، خو فکري جګړه پټه روانه وي:.................... ۴۵

Download from: aghalibrary.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عسکري جګړه کې مقابل لوري هم عسکري وي، خو په فکري جګړه کې مقابل لوری بې دفاع ولسي خلک وي: ۴۶
عسکري جګړه زمکه اشغالوي، خو فکري جګړه عقل، فکر او فرهنګ اشغالوي: ۴۷
عسکري جګړه جنګي وسائل او ودانۍ له منځه وړي، خو فکري جګړه ایمان، عقیده، عزم او اراده له منځه وړي : ۴۹
د عسکري جګړې د وراني بیاودانول لږ وخت غواړي، خو د فکري جګړې د وراني بیا ودانول پیړۍ غواړي : ۵۰
فکري جګړه د علامه اقبال (رح) له نظره ۵۱
د فکري جګړې مخنیوی ۵۶
اول تدبیر:دحکومت دچارو واګې تر لاسه کول: ۵۸
دوهم تدبیر: دتعلیمي نصابونو اصلاح: ۶۱
د دنیاوي تعلیمي نصاب اصلاح: ۶۱
د دیني زده کړو د نصاب اصلاح: ۶۲
دریيم تدبیر:مساجد د فکري جګړې د مقاومت په سنګرونو بدلول: . ۶۴
د دعوت د احساس نشتوالی: ۶۵
د امامت لپاره دنااهلیت ستونزه: ۶۶
پردي معیارونه ۷۰
د مسمانانو د بیرته پاتېوالي اصلي عوامل ۷۱
د حاکمیت ډګر: ۷۲
شاهي حکومتونه: ۷۳
کودتائي حکومتونه: ۷۴
پوځي حکومتونه: ۷۵
جمهوري او انتخابي حکومتونه: ۷۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعلیم ډګر: ۷۹
د تقنین او نظام ډګر: ۸۳
پوځي او امنیتي ډګر: ۸۶
اعلامي ډګر: ۹۰
چاپي اعلام: ۹۰
صوتي اعلام: ۹۱
تصویري د (لیدلو) اعلام: ۹۱
د ټولنیز ژوند او فرهنګ ډګر: ۹۴
ډیموکراسي کفر ده، که اسلام؟ ۹۸
د ډیموکراسۍ په بهانه د ولسونو تسخیرول ۹۹
لومړۍ برخه- د ډیموکراسۍ معرفي ۱۰۲
د ډیموکراسۍ تعریف: ۱۰۲
د ډیموکراسۍ فکري بنسټ ۱۰۳
د ډیموکراسۍ اصول ۱۰۶
د سیادت (اعلی حاکمیت) اصل ۱۰۶
د سیادت تعریف: ۱۰۶
په ډیموکراسۍ کې د تنفیذي قوې (حکومت) خصوصیات ۱۰۸
دحقوقو او آزادیو اصل ۱۰۹
د عقیدې آزادي: ۱۰۹
د نظر او رأئې آزادي : ۱۱۰
شخصي آزادي: ۱۱۰
د بیان او تبلیغ آزادي : ۱۱۱
د مسکن حق : ۱۱۱
د ملکیت حق: ۱۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کار حق او آزادي : ۱۱۱
د زده کړې او علم حق : ۱۱۲
په هرڅه کې دنارینه ؤ او ښځینه ؤ د مساوات : ۱۱۲
سیاسي پلورا لیزم.. ۱۱۲
دینی پلورا لیزم:.. ۱۱۳
دوهمه برخه – د ډیموکراسۍ مناقشه.. ۱۱۴
ډیموکراسي ولې کفر دی؟.. ۱۱۴
د ډیموکراسۍ دتکفیر د لائل.. ۱۱۶
د سیادت یا (اعلی حاکمیت) موضوع : ۱۱۶
د حاکمیت آیتونه.. ۱۱۷
دولس د ارادې د تقدس موضوع.. ۱۲۱
د اکثریت درأیې دمعیاریت موضوع.. ۱۲۳
د قانون مصدر عقل دی که شرع ؟.. ۱۲۵
آیا یواځې عقل پر اشیاؤ او افعالو د(ښه والي یا (بدوالي) دصحیح حکم صلاحیت لري؟.. ۱۲۶
انتخابات.. ۱۲۸
په اسلام کې دنظام خصوصیات.. ۱۲۸
آیا د دیموکراتیک انتخابي نظام له لارې اسلام نافذیدلی شي؟......... ۱۳۲
د انتخابي نظام له لارې د اسلام د نه نافذیدلو لس دلائل.................. ۱۳۳
د ډیموکراسۍ د حقوقو او آزادیو مناقشه.. ۱۳۹
د دین او عقیدې د آزادۍ مناقشه:.. ۱۴۰
د رأیې د اظهار د آزادۍ مناقشه.. ۱۴۵
د شخصي آزادۍ مناقشه.. ۱۴۹
د مسکن د انتخاب د آزادۍ مناقشه.. ۱۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملکیت د حق مناقشه ۱۵۱
د کار د حق مناقشه ۱۵۲
د زده کړې د حق مناقشه ۱۵۲
پارلمان د ډیموکراسۍ ممثله طاغوتی اداره ۱۵۳
پارلمان څه شي دی؟ ۱۵۳
پارلمان ولې طاغوتي اداره ده؟ ۱۵۴
په ډیموکراسۍ کې د مشارکت په هکله شبهې او ځوابونه ۱۶۰
لومړۍ شبهه- یوسف علیه اسلام دمصر له بادشاه سره کار کړی دی ۱۶۱
دوهمه شبهه – دنجاشي (رح) په عمل استدلال ۱۶۸
دریمه شبهه ـ ډیموکراسۍ ته د شوریٰ نوم ورکول ۱۷۱
د پارلماني رایې اخیستنې اود اسلام د شوری ترمنځ توپیرونه ۱۷۲
څلورمه شبهه ـ د دعوت د مصلحت لپاره په ډیموکراسۍ ک ۱۷۵
د دې شبهې څلور ځوابونه: ۱۷۶
امریکایي اسلام ۱۸۶
دوه ډوله اسلام ۱۸۷
د امریکایي اسلام تعریف ۱۹۰
د امریکایي اسلام دخپرولو پلان ۱۹۲
په افغانستان کې د امریکایي توصیود تطبیق مثالونه او ۱۹۴
د اسلام د غربي تعبیر لپاره په افغانستان کې د امریکا اقدامات ۲۰۰
امریکا ته د غرب پلوو علماؤ خدمات ۲۰۴
د اسلام پرضد له رواجي ملایانو څخه کار اخیستل ۲۰۹
د بنسټګرو مخالفت او مخنیوی ۲۱۶
د ډیموکراتو عناصرو مرسته ۲۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بنسټګرو په خلاف هجومي کړنلاره ۲۲۲
له تعلیم څخه د اسلام په خلاف کار اخیستل: ۲۲۶
د امریکایانو له راتګ سره په تعلیمي نصاب کې تبدیلۍ........................ ۲۲۸
د افغانانو د فکر او فرهنګ د بدلولو لپاره د هندوستان فعالیتونه......... ۲۵۸
د افغانستان لپاره د هندوستان تعلیمي او کلتوري فعالیتونه........... ۲۵۸
مهم وړاندیزونه او توصیې... ۲۶۰
د مجاهدینو سیاسي او فکري روزنه.. ۲۶۰
د فکري جګړې په اړه پوهاوی.. ۲۶۱
د مدارسو په نصاب کې دلانديې مضامینو داخلول............................. ۲۶۱
سیرة النبي: ۲۶۱
په اسلام کې د سیاسي نظام تصور:.. ۲۶۲
د کفر دمعاصرو انواعو او اشکالو پیژندل:... ۲۶۳
د غرب د جنایاتو بربنډول.. ۲۶۵
د جهاد تر څنګ دعوت ته هم پاملرنه... ۲۶۶
معاصر فکري ارتداد ۲۶۹
معاصر فکري ارتداد د علامه ندوي له نظره.. ۲۷۰
د علاّمه ندوي (رح) پیژندګلوي.. ۲۷۱
د معاصر فکري ارتداد په هکله د علامه ندوي د مشهورې مقالې
بشپړ پښتو متن.. ۲۷۴
دکابل مسیحي پوهنتون ۲۹۹
تاریخي پس منظر.. ۳۰۰
مسیحیت د تعلیم تر پردې لاندې... ۳۰۲
د امریکایي پوهنتونونو لپاره د اسلامي نړۍ د مهمو مراکزو انتخاب...... ۳۰۳
لبنان – بیروت :... ۳۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاهره: ۳۰۴
استانبول: ۳۰۴
افغانستان کابل: ۳۰۵
ولې په اسلامي نړۍ کې امریکایي پوهنتونونه؟ ۳۰۶
په اسلامي هېوادونو کې د امریکایي پوهنتونونو اهداف ۳۰۷
د مسلمانو هېوادونو سیاسي قدرت تسخیرول: ۳۰۷
د نوی نسل مسیحي کول: ۳۰۸
داسلام د حقانیت په اړه ځوان نسل شکمن کول: ۳۰۸
د مقاومت د فکري سرچینو وچول: ۳۰۹
په محلي سطحه دغربي کمپنیو لپاره په امریکایي طریقه د پرسونل روزل: ۳۱۰
په اسلامي هېوادونو کې دژوند غربي بڼه رواجول په مسلمانانو کې د امریکایې مصنوعاتو داستهلاک او استعمال روحیه تقویه کول : ۳۱۱
امریکایې پوهنتون مسیحي پوهنتون دی ۳۱۲
محتاطانه شروع ۳۱۴
ولې یې نوم امریکایې پوهنتون AMERICAN UNIVERSITY دی؟ ۳۱۴
د بیروت امریکایې پوهنتون ۳۱۵
د قاهرې امریکایې پوهنتون ۳۱۸
د ترکیې داستانبول امریکایي پوهنتون ۳۲۰
په افغانستان کې د مسیحي فعالیت پس منظر ۳۲۳
د تنصیر درې دروازې فقر، جهل، مرض ۳۲۴
د انګلیسي ژبې مراکز او د مسیحیت فعالیتونه ۳۲۵
آي، آر، سي : ۳۲۶
امریکن سنټر : ۳۲۶
برټش کونسل : ۳۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ټیم) او (ورلډ بیلیف): ۳۲۷
شلټرناو ا نټېرنیشنل : ۳۲۷
د کابل امریکایي پوهنتون ۳۳۳
د کابل د امریکایي پوهنتون تاریخچه ۳۳۴
په افغانستان کې د امریکایي پوهنتون تمویلوونکي ۳۳۶
د کابل د امریکایي پوهنتون مهمې څانګړتیاوې ۳۴۱
د امریکایې پوهنتون فاکولتې او تخصصات ۳۴۵
د امریکایې پوهنتون غیر نصابي فعالیتونه ۳۴۸
اقتصادي استثماري پروژې ۳۴۹
امریکایې پوهنتون او د C.I.A لپاره جاسوسي ۳۵۱
خاتمه ۳۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درېیم چاپ په اړه یادونه

د الله تعالی ډېر ډېر شکر ادا کووم چې د (فکري پوهنې) کتاب ته یې په افغاني ټولنه کې دومره مقبولیت وروبانښه چې په لنډه موده کې یې په لسګونو زره نسخې د افغان مسلمان ولس د ځوان نسل لاس ته وروررسېدې.

د افغاني ټولنې د بادرده او په دیني احساس د سرشار ولس له علماؤ، استاذانو، د فکر او نظر له خاوندانو، لیکوالو، ادیبانو، د پوهنتونونو له با احساسه محصلینو، د مدارسو او مکاتبو له طالبانو او ټول لوستي نسل څخه مننه کووم چې د (فکري پوهنې) کتاب یې په بې ساري ډول استقبال کړ او زه یې په خپلو ارزښتناکو توصیو، مشورو او لارښوونو ونازولم، او په دې لاره کې یې زما د هڅو قدرونه او زما لا نوره هڅونه وکړه.

د دې لپاره چې د (فکري پوهنې) د کتاب نور خدمت مو هم کړی وي او د دوستانو لوروليې مشورې مو تر ممکنه حده عملي کړې وي د (فکري پوهنې) پر کتاب مو له سره کتنه وکړه او د لاندې یادو شویو چارو تر ترسره کولو وروسته مو د درېیم ځل لپاره چاپ کړ:

١ – د کتاب ټوله محتوی له سره په نوي شکل ترتیب شوه او په ډېرو ځایونو کې اوږده پراګرافونه په لنډو پراګرافونو ووېشل شول.

٢ – تر ممکنه حده په کتاب کې لیکنښې په دقیق ډول مراعات شوې.

٣ – د کتاب په ډېرو ځایونو کې د پېچلو او علمي مسائلو او عبارتونو وضاحت وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – په ډېرو ځایونو کې د کتاب په موضوعاتو پورې اړوند نوي معلومات ورزیات شول او هڅه وشوه چې د موضوعاتو نیمګړتیاوې پوره شي.
۵ – هڅه وشوه چې د کتاب په متن کې د امکان ترحده ټولې ژبنۍ، تعبیري، مطبعي او نورې تېروتنې په دقیق ډول اصلاح شي.
او دا دی افغاني ټولنې ته یو ځل بیا د (فکري پوهنې) کتاب له پورتنیو ځانګړتیاوو سره په نوې بڼه په دې هیله وړاندې کووم چې ما به د لوستي نسل په اړه خپل یو څه مسؤولیت ادا کړی وي او هغوئ به پر ما خپلې پیرزوینې او مشورې لورولې وي.

و السلام

مولوي عبد الهادي (مجاهد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دويم چاپ سريزه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة و السلام على إمام الهداة المرسلين، وعلى آله وأصحابه الذين أناروا الدنيا بنور الدين، وعلى من تبعهم بإحسان ونشر الهدى إلى يوم الدين أجمعين.

ما دا ګومان نه کاوو چې د(فکري پوهنې) کتاب ته دې دافغاني ټولنې د علماؤ، طلابو، محصلينو، لوستوخلکو او منورينو په منځ کې دومره مقبوليت او تأثيرحاصل شي لکه چې په لومړي چاپ کې ورته حاصل شو. داهرڅه دالله تعالى په خاص فضل او بيا له اسلامي فکر سره زمونږ دملت دکلك تړاو او له هغه څخه ددفاع داحساس له برکته رامنځته شول.

د(فکري پوهنې) کتاب چې څنګه په لومړي ځل له چاپه راووت په ډېره لنډه موده کې په بازارکې خلاص شو، ځکه چې دصليبي يرغل په خلاف په روانه هر اړخيزه مبارزه کې زمونږ دملت علماء، دعوتګر، دفکر او نظر خاوندان او مجاهدين د مسلح جهاد ترڅنګ دفکر او فرهنګ په ډګر کې دغرب دفکري يرغل دمقاومت وسايلو او فکري ادبياتو ته شديد ضرورت لري او دغه ډول کتابونو ته ځوانان او له دين، ملت او وطن څخه مدافع او با احساسه خلك ډېر تږي دي. او د هرې ورځې په تيريدو يې دغه تنده نوره هم ځکه زياتېږي چې نور داسلامي نړۍ دلوستو خلکو په ذهنونو او فکرونوکې دغربي فلسفې ادبياتو او د ډيموکراسۍ، بشري حقوقو، مساوات، روشنفکرۍ، سولې، ترقۍ او نورو په سلګونو پوچو شعارونو او بې حقيقته مفاهيمو خپل ځای له لاسه ورکړی دی. دملت ځوانانو او با احساسه خلکو ته نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرب په فلسفه کې پرته له دوکې، دروغو، تعصب، ظلم، خيانت، اختلاس، زبيښناك او تنګ نظرۍ نور څه په نظر نه ورځي.

د امت مخلص بچيان غواړي چې يوځل بيا په ريښتيني ډول د اسلام شريعت داسلامي فکر مفاهيمو او فکري ادبياتو ته راوګرځي او دغه احساس په افغاني ځوانانوکې تر بل هرچا زيات ليدل کېږي، خو ستونزه داده چې افغاني ځوانانو ته افغاني علماؤ او مفکرينو په معاصرو اسلامي موضوعاتو يا ډيرې لږې ليکنې کړې دي او يا هم ځوانانو ته په پراخه پيمانه ندي رسيدلي، چې دغه ستونزه شايد ډير اسباب ولري.
خو اوس ددې وخت رارسيدلی چې د نوي نسل مجاهدينو او ځوانانو ته له غرب سره د مقابلې په ډګرکې ښې ډيرې ليکنې وشي، او په پراخه پيمانه ور ورسول شي. پدې هکله زه يوځل بيا په ټينګه د دين له علماؤ او دتعليمي ادارو او مؤسساتو له چلوونکو څخه غوښتنه کوم چې په خپلو درسونو او تعليمي نصابونو کې داسلامي فکر معاصرو مفاهيمو ته ځای ورکړي،او پدې ډول دغرب د سيکولر او الحادي مفاهيمو دسيلاب مخه ونيسي. او په همدې مقصد دا دی مونږ يوځل بيا د (فکري پوهنې) کتاب له نويو زياتونو سره چاپوو.
د (فکري پوهنې) په دويم چاپ کې لاندې بدلونونه راغلي دي:
د کتاب ژبې ته بيا له سره کتنه شوې ده، د توان ترحده ئې مطبعي او ژبنۍ غلطۍ اصلاح شوې دي. او هڅه شوې چې دکتاب ژبه ډيره علمي نه، بلکې ډيره عام فهمه وساتله شي، ترڅو هغه خلك هم ورباندې ښه پوه شي چې له شرعي او علمي اصطلاحاتو سره ډيرآشنا ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (امريکايي اسلام) په مضمون کې د افغانستان په تعليمي نصاب کې د منفي لاسوهنې او له هغه څخه دجهادي او اسلامي مفاهيمو د ويستلو د شاهد په توګه دمجاهدينو د وخت او د امريکايانو تر يرغل د وروسته وخت دلومړي ټولګي دکتابونو محتوى په مقارنوي ډول راوړل شوې ده، چې لاسوهنې ئې تشخيص شوي او تقريبا پر هر مضمون ئې يوه مختصره تبصره شوې ده، ترڅو عامو خلکو ته هم معلومه شي چې غربيان او داخلي ملګري ئې څنګه کوښښ کوي چې زمونږ د ملت د نوي نسل له ذهنونو څخه اسلامي مفاهيم وباسي او پرځای ئې د غربي ژوند او فلسفې ارزښتونه ورته معرفي کړي.

په کتاب کې د (معاصرفکري ارتداد) په نامه يومکمل مضمون ور زيات شوی دی. فکري ارتداد هغه ارتداد دی چې خاوندان يې په فکري لحاظ دکفر دمعاصرو ډولونو لکه ډيموکراسۍ، ليبراليزم، کمونيزم، ګلوبلايزيشن، نشنليزم، هيومنزم او نورو کفري نظرياتو منونکي وي، د اسلامي نظام او دشريعت دتطبيق په کلکه مخالفت کوي،او داسلامي حکومت دجوړيدو دمخنيوي په هدف يې له کفارو سره لاسونه يوکړي دي، خو لدې هرڅه سره بيا هم په اسلامي ټولنه کې اوسيږي او ځانونه مسلمانان هم بولي.

دا چې دغه موضوع يوه ډيره مهمه، خطرناکه او حساسه موضوع ده او په څيړلوکې يې ډير قلموال د(افراط) او يا (تفريط) ښکار شوي دي، چې ځيني ئې د هر چا د تکفير مرحلې ته رسيدلي،او ځيني نور يې بيا صريح کفر ته هم کفر نه وايې او د مرجئه ؤ لاره يې نيولې ده.

دغه موضوع بايد په معاصراسلامي فکرکې د داسې علماؤ په قلم امت ته وړاندې شي چې داسلام په حقيقي روح او هم د معاصرکفر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشکالو او ډولونو ښه خبر وي،او د کره شرعي دلائلو په رڼا کې یې په اړه موقف ونیسي.

له نیکه مرغه پدې اړه داوسنۍ زمانې د ستر داعي او خبیر عالم علامه (ابوالحسن علي ندوي رحمه الله) مشهوره علمي او فکري مقاله (ردة لا أبابکرلها) د هغه په مشهورکتاب (إلی الإسلام من جدید)کې په عربي ژبه مخې ته راغله.

ددې لپاره چې علامه ندوي رحمه الله دمسلمانانو او دکافر غرب ترمنځ د فکري کشمکش په اړه پراخه مطالعه لري،او پدې ارتباط یې ډېرکتابونه هم لیکلي دي ،او له بل لوري نوموړی د(اهل السنة والجماعة) ټولو فکري مکاتبو ته یو منلی معتدل شخصیت او له الله تعالی څخه ویریدونکی عالم دی، نو غوره مو وبلله چې دموضوع په اړه د په خپله څه لیکلو پرځای د هغه مقالې ته په خپل کتاب کې ځای ورکړو، چې پدې کار سره به مو له یوې خوا ددې مهمې موضوع په اړه خپل ملت ته دسالم او جدي موقف دخپلولو توصیه کړې وي،او له بلې خوا به مو موضوع خپل مؤمن ولس ته دداسې یو ستر عالم او دعوتګر په قلم وړاندې کړې وي چې خلك یې په اعتدال او دیانت پوره باور لري.

دیادولو وړ ده چې علامه ندوي رحمه الله هم دغه موضوع زیاتره له فکري اړخه څېړلې ده، نه دشرعي حکم دبیان او فتوی له اړخه، ځکه چې د شرعي حکم بیان یې تحقیقي بحث ته ضرورت لري او مونږ ته هم دلته د موضوع فکري اړخ اهمیت لري.

یوه بله خبره هم د یادولو وړ ده هغه دا چې کله چې د(فکري پوهنې) لومړی چاپ خپور شو، د هېواد د ډېرو سیمو(دري ژبو) علماؤ، طلابو، د پوهنتونونو محصلینو او عامو خلکو یې(دري) ژبې ته د ترجمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکرره غوښتنه وکړه، چې مونږ هم د هغوئ دې غوښتنې ته په پام سره د(فکري پوهنې) کتاب (دري) ژبې د(**دانستنيهای از فکر اسلامي درجنگ فکری باغرب**) په نوم ترجمه او په اعلی صحافت او طباعت چاپ کړ، چې د افغانستان او پاکستان دواړو په مشهورو او لويو کتابخانوکې تر لاسه کېږي.

په پای کې يو ځل بيا له علماؤ، د فکر او نظر له خاوندانو او د اسلامي حريم له فکري مدافعينو هيله لرم چې دکفر او ګمراهۍ د معاصرو اشکالو په هکله دې نوي نسل ته ښې ډېرې،کره او روښانه ليکنې وکړي، ترڅو د غرب د ورانوونکي فکري سيلاب مخه ونيسي،او راتلونکي نسلونه د غربيانو په دامونو کې له ښکيل کېدلو څخه وژغوري.

او همدارنګه په آخر کې بيا هم ددې خبرې يادونه کوم چې که پدې کتاب کې ما حق بيان کړی وي نو دا به د الله تعالی له لوري پر ما د هغه فضل او احسان وي ،اوکه چېرې زه په کوم حکم او دريځ کې خطا شوی يم نو دا به زما دکم علمۍ نتيجه وي، نه دا چې زه به پرغلطۍ ټينګارکوم. هيله ده چې د اسلامي فکر استاذان او علماء ما خپلو کمزوريو او تېروتنو ته متوجه کړي،او پدې کار سره هم خپل مسؤليت رفع کړي،او هم پر ما خپله مهرباني او زړه سوی ولوروي. والسلام

د کفر د ماتې او د اسلام د سرلوړۍ په هيله
عبدالهادي (مجاهد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لومړي چاپ سریزه

څو مهمې خبرې

الحمدالله رب العلمين والصلاة والسلام على أشرف الانبياء والمرسلين وعلى آله وأصحابه ومن اتبع سنته إلى يوم الدين أجمعين، قال الله تعالى: ﴿لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا ۚ وَإِن تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿١٨٦﴾﴾ آل عمران: ۱۸۶

دغه کتاب په حقیقت کې د پنځو مهمو مقالو مجموعه ده چې له (فکري جګړه) (پردي میعارونه)، (امریکایې اسلام)، (ډیموکراسي کفر دی که اسلام؟) او(دکابل مسیحي پوهنتون) څخه عبارت دي. دکتاب مقالې که څه هم د موضوع په لحاظ سره جلا جلا دي، خو د هدف په لحاظ ټولې د یوه هدف وضاحت کوي، او هغه دا چې کفار او په ځانګړې ډول غربیان څنګه د عسکري جګړې ترڅنګ ددین، فکر، عقیدې، اخلاقو او فرهنګ په ډګر کې هم د مسلمانانو په خلاف په یوه لویه هر اړخیزه فکري جګړه اخته دي،او پدې جګړه کې ترعسکري جګړې مخکې هم دي.

ددغه ډول یوکتاب لیکلو ته مې ځکه ضرورت احساس کړ چې که څه هم چې زمونږ ملت د جګړې، قربانیو او دښمن ته د ماتې ورکولو په مجال کې د(استاذۍ) نړیوال شهرت لري، خو له دښمن سره د فکري

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې په هکله يې لاتر اوسه د مجاهدينو او مدافعينو په ذهن کې يو واضح تصور او روښانه منهج نشته،او نه هم تر اوسه چا د دښمن له فکر او نظر څخه په پوره ډول خبرکړي دي. او دا ځکه چې د اسلام په خلاف د فکري جګړې او د دښمن د خطرناکو پلانونو او طرحو په هکله نه زمونږ په ديني او نه هم په دنيوي تعليمی نصابونو کې څه تدريسېږي. د دغه ډول فکري زده کړې د نشتوالي ښايي بېلابيل عوامل وي، خو نتيجه يې دا راوتلې چې که څه هم چې زمونږ ملت د تل لپاره يرغلګر نه دي منلي، خو د يرغلګرو د افکارو د خپرېدو مخنيوی يې هم ندی کړی، چې د غو پرديو افکارو بيا هر ځل يو نوی مصيبت زېږولی دی.

د دې لپاره چې داخل بيا له دغه ډول مصيبت سره مخ نشو،او له فتحې وروسته بيا د وير پر ټغر کښېننو،او د چارو واګې مو بيا دداسې چا لاس ته ورنشي چې دښمن يې د هماغې ورځې لپاره له اوسه تياروي او په ملت کې ورته (ذهن سازي)کوي، په پورتنيو مهمو اساسي موضوعاتو مې ليکنه وکړه، او دا دی خپل ملت ته يې د خپل مسؤليت د رفع کولو په مقصد وړاندې کووم، هيله ده چې د ملت زړه سواندي او دردمن بچيان يې په غور ولولي، او په رڼا کې يې د واردو شويو افکارو، اشخاصو، فکري ډلو او تنظيمونو په هکله مناسب دريځ خپل کړي.

د دغه کتاب مخاطب د افغانستان ټول مؤمن ملت دی، خو په خاص ډول يې له د مکاتبو له معلمينو، د مدارسو له مدرسينو،د مساجدو له امامانو، خطيبانو، د پوهنتون له استاذانو او محصلانو، د مکتب او مدرسې له طالبانو، د سنګر له مجاهدينو او د فکر او نظر له خاوندانو دلوستلو هيله لرم، ځکه چې همدغه خلک دټولنې د دين، ايمان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقیدې، اخلاقو، تمدن، ملي او تاریخي ارزښتونو ساتونکي او مدافعین دي. که چیرې دغه خلک له خپل دین، ملت هیواد سره وفادار پاتې شي نو ټول ملت به په آزادۍ، سرلوړۍ عزت کې ژوند تیروي، خو ـ الله دې نه کړي ـکه دغه خلک د پردیو افکارو، نظریاتو، عقائدو او پردي فرهنګ ښکار شول، نو د دوئ له امله به ټول ملت له اجتماعي ذلت او بدبختۍ سره مخامخ کیږي.

د جهاد له قیادت، د پوهنتونونو او د دیني مدارسو او مکاتبو له استاذانو څخه مې هیله ده چې مجاهدین، محصلین، طلاب او د نوي نسل ځوانانو ته د دې کتاب او یا ده ته د ورته کتابونو د لوستلو جدي توصیه وکړي، ترڅو د دښمن په خلاف چې خطرناک پلانونه لري آګاهانه جهاد او مبارزه وکړي، او هم په پوره بصیرت د خپل ملت وګړي د اسلام د دښمنانو په دسیسو او طرحو خبرکړي.

دغه کتاب زما د ډیرو کلونو د تدریس، دعوت، مطالعې، د افکارو او نظریاتو د مقارنې او د جهاد او مبارزې له ډګر څخه د حاصلو شوو تجربو او معلوماتو خلاصه ده چې د سلګونو کتابونو، مجلو او د زرګونو صفحو له لوستلو وروسته په لاس راغلې ده. د دغو مقالو، په لیکلو کښې مې د ډیروقدرمنو علماؤ او د اسلامي فکر د لارښوونکو له تألیفاتو، تجاربو او توصیو څخه په داسې ډول استفاده کړې ده چې د هغوئ له کتابونو مې اغیزه او انګیزه اخیستې او بیا مې د همدغه تأثر او عمومي انګیزې په رڼا کې خپل افکار او معلومات چې حق راته ښکاره شوي دي لیکلي دي. او کله کله مې د هغوئ افکار او مفاهیم پرته لدې چې هغوئ ته یې منسوب کړم را نقل کړي دي.

دډیرو مراجعو د نه ذکر کولو علت دا ؤ چې زمونږ د ټولنې علماء او د فکر او نظرخاوندان په فکري لحاظ ډیر سره ویشلي دي. ځینې یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه فكر او مفكر څخه متأثره دي، او ځيني نور يې بيا له بل فكر او مفكر څخه، خو په عين وخت كې بيا په خپل منځ كې دومره اختلافونه او حساسيتونه هم لري چې يوازې د يوه كتاب پر مخ دكوم مخالف مفكر يا مؤلف د نوم شتون د دې سبب ګرځي چې اصلاً هغه كتاب ونه لولي،كه څه هم چې علمي ذوق او انصاف دا تقاضا كوي چې د مسلمانو مفكرينو او علماؤ كتابونه دې په پراخه سينه ولوستل شي، ښه افكار دې ورڅخه واخستلى شي، او ناسم افكار دې يې د شريعت د دلايلو په رڼا كې رد شي.

د پورتنۍ ملاحظې په نظركې نيولو سره ما ډېر مراجع نه دي ذكر كړي، بلكې افكار مې د لوستونكو مخې ته ايښې، كه د منلو وي ودې يې منې،او كه دردولو وي نو رد دې يې كړي. په اشخاصو دې حكم او قضاوت نه كوي، بلكې په افكارو او نظرياتو دې قضاوت وكړي.

او په پاى كې دايادونه كووم چې كه زه په دې كتاب كې پرحق يم او حق مې لوستونكو ته وړاندې كړى وي، نو دا به يوازې د الله ﷻ فضل او لارښوونه وي،او كه زه په كوم ځاى او يا په كوم حكم كې خطا شوي يم نو دا به زما تقصير او ناپوهي وي چې د ريښتيني اسلامي فكر له استاذانو او د دين له علماؤ څخه خپلې غلطۍ ته د متوجه كولو هيله لرم. نور تاسې او دا هم دكتاب متن. والسلام.

عبدالهادي (مجاهد)

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکري جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې فکري جګړه؟

د ملتونو د دائمي تسخیر او پرته له جګړې د هغوئ د هېوادونو د نیولو لپاره فکري جګړه تر عسکري جګړې ډېره مؤثرهاو کامیابه ده، ځکه چې عسکري جګړه مقاومت، حساسیتونه او بالمثل غبرګونونه راپاروي چې د جګړې د اوږدېدلو او د جنګي مصاریفو او تلفاتو د زیاتېدلو سبب ګرځي، چې دا هر څه بیا وروسته د یرغلګرو په ماتې تمامېږي، که څه هم چې ډېره موده وروسته وي. تاریخ ثابته کړې چې پوځي فتحه او تسلط هېڅکله تر هغه دائمي نشي پاتې کېدی چې فکري فتحې دپوځي فتحې ځای نه وي نیولی.

خو فکري تسخیر د عسکري تسخیر په خلاف د تل او یا ډېرې اوږدې مودې لپاره پاتې کېږي. د فکري تسخیر تداوم په دې پورې اړه لري چې فاتح فکر څومره په حقه دی؟ او څومره د مفتوحې سیمې لپاره له ځان سره د خیر، عدل، معقولیت او انسانیت پیغام لري.

اوس چې صلیبي غرب د امریکا په مشرۍ پر افغانستان یرغل کړی، او غواړي افغانستان خپله یوه مستعمره او افغانان د آزادۍ او ډیموکراسۍ په غولوونکو نومونو خپل غلامان وګرځوي، نو همدې د فکري جګړې اهمیت ته په پام سره یې د خپلې عسکري جګړې تر څنګ په پراخه پیمانه یوه لویه فکري جګړه د افغانانو د ذهنونو د فتح کولو لپاره هم روانه کړې ده.

امریکا په افغانستان کې د عسکري جګړې د پرمخ بیولو لپاره یوازې څلور پنځه مؤسسې په کار اچولي چې د امریکا له پوځ، ناټو، ایساف، افغاني امنیتی قواؤ او جاسوسي ادارو څخه عبارت دي، خو د فکري جګړ ې لپاره بیا امریکا او ملګرو یې تقریباً څلور زره ناپوځي مؤسسې په کار اچولې دي چې د افغانانو د ژوند په دیني، سیاسي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجتماعي، کلتوري، رواني (روحي)، تعلیمي، اقتصادي او نورو بېلا بېلو اړخونو کې په مسلسل ډول کار کوي.

امریکایان پدې پوهېږي چې یوه ورځ به دوئ له افغانستان څخه په پوځي لحاظ وتلو ته اړکېږي، نو له همدا اوسه باید په افغانستان کې خپله فکري جګړه پداسې فعال او مؤثر ډول پرمخ بوځي چې فکري فتح بې بیا دعسکري ماتې ځای ونیسي، لکه چې همدغه تجربه انګریزانو او فرانسویانو تر دوئ مخکې هم په خپلو اسلامي مستعمراتو کې عملي کړې وه، چې د هغو هېوادو پر آزادېدلو د لسګونو کلونو تر تېرېدلو وروسته په یوه کې ئې لا هم تر اوسه اسلامي نظام ندی راغلی.

د فکري جګړې تعریف

فکري جګړه هغه جګړه ده چې کفار یې د مسلمانانو د تسخیرولو او د هغوئ د شریعت، عقیدې، فکر، عرفونو او عنعناتو، سلوک، اخلاقو او دژوند د اسلامي بڼې د له منځه وړلو لپاره د ناپوځي وسائلو له لارې د دې لپاره پرمخ بیایي چې مسلمانان له خپل ځانګړي تشخص او پېژنګلوۍ څخه محروم او په هر څه کې یې د کفارو په تقلید اخته کړي، ترڅو دکفارو په خلاف د جګړې تصور هم په ذهن کې و نه لري.

په فکري جګړه کې د مسلمانانو فزیکي وجود هدف نه ګرځولی کېږي، بلکې د هغوئ دین، فکر، ټولنیز عنعنات، شخصي او اجتماعي اخلاق او رواني (روحي) کیفیت د هدف په حیث تر ضربې لاندې نیول کېږي. ځکه چې دا هغه عوامل دي چې دټولنې افراد له خپل فزیکي او معنوي وجود څخه ددفاع او دیرغلګر په مقابل کې د مقاومت لپاره د جګړې په صف کې دروي.

خو کله چې دغه عوامل په تدریج سره او په سیستماتیک ډول له منځه یوړل شي، نو د دښمن په مقابل کې مقاومت په خپله له منځه ځي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نتیجه کې دښمن له هر ډول مالي او ځاني تلفاتو خوندي پاتې کېږي او هدف هم پرته له جګړې لاسته ورځي.

د فکري جګړې وسائل

لکه څنګه چې په پوځي جګړه کې پوځي وسائل لکه پوځیان، توپ، ټانګ، طیاره، بم، بارود، ګولۍ، ټوپک، پوځي ټکنالوژي او پوځي استحکام، د ماهرو او روزل شویو پوځي افسرانو لخواکارېږي، همدا ډول په فکري جګړه کې فکري وسائل لکه: معلم، کتاب، مکتب، پوهنتون، علمي تحقیقات، کتابخانې، اخبارونه، مجلې، ژورنالیزم، ادبیات، اجتماعي علوم (سوشل ساینس)، صحي خدمات لکه شفاخانې، کلینکونه، تفریحي وسائل لکه پارکونه، کلبونه، لامبو ځایونه، د سمندر ساحلونه، رسنۍ لکه راډیوګانې، تلویزونونه، سینماګانې، تیاترونه، انټرنیټ، سټلایټ، د فلم جوړونې کمپنۍ، سیاست، سیاسي شخصیتونه او سیاسي احزاب، جنس (Sex) او په هرڅه کې د ښځې استعمال او داسې ورته نور وسائل د ماهرو او روزل شوو خلکو لخوا په سیستماتیک ډول کارېږي.

دا ټول هغه وسائل دي چې فکر متاثره کوي، د ملتونو فکري مسیر وربدلوي،او دکفارو لخوا په پوره مهارت د مسلمانانو په خلاف استعمالېږي.

د اسلام او مسلمانانو په خلاف د فکري جګړې میدان دومره پراخ دی چې د انساني ژوند ټول اړخونه یې نیولي دي او د غرب په زرګونو مؤسسې ورکښې په کار اخته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فکري جګړې تاريخ

د حق او د باطل ترمنځ د فکري جګړې تاريخ ترعسکري جګړې ډېر پخوانی دی. له هماغې اولې ورځې چې د آدم عليه السلام او ابليس دښمني شروع شوې ابليس چې د باطل ممثل دی د آدم عليه السلام په خلاف يې له فکري جګړې کار اخيستی او د آدم عليه السلام د مغلوبولو لپاره يې فکري وسائل کارولي دي.

ابليس چې کله پدې پوه شو چې آدم عليه السلام يې دښمن دی او په هغه باندې په زرو غلبه نشي حاصلولی، نو يې له فکري وسائلو لکه: د نصحيت تظاهر، له آدم عليه السلام سره د خواخوږۍ دعوی او بيا د خپلې دعوی د رېښتني ښکاره کولو لپاره له قسمونو څخه کار اخستل پيل کړل، او په درواغجنو قسمونو يې آدم عليه السلام ته وسوسه ورواچوله، تر دې چې هغه او د هغه ښځه يې وښويول او له جنت څخه يې راوويستل. الله تعالی د آدم عليه السلام او ابليس ترمنځ د فکري جګړې جريان داسې بيانوي:

﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ
فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿١١﴾ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ
إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴿١٢﴾ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا
فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ ﴿١٣﴾ قَالَ أَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ
يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ
الْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم مِّن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَن

(c) ketabton.com: The Digital Library

شَمَآئِلِهِمۡۖ وَلَا تَجِدُ أَكۡثَرَهُمۡ شَٰكِرِينَ ﴿١٧﴾ قَالَ ٱخۡرُجۡ مِنۡهَا مَذۡءُومٗا مَّدۡحُورٗاۖ لَّمَن
تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿١٨﴾ وَيَٰٓـَٔادَمُ ٱسۡكُنۡ أَنتَ وَزَوۡجُكَ
ٱلۡجَنَّةَ فَكُلَا مِنۡ حَيۡثُ شِئۡتُمَا وَلَا تَقۡرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٩﴾
فَوَسۡوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيۡطَٰنُ لِيُبۡدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنۡهُمَا مِن سَوۡءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا
نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنۡ هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيۡنِ أَوۡ تَكُونَا مِنَ ٱلۡخَٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾
وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢١﴾ ﴾ الأعراف: ١١- ٢١

ترجمه: (څه شي منع کړې ته چې سجده دې ونه کړه کله چې امر وکړ ما تا ته!؟ ابلیس وویل زه له آدم څخه غوره یم. زه دې له اوره پیداکړی یم او هغه دې له خټې پیداکړی. الله ورته وویل نو کوز شه له دغه آسمان یا جنت څخه، ندي لائق تا ته چې لویي وکړې پدې ځای کې، نو ووځه بیشکه چې ته یې له ذلیلانو. ابلیس وویل: مهلت راکړه ماته تر هغې ورځې چې مخلوق بېرته راژوندی کولی شي. الله ورته وویل: بېشکه ته له مهلت ورکړ شوو څنې یې (تر اول پوکي پورې) ابلیس وویل: نو قسم دی په ګمراه کولو ستا مالره (په سبب د آدم) چې هرو مرو به کښېنم دوئ ته ستا په سمه لار کې، او خامخا به راځم دوئ ته له مخې د دوئ او له شا د دوئ او له ښیو طرفونو د دوئ او له کینو طرفو د دوئ او نه به مومې ته اکثر د دوئ شکر ایستونکي. الله ورته وویل: ووځه لدې ځایه غمجن رټلی شوی. هر څوک چې ستا لاره غوره کړي لدوئ څخه، خامخا به ډک کړم جهنم له تاسې ټولو څخه، او وویل الله ﷻ ای آدمه! اوسه ته او ښځه ستا په جنت کې،او خورئ تاسې دواړه له هر ځایه او هر شي څخه چې خوښه مو وي. او مه نږدې کېږئ تاسې دواړه دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وني ته، (اوکه ورنږدې شئ) نو شئ به تاسې دواړه له ظالمانو څخه (پر خپلو ځانونو)، نو وسوسه واچوله دې دواړو ته شیطان د دې لپاره چې ښکاره کړي دوئ دواړوته هغه چې پټ کړی شوي وو د دوئ له عورتونو. او ابلیس ورته وویل:نه یاست منع کړي تاسې رب ستاسې له دې ونې مګر د دې لپاره چې نشئ تاسې دواړه پرښتې یا چې نشئ تاسې دواړه له تل پاتې کېدونکو په جنت کې. او سخت قسم یې وکړ دوئ ته چې بیشکه زه تاسې دواړو ته له نصیحت کوونکو څخه یم).

په پورتنیو آیاتونوکې وینو چې شیطان له آدم علیه السلام سره په خپلې دښمنۍ کې له هرې لارې او وسیلې څخه دکار اخیستلو سخت قسم یادوي، او مؤمنانو ته په سمه لاره کې دکمین نیولو خبره کوي، او بیا وروسته د آدم علیه السلام د تېر ایستلو لپاره له قسمونو او د نصیحت کولو له تظاهر څخه کار اخلي او خپله دښمني له آدم علیه السلام سره د پستې ژبې په کارولو پرمخ بیایې، چې دا ټول فکري وسائل دي.

همدغه ډول د تاریخ په اوږدو کې د باطل پلویانو تل د انبیاؤ په خلاف په خپلو مبارزو کې د جنګي وسائلو تر څنګ له فکري وسائلوکار اخیستی، کله یې په انبیاؤ پسې پوچ او بیځایه تبلیغات کړي، کله یې هغوئ ته لیوني، کم عقل، کوډګر ویلي، کله یې په بېلابېلو غولوونکو خبرو او وسائلو خلک د انبیاؤ علیهم السلام په خلاف د جنګ په صف کې درولي دي. اوکله یې هم د مؤمنانو پر خپل دین او پیغمبر د شکمن کولو هڅې کړې دي.

همدارنګه کله چې قریشو ولیدل چې قرآن په خلکو تأثیرکوي، د حق دعوت یې زړونو او ذهنونو ته رسېږي، او د قناعت په نتیجه کې پر رسول ﷺ ایمان راوړي، هغوئ ګومان کاوه چې که چېرې د حق دعوت همدغه ډول خلکو ته له کوم مزاحمت پرته وررورسېږي نو کېدی شي چې ټول قریش مسلمانان شي، نو ځکه یې فیصله وکړه چې باید د قرآن په مقابل کې له لغو خبرو او چټیاتو کار واخلي. او یا هم د قرآن د مجلس

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مقابل کې د اشعارو، کیسو او د پخوانیو بادشاهانو د خرافي نکلونو مجالس جوړ کړي او خلکو ته ووایې چې راشئ! زمونږ کیسې، شعرونه او افسانې د محمدﷺ تر قرآنه خوندورې دي. لکه چې همدغه کار به د قریشو یو مشر (مالک بن النضر) تر سره کاوه. الله تعالی فرمایي:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُونَ ﴿٢٦﴾﴾ فصلت: ۲۶

ترجمه: او وایي هغه خلک چې کافران شوي دي غوږ مه ږدئ دغه قرآن ته (چې محمد صلی الله علیه وسلم یې لولي) او شورماشور ګډ کړئ (په وخت دلوستلو دقرآن کې چې نور خلک یې وانه وري) د دې لپاره چې غالب شئ.

دغه کارونه ټول ناپوځي وسائل او طریقې وې چې د قرآن د پیغام د خپرېدلو د مخنیوي لپاره یې په کار اچول. نن هم د حق د دعوت او د آواز په مقابل کې په ملیاردونو د باطل غږونه د ډول ډول تبلیغاتو شور ماشور جوړوي، ترڅو د نړۍ خلک د حق آواز وانه وري. خو فرق یې له پرون سره دا دی چې پرون د باطل آوازونه یوازې د خولې په زور پورته کېدل، او نن د راډیو، تلویزیون، سټیلایټ، انټرنټ، مطبوعاتو او مبتذلو ادبیاتو په زور پورته کېږي او خلک حق د دعوت له اورېدلو ایساروي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې هم د مدینې د یهودو علماؤ کوښښ وکړ چې مسلمانان په اسلام باندې شکمن کړي.او هغه داسې ؤ چې د اسلام تر راتګ د مخه به د مدینې عربو یهودو ته د داسې خلکو په سترګه کتل چې د آسماني دین علم ورسره دی، له وحې او انبیاؤ سره یې تړاو دی،او د پخوانیو پیغمبرانو د علم او معرفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وارثان دي. نو له همدې امله به يې هغوئ ته د قدر او احترام په سترګه کتل.

يهودو وغوښتل چې د مدينې د عربو له دغه باور څخه سوء استفاده وکړي، او هغوئ د اسلام په اړه په شک کې واچوي، نو په خپلو کې يې فيصله وکړه چې د مسلمانانو پر خپل دين د شکمن کولو پخاطر به د سهار له مخې ايمان راوړو،او دهماغې ورځې په مازديګر کې به بيرته يهوديت ته راوګرځو، پدې کار سره به عرب دا ګومان وکړي چې مونږ خو اهل کتاب يو، د دين، وحې، نبوت او الهي احکامو د پېژندلو تجربه لرو، دا چې مونږ له اسلامه بېرته راوګرځېدو، نو ښايي اسلام به هغه حق دين نه وي چې په مخکنيوکتابونو کې يې وعده شوې وه، نو پدې کار به د مدينې عرب په مونږ باور وکړي او زمونږ پر پله به پل کېږدي، او له اسلامه به مرتد شي.

دلته هم يهودو داسلام په خلاف يوه فکري وسيله چې (دين او ايمان) دى استعمال کړه، الله تعالی د دوئ د دغې دسيسې په هکله فرمايي:

﴿ وَقَالَت طَّآئِفَةٌ مِّنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ ءَامِنُواْ بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَجْهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكْفُرُوٓاْ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٧٢﴾ ﴾آل عمران: ٧٢

ترجمه: (وويل:يوې ډلې داهل کتابو ايمان راوړئ پر هغه کتاب چې نازل شوی پر هغو خلکو چې ايمان يې راوړی، د سهار له مخې او بيا کافر شئ په آخر د همدغې ورځې کې،کېدی شي چې هغوئ (مسلمانان) له اسلامه وګرځي).

دغه دسيسه نن هم د اسلام په خلاف په بېلا بېلو شکلونو کی په کار اچول کېږي، او نن هم په اسلامي نړۍ کې د دښمن د فکري غلامانو يو لوی لښکر د استاذانو، فيلسوفانو، دکتورانو، څېړونکو، ليکوالو، شاعرانو، هنرمندانو او ژورنالستانو په شکل کې وجود لري چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلابېلو لارو او په بېلا بېلو ډولونو دبېلا بېلو فکري وسائلو په کارولو مسلمانان د اسلام په اړه شکمن کول غواړي او خلکو ته اسلام، د ارتجاع، تروريزم، وحشت او د تاوتريخوالي د دين په نامه معرفي کوي او په اسلامي عقايدو او احکامو يې بې باوره ته هڅوي.
دغه خلک د ورځې له مخې د خلکو په وړاندې لکه ديهودو د دسيسې ځان مسلمان معرفي کوي، خو وروسته بيا په پټه د اسلام په خلاف په کار اخته وي.
د فکري جګړې يوه بله هڅه د رسول اللهﷺ په زمانه کې هغه وه چې نږدې وو يهود د هغې له لارې د مدينې د انصارو تر منځ يوه لويه خونړۍ جګړه رامنځته کړي. او هغه داسې چې يوه ورځ د يهودو يو لوی سپين ږيري مشر (شاس بن قيس) د (اوس) او د (خزرج) د قبېلو مسلمانان وليدل چې په خپلو کې يې په مينه او محبت مجلس کاوه.
پداسې حال کې چې تر اسلامه دمخه همدغه دوه قبيلې په خپلو کی په لسګونو کاله جنګېدلې وې او ښه ډېر يې يو له بل څخه مړه کړي ول.
خو د اسلام په منلو يې پخواني هرڅه سره هېر کړل او يوه نوې د ورورولۍ او محبت دوره يې پيل کړه.
په (شاس بن قيس) يهودي دغه حالت ښه ونه لګېده، عزم يې وکړ چې مسلمانان بېرته په خپلو کې سره وجنګوي. د دې کار لپاره يې يوه خطرناکه فکري وسيله انتخاب کړه او هغه داسې چې يو زلمی يهودی هلک يې په څه چل د اصحابو په منځ کې کښېناوه، او هغه ته يې ويلي ؤ چې د مسلمانانو په مجلس کې د (بعاث) د جګړې چې د (اوس) او د (خزرج) ترمنځ ډېره پخوا تېره شوې وه هغه اشعار ووايي چې دوئ په جګړو کې يو د بل په خلاف ويلي ول. پدې سره به د هغوئ په ذهنونو کې هماغه پخوانۍ د جنګ خاطرې را تازه شي، او يو ځل بيا به يو د بل په خلاف جګړې ته وهڅېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(شاس من قیس) همدا طرحه عملي کړه، او نتائج یې هم هماغه ډول راووتل چې ده اټکل کړي ول. خو د الله ﷻ رحمت دا وشو چې تورو ته تر لاس کولو دمخه رسول الله ﷺ ته خبر ور ورسېد، او هغه ﷺ له خپلو مهاجرو اصحابو رضی الله عنهم سره راغی او په وعظ او نصحیت یې د دوئ تر منځ د نښتونکې جګړې په اور اوبه توی کړې او دیهودو دسیسه یې شنډه کړه.

همدغه ډول په بېلابېلو وختونو کې کفارو هڅې کړي چې مسلمانان د عکسري جګړې پرځای په فکري جګړې مغلوب کړي. دغه ډول فکري جګړې کله دیهودی (عبدالله بن سبأ) په شکل کې او کله هم د نورو فکري ډلو لکه زنادقه ؤ، روافضو او نورو په شکل کې روانې وې، تر دې چې صلیبي غرب له مسلمانانو سره په خپلو عسکري جګړو کې له مسلسلو ماتو وروسته د یوې خطرناکې وسیلې په حیث د عسکري جګړو پر ځای د اسلامي امت په خلاف وکارولې.

د غرب لخوا په منظم ډول د مسلمانانو په خلاف د فکري جګړې د په کار اچولو پلان د فرانسي پادشاه نهم (لویس) هغه وخت طرحه کړ چې نوموړی په (۱۲۵۰م) کال کې په مصرکې د منصورې په جګړه د فرانسوي لښکر تر ماتي وروسته د مسلمانانو په لاس اسیر شو، او بیا وروسته د ډېرې لویې فدیې په بدل کې خوشې شو.

نهم (لویس) د خپل بند په وخت کې پدې غور وکړ چې ولې مسلمانان د مادي او پوځي وسائلو له کموالي سره سره بیا هم هر وخت پرکفارو غالبېږي؟ هغه د اوږده تفکیر په پای کې دې نتیجې ته ورسېد چې د مسلمانانو د قوت سرچینه په مادیاتوکې نه، بلکې د دوئ په دین، عقیده، اخلاقو او معنویاتوکې ده، او ترڅو یې چې دغه سرچینه تازه او رڼه وي مسلمانان به تل د دښمن په مقابل کې زورور وي.

د فرانسي پادشاه چې کله له خوشې کېدو وروسته بېرته خپل لښکر ته ورسېد، هلته یې د فرانسوي ولس پوځي، سیاسي او مذهبي مشران او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخور ورټول کړل، او له اسلامي امت سره يې د جګړې د نوعيت په اړه د خپلې وينا په ترڅ کې داسې ورته وويل: (که غواړئ چې مسلمانانو ته ماتې ورکړې نو يوازې د وسلې جګړه مه ورسره کوئ، ځکه چې تاسې د وسلې په جګړه کې د هغوئ په وړاندې ماتې خوړلې ده، تاسې د هغوئ د عقيدې په خلاف وجنګېږئ! ځکه چې د هغوئ د قوت سرچينه د هغوئ په عقيده کې ده).

تر دې وروسته د غرب سياسي، فکري او پوځي زعامت فيصله وکړه چې نور بايد د مسلمانانو په خلاف د پوځي جګړو ترڅنګ فکري جګړه هم روانه کړي. او د دغې جګړې لپاره يې د غرب په کليساګانو، پوهنتونونو، سياسي او ډپلوماتيکو مراکزو کې د اسلام، اسلامي فکر او اسلامی تمدن د زده کړې او څېړنې مراکز جوړ کړل. چې وروسته بيا دغه مراکز د ختيځپوهانو (مستشرقينو) او ختيځپوهنې (استشراق) يا (Orientalism) او مسيحي تبليغ (missionary)په شکلونو کې راښکاره او پراخ شول.

دغو مراکزو په منظم ډول د اسلامي نړۍ فکري او تمدني وضعيت ته توجه وکړه، او د مسلمانانو په نويو نسلو نو کې يې فکري تأثير ګذاري پيل کړه، چې وروسته بيادغه فکري تأثير ګذاري د عصري مکتبونو، پوهنتونونو، تعليمي مشاورينو، په غرب کې د مسلمانانو د بچيانو د روزلو، معاصر مطبوعاتي بهير او غرب پلوو سياسي جرياناتو او ګوندونو په شکل کې راڅرګنده شوه، او نتيجه يې د داسې يو نسل په شکل کې راووته چې يوازې نومونه يې د مسلمانانو دي، او نور يې د ژوند ټول سياسي، فکري، اخلاقي، ټولنيز، پوځي، اقتصادي، ذوقي او ادبي اړخونه د غربي تصوراتو او ارزښتونو پر بنسټ ولاړ دي، او ټوله توجه ي دېته ده چې څنګه اسلامي نړۍ او اسلامي امت د غرب له

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنو سره سم عيارکړي،که څه هم چې پدې لاره کې د لکونو مسلمانانو د وينو بهولو ته ضرورت هم پېښ شي.

د فکري جګړې اهداف

غرب د لاندې يادو شويو اهدافو لپاره په اسلامي نړۍ کې د عسکري جګړې ترڅنګ فکري جګړه هم پيل کړې ده او په هغې باندې هر کال په ملياردونو ډالره مصرفوي او په مليونونوکارپوهان او متخصصين يې په دغه فکري جګړه کې د بېلابېلو فکري، فرهنګي، سياسي او تعليمي مؤسساتو له لارې په کار اچولي دي.

اول هدف- په مسلمانانو کې د غرب په مقابل کې د مقاومت روحيه له منځه وړل:

غربيان پدې پوهېږي چې ترڅو د مسلمانانو په ذهنونو کې د حريت احساس موجود وي او د جهاد، هجرت، شهادت او قربانۍ فرهنګ يې د فکر منځپانګه تشکيلوي، نو تر هغه پورې به په روحي او معنوي لحاظ ځان د هر يرغلګر مقابلې ته تيار بولي، او پدې لاره کې به هر ډول مالي او ځاني قربانيو ته حاضرېږي.

خو که يو ځل يې دغه مفاهيم له فکر څخه د فکري جګړې د وسائلو له لارې ووېستل شي، بيا که هر څومره په مادي وسائلو او پوځي امکاناتو سمبال هم شي، د دښمن مقابلې ته نه تيارېږي. لکه چې همدا اوس همدغه روحيه د ټولو غرب ځپلو اسلامي ټولنو په ځوانانو او پوځونو کې ليدل کېږي.

د اسلام په تاريخ کې ګورو چې مسلمانان هر وخت د لږو افرادو او کمزورو پوځي وسائلو په درلودلو د زورورو دښمنانو مقابلې ته په مېړانه تيار شوي دي او د الله ﷻ په فضل يې جګړې هم ګټلي دي. او دا ځکه چې په هغه وخت کې په مسلمانانو کې په اجتماعي ډول د مقاومت روحيه ژوندۍ او معنويات يې له ايمانه سرشاره او ځپاند ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اوس د اسلامي هېوادونو په ملیونونو پوځونه د لوړو پوځي مهارتونو او پرمختللو جنګي وسائلو له درلودلو سره سره بیا هم د دښمن په مقابل کې د درېدلو توان نه لري. او اصلاً نه غواړي چې د دښمن په مقابل کې ودرېږي. بلکې دا ورته ښه ښکاري چې د خپلو ملتونو په خلاف د یرغلګر دښمن په صف کې ودرېږي. او دا هر څه ځکه کوي چې فکري جګړې له هغوئ څخه د مقاومت روحیه سلب کړې ده، او هغوئ پداسې ډول روزل شوي چې باید د اسلام د دښمنانو د اهدافو لپاره کاروکړي.

دوهم هدف- مسلمانان د اسلام په دین، تمدن او انساني ارزښتونو شکمن کول:

صلیبی غرب غواړي چې مسلمانان دې په دین، عقیده، اخلاقو، فکري ارزښتونو، ټولنیزو عادتونو او مناسباتو کې د دوئ په څېر وي، او په هر څه کې دې د غربیانو تقلید وکړي. پدې کار به له یوې خوا د غربیانو په خلاف د مسلمانانو په زړونوکې کرکه او کینه ورکه شي او د هغوئ د استعماري پلانونو مخالفت به نه کوي، او له بل لوري به ټوله اسلامي نړۍ د غربي مصنوعاتو لپاره په یو لوی استهلاکي او مصرفي مارکېټ بدله شي. ځکه چې د مسلمانانو د ژوند ضرورتونه به هم په هغه صورت کې د دوئ د هغو په څېر وي. او دا چې مسلمانان به یې خپله نشي جوړولی، یا به یې په ښه کیفیت او ارزانه بیه بازار ته نشي عرضه کولي، نو ټول مارکیټ به د غرب د صنعت پر مخ خلاص وي.

خو په اسلامي نړۍ او اسلامي امت کې اسلامي شریعت، اسلامي عقیدې او اسلامي تمدن د غرب د دغو اهدافو د تحقق مخه نیولې ده، ځکه چې مسلمانان د خپل د ژوند هرڅه باید د خپل شریعت مطابق او د خپلې عقیدې په رڼا کې د اسلامي ژونددود او اسلامي تمدن له غوښتنو سره سم عیار کړي، چې دا کار بیا له مسلمانانو څخه یو بېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت او جلا امت جوړوي، چې هر څه يې بايد له صليبي غرب څخه مختلف وي. ځکه چې اسلام خپل پيروان له کفارو سره له مشابهت څخه منع کوي، او د خپل دين په اصولو او ادابو يې ټينګ پاتې کېدلو ته تشويقوي.

ددې لپاره چې غرب د مسلمانانو او کفارو تر منځ دغه جلا والی له منځه وړی وي کوښښ کوي د فکري جګړې له لارې د اسلامي امت بچيان په خپل دين، عقيده، اخلاقو، تمدن او لوړو انساني ارزښتونو شکمن کړي، او په ډول ډول منفي تبليغاتو د اسلام حقانيت او د شريعت افاديت تر پوښتنې لاندې راولي.کفارو پدې لار کې د فکري جګړې ټول وسائل لکه مکتب، پوهنتون، نصاب، فرهنګ، ميډيا، اقتصادي شرکتونه، څېړونکي، شاعران، اديبان او بالآخره هر څه په کار اچولي ترڅو مسلمانان پر خپل دين بدګومانه کړي، او د سيکولريزم، لبيراليزم، ماډرنيزم، ډيموکراسۍ او ګلوبلايزيشن له لارې يې په هر څه کې د غرب د خبرې منلو ته ور واړوي.

دريم هدف- غربي ټولنو ته د ريښتني او مکمل اسلام د رسېدو مخنيوی:

د غرب حکومتونه او نصراني کليساګانې په دې ښه پوهېږي چې اسلام د خپل فطريت او معقوليت له امله په هره سيمه او ملت کې د منل کېدلو وړتيا لري.خو پدې شرط چې په ريښتني او مکمل ډول ور ورسېږي. د نړۍ د ډېرو هېوادونو لکه د هندوستان، بنګال، برما، تايلند، ماليزيا، اندونيزيا، فلپاين، بروناې او د منځنۍ افريقا د ډېرو هېوادونو خلکو اسلام د دعوت له لارې منلی دی. هلته هېڅ فاتح لښکر ندی ورغلی چې د پوځي فتحې په نتيجه کې يې هلته اسلام خپور کړی وي، بلکې خلکو په خپله داسلام معقوليت، حقانيت او افاديت ليدلی او بيا يې منلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صليبي غرب کې اوس همدا وېره خپره ده چې که اسلام په ريښتني او مکمل ډول غربي ټولنو ته چې د مسيحيت له نامعقوليت او استبداد څخه ستړې شوې دي ور ورسېږي نو ليرې نده چې د غرب معقول او باسواده خلک به يې چې د حق موندنې په تلاش کې دي ومني، او په يومخيز ډول به مسيحيت او ماديت پرېږدي او اسلام ته به مخ ور واړوي، چې بيا به د دغې څپې مخه نيول ورته ناممکنه وي، ځکه چې همدا اوس په غرب کې ډېر خلک د اسلام په اړه په مطالعه او څېړنو بوخت دي، او په زرګونو يې په هر کال کې مسلمانېږي.

ددې لپاره چې غربيانو اروپا او امريکا ته د ريښتني او مکمل اسلام د رسېدو مخه نيولې وي لاندې درې کارونه يې تر سره کړي دي:

الف: د غرب حکومتونه او کليساګانې کوښښ کوي چې غربي ټولنو ته اسلام په مسخ شوي او تحريف شوي شکل کې ور معرفي کړي. اسلام ورته د تېرې زمانې داسې يو دين معرفي کړي چې له تورې، قتل، جنګ، لاس او پښو پريکونې او پرخلکو له مذهبي تسلط پرته بل څه نه پېژني. نه نظام پېژني نه پرمختګ. نه سوله پېژني او نه سوله ييز ژوند. نه تمدن پيژني او نه پرمختګ. نه انساني عواطف پيژني او نه هم د بشري ژوند فطري تقاضاوې. او د ټولنو په ژوند کې تغيير د عقل، علم، فرهنګ او ذهني قناعتونو په وسيله نه، بلکې د تورې، ټوپک او سوټې په زور راولي.

د غرب مېډيا، سياسي او دينی قيادتونه يې په نه ستړي کېدونکي ډول د اسلام په خلاف په دغه ډول زهر جنو تبليغاتو لګيا دي، او په دې لاره کې هر کال په مليياردونو ډالره مصرفوي ترڅو غربي ټولنې د اسلام له منلو ايسارې کړي.

ب: د غرب سياسي، فکري او ديني قيادتونه کوښښ کوي له خپل هر ډول سياسي، اقتصادي، پوځي او نړيوال نفوذ څخه په استفادې د اسلامي نړۍ حکومتونه دېته مجبوره کړي چې په خپلو هېوادونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې تعليمي نصابونه رائج کړي چې په هغو کې حقيقي اسلام ځای ونه لري. علماء، دعوتګران، ديني مدارس، اسلامي تنظيمونه، چاپخانې نور جهتونه چې د اسلامي دعوت لپاره کار کوي تر شديد فشار لاندې وساتې، ويې ترې، و يې وژني او يا يې دومره کمزوري او په خپل ځان مصروف کړي چې غرب ته د صحيح اسلام له رسولو عاجز پاتې شي. ټولې شتمنۍ، مادي او معنوي وسائل ورڅخه په بېلابېلو نومونو او بهانو مصادره کړي، او بالآخره يې په خپلو هېوادونو کې د فقر، ذلت او مشکلاتو ژوند ته اړ کړي، ترڅو نورو خلکو ته د دعوت توانايي له لاسه ورکړي.

همدغه وجه ده چې په اکثره اسلامي هېوادونو کې په اسلامي تنظيمونو ډول بنديزونه لګول کېږي او د فعاليت مخه يې نيول کېږي. او د دې په مقابل کې عامو خلکو ته داسې څه د اسلام په نامه معرفي کېږي چې هغه يا اصلاً اسلام نه وي، او يا د اسلام يو مسخ شوی شکل وي چې سليم فطرت ورڅخه نفرت کوي.

ج: غرب که له يوې خوا غربي ټولنو ته د ريښتني او مکمل اسلام د ورتګ مخه نيسي، له بلې خوا هغو ډلو، تنظيمونو او حرکتونو ته په غرب کې د فعاليت اجازه ورکوي چې يا خو اسلام په اوښتې او تحريف شوې بڼې خپروي، او په خپله هم په اسلامي ټولنو کې د منحرفو او کفري ډلو په حيث پېژندل کېږي،لکه: قاديانيان، بهايان، بابيان، منحرف صوفيان او داسې نور. او يا هم هغه ډلې دي چې صحيح اسلام خو په ناقصه او نيمګړې بڼه خلکو ته وړاندې کوي، او د اسلام اولويات، فرايض، واجبات، جهاد ، ولاء اوبراء، اسلامي نظام، د اسلام حاکميت، د فساد مخنيوئ، کافي شرعي علم، له جهادي حرکتونو سره همدردي، له جهاد او مجاهدينو سره مالي مرسته او حتی هغوئ ته دعا يې هم د خپل دعوت له نصاب او فرهنګ څخه د دې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېستلې ده چې کفار ورڅخه ناراضه نشي، او کفري هېوادونو ته یې د ورتګ له ویزو محروم نه کړي.

که دغه خلک له خپل همدغه جداوجهد سره د مجاهدینو ترڅنګ ودرېږي، او د اسلامي مبارزینو ملا وروتړي، یقیناً به مجاهدین په لسوکلونو کې اسلامي دعوت ته دومره څه وکړي چې دغه ډلې یې په یوه پېړۍ کې هم نشي کولی.

غرب څکه دغو ډلو ته د فعالیت اجازه ورکوي چې د دوئ له دعوت څخه د غرب نظام، استعماري پلانونو، کفري تمدن او نړیوال استکبار ته هېڅ صدمه نه رسېږي،او په عین وخت کې له مسلمانانو څخه په اسلامي هېوادونو کې د بالمثل مسیحي دعوت د اجازې غوښتنه هم لري. او دا وېره هم پرخپل ځای موجوده ده چې مکار غرب به له دغه ډول ساده لوحه ډلو څخه د جهاد او مجاهدینو په خلاف استفاده هم وکړي.

په مجموع کې دا هر څه د فکري جګړې د اهدافو د تحقق لپاره تر سره کېږي.

څلورم هدف- د اسلامي نړۍ لپاره جعلي او د پردیو په لاس جوړ شوي قیادتونه رامنځته کول:

د فکري جګړې له اهدافو څخه یو هم اسلامي هېوادونه او مسلمانې ټولنې له صالحو قیادتونو څخه محرومول او پر ځای یې د جعلي، د پردیو په لاس د جوړو شویو پردي پالونکیو قیادتونو معرفي کول او نوي نسل ته هغوئ د (ماډل) او نمونې په حیث وړاندې کول دي.

غربیان پدې پوهېږي چې ترڅو په اسلامي امت کې مخلص، اصیل، له الله ﷻ څخه وېرېدونکي او له خپل امت سره وفادار قیادتونه موجود وي، نو ترهغه پورې به په اسلامي نړۍ کې د غرب ارمانونه نه ترسره کېږي، او له همدې امله غرب پرله پسې هڅه کوي ترڅو د مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخلص قیادتونه یا شهیدان کړي، او یا یې بندیان، تبعید او بدنامه کړي. د غربیانو ملګري د هغوئ په خلاف ډول ډول توطیې او دسیسې جوړوي ترڅو یې په ټولنه کې تأثیر له منځه یوسي. کله تورونه ور پورې کوي، کله یې اتباع او ملګري انشعابونو او انشقاقونو ته تشویقوي، کله یې د بې لارې کولو هڅې کوي، او کله یې هم جوړجاړي او مصالحت ته وربولي.

خو د مخلصو قیادتونو پر ځای بیا په ټولنه کې هغو اشخاصو او جهتونو ته رشد ورکوي او تر شایې درېږي چې د غرب پر لاره ځي او غواړي مسلماني ټولنې هم د غرب پر لاره رواني کړي.

غرب دغه ډول غرب پلوو قیادتونو ته په لاندې ډګرونو کې امکانیات برابروي، رشد ورکوي او په خپله میډیا کې یې ځلوي:

اول ـ دیني ډګر: په دیني ډګر کې مخلص علماء، دعوتګران او اجتماعي مصلحین له منځه وړي، او یا یې تأثیر محدودوي او د فعالیت ساحه یې ورتنګوي. خو په مقابل کې یې هغه علماء، مفتیان، خطیبان، درباري ملایان او پیران چې د غرب د اهدافو لپاره کارکوي، ډیموکراسي د ژوند لپاره د نظام په حیث مني، او سیکولریزم د ژوند د بنې او عقیدې په حیث قبلوي رامنځته کوي، دولتي وظائف ورکوي، د وینا او تأثیر لپاره رسنۍ په اختیار کې ورکوي، ترڅو د حقیقي اسلام پرځای چې الله ﷻ یې غواړي خلکو ته هغه مسخ شوي، بې تأثیره، بې حکومته او بې نظامه اسلام ورمعرفي کړي چې امریکا یې غواړي.

دوهم ـ سیاسي ډګر: په سیاسي ډګر کې د مؤمنو سیاسي قیادتونو چې د الله ﷻ د مخلوق لپاره د الله ﷻ د نظام پلي کېدل غواړي مخه نیول کېږي، او پر ځای یې خائن، دروغجن، ډران، خرڅ شوي، معامله ګر او منافق قیادتونه قدرت ته رسول کېږي، ترڅو د دوئ له لارې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي نظام د نفاذ مخه ونيول شي، او مسلمان ملتونه د تل لپاره د غرب په سياسي غلامۍ کې پاتې شي.

دريم ـ پوځي ډګر: په پوځي ډګر کې هم غرب هغه پوځې مشران رامنځته کوي چې ذهن او فکر يې د دوئ د اسلام په خلاف ورجوړ کړې وي، او بيا وروسته د همدغو مسلطو پوځيانو په لاس اسلامي حرکتونه او د اسلامي فکر لرونکي له منځه وړي.

ځلورم- فکري ډګر: په فکري ډګر کې هم غرب په اسلامي نړۍ کې د هغو اشخاصو او جهتونو تر شا درېږي چې د غربي ډيموکراسۍ، لبراليزم، سيکولريزم، هيومنيزم او نورو نا اسلامي نظرياتو او افکارو د خپرولو لپاره کار کوي. غرب دغه خلک تمويلوي، سياسي احزاب ورته جوړوي او قدرت ته يې رسوي او د دوئ په وسيله په مسلمانو ټولنو کې د مسلمانو مفکرينو مخه نيسي.

پنځم ـ اجتماعي ډګر: په اجتماعي او د ځوانانو په ډګر کې هم غرب هڅۀ کوي د ټولنې هغه لا ابالي، لنډغر، لويدلي او بې معنويته اشخاص لکه ډمان، سندرغاړي، نڅاګر، کرکټيان او د فلمونو ممثلين ټولنې او ځوانانو ته د نمونې او ماډل په حيث وړاندې کړي، د هغوئ حيثيت په ټولنه کې دومره اوچت کړي چې نور خلک يې تقليد وکوي او پر لاره يې روان شي.

همدا ډول غرب هغو شکمنو، بې هويته او دخيلو اشخاصو ته چې غرب ته کار کوي د اجتماعي خدماتو د ترسره کولو مؤسسې ورجوړوي، او د غرب لويې مؤسسې فنډونه او وسائل په اختيارکې ورکوي، ترڅو په مسلمانو ټولنو کې د خير پالونکيو او اجتماعي شخصيتونو په حيث تبارز وکړي. خو د دوئ په مقابل کې د ټولو اسلامي مؤسساتو د فعاليت مخه نيول کېږي او کارکوونکې يې تر ډول ډول فشارونو او بنديزونو لاندې نيول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هر څه ددې لپاره ترسره کېږي ترڅو په ټولنه کې د اصیلو او مخلصو قیادتونو مخه ونیول شي، او پر ځای یې جعلي او د پردیو په لاس جوړ شوي شخصیتونه قیادت ته ورسېږي، چې دغه خلک بیا په اسلامي ټولنو کې د غرب د اهدافو لپاره کار او حاکمیت ته د اسلام د رسېدو مخنیوی وکړي، چې همدا د غرب له لویو اهدافو څخه دي.

د فکري جګړې خطر

د غرب فکري جګړه د غرب تر عسکري جګړې ډېره خطرناکه ده. ځکه چې غربیانو په خپلو عسکري استعماري جګړو کې یوازې د مسلمانانو زیرمې غلا کولې، کورونه یې ور ورانول او خلک یې وژل، چې دې هر څه به د مسلمانانو په زړونو کې د دوئ په خلاف کرکه نوره هم زیاتوله، او په خپل اسلام به نور هم ټینګېدل، او د مقاومت لپاره به تیارېدل که څه هم چې جګړه به په پېړیو پېړیو اوږده شوه.

خو د فکري جګړې خطر پدې کې دی چې دغې جګړې مسلمانان د غرب په زهرجن فرهنګ ولړل، په مسلمانانو کې یې الحادي نظریات، بې دینه فرهنګ او لوېدلي اخلاق خپاره کړل. نوی نسل یې له اسلامي مفاهیمو سره داسې نا آشنا کړ چې د اسلام شریعت، عقائد، تاریخ، تمدن او هر څه ورته پردي ښکاري، او په هرڅه کې د غرب په فلسفه او معیارونو باندې باور لري او تقلید یې کوي.

فکري جګړې د دغه نسل وجدان او ضمیر ته داسې ماتې ورکړې ده چې اوس د غرب هر څه ورته حق او صحیح ښکاري،او د هغه خپلول ترقي او تمدن ګڼي. خو هرڅه چې د غرب خلاف دي هغه ته ارتجاع، حماقت او بیرته پاتې والی وایي.

غرب د فکري جګړې په نتیجه کې په اسلامي هېوادونو کې داسې یو نسل رامنځته کړ، او حکومتونه او د چارو واګې یې وروسپارل چې د غرب د استعمار ښه ځای ناستي ثابت شول. د دغه نسل افکار،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظريات، د ژوند اخلاقي، اجتماعي، سياسي او اقتصادي فلسفه يې له مستعمرينو څخه هېڅ فرق نه لري،او دغه خلك د مسلمانو پرګنو په ځپلو او تعذيبولو کې تر مستعمرينو هم ډېر سخت زړي دي.

په فکري جګړه کې د مسلمانو هېوادونو دې ماتې خوړلي نسل اسلام او مسلمانې نړۍ ته دومره تاوان ورورساوه چې د چنګيز تر غميزې وروسته هېڅکله هم ورته په دې پيمانه نه ؤ رسېدلی. دې ماتې خوړلي نسل د مسلمانانو د ژوند ټول معيارونه پردي کړي چې د دې موضوع نور تفصيل يې د همدې کتاب په (پردي معيارونه) فصل کې ليکل شوی دی.

د فکري او عسکري جګړې ترمنځ توپيرونه

د فکري او عسکري جګړې تر منځ څو مهم توپيرونه موجود دي چې هغو ته په پام سره سړي ته د فکري جګړې اهميت او خطرناکتوب ورمعلومېږي، چې څو مهم توپيرونه يې په لاندې ډول دي :

١ – عسکري جګړه ښکاره، خو فکري جګړه پټه روانه وي:

پر هر هېواد يا ولس باندې چې بل هېواد يا ولس عسکري يرغل وکړي نو د تر يرغل لاندې راغلي هېواد او ولس ټول خلک ورباندې خبرېږي او په يو نه يو ډول د يرغلګرو مقابلې ته ځان تياروي. ځکه چې د عسکري جګړې غږ په ټول هېواد کې خپرېږي، په ځوانانو، زړو، نارينه ؤ، ښځو او دولتي او ولسي خلکو کې د دفاع او مقاومت حس راوېښېږي چې خلك په هغه صورت کې يا جنګ کوي او يا دنجات په مقصد د جنګ له سيمې ځان يوې بلې د امن سيمې ته رسوي.

خو فکري جګړه د عسکري جګړې په خلاف دومره مخفي روانه وي چې د ولس ډېر لږ خلک يې احساسوي او په خطرباندې يې پوهېږي. ځکه چې فکري جګړه د تخريب، توپ، ټانګ او بم په شکل کې نه وي روانه، بلکې د مکتب، تعليمي نصاب، فرهنګ، ادبياتو، سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشکلاتو، اقتصادي فعالیتونو، سپورټ، موډ او فیشن په شکلونو کې روانه وي.

عام خلک تر هغه د دې جګړې په جریان نه پوهېږي چې تر څو یې خطرناکو عواقبو او آثارو د هېواد او ولس د خلکو د ژوند مسیر وربدل کړي نه وي. همدغه وجه ده چې په مسلمانو ولسونو کې ډېر لږ خلک د فکري جګړې احساس کوي او مقاومت ته یې پورته کېږي. دغه لږ خلك که هر څومره خلکو ته چیغې ووهي چې هېواد او ولس له یوه نامرئې توپان سره مخ کېدونکی دی، خلک یې تر هغه وخته په وینا باور نه کوي چې ترڅو توپان ټول په مخه کړي نه وي.

له همدې امله غرب هم په اسلامي هېوادونو کې د عسکري جګړې پر ځای فکري جګړې ته ترجیح ورکوي. ځکه چې پدې جګړه کې یې څوک مقاومت ته نه راپورته کېږي.

۲ – په عسکري جګړه کې مقابل لوري هم عسکري وي، خو په فکري جګړه کې مقابل لوری بې دفاع ولسي خلک وي:

عسکري جګړه د داسې دوو طرفو تر منځ پېښېږي چې دواړه مسلح وي. که یو یې د برید توان لري نو بل یې د دفاع توان لري. که یو طرف ټانك لري، بل طرف یې ماین لري. که یو طرف طیاره لري، بل طرف راکټ لري. که یو طرف یرغل کوي، بل طرف ورته کمین نیسي. دواړه طرفونه له جنګي مهارتونو څخه برخمن وي.

خو په فکري جګړه کې بیا د ولس عام، بې دفاع او بې وسائلو خلک هدف ګرځول کېږي، د مثال په ډول: په فکري جګړه کې یو لوری مکتب، نصاب، معلم، پوهنتون او مادي امکانیات لري، خو بل طرف د ولس عام وګړي دي چې له یادو وسائلو هېڅ هم نه لري، او پرته لدې چې په خپله ورتسلیم شي او هم خپل اولادونه ورتسلیم کړي بله هېڅ چاره نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډل یو طرف راډیو، تلویزیون، اخبار، مجله، سینما، تیاتر، د فلم جوړولو کمپنۍ او د رسنیو ماهرین او متخصصین لري، خو مقابل طرف چې عام ولس دی له دغه ډول وسائلو هېڅ نه لري، او پرته له دې چې د دښمن پیغام واوري او ورڅخه متاثر شي د مقابلي لپاره یې هېڅ نشي کولي.

په دغه نابرابره فکري جګړه کې یوې خواته ماهر، مکار، ژبور او د خلکو په عمومي سایکالوژۍ (نفسیاتو) پوه یرغلګر دي، او بلې خوا ته بېسواده، غریب، ناتوانه، ماشومان، ښځینه، تنکي ځوانان او پیغلې دي چې ډېر ژر او په آسانه له تبلیغاتو څخه متاثره کېږي. ځکه چې هغوئ د دښمن د پروګرامونو، تبلیغاتو، او نشراتو د پیغام تحلیل او ارزونه نشي کولي.

له همدې امله غرب دغه سنګر ښه په قوت سره د داسې چا په مقابل کې اشغال کړی چې هغه اصلاً له خپل ځان، خپلې عقیدې، خپل فکر او فرهنګ څخه په دفاع قادر نه دي.

۳- عسکري جګړه زمکه اشغالوي، خو فکري جګړه عقل، فکر او فرهنګ اشغالوي:

په عسکري جګړه کې دښمن دیوه هېواد زمکه اشغالوي چې ازادول یې ورڅخه په آسانه ممکن دي، د اسلامي نړۍ ډېر هېوادونه د غربیانو لخوا اشغال شوي ول، خو اوس په ظاهری ډول د هغوی له تسلط څخه آزاد دي. همدا ډول افغانستان له انګریزانو څخه آزاد شو، وروسته روسانو اشغال کړ، چې له هغوئ څخه هم آزاد شو. اوس امریکایانو نیولی چې له هغوئ څخه یې هم ډېرې سیمې آزادې شوې دي.

خو په فکري جګړه کې دښمن هڅه کوي د مسلمانانو فکر، عقل، عقیده او فرهنګ اشغال کړي. او کله چې د چا فکر، عقل عقیده اشغال شي، هغه بیا هېڅکله د خاورې د آزادۍ فکر نه کوي، هغه بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمن ته دوست، تخریب ته یې تعمیر، غلامۍ ته یې آزادي او ذلت ته عزت او سرلوړي وايي.
غربي استعمار په تېرو دوو سوو کلونوکې وکولی شول چې په اسلامي نړۍ کې د ډېرو خلکو او په خاص ډول د حاکمې طبقې ذهن او عقل اشغال کړي، هغوئ یې په غربي فکر، عقیدې او غربي مادي فرهنګ وروزل،او پدې یې قانع کړل چې داسلام تر حاکمیته ورته د کفر حاکمیت او د کفري قوانینو تنفیذ غوره دی. له همدې امله په هغو اسلامي هېوادونو کې چې د غرب روزل شوي شاګردان یې اداره کوي تر آزادۍ وروسته هم هېڅکله د اسلام نظام نافذ نه شو. دغه خلک نه یوازې دا چې د اسلام نظام نه نافذوي، بلکې د اسلام د نظام د نافذولو مطالبه هم د دوئ په قاموس کې جرم ګڼل کېږي. هر څوک چې د اسلام د نظام د نافذېدلو مطالبه کوي هغه وژل کېږي، تړل کېږي او یا یې پر دعوت او فعالیت بندیزونه لګول کېږي. او دا ټول د داسې چا له لاسه کېږي چې ځانونو ته مسلمانان هم وايي، او نومونه یې هم د مسلمانانو دي، خو فکرونه یې د دښمن لخوا اشغال شوي دي.
د نیول شوې خاورې آزادول آسانه دي، خو د پردیو لخوا د اشغال شوو فکرونو او عقلونو آزادول ډېر ګران کار دی. مونږ افغانانو کمونستانو ته پوځي ماتې ورکړه، خو د ګوتو په شمېر یو څوکمونستان مو له کمونیزم څخه علني توبې وېستلو ته تیار نه کړای شول. هماغه کمونستان چې پرون د یو ډول اروپایې الحادي نظریاتو منونکي ول، نن د بل ډول اروپایي الحادي نظریاتو منونکي دي، له همدې امله غرب هڅه کوي چې د مسلمانانو د خاورې پر ځای د هغوئ فکر اشغال کړي. ځکه چې د فکرونو اشغال له یوې خوا بې خطره دی، او له بلې خوا یې نتائج هم سل فیصده د دښمن په ګټه راوځي، او د ډېرې مودې لپاره پر اسلامي نړۍ د غرب د سیاسي او فکري تسلط تضمین ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – عسکري جګړه جنګي وسائل او ودانۍ له منځه وړي، خو فکري جګړه ایمان، عقیده، عزم او اراده له منځه وړي:

په عسکري جګړه کې دښمن کوښښ کوي چې د مسلمانانو جنګي وسائل، پوځیان، پوځي او دولتي ودانۍ بمباردکړي، په توپونو یې وولي او یایې وسوځوي، ترڅو پوځي قوت له دفاع او حرکت څخه وغورځوي.

جنګي وسائل که هر څومره تخریب شي یا له منځه لاړ شي، خو چې د مسلمانو پوځیانو په زړونو کې د جګړې او دفاع اراده، د الله تعالې ﷻ په نصرت باندې ایمان او د برې معنوي وسائل لکه ټینګ ایمان، تقوي، د مسؤلیت احساس، د امیر اطاعت او د وحدت احساس موجود وي، نو که پوځي وسائل یې هر څومره هم لږ یا کمزوري وي، بیا هم دښمن ته نه تسلمیږي، د ناتوانۍ په صورت کې ښایې تېښتې ته په تسلیمېدلو ترجیح ورکړي، ترڅو د سبا ورځې لپاره بیا ځان جګړې ته تیار کړي، خو دښمن ته وسله په زمکه نه ږدي.

خو په فکري جګړه کې د مقاومت معنوي عوامل لکه ایمان، عقیده، عزم او د مقاومت اراده له منځه وړل کېږي. په هغو مسلمانو هېوادونو کې چې خلکو یې په فکري جګړه کې ماتې خوړلې ده د کافي جنګي وسائلو او حتی د(اتوم بم) له درلودلو سره بیا هم د دښمن په مقابل کې د دریدلو توان نه لري، او د جګړې تر شروع کېدلو دمخه یې د اسلام دښمنانو ته د تسلمېدلو اعلان کړی وي. نه یوازې دا چې د دښمن په مقابل کې مقاومت نشي کولی، بلکې په ډېرې بې شرمۍ د خپل دین او ملت په خلاف د دښمن په صف کې دریږي او هغه څه کوي چې دښمن یې ورڅخه غواړي.

په فکري جګړې کې د ماتې په صورت کې ډېرې وسلې، جنګي مهارتونه، کافي شمېر پوځونه، ښه ډېر مادي وسائل قوي اقتصاد تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخته د کافر دښمن په مقابل کې د ثبات، دفاع او مقاومت عوامل نشي کېدی ترڅو چې د جنګیالیو په زړونو کې ایمان، له الله ﷻ وېره، د اسلام پر حقانیت باور، او له کفر څخه کرکه او نفرت وجود ونه لري.
د دې لپاره چې د مسلمانانو پوځونه د نصرت له معنوي عواملو څخه بې برخې وي غرب په ټولو اسلامي هېوادونو کې هڅه کوي چې د مسلمانانو پوځونه، دفاعي اوامنیتي قواوې او استخبارات په مکمل ډول له دین، عقیدې او اسلامي روحیې څخه محروم وروزي. د دغې بې دینې روزنې نتیجه دا ده چې نن تقریباً د ټولې اسلامي نړۍ د هېوادونو پوځونه د صلیب تر بیرغ لاندې د اسلام او خپلو ملتونو په خلاف په جګړو اخته دي. او دا ځکه چې فکري جګړې یې ایمان، عقیده او اسلامي احساس له منځه وړی دی.

۵ – د عسکري جګړې د ورانې بیاودانول لږ وخت غواړي، خو د فکري جګړي د ورانې بیا ودانول پېړۍ غواړي :

که په عسکري جګړه کې ښارونه، کلي، پلونه، سړکونه او نور عامه تأسیسات وران شي،کېدی شي هغه د لسو پنځه لسو کلونو په اوږدوکې تر هغو ښځوانیو هم ښه جوړ شي، ځکه چې ورځ په ورځ دانسانانو صنعتي تجربه او ټکنالوژي ترقي کوي، او د ودانولو نوي نوي وسائل او مواد ایجادېږي. وران ښارونه ښایې تر پخوانیو په ښه نقشه او ډیزاین جوړ شي. وران پلونه، سړکونه، مکتبونه، پوهنتونونه، شفاخانې، باغونه، ویالې او نهرونه ښایې د نویو معلوماتو او عصري تعمیراتي تجربو او مېتودونو په کارولو تر پخوانیو هم په ښه کیفیت جوړ شي.
خو هغه فکرونه، عقیدې او اخلاق چې د فکري جګړې په ترڅ کې وران شوي وي، د هغو جوړول، اصلاح کول، بېرته د حق معیارونو ته راګرځول خورا ډېر وخت، ډېرو پروګرامونو، ډېرو نشراتو، صابرو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماهرو دعودتګرانو، استاذانو، مصلحینو، د تعلیم او تربیې هر اړخیزو اصلاح شویو نصابونو او د ډېرو پیسو مصرف ته ضرورت لري. او دغه کار په زماني لحاظ هم ډېر اوږده وخت او مسلسلو هڅو ته ضرورت لري.

ډېر اسلامي هېوادونه له انګریزانو آزاد شول، خو له (انګرېزیت) څخه لا د لسګونو کلونو په تېرېدلو هم نه دي خلاص شوي. ډېر هېوادونه له فرانسې څخه خلاص شول، خو د خلکو افکار، نظریات، نظام او د ژوند ټول اړخونه یې د نیمې پېړۍ له تېرېدو وروسته هم له (فرانسویت) څخه ندي خلاص شوي.

همدا ډول ډېر اسلامي هېوادونه له روسیې څخه خلاص شول، خو په خلکو او نظام کې یې لا تر اوسه هم اسلام ندی راغلی، او هر څه یې په هماغه روسي نظام او د کمونیزم په الحاد وهلې فلسفه باندې چلېږي، او په نږدې راتلونکي کې دا تصور هم نشي کیدلې چې دغه هېوادونه دې په رښتیا د حقیقی اسلام غېږې ته راوګرځي، او کېدای شي سلګونه کلونه وغواړي چې په دغو هېوادونو کې دې اسلام حاکم شي، او یا یې د خلکو الحاد وهلې فکرونه بېرته په اسلامي مفاهیمو روښانه شي. دا هر څه په دې دلالت کوي چې د فکري جګړې تخریب د عسکري جګړې تر تخریبه ډېر دوامدار او خطرناک وي. د فکري جګړې او عسکري جګړې تر منځ نور ډېر توپیرونه هم شته، خو د دې لپاره چې بحث ډېر اوږد نشي د همدغو څو مثالونو په یادولو اکتفا کوو.

فکري جګړه د علامه اقبال له نظره

د مسلمانانو او د غرب تر منځ د فکري جګړي په هکله د علامه محمد اقبال لاهوري فکر او نظر ځکه د اعتبار وړ دی چې نوموړی د دغې جګړې له میدان څخه راغلی دی. هغه د دغې جګړې اور او ټول پړاونه لیدلي، او هم یې د دغې جګړې د مقابل لوري له جنګیالیو سره شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ورځې تېرې کړې دي، او د هغوئ له مقاصدو خبرشوی دی. هغه د دغې جګړې د پلان جوړوونکو په نیتونو او ارادو هلته په غرب کې خبرشوی، او بیا یې په خپلو اشعارو او نظریاتو کې خپل امت ته د دغې جګړې د خطرونو خبرداری ورکړی دی.

اقبال په خپل وطن کې له غربي مستشرقینو زده کړه کړې، د هغوئ نظریات یې معلوم کړي، وروسته بیا غرب ته تللی، په اروپا کې یې د غرب له فکري رهبرانو او فیلسوفانو سره وخت تېرکړی، او د هغوئ نظریات یې د اسلام په رڼا کې څېړلي دي. هغه له غرب څخه ډېر څه زده کړي، خو د غرب په دام کې ښکیل شوی ندی. هغه د ده په خپله وینا لکه ابراهیم علیه السلام د وخت د نمرود له اوره(د غرب د کافر تمدن له فکري تأثیراتو) سلامت راوتلی، لکه چې وایي:

طلسم عصر حاضر را شکستم ربودم دانه و دامش گسستم
خدا داند که مانند براهیم به نار او چه بی پروا نشستم

اقبال له دغې فکري جګړې یوازې روغ راوتلی، خو نور خلک یې ډېر ولیدل چې څنګه د دغې جګړې قرباني شول، هغه وایي:

ما همه افسونی تهذیب غرب کشتهٔ افرنگیان بی حرب وضرب

اقبال د دغې جګړې قربانیانو ته چې په غرب مین دي، په هر څه کې د غرب تقلید کوي او پر لاره یې ځې، بېرته خپل ځان ته دراګرځېدلو توصیه کوي او د(خودی) درس ورکوي، هغوئ ته وایي چې تاسې غرب په حقیقي شکل نه دی پېژندلی، یوازې د هغه له (خُم) څخه د څو جامونو په څښلو له ځانه بیخوده شوي یاست، لکه چې وایي :

بیا اقبال جامی از خمستان خودی درکش
تو از میخانهٔ مغرب زخود بیگانه می آیی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته هغه د غرب له ریښتني شکله پرده پورته کوي او غولېدلیو مسلمانانو ته د غرب د فلسفي حقائق وربښکاره کوي :

یورپ از شمشیر خود بسمل فتاد　　زیر گردون رسم لادینی نهاد
گرگی اندر پوستین بره ئې　　هر زمان اندر کمین بره ئې
مشکلات حضرت انسان ازوست　　آدمیت را غم پنهان ازوست
درنگاهش آدمی آب وگل است　　کاروان زندگی بی منزل است
علم اشیا خاک مارا کیمیاست　　آه! در افرنگ تأثیرش جداست

هغه پدې هکله چې څنګه غرب په خپله ملګرتیا کې له جبرائیل صفته نیک انسان څخه هم ابلیس جوړوي، او څنګه له علم څخه د انسانیت د تباهۍ وسله تیاروي وایي:

علم ازو رسواست اندر شهرودشت　　جبرئیل ازصحبتش ابلیس گشت
دانش افرنگیان تیغ بدوش　　در هلاک نوع انسان سخت کوش
آه! از افرنگ و از آیین او　　آه! از اندیشهٔ لادین او

اقبال په غرب تېروتلو د فکري جګړې قربانیانو ته د غرب د بشردوستۍ او حقوق پیژندنې په هلکه وایي:

شرع یورپ بی نزاع قیل وقال　　بره را کردست برگرگان حلال
کشتن بی حرب وضرب آیین او　　مرگها از گردش ماشین او

اقبال نه یوازې دا چې خلکو ته د غرب حقیقت بربنډوي، بلکې د غرب په فکري دام کې د لوېدلو مسلمانانو او د غرب د فکري جګړې د قربانیانو هغه تصویر هم وړاندې کوي چې څنګه غربي ډوله تعلیم غیرتي مسلمانان د غرب په نانځکو بدل کړل، او د اسلام هر څه یې ورڅخه واخیستل، هغه وایي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمــت اربــاب دين كردم بيـان   حـكمـت اربـاب كيـن را هم بـدان
حكمت ارباب كين مكراست وفن   مكر وفن؟ تخريب جان تعميـرتن
حكمـتی از بنــد ديــن آزاده يی   از مـقــام شــوق دور افتــاده يی
مكتـب از تـدبـير او گيـرد نـظام   تـا بـه كـام خواجه انديـشد غلام
شيـخ ملـت با حديـث دلنشـين   بـرمـراد او كـنـد تـجـديد ديـن
وای قـومـی كشتـۀ تـدبير غيـر   كـار او تــخريب خود تعمير غير
ميشــود درعلـم وفـن صاحب نظر   از وجـود خـود نـگـردد بـاخـبـر
از حــيا بـيگـانـه پيـران كـهـن   نـوجـوانـان چون زنان مشغول تن
در دل شــان آروزهــا بــی ثبـات   مـرده زايـنـد از بـطون امهـات
دختــران او بــه زلـف خود اسـير   شوخ چشم وخود نما و خورده گير
ملـتــی خاكسـتر او بــی شـرر   صبـح او از شـام او تـاريـک تـر
هر زمــن انـدر تـلاش سازوبـرگ   كـار او فـكر معـاش و ترس مرگ
منعمان او بخيل و عيـش دوست   غـافـل از مغزند و اندر بند پوست
قــوت فـرمـانـروا مــعـبـود او   در زوال ديــن و ايــمــان ســود او
ازحـدامـروز خود بـيـرون نجست   روز گارش نقش يک فردا نـه بست
از نيـاكـان دفـتری انـدر بـغـل   الامــان از گــفـتــه هاى بــی عـمل
ديــن او عــهـد وفا بـستن بـه غير   يعـنـی از خـشت حـرم تعمير دَير

حكيم او فيلسوف اقبال وروسته د انګريزي دولـه تعليم او مكتب له منفي تأثيره شكايت كوي او د دغه مكتب روشن فكره خو تاريک ضميره بچيان دا ډول را معرفي كوي:

درعــجم گرديــدم هــم در عــرب   مصــطـفی نـا يـاب ارزان بولهب
اين مسلمان زادۀ روشــن دمــاغ   ظلـمـت آبـاد ضميرش بی چراغ
درجوانی نرم و نازک چــون حرير   آرزو درسـيـنـۀ او زود مـيـــر
اين غـلام ابـن غـلام ابــن غـلام   حـريـت انـديـشۀ او را حـرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکتب ازوی جذبهٔ دیـن درربـود از وجـودش این قدردانم که بود
این زخود بیگانه این مست فـرنگ نان جو میخواهد از دست فرنگ
از فرنـگی مـیخرد لات و مــنات مـؤمـن و انـدیشـهٔ او سـومنات
دیـن و دانش را غـلام ارزان دهـد تـا بـدن را زنـده دارد جان دهد
گـرچه بر لـبهای او نام خـداست قـبـلـهٔ او طـاقـت فرمانرواست

د غرب د مادي فلسفې په زهرو خبر او د واقعي تجربې خاوند اقبال مسلمانانو ته د غرب د فکر د خپلولو له خطر څه خبردرای ورکوي او ورته وايي چې هرڅوک چې يو ځل د غرب د فکر په زهرو زهرجن شو هغه بيا د مسلمانانو د کار نه پاتې کېږي.

هوشـمندی از خُم او مــی نخـورد هر که خورد اندر همین میخانه مرد

ځينې غرب ځپلي خلک چې اصلاً د علم او رواج ترمنځ فرق نشي کولی او ګومان کوي چې که چېرې دوئ هم د غربيانو رواجونه خپل کړي، خپل شکل، مظهر، لباس او فيشن د هغوئ په څېر جوړ کړي، نو دوئ به هم د غربيانو په څېر په علم او فن کې پرمخ ولاړ شي، او شرق به هم د غرب په څېر د مادي پرمختګونو لوړو پوړنو ته ورسوي، اقبال د دغه خام خيال او ځان غولونې په هکله د غرب مينانو ته وايي :

شرق را از خود برد تـقلـید غـرب بـایـد ایـن اقـوام را تـنقید غرب
قـوت مغـرب نه ازچنـگ و ربـاب نـی ز رقـص دخـتران بی حجـاب
نـی زسحر ساحـــران لالـه روست نی زعریان ساق نی از قطع موست
محـکمی او را نه از لادیـنی است نــی فـروغـش از خط لاتـینی است
قــوت افـرنـگ از علـم وفـن است از همیـن آتش چراغش روشن است
حکمت ازقطع و بریدجامه نیست مـانـع عـلـم وهـنـر عـمامه نیست
علم وفـن را ای جوان شوخ وشنگ مـغـز مـی بایـد نـه ملبوس فرنگ
اندرین ره جز نگه مطلوب نیست ایـن کـله یا آن کله مطلوب نیست
فـکر چالاکـی اگر داری بـس است طبـع درّاکی اگر داری بس اسـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقبال په پای کې د اسلامي امت بچیانو ته توصیه کوي او ورته وایي چې نه د غرب ګوهر د خپلولو دی، او نه یې مښک د بویولو دي، ځکه چې ګوهر یې صاف نه دی ،او مښک یې د هوسۍ له (نافې) څخه نه، بلکې د سپي نه (نُو) څخه راوتلي دي، هغه وایي:

ګوهرش تفدار و در لعلش رګ است   مشک این سودا ګراز ناف سګ است

خو د غرب سیکولر (بې دینه) غلامان بیا هم د اسلامي نړۍ ځوانانو ته د غربیانو د پیروۍ توصیې کوي، او د غرب فرهنګ ورته د لوړ انساني فرهنګ په حیث ورمعرفي کوي.

د فکري جګړې مخنیوی

د پوځي جګړې مخنیوی کله په پوځي غلبې او کله هم په صلحې او متارکې سره کېږي. خو فکري جګړه بیا هغه جګړه ده چې په هېڅ صورت نه صلحه او منځګړتوب مني، او نه ورکې د صلحې لپاره ځای شته. فکري جګړه یوازې د فکري غلبې په صورت کې درېږي او بس. او ترڅو چې یو طرف پر بل طرف پدې جګړه کې په مکمل ډول غالب شوی نه وي، تر هغه به دغه جګړه روانه وي.
په فکري جګړه کې نه اسلام صلح او منځګړتوب مني، او نه هم کفر. په هغه وخت چې رسول الله ﷺ د الله تعالی په امر په مکه مکرمه کې د شرک او کفر په خلاف په یوازې ځان فکري جګړه پیل کړې وه، د مکې کفار په دغې جګړی کې له رسول الله ﷺ څخه ډېر تنګ شول. مشران یې د رسول الله ﷺ تره ابوطالب ته راغلل ترڅو د دوئ او د رسول الله ﷺ تر منځ منځګړتوب وکړي او رسول الله ﷺ د دوئ د شرکي افکارو او نظریاتو په خلاف له مبارزې څخه ایسار کړي. ابوطالب هم په ډېرې مهربانۍ د کفارو د مشرانو دغه غوښتنه رسول الله ﷺ ته وړاندې کړه. رسول الله ﷺ چې د دغې فکري جګړې د توقف له خطرناکو عواقبو ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبروو،نو ځکه یې خپل تره ته یې داسې و فرمایل: (والله یاعم لو وضعوا الشمس في يميني والقمر في يساري على أن أترك هذا الأمر ما فعلت حتى يُظهره الله أو أهلك دونه). (قسم مې دې په الله وي ای تره! که کافران لمر زما په ښي لاس او سپوږمۍ زما په کیڼ لاس کې راته کېږدي د دې لپاره چې زه دا کار پرېږدم، تر هغه به یې پرې نږدم چې یا یې الله ﷻ پر کفر غالب کړي، او یا زه په دې لاره کې ومرم).

که د رسول الله ﷺ دغه دریځ ته وګورو نو وینو چې هغه مبارک پداسې وخت کې د خپلې فکري مبارزې د دوام قسم یادوي چې دی مبارك په میدان کې یوازې ولاړ دی، او حتی چې تره یې هم د ده ترڅنګ نه درېږي، خو بیا هم هغه مبارک فرمایې: چې که کافران ناممکن شرطونه چې د لمر او د سپوږمۍ په لاسونو کې ورته ایښودل دي هم ورته ممکن کړي، نو بیا به هم د دوئ له فکري دښمنۍ څخه لاس نه اخلي. دا پدی دلالت کوي چې په اسلام کې د کفر په خلاف په فکري جګړې او دښمنۍ کې (سوله) او (منځګړتوب) ځای نه لري. په عسکري جګړه کې رسول الله ﷺ صلحه کړې ده، خو په فکري جګړه کې یې هېڅکله نه ده کړې.

همدغه ډول کفار هم تر هغه د مسلمانانو له دښمنۍ څخه لاس نه اخلي ترڅو یې چې مسلمانان له خپل دین، فکر او ملت څخه چې اسلام دی ویستلي نه وي. الله فرمایي: ﴿وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ﴾ البقرة: ۱۲۰

ترجمه: (هېڅکله به یهود او نصاری له تا څخه خوښ او راضي نشي تر هغه چې د دوئ د ملت (دین) پیروي ونه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه الله فرمايي: ﴿وَلَا يَزَالُونَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمۡ عَن دِينِكُمۡ إِنِ ٱسۡتَطَٰعُواْۚ﴾ البقرة: ٢١٧

ترجمه: (هيشه به وي دوئ (کافران) چې جګړه به کوي له تاسې سره تر هغې چې تاسې له خپل دين څخه مرتد کړي، که دوئ په دې کار وتوانېږي).

په پورتنيو دواړو آيتونو کې په صراحت سره معلومېږي چې کفار به تر هغه وخته د مسلمانانو په خلاف په جګړه کې وي، چې ترڅو يې د مسلمانانو دين، فکر او نظريات نه وي وربدل کړي. يعنې د دوئ عسکري جګړې به هم د فکر لپاره وي. اصلي جګړه به فکري وي، خو کېدای شي چې عسکري جګړې هم د دغې فکري جګړې لپاره د وسائلو په حيث استعمال شي.

دا چې فکري جګړه په هېڅ صورت (سوله) او (منځګړتوب) نه مني، نو د دغې جګړې مقابله او مخنيوی به څنګه او په څه شکل کوو؟ او بيا په خاص ډول مونږ افغانان به يې د خپل ديني، فکري، سياسي، علمي او اجتماعي وضعيت په پام کې نيولو سره څنګه کوو؟ پدې هکله يوه طرحه د اسلامي فکر او نظر د خاوندانو په خدمت کې په لاندې څو تدبيرونو کې وړاندې کووم:

اول تدبير- د حکومت د چارو واګې تر لاسه کول:

په اسلامي نړۍ کې د ننه او له هغې څخه د باندې چې د مسلمانانو په خلاف د فکري جګړې تر شا چې څوک ولاړ دي هغوئ ټول نظامونه او حکومتونه دي. اوکوم وسائل چې پدغه جګړه کې په کار اچول کېږي لکه مکتبونه، پوهنتونونه، څېړنيزمراکز، راډيوګانې، تلويزونونه، وزارتونه، قوانين، سياسي او پوځي فشارونه، په مليياردونو ډالر په مليونونو روزل شوي متخصصين او ماهر کارکوونکي او نور وسائل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تقریباً ټول یې د هغو حکومتونو په واک کې دي چې د اسلام او مسلمانانو په خلاف یې دغه خطرناکه فکري جګړه پیل کړې ده او پر مخ یې بیایي.

په اسلامي هېوادونو بیا په خاص ډول په افغانستان کې د دغو وسائلو مقابله او یا مخنیوی د افرادو او تنظیمونو له توان څخه وتلی کار دی.

او ترڅو چې نظام اوحکومت د اسلامي فکر د خاوندانو لاس ته نه وي ورغلی او ترڅو یې چې د افغانستان د ټولو دیني، سیاسي، پوځي، اداري، اجتماعي، مالي، کلتوري تعلیمي چارو واګې له مفسدو، سیکولرو،دیموکراتو، لیبرالو، کمونستو، نشنلستو، غرب پلوو عناصرو او د اروپایې افکارو د منونکو له کرغېړنو منګولو نه وي اخیستي، تر هغه پورې د اصلاح انفرادي هڅې بې ګټې او یا بې مطلوبې ګټې دي.

د حاکمیت له سطحې څخه لیرې هڅو او دعوت په تېرو نوي کلونو کې وښودل چې یوازې د دعوت او طاغوتانو ته د عذرونو او زاریو له لارې د اسلامي نړۍ په یوه هېواد کې هم اسلامي نظام رامنځته نه شو.

ځکه چې د شریعت له پوره کیدلو وروسته یوازې په دعوت دعوت اکتفا کول د قرآن کریم او د رسول الله ﷺ له طریقې څخه خلاف کاردی.

رسول الله ﷺ چې د شریعت تر پوره کېدلو مخکې دیارلس کاله یوازې دعوت وکړ نو یوازې د اتوسوو په شا او خوا کې خلک مسلمانان شول.

خو د کفر او جاهلیت نظام هماغه ډول پر ځای ولاړ وو. خو کله چې رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې حکومت او نظام جوړ کړ، او د حکومت د چارو واګې یې ترلاسه کړې، نو تر لسو کلونو په کمه موده کې نه یوازې اسلام د عربو په ټوله جزیره کې خپور شو، بلکې د عربو تر جزیرې د باندې یې هم د کفر د لویو لویو امپراطوریو د زوال زمینه برابره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ په افغانستان کې تر هغه د غرب د فکري جګړې مخنیوی نشو کولی چې تر څو مو د بالمثل وسائلو د لرلو توان نه وي پیداکړي. او دا کار به هغه وخت ممکن وي چې خپل نظام او حکومت د غرب له غلامانو او ملګرو خلاص کړو، او په ریښتنې معنی یې د اسلام د دین په اساساتو ودروو. نه دا چې نوم یې اسلامي حکومت وي، خو چارې یې ټولې د کفر او معاصر جاهلیت په قوانینو چلېږي.
د طالبانو د حکومت تجربې وښودله چې اسلامي اداره چې که څه هم چې په مادي لحاظ کمزوري هم وي د فساد، ظلم او کفري نظریاتو په مخنیوي کې تر قوي بې دینه حکومت ډېره مؤثره وي. همدغه سبب ؤ چې ټوله کفري نړۍ د داسې یو حکومت په مقابل کې د جګړې لپاره راپورته شوه چې پښې یې لا په زمکه نه وې ټینګې شوې. دا ځکه چې کفار پدې پوهېږي چې که یوځل په کوم اسلامي هېواد کې یو حقیقي او واقعي اسلامي نظام او حکومت منځته راشي، نو هغه به حتماً د نورو مسلمانو ملتونو لپاره د یوه مثال او ماډل حیثیت غوره کوي چې هغوئ به یې هم په خپلو هېوادونو کې د قائمولو هڅه کوي.
نو د دې لپاره چې ملت مو د غرب له فکري جګړې او په دین له نه ولاړو نظریاتو ژغورلی وي باید د (حکومت) او (تأثیر ګذارۍ) ټول فرصتونه او وسائل د غرب پلوو سیکولرو عناصرو له لاسه خلاص کړو، او د الله ﷻ د دین د حاکمولو لپاره یې په خپل لاس کې ونیسو، او پدې لار کې له هېچا سره د اسلام په سر معامله ونه کړو.
د تېرو اتیاوو کلونو تاریخ ثابته کړه چې ترڅو پورې چې د غرب په فکر روزل شوې عناصر په قدرت کې وي، تر هغه به د اسلامي فکر پلویان یا وژل کېږي، یا به په زندانونوکې وي، او یا به هم له تبعید او نورو ډول محدودیتونو او بندیزونو سره مخ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم تدبیر- د تعلیمي نصابونو اصلاح:

په اسلامي نړۍ کې د تعلیم دوه ډوله نصابونه رائج دي چې یو یې د دیني او بل یې د دنیاوي تعلیم نصاب دی. دغه دواړه ډوله نصابونه اساسي اصلاح ته ضرورت لري چې باید په لاندې ډول وي:

۱- د دنیاوي تعلیمي نصاب اصلاح:

د دنیاوي تعلیم نصاب د دې ترځنګ چې باید د معاصرو تحقیقاتو او څېړنو په رڼا کې د مؤثر تقدیم (Presentation)، دتدریس د عصري طریقو (Methods)او د تعلیم د معاصرو وسائلو د کارولو په شکل کې تدوین شي، او له غربي فلسفې، غربي اخلاقو، غربي فرهنګ او د غرب له فکري تأثیراتو څخه هم باید په ټوله معنی پاک شي. ځکه چې مونږ د یوه مؤمن ملت په حیث د خپل رب، خپل دین او خپل ملي تشخص په وړاندې التزامات لرو، چې هغه زمونږ د ژوند ټول اړخونه احتوا کوي. مونږ که ضرورت لرو نو هغه یوازې د غرب علمي او صنعتي تجربې ته دی، نه د غرب اخلاقو، د ژوند فلسفې او د هغه بې لارې او الحادي کلتور ته.

ټول هغه مفاهیم چې د غرب د مشاورینو په اشارو او یا د هغوئ د شاګردانو لخوا په رسمي تعلیمي نصاب کې ځای پر ځای شوي دي باید د خبیرو او د اسلامي فکر په ټولو اړخونو د پوهو اشخاصو لخوا تصفیه شي، او پر ځای یې سوچه اسلامي افکار په تعلیمي نصاب کې شامل کړای شي.

خو دا پدې معنی نده چې د اسلامي مدرسو دیني عربي کتابونه یا د صرف او نحوی اختصاصي کتابونه چې له نن څخه تقریباً اته سوه یا زرکاله پخوا د هماغې زمانې د شعوري او ذهني کیفیت او علمي سویې په نظر کې نیولو سره د هماغې زمانې خلکو ته لیکل شوي ول راواخیستل شي او پرته له کوم تسهیل، ترجمې او نوي تدوین څخه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مکتب په نصاب کې شامل کړای شي. بلکې ديني او لغوي مسائل بايد په (سيستماتيک) ډول د دې زمانې د رواني (روحي) علمي، اجتماعي، لغوي وضعيت، عرفونو او اصولو په نظر کې نيولو سره په مناسب ډول او تدرج ته په پام سره په ټول نصاب کې له اول صنف څخه نيولې تر پوهنتون پورې داخل کړای شي. داسې نه چې پرته له کومې مقدمې، تدريج او مخکنۍ ذهن جوړونې نابېره د(قوانين زرادي) کتاب او يا د (شرح زنجاني) کتاب د مکتب په اوم يا اتم صنف کې داخل شي، پداسې حال کې د دغو کتابونو مدرس په خپله هم پدې قادر نه وي چې د زرادي قوانين دې د صنف شاګردانو ته په تخته باندې په منظم ډول وليکي او شرح يې کړي.

دتعليم عمليه چې پنځه ارکان لري چې عبارت له معلم، متعلم، نصاب، د تعليم له طريقو او تعليمي ماحول څخه دي بايد دې ټولو ته د اسلام د تعاليمو په رڼا کې د زمانې د روح او ضرورت مطابق له سره کتنه وشي.

۲ – د ديني زده کړو د نصاب اصلاح:

دديني زده کړو نصابونه د هرې زمانې د غوښتنو، ضرورتونو، سياسي او اجتماعي شرائطو او د مسلمانانو د موجود وضعيت په پام کې نيولو سره جوړېږي او د زمانې او حالاتو له بدلون سره په ديني نصاب کې د مضامينو بدلون هم ضروري وي. او همدغه له انبياؤ او امتونو سره د الله تعالی ﷻ سنت هم دي.

الله ﷻ د هرې زمانې پيغمبر او امت ته جلا جلا شريعت او منهج چې په اصولو کې سره متحد ول رالېږلی دی. که داسې نه وي نو هماغه د آدم عليه السلام صحيفې به يې تر قيامته په انسانو مقررې کړې وای او د بېلابېلو صحيفو او کتابونو نازلولو ته به ضرورت نه ؤ. خو دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکیم او علیم رب ځکه نه دی کړی چې د هرې زمانې بېلې غوښتنې او شرائط وي.

همدغه ډول زمونږ په شریعت کې د ناسخ او منسوخ فلسفه هم ده. د دې په څنګ کې دا هم ګورو چې په (مکي عهد) کې شریعت یوه بڼه درلوده، په (مدني عهد) کې یې بیا بله بڼه غوره کړه، او د رسول الله ﷺ تر وفات وروسته بیا د صحابه ؤ کرامو د اجتهاد دلیل هم په شریعت کې ور اضافه شو،او وروسته بیا د اجماع، قیاس،استصحاب، استحسان، سدّ ذرائع، مفهوم المخالفة، مصالح مرسله، قول الصحابي، عمل أهل المدينة او نورو شرعي دلائلو اضافه هم د فقهي مذاهبو په شکل کې رامنځته شوه.

دغه ټول بدلونونه پداسې شکل کې راتلل چې د شریعت اصل ورکښې محفوظ پاتې کېده. او دا هر څه د دې خبرې دلیل دي چې د هرې زمانې حالات بېل نصاب او بېل مضامین غواړي.

آیا په اوسنۍ زمانه کې به ډېره عجیبه نه وي چې اسلامي نړۍ او مسلمان امت راڅخه دکمونیزم، الحاد،مادیت، ډیموکراسۍ، لیبرالیزم، نشنلزم او ګلوبلایزیشن بلاګانو په خوله کې نیولی وي او مونږ اوس هم په خپل دیني تعلیمي نصاب کې د زرو کلونو پخوانیو کلامي او فلسفي فرقو او مذاهبو په هکله معلومات تدریسوو؟!

ولې د دې زمانې هغه فلسفې، نظریات او مذهبي فرقې تر ګوزار لاندې نه نیسو چې د میلیونونو مسلمانانو ایمان او عقیده یې ورخرابه کړې او لا ورخرابوي یې.

آیا زمونږ په کومه دیني مدرسه یا کوم دیني تعلیمي نصاب کې د معاصر کفر د اشکالو او انواعو په هکله مضامین تدریسېږي؟ آیا مونږ پرون د کمونیزم د نظریاتو او نن د غربي (لادینه) سیکولر نظریاتو د خپرېدو مخنیوی وکړای شو؟ که مو نه وي کړی نو باید له خپل تعلیمي نصاب څخه ټول زاړه، بې ضرورته او اضافي ګرامري مضامین

(c) ketabton.com: The Digital Library

وباسو، او پر ځای یې د مطلوبې اندازې ګرامري مضامینو ترڅنګ خالص شرعي علوم او هغه مضامین چې معاصر اسلامي فکر ورته شدید ضرورت لري لکه سیرت او اسلامي تاریخ، سیاسي او اجتماعي علوم او د اسلامي نړۍ د اوسني وضعیت او د هغه د موجودو مشکلاتو په اړه مضامین وراضافه کړو، ترڅو د نن ورځې د مدرسې طالب د نن او د سبا د فکري، عقائدي، سیاسي اجتماعي مشکلاتو مقابله وکړای شي.

دریم تدبیر- مساجد د فکري جګړې د مقاومت په سنګرونو بدلول:

د یوې محتاطې اندازې له مخې د اوسني افغانستان په ښارونو، کلیو او بانډو کې تقریباً څلور لکه (۴۰۰۰۰۰) مسجدونه وجود لري. او په هر مسجد کې یو تن امام د امامت په وظیفه مصروف دی. دغه څلور سوه زره مسجدونه که په حقیقي معنی د دعوت په مرکزونو تبدیل شي او امامان یې په واقعي ډول د الله ﷻ دین ته د خلکو د رابللو او د خلکو د فکري، عقیدوي، فقهي او اخلاقي مشکلاتو د حل کولو استعداد او صلاحیت په ځان کې پیداکړي، نو هېڅ اجنبي فکر او وارداتي ګمراهي به ونشي کولی چې د افغانستان خلک او بیا په خاص ډول په لکونو ځوانان له اسلام څخه پرته په نورو نظریاتو قانع کړي.

خو دا تریخ حقیقت باید ومنو چې په افغانستان کې کمونیزم د همدومره ملایانو او امامانو له شتون سره سره بیا هم په کلیو او ښارونو کې ځالې جوړې کړې، او په لکونو ځوانان یې له اسلام څخه منحرف او په خپل صف کې یې ودرول.

همدا ډول سره لدې چې زمونږ ملت د جهاد، هجرت، قربانیو، شهادتونو او په پراخه پیمانه له شرعي مفاهیمو او علومو سره د نږدیوالي یوه اوږده دوره هم تېره کړه، خو بیا هم غربي مؤسساتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غربي فکري جهتونو وکولای شول چې زمونږ د ملت يوه لويه برخه خلک پر افغانستان د امريکا په يرغل کې او هم تر هغه وروسته د امريکايانو ترڅنګ ودروي او پدې يې قانع کړي چې د صليب تر بيرغ لاندې د اسلام او مسلمانانو په خلاف وجنګېږي.

زمونږ په لکونو امامان، خطيبان، حافظان او د شرعي علم منسوبين ولې د وارداتي کفري افکارو له مقاومت او بې اثره کولو عاجز دي؟ ولې د دوئ له پراخ شتون سره سره د ملت په لکونو بچيان کله د کمونيزم تر بيرغ لاندې درېږي، او کله هم د غرب د صليب تر بيرغ لاندې؟! دغه کار ډېر اسباب او عوامل لري چې ځينې مهم يې په لاندې ډول دي:

الف: د دعوت د احساس نشتوالی:

د افغانستان په ډېرو علماؤ، امامانو، ملايانو او د مدرسو په طالبانو کې د دعوت د احساس نشتوالی ليدل کېږي. هغوئ ځانونه يوازې مدرسين، د مساجدو امامان او د کتابونو لوستونکي ګڼي. که څوک پوښتنه ترې وکړي ځواب ورته وايي، او که يې ترې ونه کړي نو دوئ په چا پسې نه ورځي، نه له خپله انده د ټولنې د افرادو د اجتماعي پوهاوي لپاره دعوتي پروګرامونه جوړوي او نه هم د اجتماعي او اخلاقي فساد په خلاف منظمه او مسلسله مبارزه خپل مسؤوليت ګڼي.

دا مشکل له دې ځايه راولاړ شوی چې زمونږ په ديني تعليمي نصاب کې صرف، نحو، منطق، بلاغت، شعر او شاعري، د(نفحة اليمن) او (مقامات الحريري) په څېر د لفظي صنعت له تکلف څخه ډکې خرافي کيسې او نکلونه د ادب په نامه لوستل کېږي، خو د دعوت الی الله د طريقو، اصولو، اساليبو او د فردي، اجتماعي، سري او علني دعوت دکړنلارې په هکله يوکتاب هم نه په نصاب کې ځاي لري او نه هم لوستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د رسول الله ﷺ او د نورو پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت د تاریخ، تجربو، مشکلاتو، کامیابیو او پر بشري ټولنو د هغوئ د احسانونو په هکله یو کتاب څه چې یو مضمون هم نه لوستل کېږي.
د رسول الله ﷺ اصحابان چې تر انبیاؤ علیهم السلام وروسته غوره خلک دي او بشریت ته د دعوت د استاذانو نړیوال حیثیت لري، د هغوئ د تاریخ او دعوت په هکله هم هېڅ کتاب په نصاب کې مقرر ندی. او حتې چې د فقهي مذاهبو د امامانو او د اسلامي شریعت د تدوینوونکو علماوو رحمهم الله تعالی د تاریخ، جد اوجهد او قربانیو په هکله هم کوم کتاب په رسمي ډول په تعلمي نصاب کې شامل نه دی.
نو ښکاره خبره ده چې که په نصاب کې د دعوت مضمون وجود ونه لري، نو د نصاب په فارغانو کې به د دعوت احساس له کومه ځایه راشي؟
البته دا خبره په مطلق ډول نده، ځکه چې ډېرو افغانو علماؤ اوس هم په فوق العاده ډول اسلامي فکر، دعوت،او د ټولنې اجتماعي پوهاوي ته ډېر لوی لوی خدمتونه کړي دي او کوي يې. خو د هغوئ فیصدي ډېره لږه ده.

ب- د امامت لپاره د نااهلیت ستونزه:

زموږ په اکثره مساجدو کې داسې خلک هم په امامت ګومارل شوي چې په ریښتنې معنی د امامت استعداد او اهلیت نه لري، نه کافي شرعي علم لري، نه په قرآن او حدیث په مطلوب ډول پوهېږي، او نه ورکې د بلاغ او بیان مطلوب صلاحیت شته. ځینې يې په موروثی ډول د خپلو مساجدو امامان شوي دي، او ځینې نورو يې د امامت منصب د ځېنې مادي ګټو لپاره اشغال کړی پرته لدې چې د امامت او دعوت حق ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو حرفوي امامانو ته د خلکو صلاح او ګمراهي دومره اهمیت نه لري لکه څومره چې ورته د زکاتونو، صدقاتو، سرسایو، عشرونو، د قربانۍ د پوستکو او شکرانو اخیستل اهمیت لري. دغه ډول امامان نه یوازې دا چې په خپله د دعوت وظیفه نه تر سره کوې، بلکې نور علماء او داعیان هم په خپل مسجد او کلي کې دعوت ته نه پرېږدي، عام خلک او جاهلان د مخلصو د عوتګرو په خلاف راپاروي او په دعوتګرو پورې ډول ډول تورونه او تهمتونه تړي.

دغو امامانو ته د کلي د خلکو عرف او عادت، رواج او عنعنې د شریعت تر احکامو ډېر اهمیت لري. ځکه چې د کلي د رواجونو پالل یې د وظیفې د دوام ضمانت ورکوي، خو د شریعت د هغو احکامو بیانول چې د خلکو له رواجونو سره اختلاف لري ښایې د ده دشړل کېدلو سبب شي. دغه ډول ملایان نه یوازې داچې د معاصرو فکري فتنو او ارتدادونو مقابله نشي کولي، بلکې په خپلو خرافي عقایدو او غیر شرعي اعمالو د دین د بدنامولو او د دین دښمنانو ته د وسلې د په لاس ورکولو سبب هم ګرځي.

اسلامي حکومت او دکلیو هوښیار او تصمیم نیوونکي خیر اندېشه خلك باید دغه ډول حرفوي امامان د امامت له عظیم او مهم منصب څخه لیري او پر ځای یې اهل او د دین په روح خبر عالمان د امامت لپاره وټاکې.

د دي لپاره چې مساجد مو په ریښتني ډول د اسلامي علومو د زده کړې په مراکزو او د فکرې جګړې د مقاومت په قوي سنګرونو بدل شوي وي او په امامانو اوخطیبانوکې مو قیادي صلاحیتونه او د فکري او عقائدي فتنو د مخنیوي لیاقت او استعداد پیدا شوي وي، اسلامي نظام باید د امامانو او خطیبانو د روزلو لپاره هم د داسې مسلکي روزنې فرصتونه رامنځته کړي لکه د مفتیانو، قاضیانو او معلمینو دروزنې لپاره چې رامنځته شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه فرصتونه ښايې د پوهنتونونو په چوکاټ کې د دعوت او امامت دفاکولتې په شکل کې وي. او يا د دې کار لپاره يوه خاصه عالي مدرسه، اکاډمي او يا په کوم بل نامه علمي روزنيز مراکز پرانستل شي.

د امامت منصب په اصل کې د نبوت د منصب ميراث دی، او تر کله چې پر دغه منصب اهل او با استعداده علماء ټاکل کېدل، نو مسلمانې ټولنې له هر ډول اجتماعي او فکري انحراف څخه په امن کې وې. ځکه چې امام به لږ تر لږه پنځه وخته په شپه او ورځ کې د ټولنې د افرادو له هر ډول حالاتو څخه ځان خبراوه، او د شريعت په رڼا کې به يې د خلکو د فکري، اخلاقي، عقيدوي، فقهي او حتی اجتماعي مشکلاتو د حل د راوېستلو هڅه کوله.

خو له کومې ورځې چې دې منصب ته په کم نظر کتل شوي، له هماغې ورځې د ملت او امام تر منځ روحي رابطه کمزورې شوې ده، چې دغه کمزوري بيا د اسلام دښمنانو په خپله ګټه کارولې او د ټولنې د افرادو پر افکارو او اذهانو يې تاثير کړی.

که چېرې يو ځل بيا مساجد د عبادت ترڅنګ د علم، فکر، اخلاقو، اجتماعي اصلاحي تفکر او د دښمنانو د دسيسو او توطيو د شنډولو مراکز وګرځي او د زړه سواندو علماؤ او دعوتګرو امامانو لخوا ورکې اسلام ته هراړخيز دعوت شروع شي، نو وبه وينو چې څنګه د ټولنې فکري قيادت د اسلام دښمنو اشخاصو او جهتونو له لاسه ووځي او بېرته د صالحو خلکو لاسته ورځي.

د دې بحث په پای کې ويلی شو چې فکري جګړه تر عسکري جګړې ډېره خطرناکه ده، او آثار يې د عسکري جګړې تر آثارو ډېر دوامداره دي. همدارنګه د فکري جګړې مقابله هم د عسکري جګړې تر مقابلې ډېره ګرانه ده او ډېر صبر او خورا پراخ او هر اړخيز تخطيط او تنظيم ته ضرورت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عسکري جګړه کې دکوم ملت پاتې راتلل د هغه ملت د دائمي له منځه تللو په معنی نشي کېدی. خو که چېرې کوم ملت په فکري جګړه کې ماتې وخوري او له خپل دين، فکر، عقيدې، اخلاقو، ملي ارزښتونو او تاريخ څخه دفاع ونشي کولي، نو دا په حقيقت کې د دغه ملت د معنوي او فکري مړينې په معنی ده، چې خطرناک عواقب لري.

د فکري جګړې په اړه دغه څو خبرې له ډېره وخته زما په ذهن کې وې چې دادی د خپل ملت د زړه سواندو او مخلصو بچيانو په مخکې مې کښېښودې، هيله ده چې هغوئ به مې دغې خطرناکې جګړې ته متوجه کړي او خپل مسؤوليت به مې تر يوه حده رفع کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردې معيارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسمانانو د بيرته پاتې والي اصلي عوامل

پداسې حال کې چې مسلمان د هغه حق دين منونکي دي چې الله ﷻ له هغه پرته بل دين نه مني ﴿ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ ﴾ آل عمران: ١٩ ﴿ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥ ﴾ آل عمران: ٨٥

او پداسې حال کې چې مسلمان هېوادونه د وداني نړۍ په منځ کې موقعيت لري چې په سياسي، اقتصادي او ستراتيژيک لحاظ له ډېر اهميت څخه برخمن دي، او پداسې حال کې چې مسلمانان د شمېر په لحاظ ورځ په ورځ زياتېږي او د ژوند وسائل يې هم ښه کېږي، خو له دې هر څه سره بيا هم مسلمان هېوادونه له تېرو پنځو سوو کلونو راهيسې کله د يوه يرغلګر او ښکيلاګر هېواد او کله هم د بل تر تسلط او يا تهديد لاندې وخت تېروي او مسلمانان په نړۍ کې په وروسته پاتې ولسونو کې شمېرل کېږي.

دغه بد حالت ډېر اسباب او عوامل لري چې تر ټولو اصلي او لوی عامل يې د مسلمانانو د خپل دين په مزاج او غوښتنه ځان نه پوهول دي.

په هغه وخت کې چې مسلمانان د خپل دين په مزاج او غوښتنو پوهېدل او د نړۍ او انسانيت چارو ته يې د (خپل فکر) په رڼا کې کتل، سم او ناسم کارونه يې په (خپلو معيارونو) معلومول او د خپل ځان لپاره يې اهداف او د پرمختګ لاره هم په خپله ټاکله،نو په هغه وخت کې مسلمانان تر ټولو غښتلي او پياوړي خلک ول چې له هسپانيې نيولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر چين پورې د دوئ بيرغ رپېده او د نورې نړۍ خلکو به کوښښ کاوه چې لدوئ څخه (دين) او يا (تمدن) زده کړي.
خو کله چې د بېلابېلو عواملو په نتيجه کې د مسلمانانو اجتماعي تفکر بدل شو او خپل معيارونه او تګلاره يې پرېښوده او د نورو معيارونه او تګلارې يې خپلې کړې نو نتائج هم معکوس راووتل. قيادت او سيادت د مسلمانانو له لاسه لاړ او کرار کرار مسلمان هېوادونه او ولسونه يو په بل پسې د پرديو تر واکمنۍ لاندې شول، او دغې پردۍ واکمنۍ بيا په مختلفو لارو او پلمو مسلمانان له خپلې ارادې، آزادۍ، دين، تمدن، ژبو، تاريخ، فرهنګ اومعنوي ارزښتونو څخه محروم کړل، چې د دغه محروميت ژوندي مثالونه د مسلمانانو د سياسي، اجتماعي، پوځي، تقنيني، علمي، فرهنګي او اقتصادي ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې په لاندې ډول وينو:

۱ – د حاکميت ډګر:

په داخل کی د ولسونو او هېوادونو سياسي او ټولنيزې چارې او هم له نورې نړۍ سره بين المللی دوه اړخيز روابط د هر هېواد د حاکمانو او حاکم نظام له لوري پرمخ بيول کېږي. د همدغه اهميت له امله د حاکم او د حاکميت د څرنګوالي ټاکل په اسلام کې شرعي او عقيدوي موضوع ده، او اسلامي شريعت د حاکم د ټاکلو لپاره د داسې لارو چارو د خپلولو امرکړی چې په نتيجه کې يې صالح حاکم او عادل حاکميت رامنځ ته کېږي.
د اسلام فقهاوو د حاکم د تعيين او عزل (ټاکلو او ليرې کولو) لپاره د شريعت په رڼا کې داسې معيارونه او قيود وضع کړي چې په عملي کولو يې اسلامي ټولنه د حاکميت په ډګر کې له ټولنيز اضطراب څخه د تل لپاره په امان کې پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلام کې د حاکم له اساسي او مهمو مسؤوليتونو څخه د اسلامي شريعت نافذول، له هېواد او دين څخه دفاع کول، د وګړو د فردي او اجتماعي حقوقو تامين او په نړيواله سطحه د مسلمانانو له حقوقو څخه دفاع ده. دا چې په اسلامي نړۍ کې د دغه ډول حاکم په شتون کې د نړيوال کفري هېوادونه خپلو اهدافو ته نشول رسېدلی نو يې په مختلفو لارو چارو په اسلامي نړۍ کې د حاکم او حاکميت لپاره نوي معيارونه په مسلمانانو ور وتپل چې په نتيجه کې يې داسې نظامونه او حاکمان پر اسلامي نړۍ مسلط شول چې د نړيوالو کفري هېوادونو ګټو ته د خپلو هېوادونو او ولسونو پر ګټو ترجيح ورکوي. دغه ډول حاکمان په لاندې څو ډولونو کې ليدلای شو:

الف- شاهي حکومتونه:

شاهي حکومتونه که څه هم چې د اسلام د سياسي روحيې ممثل ندي خو که اسلامي نظام تطبيق کړي ښايي تر ديموکراتيکو حکومتونو غوره وي، ځکه چې د هر حاکم په مړينه او يا لېرې کېدلو به په هېوادونو کې نوي نوي اضطرابونه نه رامنځته کېږي. خو اوس چې کوم شاهي نظامونه په ځينو اسلامي هېوادونو کې حاکم دي ټول د استعماری هېوادنو لخوا پر خلکو تپل شوي دي. او له همدې امله تل کوښښ کوي چې د استعماري هېوادونو د مصالحو په تأمين هغوئ له ځانه راضي وساتي، تر څو د ډېر وخت لپاره په قدرت کې پاتې شي که څه هم چې دا کار ورته د استبداد، ظلم او اسلام دښمنۍ په قيمت تمام شي.

بله دا چې په دغه ډول شاهي کورنيو کې واک په موروثي شکل له يوه څخه بل ته په اتوماتيک ډول لېږدي، او دېته نه کتل کېږي چې آيا په راتلونکي حاکم کې د صالح او اهل حاکم وړتيا شته او که نه؟ ډېر ځلې خو داسې هم پېښېږي چې استعماري هېوادونه په شاهي کورنۍ کې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو يو بې کفايته او نا اهله شخص انتخاب کړي، ترڅو په پوره بې پروايۍ د خپل د هېواد او ولس ګټې له پامه وغورځوي، او په ټول حماقت د پرديو په اشارو وچلېږي.

د نن شاهي نظامونه د مسلمانانو لخوا ندي رامنځته شوي، بلکې غربيانو حاکم کړي دي. دغه حکام خپل هېوادونه او ولسونه د زور او اجبار له لارې په هغو طريقو او قوانينو چلوي چې غربيانو ورته ټاکلي دي. او که څوک د دغه ډول مفسدو حاکمانو په خلاف د اعتراض غږ پورته کوي نو په ډېرې بې رحمۍ وهل کېږي، ترل کېږي، شړل کېږي او وژل کېږي. د غرب د بشري حقوقو سازمانونه هم د دغه ډول (مترقي؟!) حاکمانو له ظلم او استبداده سترګې پټوي، او هم يې دغه ډول چارې په بېلابېلو نومونو ستايي او دفاع ورڅخه کوي.

د اوسنيو شاهی کورنيو غړي او وليعهدان اکثره د غرب له تعليمي مؤسساتو او پوهنتونونو فارغ شوي وي چې فکري معيارونه يې هم د غربيانو په څېر وي. دغه خلك له خپلو ولسونو څخه د ومره پردي شوي وي چې د ژوند په هرڅه کې د خپلو هېوادونو له خلکو مختلف وي. او د خپل دين او قوم اخلاقي ارزښتونه ورته د غربي ارزښتونو په مقابل کې هېڅ اهميت نه لري.

ب: کودتايي حکومتونه:

په اسلامي نړۍ کې دوهم ډول حکومتونه هغه کودتايي حکومتونه دي چې د پرديو لخوا د روزل شويو او پالل شويو متنفذو خلکو او جهتونو په لاس رامنځته شوي دي. د دغه ډول حکومتونو تر شا استعماري هېوادونه په پوځي او سياسي لحاظ ولاړ وي. لکه څنګه چې دوئ د پرديو لخوا رامنځته شوي وي هماغه ډول د پرديو لپاره په خپلو خلکو او هېوادونو حکومت هم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه حکومتونه د خپل حاکمیت د بقا لپاره داسې نظامونه او قوانین جوړوي چې په هر حالت او شکل کې د دوئ د حاکمیت استمرار تأمین کړي. دېته هېڅ پام نه کوي چې دغه ډول نظامونه او قوانین د خلکو له دین، اخلاقو، ملي ارزښتونو او نورو طبیعي غوښتنو سره سمون لري او که نه.

دغه ډول کودتایي نظامونه تر هرڅه د مخه له ټولو هغو خلکو زندانونه ډکوي چې د خپل زوال خطر ورڅخه احساسوي. اوکه کله له یوه ملي پاڅون سره مخ شي نو بیا د وسلي او ځواک بې دریغه استعمال ته مخه اړوي. او که په دې هم چاره و نه شي نو بیا پردي پوځونه خپل هېواد ته رابولي او هرڅه د هغوئ په اختیار کې ورکوي.

اسلامي نړۍ په شلمه میلادي پېړۍ کې له دغه ډول حکومتونو ډېره ګړېدلې او لا تر اوسه کړېږي. دا هرڅه ځکه پېښېږي چې په اسلامي نړۍ کې د حاکمیت او حکومت معیارونه پردي دي.

ج: پوځي حکومتونه:

په اوسنۍ اسلامي نړۍ کې ډېر ځله داسې پېښېږي چې کله هم ملکي او یا د غربیانو په اصطلاح (جمهوری) حکومتونه د استعماري حکومتونو د مصالحو په تأمین کې پاتې راشي او د خطرناکو فیصلو له کولو څخه عاجز شي او دا وېره ورته پیدا شي چې کېدای شي واک د اسلامي او ملي ځواکونو لاس ته ورشي، او د دغه ډول حالت د راتللو په صورت کې به د هغوئ ټول ښکېلاکي مصالح په خطر کې ولوېږي، نو هماغه وي چې بیا د پوځي کودتاګانو لپاره لاره هواره کړي،او د کودتا په نتیجه کې پوځي حکومت رامنځته کېږي چې دغه پوځي واکمن بیا ټول هغه قوانین او نظام له منځه وړي چې کېدای شي تر یو حده به اسلامي او ملي مصالح ورکې خوندي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعماري قوتونه دې ډول پوځي حکومتونو ته وظيفه ورکوي چې د خپل ولس په خلاف وجنګېږي اوخپلو خلکوته چې د استعمار او غلامۍ مخالفت کوي پردي او د هېواد او سولې دښمنان ووايي، او استعماري يرغلګرو او مداخله ګرو هېوادونو ته د دوستانو لقب ورکړي، او له هغوئ سره د (دوستۍ)، (امنيتي) او د (ستراتيژيکو تړونونو په نامه د غلامۍ او ذلت معاهدې امضاء کړي. او د هغو آزادي غوښتونکو چې په هېواد کې د دغه ډول پوځي واکمنو مخالفت کوي د له منځه وړلو کوښښ کېږي.
دغه ډول پوځي واکمن د هېواد ټولې ملکي ادارې، پوځ، د اقتصاد ملي منابع او هرڅه د پرديو په غلامي کې د خپلې بقا پخاطر استعمالوي او ولس ته له حساب ورکولو ځان لوړ ګڼي.
اکثره دغه ډول پوځي حکومتونه په هغو هېوادونو کې رامنځته کېږي چې هلته ولسونه په اسلامي روحيه عيار او اسلامي او جهادي حرکتونه واک ته د رسېدلو په درشل کې وي. دغه شومه تجربه څو څو ځله په تېرو تقريباً سلو کلونو کې په اسلامي هېوادونو کې تکرار شوې ده.

د: جمهوري او انتخابي حکومتونه:

جمهوري او انتخابي حکومتونه که څه هم چې په سطحي نظر تر استبدادي شاهۍ، کودتايي او پوځي حکومتونو ښه ښکاري، خو په حقيقت کې دغه ډول حکومتونه تر ټولو خطرناک دي، او منفي آثار يې تر ټولو دوامداره وي. او دا ځکه چې دغه حکومتونه د غربي ډيموکراسۍ، غربي ټولنيزو اصولو او غربي سياسي ارزښتونو په بنا را منځته کېږي، چې د اسلامي نړۍ له ديني، ملي، اخلاقي او سياسي اصولو او ارزښتونو سره په ټکر کې دي چې په لاندې ډول يې ليدلای شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غربی ډیموکراسۍ پر بنسټ ولاړ انتخابات انسانانو ته د علم، تجربې، عقل، دینداری او امانتدارۍ له نظره نه ګوري، بلکې ټولو وګړو ته په یوه سترګه ګوري. د مثال په ډول د حاکم په انتخاب او د قانون په تصویب کې دیوه ستر عالم او قانون پوه د رأیې او د داسې یو شخص د رأيې ترمنځ چې کثافات ټولوي، تشنابونه پاکوي او نور په هېڅ نه پوهېږي هېڅ تفاوت نشته. او هم د یوه شیخ الحدیث یا مفتي اعظم او د یوه داسې چا د رأیې ترمنځ هېڅ تفاوت نشته چې په ملي سطحه په خیانت، غدارۍ هر ډول بداخلاقۍ پېژندل شوې وي. دوئ دواړه یوازې یوه یوه رأیه استعمالولی شي، پرته لدې چې دې ته دې وکتل شي چې عالم او مفتي اعظم یا قاضي القضاة د هېواد د مصالحو په تشخیص کې تر یوه بد اخلاقه، فاسد او مفسد انسان څومره غوره دی.

د غربي ډیموکراسۍ پر بنسټ ولاړ انتخابات د هېواد هر وګړي ته دا حق ورکوي چې د ریاست او یا بلې وظیفی لپاره کاندید شي. پرته لدې چې وکتل شي چې هغه د کوم دین او یا کومې عقیدې لرونکی دی. یا په بل عبارت لکه څنګه چې د صالحو کاندیدانو پر مخ د کاندیدېدلو دروازه خلاصه ده همدا ډول د فاسدو او مفسدو پر مخ هم د کاندیدېدلو دروازه خلاصه ده. بلکې په اوسنۍ اسلامي نړۍ کې خو تقریباً نوي فیصده د مصلحو خلکو پر مخ د کاندیدېدلو دروازې تړلې دي، او هم پر اسلامي احزابو په بېلابېلو بهانو بندیزونه لګول شوي او کارکوونکي يې له فعالیت څخه منع کېږي.

ډېر ځلې داسې هم پیښ شوي چې اسلامي جهتونه او احزاب په انتخاباتو کې بریالي شوي، خو وروسته بیا د هغوئ حکومتونه د پوځ او یا د کودتاه ګانو له لارې له واکه لیرې شوي او په مسؤلینو يې زندانونه ډک شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غربی ډیموکراسۍ پر بنسټ ولاړ حکومتونه فیصلې روا او ناروا، یا صلاح او فساد ته په کتلو سره نه کوي، بلکې هلته د اکثریت رأیې ته کتل کېږي، او هرڅه چې اکثریت خوښ کړل هماغه روا او صلاح ده، که څه هم چې د الله ﷻ د دين له احکامو سره سل فیصده مخالف هم وي. د مثال په ډول که اکثریت رأیه ورکړي چې يو نارینه له بل نارينه سره، یا دوه ښځې يوه له بلې سره نکاح کولی شي، يا دا چې (سود) دې جائز شي، او يا دا چې ښځه دې خپل خاوند ته طلاق ورکړای شي، او هم يا دا چې نظام دې سیکولر وي، یعنې د الله ﷻ شريعت ته دې د ژوند او دولت په چارو کې ځای نه وي، نو دا هرڅه قانون ګڼل کېږي، او د هغه مطابق فیصله کېږي.

غربي ډیموکراسي دا نه مني چې قانون او شریعت دې د الله ﷻ له خوا وي، بلکې هغه (تشریع) او (تقنین) خپل حق ګڼي. ډیموکراسي (روا کول) او (ناروا کول) د انسانانو حق ګڼي، او د (حق) او (ناحق) لپاره معیاورنه هم باید انسانان په خپله وټاکي.

تجربې او مشاهدې دا ثابته کړې چې په اسلامي نړۍ کې ټول هغه حکومتونه چې ځانته جمهوري یا ډیموکراتیک حکومتونه وايې د غرب پر لاره روان دي، او په خپلو ولسونو يې غربي نظامونه او قوانین تحمیل کړي دي. او هم له دغو وراد شویو قوانینو څخه د زور او زندان په مټ دفاع کوي. دغو حکومتونو د الله تعالی ﷻ د دین په خلاف علني جګړه اعلان کړې او مسلسلې هڅې کوي چې د هېوادونو په هېڅ قانون کې هېڅ اسلامي ماده پاتې نشي. او که پاتې هم شي نو باید د هغې د عملي کېدلو په مخ کې دومره شرائط او نور قانوني خنډونه راولاړ کړي چې د هغې مادې د شتون افادیت ورختم کړي.

د دغه ډول جمهوري او ډیموکراتیکو حکومتونو حکام تل دا هڅه کوي چې څرنګه غربي فرهنګ په خپلو خلکو مسلط کړي، دوئ پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاره کې د خلکو د وينو بهولو ته هم تيار دي. دا هرڅه د خپلو ولسونو په خلاف په داسې حال کې کوي چې ځانته ملي او ولسواکه حکومتونه هم وايي. خو که د ولس اکثريت ورڅخه د دين او هېواد د ملي او معنوي ارزښتونو د ساتنې مطالبه وکړي، نو بيا ولسونه د ارتجاع، بنسټ پالنې او... په نوم ځپل کېږي.
په لنډه ويلی شو چې په اسلامي نړۍ کې دا هر څه ځکه ترسره کېږي چې مسلمانان د حاکميت په ډګر کې د خپلو معيارونو له لرلو څخه محروم کړای شوي دي، او هر څه يې د پرديو په ميعار او تله تلل کېږي.

۲ - د تعليم ډګر:

د ولسونو د ترقۍ او زوال راز په تعليم او تربيه کې نغښتی دی. هر هغه ولس چې د تعليم او تربيې په ډګر کې تر نورو مخکې وي، هغه به په مادي پرمختګ کې هم تر نورو مخکې وي. او هرکله چې تعليم او تربيه د ولس له عقائدو، افکارو، نظرياتو او اجتماعي فرهنګ سره همغږې وي نو بيا يې ولسونه په منلو او خپلولو کې هېڅ مشکل او حساسيت نه ښئي، او دغه ډول تعليم او تربيه په ډېره بيړه او په پراخه پيمانه خپرېږي، او د حالاتو او شرائطو د بدلون په نظرکې نيولو سره وده هم کوي، چې په هر پړاو کې د ولس او هېواد د سياسي حاکميت د ټينګښت او د هغه د ارتقا سبب ګرځي.
خو که چېرته تعليم او تربيه د هېواد د خلکو د دين، اخلاقو، سياسي او اجتماعي فرهنګ ترجمانه نه وي، بلکې د بل چا لخوا او د بل چا د اهدافو د ترسره کولو لپاره د بل قوم او دين پر سياسي، فکري او اجتماعي بنسټونو ولاړه وي، او پر مسلمانې ټولنې د جبر په صورت کې ورتپل شوې وي، او د همدغه ډول تعليمي نصاب او نظام په نتيجه کې رالوی شوي نسل عملاً دا ثابته کړې هم وي چې د خپل دين او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو عقائدو په هکله نه یوازې بې اعتنا دي، بلکې ښکاره دښمني هم ورسره کوي، او دا یې هم ثابته کړې وي چې د خپل هېواد او ولس پرګټو د بل استعماري هېواد ګټو ته ترجیح ورکوي، او له خپل تاریخ څخه کرکه لري، خو د غرب په تاریخ ویاړي او خپل خلک په زوره د کفري هېوادونو غلامۍ ته اړ باسي، نو بیا به طبیعي وي چې د ولس د فکر او فرهنګ ساتونکي د دغه ډول واردو شویو او پردیو نصابونو او نظامونو په خلاف راپورته شي، او د عملي کېدلو مخنیوی یې وکړي.

کېدی شي ځینې خلک داسې فکر وکړې چې اوسنیو حاکمو نظامونو ځکه غربي ډوله تعلیمي نظام او نصاب خپل کړی چې په مادي ډګر کې پرمختګ وکړي او د غرب د تعلیم او ټکنالوژۍ له تجربې څخه استفاده وکړي. دا خبره تر ډېره حده معقوله ده، خو پدې هکله لاندې دوه مهمې خبرې د یادولو دي.

۱ ـ مونږ. که ضرورت لرو نو هغه د غرب علومو او تخنیک ته دی، نه د غرب فرهنګ، اخلاقو، نظریاتو، دین او د ژوند فلسفې ته. خو په اسلامي نړۍ کې وینو چې د تعلیم او تربیې وزارتونه د غرب د علومو له خپلولو د هغه د فرهنګ خپلولو ته ډېر لیواله دي، او په دې ډګر کې هرکال په لسګونو میلیونو ډالر مصرفوي. که دغه درانه لګښتونه د غربي فرهنګ او اخلاقو د ترویج پر ځای د علومو په ترویج، د لابراتوارونو په رامنځته کولو او د تعلیمي سامان آلاتو او وسائلو په اخستلو مصرفېدلای نو پایله به یې تر اوسني حالت ډېره غوره وه.

۲ـ که دا ومنو چې د غرب د تعلیمي نظام او نصاب خپلول د پرمختګ سبب ګرځي او د پرمختګ په صورت کې به هېوادونه آزاد او ولسونه د خپلې ارادې خاوندان شي، خو دا هم په عمل کې نه لیدل کېږي. ځکه همدا اوس ډېر اسلامي هېوادونه ښه لوړ صنعتي معیار ته رسېدلي، ښې درنې وسلې او پوځي تجهیزات یې هم جوړ کړل، ځینو یې (اتوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بم) هم جوړ کړ، خو بيا يې هم نه هېوادونو ريښتنې آزادي و ليدله، او نه يې خلک د خپلې ملي ارادې خاوندان شول. بلکې له هرڅه سره د استعماري هېوادونو په خدمت کې پاتې دي. او دا لدې امله چې تعليمي نصاب يې خپلو لوستونکو ته د خپلې سياسي او ملي ازادۍ پيغام نه لري.

د اسلامي نړۍ د تعليم او تربيې وزارتونو په تعليمي نصاب کې د تعليم معيار يوازې دومره ايښی چې لوستونکي يې يوازې حکومتي ماموريت ورباندې وکولی شي او بس. دا چې تعليمي معيارونه دې دومره لوړوي چې په لوستونکي کې يې ابتکاري صلاحيتونه پيداکړي او علم دې له نظريې څخه عمل ته واړوي ډېر لږ ليدل کېږي. همدا سبب دی چې سره لدې چې په اسلامي نړۍ کې په ميليونونو ځوانان په مکتبونو او پوهنتونو کې عصري علوم لکه کيميا ، فزيک، رياضی، بيالوژي، جيولوژي او نورعلوم زده کوي، خو تقريباً يوازې يو فيصد يې په دغو علومو کې د عمل ډګر ته راوځي، او له پاتې نورو څخه يې زده کړې نظريات هم ببرته هېر شي او د بيسواده خلکو په څېر عام کارونه کوي.

که په شلمه پېړۍ کې په اسلامي نړۍ کې د عصري تعليم بهير ته وګورو نو وينو چې څومره چې د عصري تعليم لمن خوره شوې ده په هماغه اندازه د دغه ډول تعليم او فرهنګ لرونکي خلك له دين، معنويت، اسلامي اخلاقو او تهذيب څخه هم ليرې شوي دي.

دا سمه ده چې د عصري تعليم په درلودونکو کې هم د اسلامي فکر ځينې ستر ستر پوهان رامنځته شوي، خو هغوئ د عصري تعليم د پانګې او محتوی د خپلولو په نيتجه کې نه، بلکې له د غه نصاب او نظام څخه د باندې په بل چاپيريال کې د اوسېدو او له مسلمانو مفکرينو څخه د تأثر په نتيجه کې رامنځته شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په شلمې پېړۍ کې داسلامي نړۍ سياسي او تحريکي بهيرته وګورو نو بيا هم وينو چې ټول سيکولر (لادينه) او يا الحاد ته مائل (چپي) احزاب او د هغوئ پلويان ټول د همدغه عصري تعليم د محيط ـ چې له ديني روح څخه تش دی ـ زېږنده دي. او دا هم ټولو مسلمانانو وليدل چې اسلامي نړۍ د دغو احزابو او د هغو له حاکميتونو څومره وکړېده.
د همدغه بې معنويته عصري زده کړې خاوندانو په اسلامي نړۍ کې په سلګونو زره مسلمانان په منځنۍ آسيا، افغانستان، عربي او افريقايي هېوادونو کې پدې خاطر ووژل او يا يې په زندانونو کې بند کړل چې هغوئ د معاصر جاهليت وارد شوي قوانين او نظامونه نه منل،او د خپلو اسلامي او ملي نواميسو او ارزښتونو په ساتلو يې ټينګار کاوه، او له هغو څخه د دفاع په لاره کې هر ډول قربانيو ته حاضرېدل.
که په يوه ژور نظر د اسلامي نړۍ تعليمي بهير ته وګورو نو وبه وينو چې د تعليم په ډګر کې هرڅه د غرب له لوري په ډيزاين شوې طرحه روان دي. او نتائج يې هم په هماغه بڼه کې راڅرګندېږي چې غرب يې غواړي.
دغه ډول تعليمي انحراف له مسلمانو پوهانو او نظامونو څخه يو هراړخيز سنجول شوی او انقلابي علاج غواړي، خو دا چې پر اسلامي نړۍ تپل شوي پردي پالونکي حاکميتونه د دغه ډول اساسي علاج په مخ کې خنډ واقع دي نو طبيعي ده چې لومړی بايد د امت ريښتيني او مجاهد بچيان د دغه خنډ د له منځه وړلو لپاره راپورته شي، که څه هم چې دغه کار به د يوې عبوري مرحلې لپاره په اسلامي هېوادونو کې يو څه اضطراب رامنځته کړي چې د تدبير، ثبات او استقامت په نتيجه کې به بيا په خپله له منځه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تقنين او نظام ډګر:

نظام او قوانين هغه څه دي چې د ټولنو او افرادو حقوق، وجائب او مسؤوليتونه تعينوي او په ټولنو کې د فساد او اضطراب مخه نيسي.
خو د نظام جوړول او د قوانينو تصويب بايد د ټولنې د دين، فرهنګ، اخلاقي او معنوي ارزښتونو، سياسي، اجتماعي، اقتصادي، تاريخي او طبيعي واقعيتونو او حقائقو په رڼا کې او د ټولنی د رواني(روحي) کيفيت په نظر کې نيولو سره ترسره شي، ترڅو داسي نشي چې غوښتنې او ضرورتونه يو ډول وي او نظامونه او قوانين بل ډول رامنځته شي، چې پدې حالت به بيا د ټولنې او قوانينو ترمنځ جګړه او کشمکش يوه طبيعي نتيجه وي. ځکه چې له يوې خوا به مسلمان ولسونه د خپلو ديني، اخلاقي، اجتماعي، سياسي او نورو ارزښتونو د خوندي پاتې کېدلو لپاره مبارزه کوي، او له بلې خوا به حکومتونه له خلکو څخه د قوانينو د تطبيق او رعايت د غوښتنې په لار کې له زوره کار اخلي.
که د پورتني فطري او طبيعي فارمولې په رڼا کې د اسلامي نړۍ اوسني وضعيت ته وګورو، نو وينو چې تقريبا په ټوله اسلامي نړۍ کې د ولسونو او نظامونو ترمنځ له تېرې يوې پېړۍ راهيسې ترخه او نه تمامېدونکې جګړه روانه ده. د دې جګړې يو لوری هغه مسلمان ولسونه، اسلامي تحريکونه او نهضتونه دي چې انسانان د الله ﷻ بنده ګان ګڼې او د هغوئ لپاره د الله ﷻ د قانون پلي کېدل د ټول بشريت د سعادت مصدر ګڼي، ځکه چې هغوئ وايې چې انسانان الله ﷻ پيداکړي دي او هماغه الله ﷻ د دوئ په غوښتنو، ضرورتونو او استعدادونو تر هر چا ښه پوه دی، نو طبيعي ده چې د هغه له لوري رالېږل شوی قانون دې د بشريت د چارو تر ټولو ښه تنظيمونکی او سمبالوونکی وي، چې د هغه د تطبيق لپاره مسلمان ولسونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي نهضتونه د خپل پاينښت او يا له منځه تللو په جګړه کې اخته دي.
د جګړې بل لوری بيا هغه مستبد، جابر او (سيکولر) نظامونه دي چې دين او د مسلمانو ټولنو غوښتنو ته په هېڅ اهميت قائل ندي.
مستبدو نظامونو د غرب او غربي استعماري قوتونو د برلاسۍ او د اسلامي قوانينو د له منځه وړلو لپاره داسې قوانين رامنځته کړي چې د ټولنې د فطري او طبيعي غوښتنو سره هېڅ اړخ نه لګوي. خو په عين وخت کې په خپل ټول قوت او فشار سره په مسلمانو ولسونو د خپلو نظامونو حاکميت او د خپلو وضعي قوانينو تطبيق ته دوام ورکوي، چې پدې لاره کې د لکونو او يا ميليونونو مسلمانانو او آزدي غوښتونکو د وژلو لپاره هم د هماغو قوانينو لمنه نيسي چې دوئ په خپله جوړ کړي دي.
د مسلمانې نړۍ د هېوادونو تقريباً ټول اساسي، حقوقي، مدني، جنايي، اقتصادي او نور قوانين له تېرې يوې يا يوې نيمې پېړۍ راهيسې پر غربي بنسټونو ولاړ دي، چې د غربي هېوادونو د استعماري هڅو په نتيجه کې رامنځته شوي دي.
د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې تقريباً ټول ملي او بين المللي تصاميم او فيصلې د هغو قوانينو او تړونونو په رڼا کې تر سره کېږي چې د غرب د مصالحو د خوندي ساتلو لپاره وضع شوي دي.
د قوانينو په ډګر کې نه يوازې دا چې په سيمه ييزه توګه په هېوادونو کې غربي ډوله قوانين نافذ دي، بلکې د اسلامي هېوادونو حکومتونه په ټينګه د هغو نړيوالوقوانينو او د بشري حقوقو او د ملګرو ملتو لخوا د جوړو شويو قوانينو منلو ته هم ژمن ګرځولی شوي چې د هغو په وضع کې اصلاً اسلامي شريعت او د اسلامي نړۍ غوښتنو ته ځای ندی ورکړل شوی. خو غربي هېوادونو، د ملګروملتو ادارې، د امنيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

شورى او نورو غربي ادارو خپلو دغو قوانينو ته داسې قداست وربښلى دى چې د قرآن کريم او د شريعت قداست يې په مقابل کې ورته هېڅ اهميت نه لري.
د مثال په ډول که يو کار هرڅو (دين) حرام کړى او يا لاژم کړى وي، خو چې د (بشري حقوقو) او يا له نورو نړيوالو قوانينو سره چې اصلاً د غربيانو د مصالحو د خوندي کولو لپاره ليکل شوي دي مغايرت ولري نو هلته به هرو مرو د شريعت په پرتله دغو غربي قوانينو ته ترجيح ورکول کېږي، او د شرعي قانون د تطبيق مخنيوى به کېږي.
او که چېرې کوم هېواد د شرعي قوانينو په پلي کولو اصرار وکړي، نو بيابه له ډول ډول تعزيراتو او بنديزنو سره مخ کېږي او يا به په هغه هېواد کې د شرعي نظام د له منځه وړلو لپاره دسيسې او کودتا ګانې په کار اچول کېږي، او يا به يې هم په مقابل کې د داخلي جګړې لپاره ځينې اقليتونه د حقوقو د غوښتلو په بهانه راپورته کوي او له هغو څخه به د (بين المللى) ملاتړ لپاره هراړخيزې هڅې په کار اچوي.
له دغه ډول غير فطري او تپل شويو قوانينو او نظامونو څخه د خلاصون په لاره کې له ډېرو اوږدو تکراري تجربو، مسلسل زغم او صبر وروسته مسلمانو مفکرينو ته دا ثابته شوه چې د خلاصون يوازې يوه لاره شته او بس، او هغه لاره د مسلطو نظامونو په خلاف د يوه مسلح جهادي او انقلابي پاڅون لاره ده چې په نتيجه کې يې بايد دغه د پرديو په لاس جوړ شوي نظامونه او د هغوئ لخوا نافذ شوي قوانين په يو مخيز ډول له منځه ولاړ شي، او پر ځاى يې پداسې حال کې اسلامي قوانين نافذ شي چې له هغو څه د دفاع په خاطر په سياسي، فکري، اجتماعي پوځي او علمي ډګرونو کې نه ستړې کېدونکې هڅې په لار واچول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځي او امنيتي ډګر:

د هر هېواد پوځي او امنيتي ځواکونه د دې لپاره جوړېږي چې د هغه هېواد د اوسېدونکو د ژوند لپاره يوه ډاډمنه فضا تأمين کړي، د هېواد د جغرافيايي او معنوي سرحداتو ساتنه وکړي، پر هېواد او ولس يې د يرغل مخه ونيسي، او د ضرورت په وخت کې د حق د اثبات او له هغه څخه د دفاع په لار کې په مېړانه وجنګېږي.

همدارنګه امنيتي ځواکونه دنده لري چې په هېواد کې د نافذو قوانينو تطبيق تضمين کړي، د هر ډول ظلم او فساد مخه ونيسي، د لاښه امنيت د تأمين لپاره مجرمين تعقيب کړي، په ټولنه کې د مفسدينو ځالې ولټوي او له منځه يې يوسي. او هم د ضرورت په وخت د پوځي ځواکونو ترڅنګ د دښمن په خلاف وجنګېږي.

يو ځواکمن پوځ او ويښې او فعالې امينتي قواوې بايد تر هرڅه د مخه د خپل دين، عقيدې، هېواد، ولس او فرهنګ په غوښتنو د يوه منظم ايډيالوژيک نظام او نصاب په وسيله وپوهول شي، او د دغو غوښتنو د تحقق په لاره کې د قربانۍ ورکولو په روحيه وروزل شي، ترڅو هغوئ خپل ځان د معاش او وظيفې په بدل کې د اجير او نوکر په حيث ونه پيژني. بلکې تل د سرښندنې او قربانۍ لپاره د مجاهد په صفت تيار وي، خپل مسؤليتونه له الله ﷻ څخه د وېرې او له هغه څخه د مکافات او مجازات په روحيه سرته رسوي.

د اسلام ستر پيغمبر ﷺ خپل د اصحابو کرامو رضي الله عنهم پوځ په همدغه روحيه روزلی او سمبال کړی ؤ. نو ځکه خو يې وکولای شول چې په ډېره لږه موده کی د عربو له جزيرې او د هغې له شا او خوا سيمو څخه د کفر او شرک ټغر ورټول کړي، او د نړۍ د يوې لويې امپراطورۍ (فارس) استبدادي حاکميت ته د پای ټکی کېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیغمبرﷺ د اصحابانو او تابعینو په اسلامي عقیدې سمبال لښکر نه یوازې دا چې په لنډه موده کې یو لوی ځواکمن دولت تأسیس کړ چې حدود یې له چین او قوقاز څخه نیولي تر مراکش او اسپانیا پورې غزېدلي وو او د هند او مدیترانې پر سمندرونو یې واک چلېده، بلکې د نړۍ لویو لویو دولتونو به کوښښ کاوه چې د خپلې بقا لپاره د اسلامي دولت حمایت حاصل کړي.

خو که د نن ورځې د اسلامي نړۍ پوځونوته وګورو نو وبه وینو چې هرڅه یې د خپل ماضي په خلاف د پردیو پر معیارونو ولاړ دي چې مشخصات یې په لاندې ډول بیانولی شو:

د نن ورځې د مسلمانو هېوادونو پوځونه په مجموع کې له دین او دیني ارزښتونو ډېر لرې ساتل کېږي، په تربیه او نصاب کې یې دین، عقیده، آخرت، اسلامي تاریخ او د اسلام پوځي تاریخ هېڅ ځای نه لري. هڅه کېږي چې پوځونه او امنیتي ځواکونه د سیکولریزم (بې دینۍ) په اصولو وروزل شي، ترڅو د هغوئ په زړونو کې د اسلام لپاره هېڅ ډول مسؤولیت او وفاداري ځای ونه نیسي او کومه ورځ د خپل مستبد حاکم د قوماندې پر ځای شرعي اوامرو او احکامو ته ترجیح ورنکړي.

د اسلامي نړۍ پوځونه عملاً د استعماري هېوادونو د پوځي کارپوهانو او استاذانو لخوا په غربي یا روسي نصاب او معیارونو روزل کېږي، او بیا پوځي افسران د لوړو زده کړو لپاره هماغو استعماري هېوادونو ته استول کېږي چې د هغوئ په پوځي پوهنتونونو کې زده کړې وکړي او د پوځي زده کړو تر څنګ یې له هر ډول اسلامي افکارو او انګېرنو څخه (ماغزه پرېمینځل) هم تر سره شي.

ډېر ځله داسې هم پیښ شوي چې دغه ډول پوځي افسران بیا په خپلو هېوادونو کې د هماغو استعماري هېوادونو په ګټه په کودتا ګانو لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې کوي او خپل ملي او قانوني نظامونه د بل چا لپاره راپرځوي، چې وروسته بيا پوځ او امنيتي ځواکونه هم په پټو سترګو د همدغو کودتاچيانو په قومانده چلېږي.
د اسلامي نړۍ د هېوادونو پوځونه په بېلابېلو تړونونو او قراردادونو په داسې ډول په غربي هېوادونو پورې تړل شوي چې د هغوئ له اجازې او مشورې پرته يو اقدام هم نشي کولای. وسلې، طيارې، پوځي سامان آلات او لوژيستيکي وسائل د داسې قراردادنو په ترڅ کې د هماغو استعماري هېوادو لخوا ورته برابرېږي چې په هېڅ ډول بايد له هغو ځخه د اسلام د دفاع لپاره کار وانه خستل شي.
په اوسينو پوځونو کې يوازې هغه افسران لوړو رتبو ته رسېدلای شي چې په مکمل ډول يې دين او ديني ارزښتونو ته شاکړې وي او د استعماري قوتونو د اعتماد وړ ګرځېدلي وي. د ترفيع او ارتقا لپاره داسې شرايط او معيارونه ورته ټاکل شوي چې د ديني فکر لرونکي افسران بايد هېڅکله په هغو برابر رانشي، او که چېرې يو نيم ځای کوم مسلمان افسر د خپل پوځي لياقت او وظيفوي وړتيا له امله کومې لوړې رتبې ته په رسېدلو بريالی هم شي نو هغه هم په بېلابېلو پلمو د قيادت له موقف ځخه لرې ساتل کېږي، بدناميږي او يا د کودتا او يا کوم بل تور په جرم بندي کېږي او يااعداميږي.
د اسلامي نړۍ اوسني عسکري ځواکونه د دې پرځای چې له هېواد او مقدساتو ځخه دفاع وکړي او هم يې امنيتي ځواکونه د مجرمينو او مفسدينو مخه ونيسي او د ټولنې صالح خلک د شريرو او ظالمو خلکو له شر ځخه وژغوري، په خپله د خپلو ولسونو په خلاف جنګېږي، د خپل ملت په خلاف د پرديو په غوښتنه عسکري قوت استعمالوي، بمونه پرې اوروي، زندانونه ترې ډکوي او د خپل کور او کلي پرېښودلو ته يې مجبور وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوليس هم د مجرمينو، مفسدينو، ملي غدارانو او د فحشا د خوروونکو ترڅنګ دربږي او امنيت يې تأمينوي. خو په مقابل کې د ټولنې صالح خلک، علماء، مجاهدين، ملي مخور اسلامي شخصيتونه تړي، وژني يې او يا يې د زندان تياروته ورغورځوي.
همدغه ځواکونه د وسلې او زور په مټ خلك اسلام ته له راګرځېدلو څخه ايساروي. مسلمان داعيان، د اسلام مدافعين او مجاهدين نيسي او پر محاربو کفري هېوادنو يې د څو پيسو په مقابل کې خرڅوي، او دا هر څه ځکه کوي چې دوئ د بل چا په لاس، د بل چا په فکر او نصاب او د بل چا د اهدافولپاره روزل شوي دي.
ډېر ځلې وليدل شول چې د پرديو د يرغل په وخت کې د مسلمانو هېوادونو پوځيان د دفاع او مقاومت پر ځاى د يرغلګرو تر څنګ درېدلي او د هغوئ تر قوماندې لاندې د خپل ملت په خلاف جنګيدلي دي او داستعمار د پاتې کيدو او دوام لپاره يې د غلامۍ په حالت کې هم قرباني ورکړې ده، چې ښه مثال يې په افغانستان کې د روسانو ترڅنګ د افغاني پوځ دريدل ؤ. او دا دی اوس يې بيا وينو چې د هماغه پوځ او ملېشو پاتې شوني د امريکايي پوځونو ترڅنګ د خپل ملت په خلاف په جګړه اخته دي.
پداسې حال کې چې د مسلمانو هېوادونو د پوځونو او امنيتي ارګانونو دغه حال وي، نو طبيعي به وي چې د مسلمانو ملتونو با احساسه غيرتي، په دين او آزدۍ مين ځوانان د يو مثبت بدلون په نيت د دغه ډول پوځونو او امنيتي ارګانونو په خلاف په وسلواله مبارزه لاس پورې کوی که څه هم چې ډېره به ورته درنه تمامېږي. هغوئ د تبديلۍ لپاره ښايي بله لار ونه لري، ځکه چې سيکولر (بی دينه) پوځونه، پردي پالونکي جنرالان او د پرديو لخوا جوړ شوي حکومتونه او حاکمان يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقل او منطق خبرې ته نه غوږ ږدي، او نه يې د خپلو استعماري بادارانو لخوا د اورېدلو اجازه لري.

اعلامي ډګر:

اعلام په ټولنه کې د عمومي پوهاوي او اجتماعي لارښونې مسؤوليت په غاړه لري. پدې معنی چې اعلام بايد د ټولنې د ټولو طبقاتو او وګړو د فکري ارتقا لپاره کار وکړي، خلک له حالاتو څخه باخبره وساتي، د ديني، ملي، اجتماعي او فرهنګي ارزښتونو د پالنې او له هغو څخه د دفاع په لار کې افراد او ټولنيز بنسټونه او ادارې خپلو مسؤوليتونو ته متوجه کړي، د حکامو او چارواکو د کړو وړو مثبته څارنه وکړي، فکري او ادبي ابتکارونو ته د ټولنې با استعداده وګړي وهڅوي، او هم د ټولنې د ترفيهي ذوق د پوره کولو لپاره داسې ادبي مواد رامنځته کړي چې د ټولنې په افرادو کې عواطف او احساسات د خير او لوړو انساني اهدافو په لور خپاند کړي، او د هر ډول شر، ظلم او ابتذال څخه د خلکو په زړونو کی کرکه د تل لپاره ژوندۍ وساتي.
په دې وخت کې اعلام د خپل تاريخ تر ټولو پرمختللې مرحلې ته رسېدلی چې عموماً په درې صنفونو ويشل کېږي:

الف: **چاپي اعلام**:

چاپي اعلام لکه کتابونه، مجلې، اخبارونه او داسې نور چې په پراخه پيمانه، رنګين شکل او عصري ډيزاين چاپېږي او تقريباً د ټولنې ټولو لوستو خلکو ته رسېږي.
خو دا چې نالوستي خلک مطبوعات نشي لوستلي نو د هغوئ لپاره بيا صوتي د(اورېدلو) او تصويري د (ليدلو) اعلام رامنځته شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: صوتي اعلام:

صوتي اعلام لکه راډيو، فيتې او دې ته ورته نورسائل برقي چې په اسانۍ سره د هر چا او هرې کورنۍ غوږ ته په هر ځای کې خپل پيغام په آسانه ور رسوي او په هغوئ تأثير کوي. پدې لړ کې راډيو تر ټولو هغه مهمه وسيله ده چې خپل پيغام د سمې، غرونو، دښتو، ځنګلونو، وچې او سمندر هرځای ته رسوي.

ج: تصويري د (ليدلو) اعلام:

تصويري اعلام لکه تلويزون، سينما، کمپيوټر، ويډيوفون، سټيلايټ، تياتر، فېسبوك او نور چې په ډېره مؤثره توګه او عالي کيفيت هره صحنه په ژوندي ډول د خلکو مخې ته ږدي او ليدونکي مستقيماً تر تأثير لاندې راولي.

هرڅومره چې د اعلام ډولونه ډېرېږي او کيفيت يې پر مختللی کېږي نو په هماغه اندازه يې د تأثير او نفوذ ساحه هم پراخېږي.

اوس په نړيواله سطحه د هر ډول اعلام واګې او کنټرول د بين المللی صهيونيزم او استعماري دولتونو په لاس کې دي. او په سيمه ييزه سطحه يې تقربيا ټول اسلامي دولتونه او دهغوئ اعلام هم تر تأثير لاندې راوستلی دی. د نړيوال صهيونيزم په ترټولو خطرناک کتاب (يهودي پروتو کولونه) کې چې د ټولې نړۍ دکنټرولو لپاره د صهيوني کارپوهانو د نظرياتو او پلانونو مجموعه ده راغلي چې:

((په نړۍ کې ټول اعلام زمونږ په منګولو کې دی. که يوه نيمه جريده چېرې آزده هم پاتې وي نو هغه دومره د اهميت او تأثير وړ نه ده. هغه به هم په يو نه يو ډول د خپلو اهدافو لپاره وکاروو)). همدا راز په بل ځای کې ليکي:((د دنيا ټول نشراتي ارګانونه او د فکر د خپرولو ټولې اداري بايد زمونږ په کنټرول کې وي. که چېرې کومه اداره زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفت وکړي د هغې د بندولو لپاره به له قانوني لارو چارو کار اخلو)). همدا ډول ليکي:((په دنيا کې به ډېرې مجلې او اخبارونه داسې وي چې په ظاهره به بېلابيل افکار او نظريات خپروي، خو د پردې تر شا به ټول زمونږ د اهدافولپاره کار کوي[1])).

که په اسلامي هېوادونو کېد اعلام د ټولو ډولونو عملي او واقعي حالت ته وګورو نو وينو چې په اسلامي نړۍ کې د اسلام او مسلمانانو په ځای غرب او د غرب سياسي، فکري، اجتماعي، اقتصادي اوستراتېژيکو اهدافو لپاره په کار اچول شوي دي. پدې معنی چې مسلمان هېوادونه تلويزونونه لري خو د دې پرځای چې خلکوته اسلامي او ملي ارزښتونه ورمعرفي کړي، شپه او ورځ ورته د غربي ډوله ژوند د تېرولو تلقين ورکوي. هغه ډول صحنې او پروګرامونه خپروي چې مسلمان ليدونکي له اسلامي ارزښتونو او خپل ملي او تاريخي اصالت څخه پردي کوي، او د جنس، هوس، موډ، فيشن او غربي ټولنو په تقليد يې اخته کوي. ځوانان او پيغلې د ټولنې د اصولو او ضوابطو په خلاف د آزدۍ په نوم بغاوت ته وربولي.

همدا ډول اسلامي هېوادونه راډيوګانې لري خو خپرونې يې د تلويزوني خپرونو په څېر د ژوند په هر اړخ کې د پرديو مطالب او محتوی خپروي. که چېرې يې يونيم پروګرام د اسلام په اړه هم وي نو هغه هم نيمګړې سطحي او صوفيانه غوندې يو شی وي چې د اسلام د حاکميت، اسلامي نظام او صحيحې عقيدې لپاره ورکې هېڅ نه وي. بلکې تر دې ورهاخوا ډېر ځلې د دغه ډول تش په نامه اسلامي

[1]– د دنيا دمعاصرو دينونو او مذهبونو مختصره انسايکلوپيډيا، دصهيونيزم بحث ج ۱ صـ ۲۶ – ۵۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروګرامونو په واسطه اسلامي مفاهيم تحريفوی او يا هم هغه څه د اسلام په نامه معرفي کوي چې هغه اصلاً اسلام نه وي.
د راډيوګانو او تلويزونو نو تر څنګ د چاپي اعلام وسائل لکه اخبارونه، مجلې، نشريې، ناولونه او داسې نور هم تقريباً پنځه نوي فيصده د داسې ټولنو او ليکوالانو لخوا خپرېږي چې د غرب په افکارو او نظرياتو روزل شوي او سيکولريزم (بی ديني) يې د عقيدې په حيث خپل کړی وي. دغه ډله خلک د سيکولريزم د اصولو پر اساس په دولت او اجتماعي ژوند کې د دين او شريعت لپاره په هېڅ نقش قانع نه دي.
خو په عين وخت کي بيا د غربي ډيموکراسۍ او غربي ډوله آزاديو او حقوقو لپاره تر شريعت او دين هم په ډېر قداست قائل دي، او خپل فکرونه او قلمونه يې شپه او ورځ د دې لپاره مسخر کړي دي چې څنګه دغه وارد شوي مفاهيم او ارزښتونه د مسلمانانو په ذهنونو ور وتپي.
پدې لاره کې دغه ډول خلکو ته غربي نړۍ په ټولو اسلامي مقدساتو او شرعي ارزښتونو د بريدکولو لپاره يوه خطرناکه وسله په لاس ورکړې چې د(بيان د آزادۍ) نظريه ده، هغه چې د غرب په نظرياتو او نصاب تربيه شوي فرهنګيان ورځخه د اسلامي مقدساتو په ضد کار اخلي. او کله هم چې د دوئ د فکري جناياتو په خلاف په خلکو کې کرکه او نفرت راوپارېږي نو بيا غربي نړۍ او په اسلامي هېوادونو کې د هغوئ حاکم نظامونه دغو مجرمينو ته د بيان د آزادۍ په دليل برائت ورکوي هم دفاع ورځخه کوي.
د اعلام په ډګر کې نه يوازې دا چې په اسلامي نړۍ کې دننه فساد حاکم دي، بلکې له خارج څخه هم هره ورځ په زرګونو ساعته راډيويي او تلويزوني خپروني مسلمان هېوادونه تر خپل پوښښ لاندې راولي د اسلامي امت د بچيانو فکري مسير وربدلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انټرنيټ، فېسبوك او نوري کيبل لا نور هم د اسلامي هېوادونو په فکري او اخلاقي فضا باندې د غرب تسلط ور آسانه او هر اړخيز کړ. په اسلامي نړۍ کې نه يوازې دا چې د مسلمانانو اعلامي سنګرونه خالي دي، بلکې د هغو د ډکولو لپاره مؤثر کوښښونه هم نه تر سره کېږي، چې دا بيا د اسلامي حرکتونو او نهضتونو يوه بله غميزه ده.
د مېډيا او مطبوعاتو په ډګر کې مسلمان امت ځکه له بدې ورځې سره مخ دي چې پدې ډګر کې هم مسلمانانو پردي معيارونه خپل کړي دي.

د ټولنيز ژوند او فرهنګ ډګر:

هر قوم او ملت په نړۍ کې يو ځانګړی فرهنګ او د ټولنيز ژوند يوه ځانګړې بڼه لري چې هغه يې د اجتماعي پېژندګلوي مظهر وي. په خاص ډول هغه ملتونه چې په کوم دين عقيده لري هغوئ تل هڅه کوي چې ملي تشخص يې مستقل وي په بل قوم او ملت کې مدغم نشي.
که ديوه ملت وګړي خپل ملي لباس، خپل فرهنګ د پېژندګلوۍ خپل نور مشخصات له لاسه ورکړي، هغوئ که هر څومره هوښيار، باسواده، او په مادي لحاظ پرمختګ وکړي،نو بيا هم يو مستقل ملت نه بلل کېږي.
مسلمانان هم د نړۍ د نورو ملتونو په منځ کې په خپل ځانګړي فرهنګ او د اجتماعي ژوند په ځانګړې بڼه پېژندل کېږي، او د دغې ځانګړې بڼې په وسيله له کافرو قومونو سره خپل توپير ثابتوي. که دغه توپير له منځه ولاړ شي، بيا نو د دوئ او د کفارو تر منځ په ظاهری بڼه کې فرق نه پاتې کېږي.
د هر قوم فرهنګ، ژوندبڼه، لباس، عادتونه، رواجونه، جشنونه او د لمانځلوخاصې ورځې د هغه قوم په دين، اعتقاداتو، اخلاقو، تاريخي اصالت، طبيعي او جغرافيوي موقعيت پورې اړه لري، چې د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښودل په حقيقت کې له خپل ځان او خپل قوم څخه د پردي کېدلو په معنی دي.

له کومي ورځې چې د اسلامي نړۍ هېوادونه د غرب تر استعمار لاندې راغلي دي، له هماغې ورځې غربيانو کوښښونه پيل کړي چې مسلمانان په اجتماعي او فرهنګي لحاظ هم په خپل ځان پسې روان کړي. له دې کار څخه د غربي استعماري هېوادونو درې مهم هدفونه دي چې په لاندې ډول يې يادوو:

الف: د مسلمانانو فرهنګ چې يو اسلامي فرهنګ دي او په هرڅه کې يې د سموالي او ناسموالي معيار اسلامي شريعت دي، غربيان غواړي مسلمانان له خپل دې فرهنګ او د ټولنيز ژوند له بڼې څخه پردي کړي، د همدې لپاره د مسلمانانو د فرهنګ او ټولنې هرڅه بېرته پاتې، ارتجاعي او د زمانې له موډه لوېدلي ګڼي، او پرځای يې مسلمانان د غربي فرهنګ، عادتونو، رواجونو، لباس او ژونددود خپلولو ته تشويقوي، چې پدې کار سره د مسلمانانو او اسلام تر منځ بيلتون ايجادوي، چې همدا د غرب يو اساسي هدف دی.

ب: کله چې د مسلمانانو او غربيانو اجتماعي او کلتوري ژوند يو ډول شي او غربيان د ټولنې او کلتور په ډګر کې د مسلمانانو لپاره د ماډل او نمونې په حيث معرفي شي، نو طبيعی ده چې په هغه وخت کې به د مسلمانانو له زړونو د غرب د مسيحي، يهودي او سيکولرې ټولنې په اړه کرکه او نفرت په خپله ووځي. او هغوئ به ورته دښمنان نه، بلکې دوستان او د تمدن استاذان ښکاري چې بايد پيروي يې وشي، نه دا چې دښمني ورسره وشي. دا پداسې حال کې چې الله تعالیﷻ هغوئ مسلمانانو ته د دښمنانو په حيث معرفي کړي دي، او دا يې ورته فرمايلي چې يهود او نصاری په دوستۍ مه نيسئ، الله ﷻ فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَـٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ٥١ ﴾ المائدة: ٥١

ترجمه:(ای مؤمنانو! يهود او نصاری په دوستۍ مه نيسئ! د دوئ ځيني يې د ځينې نورو دوستان دي،که له تاسو څخه څوک دوئ په دوستۍ ونيسي نو دی هم له هغوئ څخه دی، الله ظالم قوم ته هدايت نه کوي).

غربيان غواړي د فرهنګ، ټولنيزو عادتونو او رواجونو له لارې مسلمانان په ځان پسې روان کړي، له همدې امله غربي ميډيا مسلمان امت د غربي فرهنګ او غربي ټولنې د ورځو او مناسبتونو لمانځلو ته هڅوي، بلکې غربيانو خپلې ورځې، عادتونه مناسبات د ملل متحد، يونيسکو او نورو غربي نړيوالو ادارو له لارې نړيوالې ورځې ګرځولې دي چې بايد د نړۍ ټول ملتونه ورته احترام ولري او ويې لمانځي. له همدې امله غرب او په سر کې يې امريکا خپل فرهنګ ته د نړيوال فرهنګ او خپل نظام ته د نړيوال نظام نوم ورکوي.

د تأسف ځای دی چې مسلمانانو د فرهنګ او ټولنيز دود او دستور په ډګر کې هم پردي معيارونه خپل کړي دي چې دا د اسلامي امت د ذلت يو بل عامل دی.

ج: غربي هېوادونه غواړي چې په اسلامي نړۍ کې د غربي کلتور، موډ، فيشن او عادتونو په خپرولو په مسلمانانو کې هم د غربيانو د ژوند ضرورتونه ايجاد کړي او بيا د دغو (وارداتي) او (مصنوعي) ضرورتونو د پوره کولو لپاره د غرب صنعت او فابريکو ته انکشاف ورکړي، چې پدې ترتيب اسلامي هېوادونه د ځان لپاره په يو لوی مصرفي او استهلاکي مارکيټ تبديل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې دې نتیجې ته رسېږو چې ترڅو مسلمانان د ژوند په ټولو اړخونو کې بېرته خپلو معيارونو ته راګرځېدلي نه وي او د غرب له ړانده تقليد څخه يې ځانونه ژغورلي نه وي، تر هغه پورې به مسلمانان د ښې ورځې مخ ونه ويني. ځکه چې الله تعالیﷻ د هيڅ قوم په حالت کې مثبت بدلون تر هغه نه راولي چې ترڅو هغه قوم په خپلو کړو وړو، عقايدو، نظرياتو، فرهنګ، عاداتو او رواجونو کې مثبت بدلون نه وي راوستلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیموکراسي کفر ده، که اسلام؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډیموکراسۍ په بهانه د ولسونو تسخیرول

پر افغانستان د امریکا تر یرغل وروسته چې د دغه یرغل په سیاسي او فکري کلتور کې کومو اصطلاحاتو زیات رواج موندلی یوه هم په هغو کې (ډیموکراسي) ده. ځکه چې د غرب میډیا، په افغانستان کې په فعالیت بوخت د غرب سیاسي او اجتماعي مؤسسات، د یرغلګرو په لاس جوړ شوي حکومت، او د دغه حکومت ټول مؤسسات او فکري شخصیتونه تر هرڅه زیات د ډیموکراسۍ د خپرولو او نافذولو لپاره کار کوي.

خو دا چې عام افغانان د (ډیموکراسۍ) په اصلي مفهوم او فلسفه باندې چا ښه ندي پوه کړي، بلکې د غربي ډیموکراسۍ د اصلي مفاهیمو د معرفي پر ځای یې د خلکو د تېر ایستلو لپاره هغه په نورو کلماتو او اصطلاحاتو لکه ولسواکۍ،آزادۍ، عدالت، مساوات، بشري حقوقو، مدني ټولنې، قانونیت، ترقۍ، زغم او نورو نومونو تعبیر کړې ده. نو ځکه خو یې یوه برخه عام افغانان هم په اورېدلو او منلو کې څه حرج نه احساسوي. بلکې د هغې د خپراوي او تطبیق لپاره کار کول هم ورته څه د کفر او عیب خبره نه ښکاري.

د ډیموکراسۍ د اصلي مفاهیمو د وضاحت او صراحت د نشتوالي ترڅنګ چې یو بل عامل هم د ډیموکراسۍ په وړاندې د عامو مسلمانانو د نفرت او حساسیت د کمولو په کارکې مهم نقش لرلی هغه د ډیموکراسۍ په صف کې د هغو ملایانو، شېخانو، پیرانو، حضرتانو او جهادي محرفینو شتون دی چې خپل دین، ایمان، غیرت، جهاد او استقلال یې د څو ډالرو او څوکیو په مقابل کې پر امریکایانو خرڅ کړي، خو لا تر اوسه یې خپله بڼه بدله کړې نه ده. ځکه چې امریکایانو دوئ د همدې لپاره استخدام کړي ترڅو د دوئ په مذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنې او روحاني وجاهت د ډیموکراسۍ کفري حقیقت له خلکو پټ وساتي.
پرون هم کمونستانو افغانانو ته (کمونیزم) د اجتماعي عدالت، انساني مساوات، ترقۍ او کارګري حرکت په نوم معرفي کړی ؤ. هغوئ هم په کمونیزم کې (الحاد) او له (دین څخه انکار) د همدغو مفاهیمو او اصطلاحاتو تر شاه له عامو خلکو پټ ساتلی ؤ.
که پرون د کمونیزم تر حاکمیت د مخه د دین علماؤ او د اسلامي فکر خاوندانو خلکو ته د کمونیزم اصلي مفاهیم په پراخه پیمانه او په مؤثر ډول معرفي کړي وای نو په لس ګونو زره ځوانان او عام افغانان به یې تر بیرغ لاندې نه دریدل، او نه به د خپلو پلرونو، وروڼو مجاهدینو په خلاف د کمونیزم په ګټه جنګېدل.
دا چې نن امریکایان او ورسره ملګري یې په ټوله اسلامي نړۍ په زور د ډیموکراسۍورتپل غواړي او پدې لار کې په زرګونو ملیارده ډالر مصرفوي، په زرګونو موسسې، په لکونو پوځیان او په لسګونو تپل شوي حکومتونه یې پدې مقصد په کار اچولي چې په اسلامي هېوادونو کې (ډیموکراسي) خوره کړي، او د همدغې (ډیموکراسۍ) د حاکمولو لپاره یې په عراق کې تر اوولکو زیات، په افغانستان کې یې تر یولک زیات،او په صومالیا کې یې په لسګونو زره خلک ووژل او لا اوس هم د دې لپاره د مسلمانانو وژنه روانه ده چې باید په هېوادونو کې یې (ډیموکراسي) حاکمه شي، او د مخنیوي عناصر او عوامل یې له مخې لیرې شي.
د اسلام او مسلمانو په خلاف د ډیموکراسۍ او ډیموکراتانو دغه لوی جنایات باید مونږ افغانان دېته وهڅوي چې (ډیموکراسي) په ژوره توګه مطالعه کړو، په فلسفه یې ځان پوه کړو، او دا ځانته معلومه کړو چې ډیموکراسي کفر دی، او که اسلام؟ او د مسلمانانو په حیث د هغې اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه موقف خپلول پکار دي؟ او دا ځکه چې امريکايان به لدې خاورې ځي، خو ډيموکراټان او د ډيموکراسۍ افکار به دلته د خپل ځای ناستي په حيث پرځای پرېږدي، او بيا به همدغه محلي ډيموکراټان د اسلام د حاکميت د مخنيوي لپاره په بېلابېلو ډولونو خپلو هڅو ته دوام ورکوي. همدغه وجه چې امريکايان په مجاهدينو کې د داسې جهت په جوړلو بوخت دي چې (منځلاري) وي، له ډيموکراټانو سره يوځای په يوه مشترک نظام کې ګوزاره وکړي، او هغوئ ته د يوڅه واک د ورسپارلو د يوې معاملې په ترڅ کې د هغو مخلصو مجاهدينو پر مخ د حاکميت د روازه بنده کړي چې په افغانستان کې د خالص اسلامي حکومت د قيام لپاره کار کوي.

پدې بحث کې مونږ کوښښ کړی چې د (ډيموکراسۍ) په اړه خبره په لاندې دوو نقطو کې محدوده وڅېړو او هغه داسې چې:

اول: ډيموکراسۍ څه شی ده؟

دوهم: ډيموکراسۍ ولې کفر ده؟

پر هره نظريه او عقيده باندې تر حکم کولو د مخه دا خبره ډېره ضروري وي چې هغه نظريه دې په هر اړخيز ډول وپېژندل شي، او ټولې تاريخي، فلسفي، واقعي او عملي خواوې دې يې راوسپړلی شي، ترڅو د پوره وضاحت په نتيجه کې او د قوي دلايلو په رڼا کې حکم ورباندې وکړای شي.

په اصولي لحاظ دا خبره هم ضروري ده چې د څېړلو او حکم لپاره بايد هره نظريه په خپل اصلي شکل کې وڅېړل شي. د مثال په ډول که څوک پر اسلام بحث کول غواړي نو بايد پر هغه اسلام يې وکړي چې د الله ﷻ له لوري پر محمد ﷺ په مکه او مدينه کې نازل شوی، او د قرآن کريم، احاديثو او د هغې زمانې د مسلمانانو (سلف صالحينو) د فهم په شکل کې محفوظ دی. نه پر هغه اسلام چې د کومې منحرفې ډلې د انګېرنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او برداشتونو په نتیجه کې منځته راغلی وي، او یا د غرب کوم تحقیقاتي یا تبلیغاتي ادارې تدوین کړی وي.
همدا ډول که د (ډیموکراسۍ) په اړه بحث کېږي نو باید هغه ډیموکراسي تر بحث لاندې ونیوله شي چې غرب په خپله رامنځته کړې، هلته یې تطبیق کړې او د هغې لپاره یې اصول وضع کړې دي. نه هغه ډیموکراسي چې غرب پلوو اسلام ته منسوبو مفکرینو له اسلام سره د(پیوند کارۍ) په نتیجه کې رامنځته کړې ده.
که داسې نشي نو بیا هر شی په خپل اصلي حقیقت کې نه ښکاره کېږي، او د حُکم او محکوم تر منځ به اختلاف موجود وي.
د دې لپاره چې دا بحث مو په یوه وا ضح او مرتب ډول لوستونکو ته وړاندې کړي وي نو پر دوؤ برخو یې ویشو، چې لومړۍ برخه یې په مختصر ډول د (ډیموکراسۍ) معرفي ده، او دوهمه برخه یې په یو څه تفصیل د اسلام له نظره د (ډیموکراسۍ) مناقشه او د هغې د تکفیر دلایل دي:

لومړۍ برخه- د ډیموکراسۍ معرفي

د ډیموکراسۍ تعریف:

د لغت په لحاظ د ډیموکراسۍ اشتقاق له دوو پخوانیو یوناني لفظونو څخه شوی چې یو یې (دیموس) Demos د (ولس) په معنی، او بل یې (کراتوس) Cratos د(واک) او (حکم) په معنی ده، چې د دواړو ترکیبي معنی (ولسواکي) یا د(ولس حاکمیت) دی.
او په اصطلاحي ډول بیا غربیانو (ډیموکراسي) داسې تعریف کړې ده:
Government of the People by the People For the People
(د خلکو حکومت، د خلکو په لاس، د خلکو لپاره).

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت يا حاکميت دوه برخې لري چې يوه يې د قوانينو او نظام برخه ده، او بله يې تنفيذي يا اجرايي برخه ده. يعنى په ډيموکراسۍ کې به د ژوند د هر اړخ او د هرې مسألې د حل لپاره قوانين هم د خلکو لخوا وضع کېږي، حاکم به هم د خلکو لخوا ټاکل کېږي، او فيصله به هم د خلکو لخوا کېږي. (دين) (وحې) يا (آسماني رسالت) ته په ډيموکراسۍ کې هېڅ ځاى نشته.

د پورتنيو لغوي او اصطلاحي تعريفونو له حاصل څخه د ډيموکراسۍ جامع تعريف په لاندى شکل په لاس راځي او هغه داسې چې:

(ډيموکراسي د ژوند لپاره له داسې يوه سياسي، اجتماعي او فکري په دين نه ولاړ نظام څخه عبارت ده چې حاکميت، تشريع او فيصله ورکې د خلکو لخوا، د خلکو په لاس او د خلکو لپاره، د اکثريت په شکل کې له هر ديني قيد او بند څخه پرته ترسره کېږي).

د ډيموکراسۍ فکري بنسټ

معاصره ډيموکراسي په غرب کې زېږيدلي ده. د غرب په هکله خو دا خبره يو حقيقت دى چې غربيانو تر اوسه پورې هېڅ الهي دين په سالمه بڼه کې ندى ليدلى. ځکه چې (يهوديت) يوازې د(بني اسرائيلو) دين ؤ، او هغوئ نه غوښتل چې نور خلک خپل دين ته دعوت کړي. او (مسيحيت) هم هغه وخت غرب ته ورسېد چې د متعصب يهودي (شاول) چې وروسته يې خپل نوم (پاول) ته اړولى وو او د مسيحيت د منلو دعوى يې کړې وه په لاس تحريف شوى ؤ، او د(توحيد) ځاى ورکې (تثليث) نيولى ؤ.

تحريف شوي (مسيحيت) له رب سره د انسان د رابطى لپاره يو څه لارښووني درلودې، خو د انسانانو ترمنځ يې د تعامل لپاره (شريعت او (قوانين) نه درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غرب کې خلکو د ژوند سیاسي، اجتماعي او اقتصادي چارې د پخوانیو (روماني) او (یوناني) قوانینو او عرفونو مطابق عیارې کړې وې، چې دې کار له ډېر پخوا راهیسې د غربي ټولنې په ذهن کې دا قناعت ایجاد کړی ؤ چې دین د ژوند په چارو کې دخل او غرض نه لري.

د ژوند او ټولنې په چارو کې د مسیحي دین د قوانینو د نشتوالي دغه تشه بادشاهانو، ملکانو او سرمایه دارانو له خپل لوري د قوانینو په وضع کولو ډکه کړې وه. هغوئ داسې قوانین وضع کړي ول چې د غربي ټولنې اکثریت یې د یو څو بادشاهانو او فیوډالانو په خدمت کې په بېلابېلو نومونو او شکلونو مسخر کړی ؤ.

بادشاهانو به پر خلکو خپل حاکمیت د الله تعالیﷻ له طرفه خپل حق ګاڼه، نه دا چې د ملت له طرفه دکوم تړون یا بیعت په نتیجه کې امانت ورسپارل شوی وي.

کلیسا هم که له یوې خوا د ژوند د چارو د تنظیمولو لپاره قانون او شریعت نه درلود، نو له بل لوري یې علم، دین، تفکر او عقل هم په خپل احتکار کې راوستلی ؤ.

فکري استبداد داسې مرحلې ته رسېدلې وو چې هر چا به چې کومه داسې نظریه وړاندې کړه چې د کلیسا به خوښه نه وه نو فوراً به هغه شخص کافر او د الله ﷻ له رحمته محروم ګڼل کېده، او له دین څخه به د بغاوت په جرم محکومېده.

د کلیسا له لوري د دین تحریف شوي او نا معقول تصور او د بادشاهانو جابرانه نظام په اروپا کې خلک له دین، رسالت او ملوکیت څخه متنفر کړل، او د اروپا د نوي عصر (د تنویر د عصر) د مفکرینو پر مخ یې د الحاد (له دین څخه د انکار) دروازه ورخلاصه کړه. هغوئ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (دین) پرځای په مطلق ډول د خلکو اراده د قوانینو مصدر وګرځوله، او د حق او ناحق د پېژندلو معیار یې د (وحې) پر ځای (عقل) وګاڼه.
د دین په اړه اروپایان پر دوؤ ډلو ووېشل شول، چې یوې ډلې له دین، رسالت او روحانیت څخه سراسر انکار وکړ، چې دا نظریه بیا وروسته په کمونیزم کې راڅرګنده شوه، او بلې ډلې په دین باندې یوازې د افرادو په (شخصي ضمیر) کې اعتراف وکړ او بس. پدې معنی چې دین د فرد او الله ﷻ تر منځ رابطه ده، خو د ژوند له چارو سره یې هېڅ کار نشته، او انسان د خپل ژوند لپاره د قوانینو په جوړولو کې مطلقه آزادي لري چې دغه نظریه بیا د (سیکولریزم) یا له دین څخه د (ژوند) او (دولت) د بېلتون په نامه وپېژندل شوه، چې همدغه نظریه د ډیموکراسۍ لپاره فکري بنسټ تشکیلوي.
د معاصرې ډیموکراسۍ مشهورو فیلسوفانو هر یو (توماس هوبز)، (جان لاک) او (جان جاک روسو) د ډیموکراسۍ لپاره دغه بنسټ د social contact (ټولنیز تړون) د فلسفې په شکل کې وړاندې کړ چې خلاصه یې په لاندې ډول ده:
دغه فیلسوفان وایې چې:(انسانان په پخوا زمانه کې همداسې په فطري ژوندکې اوسېدل. ژوند یې نامنظم ؤ، قانون او دولت یې نه درلود چې د دوئ چارې منظمې کړې وای، وروسته بیاخلکو قانون اوحکومت ته ضرورت احساس کړ، او د نظام او قانون د جوړولو لپاره سره راټول شول، او افرادو د ټولنې په ګټه له خپلو یو څه شخصي حقوقو څخه په تېربدلو په خپل منځ کې یو (ټولنیز تړون) Social Contac رامنځته کړ، چې وروسته یې بیا د حکومت او قانون شکل غوره کړ، چې په دې اساس د قانون او حکومت تصور د خلکو له ارادې څخه رامنځته شو).
پورتنۍ نظریه له الله ﷻ او د هغه له رسولانو او الهي ادیانو څخه په انکار ولاړه ده. پدې معنی چې – نعوذبالله– نه الله ﷻ شته، نه یې خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیداکړي،او نه يې نظام، قوانین او رسولان ورته رالیږلي دي. او یا دا چې الله ﷻ د خلکو خالق دی، خو له پیداکولو پرته يې نور هیڅ ندي کړي. نه يې رسولان رالیږلي، نه يې ادیان نازل کړي، او نه يې انسانانو ته د ژوند د چارو تنظیمول ورښودلي دي. ځکه چې که چېرې دا هرڅه شوي وای نو بیا به د ډیموکراسۍ د فیلسوفانو د Social Contac خیالي (ټولنیز تړون) ته څه ضرورت ؤ؟

د ډیموکراسۍ اصول

غربي ډیموکراسي پر دوو بنسټیزو اصولو ولاړه ده چې د هغو دواړو او یا یوه د نشتوالي په صورت کې یو نظام یا یوه ټولنه ډیموکراټیکه نشي بلل کېدای، او هغه اصلونه دا دي:

١ – د سیادت (حاکمیت) اصل.

٢ – د حقوقو او آزادیو اصل.

پورتني دواړه اصول هر یو خپل خصوصیات او مشخصات لري چې په لنډ ډول يې په لاندې کرښو کې یادونه کوو:

اول- د سیادت (اعلی حاکمیت) اصل

د سیادت تعریف:

(سیادت یا (اعلی حاکمیت) هغه مطلقه اعلی سلطه ده چې یوازې هغې ته پر اشیاؤ او افعالو د حکم د صادرولو حق حاصل وي).

یو بل تعریف وایي: (سیادت د (امر) او (نهې) هغه مطلقه علیا سلطه ده چې نه د هغې په څنګ کې ورسره مساوي او نه هم تر هغې پورته بله سلطه شته).

د سیادت (اعلی حاکمیت) اصل په ډیموکراسۍ کې پر لاندې دوو شقونو ولاړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: د تقنین یا (تشریع) شق، او هغه پدې معنی دی چې دکوم قانون یا شریعت پر اساس به د خلکو ترمنځ فیصله کېږي؟
ب: د تنفیذ شق، او هغه پدې معنی دی چې د قوانینو نافذوونکی (حاکم) به څوک وي؟ او څنګه به حاکمیت ته رسېږي؟
په ډیموکراسۍ کې د تقنین (تشریع) د شق خصوصیتونه په لاندې ډول دي:
۱ـ سیادت (اعلی حاکمیت) به په مطلق ډول د (ولس) وي. یعنې هغه حاکمیت به چې تر هغه پورته بل هېڅ حاکمیت وجود ونه لري د ولس حق وي، نه د الله حق.
۲ـ د ولس اراده مقدسه ده. یعنې هېڅ اراده د ولس اراده نشي ردولی، او نه وربانديې اعتراض کولی شي. هر څه چې ولس غواړي هماغه حق دی.
۳ـ د ولس د (اکثریت رأیه) د حق د پېژندلو رښتینی معیار دی، پدې معنی چې ټول ولس به کیدی شي چې پر یوه خبره متفق نه وي، خو که اکثریت پر یوه خبره اتفاق وکړي، نو د اکثریت دغه اتفاق د حق میعار دی.
۴ـ عقل د قوانینو د جوړولو یواځینی مصدر دی. یعنې د قوانینو په جوړولو او د احکامو په صادرولو کې (وحیه) هېڅ نقش نه لري. هرڅه ته چې عقل ښه وایي هغه حق او هر څه چې عقل يې بد وګڼي هغه باطل دي.
۵ـ دا چې ټول ولس په یوه وخت کې حاکم کېدای نشي، نو ولس باید یو شمېر خلک د حاکمیت او قانون جوړونې لپاره د انتخاباتو له لارې حکومت او پارلمان ته معرفي کړي چې د ولس په وکالت قوانین جوړ کړي او حکومت وچلوي، چې پدې ډول عمومي انتخابات د حکومت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چلوونکو او د قانون د جوړوونکو د ټاکنې لپاره د حاکميت دوهم يعنې د (تنفيذ) شق تشکيلوي.

په ډيموکراسۍ کې د تنفيذي قوې (حکومت) خصوصيات

۱ـ حکومت به د خلکو د اکثريت لخوا د عامو انتخاباتو له لارې منځته راځي.
۲ـ انتخابات به د داسې قانون په اساس تر سره کېږي چې (دين) ورکې هېڅ نقش نه لري.
۳ـ په انتخاباتو کې به د هېواد ټول خلک يو ډول سياسي حقوق لري. يعنې هر څوک چې د هر دين او مذهب منونکي وي ټول سره يو ډول سياسي حقوق لري. دين د هغوئ تر منځ د تفاضل (برترۍ) عامل نشي ګرځېدی. د مسلمان او کافر، ښځې يا نر معيار په انتخاباتو کې ځای نه لري. ټول د (رأيې ورکولو) او (کانديدېدلو) مساوي حق لري.
په انتخاباتو کې عقل، علم، تجربه، تقوی او صالحيت هېڅ ارزښت نه لري، يعنې د يوه بې سواده او يوه عالم رأيه سره مساوي ګڼله کېږي. همدا ډول د يوه ډېر زيرک او هوښيار انسان او د يوه نهايت غبي او احمق انسان د رأيو ترمنځ هېڅ فرق نشته.
همدارنګه د يو تجربه لرونکي پاخه ملي او سياسي شخص د رأيې او د هغه چا د رأيې ترمنځ چې په هېڅ نه پوهېږي او يوازې يو انسان دی هېڅ توپير نشته. په انتخاباتو کې يو صالح، متقي، با عفته او محسن انسان له يوه رشوت خور، زاني، قاتل، لوطي، غله او حرامکار انسان سره بالکل يو ډول مساوي سياسي حق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انتخاباتو لپاره باید کاندیدان ښه ډېر لګښتونه وکوي، په میاشتو او کلونو تبلیغاتي کمپاینونه وچلوي، ترڅو خلک د خپلو ځانونو په ګټه رأیې ورکولو ته تشویق کړي.

د انتخاباتو په نتیجه کې چې د هرې نظریې خلک حاکمیت ته ورسېږي نور ټول خلک به یې حکومت مني او په خلاف به یې نه راپورته کېږي، خو د مخالف حزب په شکل کې د حکومت په ځینو اقداماتو اعتراض کولی شي.

دویم- د حقوقو او ازادیو اصل

په ډیموکراسۍ کې د حاکمیت تر اصله وروسته بل اصل د حقوقو او آزادیو اصل دی چې د ډیموکراسۍ دوهم اصل ګڼل کېږي. د دغه اصل له تطبیقېدلو پرته ډیموکراسي هېڅ معنی نه لري. یعنې ټول هغه حکومتونه چې غواړي د ډیموکراټیکو یا جمهوري حکومتونو په حیث و پېژندل شي باید په حتمي ډول د ډیموکراسۍ په ټولو حقوقو رسمي اعتراف وکړي او د ډیموکراسۍ ټولې آزادۍ تأمین کړي. که دا کار ونه کړي نو هغه حکومتونه جمهوري او ډیموکراټیك نه ګڼل کېږي. د ډیموکراسۍ حقوق او آزادۍ په لاندې ډول دي:

۱ـ د عقیدې ازادي:

په ډیموکراسۍکې عقیده یو مسؤولیت او مکلفیت نه، بلکې یو اختیاري امر دی. پدې معنی چې دا ضروري نه ده چې انسان دې حتماً مسلمان و اوسي او یوازې د الله ﷻ عبادت دې وکړي چې د ده خالق او مالک دی. بلکې په ډیموکراسۍکې انسان د عقیدې په مجال کې آزاد دی. خوښه یې چې کوم دین مني، او که له سره یو دین هم نه مني.

همدا ډول انسان دا حق لري چې یو دین پرېږدي او بل دین ته واوړي. مثلاً نن مسلمان وي، سبا ته مسیحي شي، بل سبا ته هندو شي، بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ یهودي، کمونست، بودایي او یا د کوم بل دین منونکی شي. هېڅ قانون او هېڅ مرجع له ده سره د دین د بدلولو د محاسبې حق نه لري. ځکه چې دا په ډیموکراسۍ کې د هغه خپل شخصي حق دی چې ټولنه او نظام د هغه له عقیدې سره هېڅ کارنه لري. او که کوم جهت له ده څخه دغه حق سلبوي، نو ډیموکراسي باید په خپل ټول قوت د هغه تر څنګ ودرېږي او د دغه حق ساتنه یې وکړي.

۲ـ د نظر او رایې ازادي:

په ډیموکراسۍ کې د نظر یا رأیې د آزادۍ حق هم یو له هغو حقوقو څخه دی چې هېڅ قید او بند نه مني. پدې معنی چې انسان په هر څه کې خپله رأیه ورکولی شي، پرته لدې چې وکتل شي چې د دین احکام او قوانین د(وحیې) پر بنسټ ولاړ دي او له انسان څخه پوره تسلیمي غواړي، او د انسان رأیې ته په هغو کې ځای نشته.

خو په ډیموکراسۍ کې د انسانانو د رأیې قداست د(وحیې) او (دین) تر قداسته پورته دی. ځکه خو په ډیموکراسۍ کې دیني احکام هم د خلکو د رأیې پر اساس بدلېدلی شي.

۳ـ شخصي ازادي:

په ډیموکراسۍ کې بله آزادي شخصي آزادي ده. شخصي آزادي پدې معنی ده چې انسان د خپل شخص په اړه مکمل آزاد دی. هغه په خپل ځان هر څه کولی شي. هغه هر ډول سلوک او اخلاق اختیارولی شي، پرته لدې چې هغه سلوک او اخلاق دې د(روا) او (ناروا) په تله و تلل شي.

په ډیموکراسۍ کې زنا، لواطت او دې ته ورته نور کارونه د انسان خپل شخصي حق دی، او تر هغه پورې چې په خپله رضا تر سره کېږي او اجبار ورکې نه وي راغلی جرم نه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ د بیان او تبلیغ ازادي:

په ډیموکراسۍ کې د بیان آزادي یو مسلم حق دی. هرڅوک د هرڅه د بیانولو حق لري. څوك بل څوک د نظر له بیانولو څخه نه شي منع کولی. که څه هم د نظر دغه بیان د الله تعالیﷻ، د دین، د کوم پیغمبر علیه السلام او یا د عقیدې په هکله وي. د اسلام ستر پیغمبر محمد ﷺ ته د اروپا لخوا دکارتونونو په وسیله د سپکاوي په عمل کې هم همدغه دلیل د جواز لپاره وښودل شو.

۵ـ د مسکن حق:

ډیموکراسي هر انسان ته حق ورکوي چې په هرځای کې یې چې زړه وغواړي واوسي، او په هغه ځای کې دې د هغه هویت او شخصیت ته احترام وکړای شي. یعنی که یو کافر وغواړي چې په مکه کې د حرم ترڅنګ و اوسي نو هم باید منع نه کړای شي.

۶ـ د ملکیت حق:

په ډیموکراسۍ کې انسان د هر شي د ملکیت د لرلو، له هرې لارې د مال د ګټلو او په هره لاره کې د هغه د مصرفولو حق لري. ډیموکراسي د مال په ګټلو او یا مصرفولو کې هیڅ خارجي دیني او یا بل عامل ته د دخالت اجازه نه ورکوي. بلکې دا د انسان حق دی چې په هره طریقه مال ګټلی او یا مصرفولی شي و یې ګټي او مصرف یې کړي.

۷ـ د کار حق او ازادي:

په ډیموکراسۍ کې انسان د هر ډوول کار د کولوحق لري. په کارونو کې حلال او حرام نشته، یعنې په اسلام کې دووسي او د فحشاوو کار حرام دی، خو په ډیموکراسۍ کې خلك همدغه کار هم د (سکس ورکرانو) په نامه په قانوني شکل کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ـ د زده کړې او علم حق:

په ډیموکراسۍ کې انسان د هر ډول علم د زده کړې پوره آزدي او حق لري که څه هم چې هغه د جادو علم وي.

۹ـ په هر څه کې د نارینه ؤ او ښځینه ؤ مساوات:

په ډیموکراسۍ کې ښځه او نر دواړه یو ډول حقوق او آزادۍ لري. هر څه چې نارینه کولی شي، ښځې هم باید له هغو څخه منع نه کړای شي. نارینه پر ښځو د قیمومیت او واکمنۍ حق نه لري. بلکې دواړه یو د بل په وړاندې مساوي متقابل حقوق لري.

د دغو حقوقو ترڅنګ یو لړ نور حقوق هم د ډیموکراسۍ له مهمو حقوقو څخه ګڼل کیږي چې په هغو کې د(سیاسي پلورالیزم) او (دیني پلورالیزم) حقوق او آزادۍ هم راځي.

سیاسي پلورا لیزم:

سیاسي پلورالیزم د سیاسي احزابو د تعدد په معنی دی. یعنې په ډیموکراټیکه ټولنه کې خلک بېلابېل سیاسي احزاب جوړولی شي. دغه سیاسي احزاب د بېلابېلو قومي او ایډیالوژیکو اجنډاؤ او نظریاتو د پرمخ بیولو لپاره تأسیسیږي، او بیا واک ته د رسېدلو لپاره د رقابت له مختلفو وسایلو او طریقو څخه کار اخلي.

ډېرځله داسې پېښیږي چې قدرتمن استعماري دولتونه په نورو دولتونو کې خپلو اهدافو ته د رسېدلو لپاره احزاب جوړوي، او بیا یې د بېلابېلو طریقو له لارې قدرت ته رسوي. ترڅو د هغو له لارې آزاد هېوادونه خپلې مستعمرې وګرځوي او خپل مصالح ورکښې تأمین کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیني پلورا لیزم:

په ډیموکراسۍ کې که څه هم چې (دین) د ټولنې او دولت په چارو کې څه رول نه لري خو دا چې ادیانو ته د خلکو فطري او معنوي ضرورت دی او دغه تشه له دین پرته په بل څه نه ډکیږي نو ځکه خو ډیموکراسي هم د عقیدې او عبادت تر حده د انسان په شخصي ژوندکې (دین) ته اجازه ورکوي، او په همدغو حدودو کې دیني احزاب هم فعالیت کولی شي. خو پدې شرط چې په سیاسي او اجتماعي چاروکې به ډیموکراسي مني.

پر همدې اساس هرڅوک هر چېرې د خپل دین او عقیدې د خپرولو حق لري. د مثال په ډول لکه څنګه چې مسلمان تبلیغیان هر چېرې د اسلام د تبلیغ حق لري، همدا ډول باید د هر دین او مذهب خلکو ته دا حق حاصل وي چې په مسلمانو ټولنو کې د خپل دین د خپراوي لپاره آزادانه کار وکړي، او څوک یې مخه و نه نیسی. او که یې مخه نیول کېږي نو دنړۍ ډیموکراټیک حکومتونه یې باید په خلاف اقدام وکړي.

د دې لپاره چې د ډیموکراسۍ حقوق او آزادۍ چې د غرب د مسیحي ټولنې د روحي، اجتماعي، سیاسي او استعماري مقاصدو په نظر کې نیولوسره وضع شوي دي پر ټوله نړۍ د یوه قانون په شکل کې په حتمي ډول تطبیق شي دغه حقوق او آزادۍ د غربیانو لخوا د بشر د حقوقو د نړیوال میثاق په شکل کې راوړل شوي، او په ملګرو ملتوکې پر شاملو هېوادونو په حتمي شکل منل شوي دي چې سرغړاوی ورڅخه په هېڅ صورت جائز نه ګڼل کېږي، لکه چې د بشر د حقوقو د میثاق د نهه ویشتمې (۲۹) مادې په (ج) جزء کې چې په صراحت سره لیکل شوي دي: **(په هېڅ صورت کې روا نه ده چې له دغو حقوقو سره پداسې ډول تعامل وشي چې د ملګرو ملتو له اصولو او اهدافو سره تضاد ولري)**.

یعنې ټول دولتونه به دغه حقوق او آزادۍ به په هماغه شکل او حیثیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

تطبيقوي چې ملګري ملتونه يې غواړي، او هېڅوک هغه په بله بڼه نشي تعبيرولی. دغه حکم د هغو خلکو بهانه له منځه وړي چې وايي مونږ د بشر حقوق په اسلامي بڼه تعبيروو.

دوهمه برخه – د ډيموکراسۍ مناقشه

ډيموکراسي ولې کفر دی؟

ډيموکراسي يو نوی کفري دين دی چې خپل شريعت، خپل قوانين، خپل اخلاق او د ژوند لپاره خپل ځانګړی تصور لري. د دغه نوي دين فيلسوفان او پيروان غواړي چې د ډيموکراسۍ دغه نوی (دين) دې تر اسلام، يهوديت، مسيحيت، هندويزم، بودائيت او تر بل هر دين مقدم او محترم وی. او بل يو دين دې هم د ډيموکراسۍ په اندازه قداست ونه لري. ټول انسانان دې په جبري شکل د دغه نوي دين منلو ته اړ کړای شي، او که يې څوک نه مني نو هغوئ د انسانيت د درجې مستحق هم نه دي.

د مثال په ډول: امريکا يو مسيحي هېواد دی، خو که هلته څوک مسيحيت نه مني، يا له مسيحيت څخه بل دين ته اوړي، نو حکومت ورسره هېڅ مشکل نه لري. خو که يو څوک په امريکا کې ډيموکراسي نه مني، هغه په ټوله امريکا کې د اوسېدلو حق نه لري.

همدا ډول که څوک په برتانيه، فرانسه، جرمني، ايټاليا او حتی په استراليا کې چې ټول مسيحي هېوادونه دي مسيحيت و نه مني له هېڅ مشکل سره نه مخ کېږي، خوکه ډيموکراسي ونه مني، هغه شخص هلته د اوسېدو حق نه لري.

همداسې که يو څوک په نيول شوي فلسطين (اسرائيل) کې يهوديت نه مني، اوسېدلی شي، خو که ډيموکراسي نه مني، نو نشي اوسېدلی. همدغه حکم نن ورځ د دنيا په ټولو هېوادونو کې حاکم دی. ان تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې که څوک په اسلامي هېوادونو کې چې نظامونه يې د دغه نوي دين منونکي دي اسلام نه مني او يا له اسلامه مرتد کېږي، هېڅ مشکل نه لري. خو که څوک ډيموکراسي نه مني، هغه له هر ډول انساني حقوقو محرومېږي، او حتی د ژوند حق نه ورکول کېږي.
پدې وروستيو کې په افغانستان کې وليدل شول چې که حکومت هم په کوم قانون کې کومه اسلامي ماده راولي که څه هم چې هغه د شخصي احوالو په قانون پورې اړه ولري او د ډيموکراسۍ د اصولو مطابق له ټولو قانوني مرحلو تېره شوې هم وي، بيا يې هم ټول غرب په يوه غږ په خلاف راپورته کېږي او د هغې د بدلون لپاره پر حکومت هر اړخيز فشارونه راوړي تر څو هغه يوه اسلامي ماده هم د ډيموکراسۍ د دين په مقابل کې واقع نشي.
همدا ډول وليدل شول که په پاکستان کې پارلمان او حکومت هم د يوې سيمې لپاره په ډيموکراتيکه طريقه داسې يو قانون ومنې چې اسلامي مواد ورکښې رعايت شوي وي، نو ټول غرب يې په خلاف درېږي او حکومت له خپلې فيصلې څخه ګرځېدلو ته پدې دليل اړکوي چې منل شوی قانون د ډيموکراسۍ له نوي دين سره مخالفت لري.
غرب چې په اوسنۍ زمانه کې د ډيموکراسۍ د نوي بشري دين رامنځته کوونکی او منونکی دی په ملياردونو ډالره، په لکونو پوځيان، په لسګونو زره ادارې او مؤسسې يې په نړۍ کې د ډيموکراسۍ د دين د خپرولو لپاره په کار اچولې دي. او هر هغه ملت چې د دغه نوي دين منلو ته نه تيارېږي، د هغه د ځپلو لپاره د ډيموکراسۍ له دين څخه د هغه په خلاف د جګړې جواز برابروي او له ملګروملتو څخه د هغه د وژلو رسمي او قانوني فتوی ترلاسه کوي.
دا چې ډيموکراسي ولې کفر دی؟ شرعي دلايل يې په لاندې ډول بيانوو، او د دې لپاره چې د لوستونکو لپاره اسانه وي په هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتيب مو چې د ډيموکراسۍ معرفي ورته وړاندې کړې ده، د تکفير دلايل يې هم په هماغه ترتيب بيانوو:

د ډيموکراسۍ د تکفير د لائل

۱ – د سيادت يا (اعلی حاکميت) موضوع :

مخکې د ډيموکراسۍ په معرفي کې يادونه وشوه چې (سيادت) يعنې اعلی حاکميت په ډيموکراسۍ کې د ولس حق ګڼلی کېږي چې د اکثريت په شکل کې به حکمراني کوي، خو په اسلام کې دغه حق يوازې او يوازې د الله ﷻ دی.

اسلام وايي چې بندګان ټول د الله ﷻ مخلوق دي، يوازې هغه ﷻ پيداکړي، او هر څه ورته هماغه يو الله ﷻ پيدا کړي دي. او همدغه الله ﷻ د بشر په ټولو ضرورتونو او مصالحو ښه پوه دی. او د همدغې ازلي پوهې له مخې يې په هره زمانه کې هر قوم ته د هغوئ د حال او وضعيت موافق شريعت او قانون نازل کړی چې بايد مطلق اطاعت يې وشي، او د هغه د حاکميت په مقابل کې هېڅوک د حاکم په حيث او هېڅ قانون د منلو وړ ونه بلل شي. پر همدې اساس ټول مسلمانان مکلف دي چې د الله ﷻ نازل شوی قانون ومني، او د اختلاف او منازعې په صورت کې يوازې او يوازې د همده قانون ته رجوع وکړي، نه دا چې له خپل لوري د خپلې پوهې او عقل پر بنا قوانين جوړ کړي، او بيا پر هغو فيصلې وکړي.

په اسلام کې قطعي الثبوت دلايل له هغه چا څخه ايمان نفي کوي چې د الله له قانون پرته د بل چا په قانون فيصله کوي، او د الله ﷻ په مقابل کې د بل چا حاکميت مني. او يا دا چې د الله ﷻ په قانون فيصله کوي خو له زړه نه ورباندې راضي نه وي. لاندې صريح آيتونه د دې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قطعي دلايل دي چې حاکميت به يوازې او يوازې د الله ﷻ وي، او قانون به يوازې د هغه منل کېږي.

د حاکميت ايتونه

۱- ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩ ﴾ النساء: ٥٩

ترجمه: (ای مؤمنانو: د الله، رسول او د هغو کسانو اطاعت وکړئ چې له تاسو څخه د امر اوحکم خاوندان دي. اوکه چېرې مو په کوم شي کې شخړه راغله نو الله او رسول (قرآن اوسنت) ته يې راجع کړئ که تاسې په الله او د آخرت په ورځ ايمان لرونکي ياست. دا کار غوره او پای يې ډېر ښه دی).

دا آيت په صراحت حکم کوي چې د منازعې په وخت کې دې د فيصلې مرجع يوازې د الله ﷻ او د رسول ﷺ وينا وي.

۲- ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥ ﴾ النساء: ٦٥

ترجمه: (قسم دی په رب ستا چې نه مؤمنان کېږي دوئ تر هغه پورې چې حَکَم (فيصله کوونکې) نه کړي تا په هغو شخړو کې چې پېښې شوي وي د دوئ په منځ کې او بيا ونه مومي دوئ په خپلو زړونو کې ناراضي ستا له فيصلې، او ومني دوئ ستا خبره په منلو سره (بې له جګړې په خوښۍ سره).

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدي آیت هم له هغه چا څخه د ایمان نفيې شوې چې د پیغمبر ﷺ په دین فیصله نه کوي، او یا یې په فیصله له زړه څخه راضي نه وي.

۳- ﴿ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ﴿١٠٥﴾ ﴾ النساء: ١٠٥

ترجمه: (بیشکه مونږ درلېږلی تا ته قرآن (ای محمده!) په حقه چې فیصله وکړې د خلکو ترمنځ د الله د لار ښوونو په رڼاکې، او مه کېږه جګړه کوونکی د خاینو خلکو لپاره). پدې آیت کې هم د قرآن کریم د نازولو هدف دا ښودلی شوی چې رسول الله ﷺ دې د هغه پر اساس د خلکو ترمنځ فیصلې وکړي، او د خاینانو پلوی دې نه کوي.

۴- ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ﴿٣٦﴾ ﴾ الأحزاب: ٣٦

ترجمه: (او نه ده روا هېڅ مؤمن سړي او مؤمني ښځې ته چې کله فیصله وکړي الله ﷻ او رسول یې په یو کار کې چې وي دې دوئ ته اختیار په خپل کارکې،او هرڅوک چې نافرماني کوي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ په یقیني ډول ګمراه شو په ګمراهۍ ښکاره).
دا آیت مؤمنان له دې منع کوي چې د الله ﷻ او د رسو ل الله ﷺ د حکم په مقابل کې دې ځانته یو بل دریځ ونیسي.

۵- ﴿ وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۖ وَلَا تَتَّبِعۡ

(c) ketabton.com: The Digital Library

أَهۡوَآءَهُمۡ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ ﴾
المائدة: ۴۸

ترجمه:(او نازل کړی مودی تا ته (ای محمده) قرآن په حقه سره چې تصدیق کوونکی دی د هغه کتاب چې تر ده د مخه ؤ. او ساتونکی دی د هغه د مضامنیو، نو فیصله کوه د دوئ ترمنځ په هغه کتاب چې لیږلی یې دی تا ته،او مه کوه متابعت د دوئ د هیلو او آرزوګانو (او مه اوړه) له هغه څخه چې راغلی دی تا ته له حق څخه، مونږ تاسې هر امت ته جلا جلا شریعت او لار ټاکلې ده).

پدې آیت کې هم رسول الله ﷺ ته امر شوي چې د خلکو ترمنځ دې د هغه کتاب پر اساس فیصله وکړي چې الله ﷻ ورته نازل کړی، او د خلکو په خوښو پسې لاړ نه شي.

۶- ﴿ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا ﴿٦٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ رَأَيۡتَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودٗا ﴿٦١﴾ ﴾ النساء: ۶۰- ۶۱

ترجمه: (آیا ته نه ګورې هغه خلک (ای محمده!) چې ګومان کوي چې په هغه کتاب یې ایمان راوړی چې نازل شوی دی تا ته او هم په هغه چې نازل شوی ؤ تر تا د مخه، غواړی د فیصلې لپاره وړاندې شي طاغوت (کعب بن اشرف یهودي) ته پداسې حال کې چې دوئ ته امر شوی چې په طاغوت کافر شي (له هغه منکر شی) او شیطان غواړي هغوئ ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات ګمراهان کړي.(او چې کله هغوئ ته وویل شي د الله نازل شوي کلام او رسول ته راشي، نو ته وینې چې منافقان له تا څخه مخونه اړوي).
دا آیتونه هم هغه څوک مسلمان نه ګڼي چې په قرآن د ایمان دعوی کوي خو فیصله د بل چا قانون ته وروړي، او د قرآن قانون ته له فیصلې وروړلو مخ اړوي.

۷- ﴿ إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٥١﴾ ﴾ النور: ٥١

ترجمه:(بې شکه د مؤمنانو وینا داده چې کله وبللی شي الله او د هغه رسول ته چې فیصله وکوي رسول د هغوئ ترمنځ داچې مونږ بلنه واوریده او و مو منله، همدوئ خلاصیدونکي دي).
دا آیت د مؤمنانو صفت دا ګڼې چې د رسول الله ﷺ قانون ته بې له قید او شرطه تسلیمېږي او مني يې.

۸- ﴿ وَمَن يُشَاقِقِ ٱلرَّسُولَ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ ٱلْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ ٱلْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِۦ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِۦ جَهَنَّمَۖ وَسَآءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾ ﴾
النساء: ١١٥

ترجمه: (او هر څوک چې د رسول مخالفت وکړي وروسته له هغه چې د هدایت لاره ورته ښکاره شي او د مؤمنانو له لارې پرته په بله ولاړ شي نو مونږ به يې په همغه لور وګرځوو چې دی ورته ګرځېدلی دی او جهنم ته به يې داخل کړو. او جهنم ډېر بد د ورتګ ځای دی).
پدې آیت کې هم الله تعالی ﷻ د هغه چا د جهنم ته د ورداخلولو خبره کوي چې د رسول الله ﷺ له قانون سره مخالفت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹-﴿ وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِۚ ﴾ الشورى: ۱۰

ترجمه: (او په هر څه کې چې تاسي اختلاف وکړئ نو د هغه پرېکړه له الله سره ده).

پورتني ټول آیتونه او په لس ګونو نور آیتونه په پوره صراحت سره دا موضوع بیانوي چې سیادت (اعلی حاکمیت) یوازې الله ﷻ او د هغه رالېږلي شریعت ته حاصل دی. او فیصله باید یوازې او یوازې په هغه قانون وشي چې الله ﷻ را نازل کړي دی. او هرڅوک چې د الله د قانون په مقابل کې د خپل عقل او ارادې پر بنا د بشر لپاره داسې قوانین جوړوي چې د الله ﷻ له قانون سره مخالف وي هغه مؤمن نشي پاتې کیدلی، بلکې هغه په یقیني ډول د اسلام له دائرې څخه وځي.

په ډیموکراسۍ کې اعلی حاکمیت د ولس حق ګڼلی کېږي، خو په اسلام کې حاکمیت د الله ﷻ حق دی. په ډیموکراسۍ کې د بشر منازعاتو د حل او فصل لپاره قوانین د بشر لخوا یوازې د عقل پر بنا جوړېږي، او د اکثریت (پارلمان) د منلو او تصویب او د حاکم له توشیح وروسته قانونیت پیداکوی، خو په اسلام کې به د اسلام د قانون په مقابل کې هیڅ قانون نه جوړېږي، او نه به د اسلام قانون پارلمان ته تصویب او یا ردولو لپاره وړاندې کېږي. او که داسې وشي نو بیا به پارلمان ته د الله ﷻ پر حکم د تفوق حیثیت ورکړای شوي وي، چې دا بیا په خپله صریح کفر دی.

۲- دولس د ارادې د تقدس موضوع

په ډیموکراسۍ کې تر ټولو مقدس او ارزښتمن شی د ولس اراده ده. او همدغه د ولس اراده د قانون مصدر ګڼلی کېږي،هر څه چې ولس وغواړي هماغه حق او قانون دی، او هر څه چې ولس رد کړي هغه هیڅ شرعیت او قانونیت نه لري. د ولس اراده په ډیموکراسۍ کې د الله ﷻ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ارادې هم مقدسه ګڼله کېږي. که الله ﷻ په خپل قانون او شریعت کې یو څه نازل کړي وي خو ولس بل څه وغواړي نو ډیموکراسي حکم کوي چې الهي شریعت دې پرېښودل شي او د خلکو له ارادې را وتلی قانون دې عملي کړای شي.

ډیموکراسي وایي چې د ولس اراده دې د اساسي قانون په شکل کې د کوم تقنیني مجلس یا (لویې جرګې) او یا بل کوم ولسي مرجع لخوا تدوین او ومنلی شي، او بیا دې شریعت او یا بل عرف او قانون ته د اساسي قانون په رڼا کې وکتلی شي، که چېرې له اساسي قانون سره برابر وو نو بیا پدې خاطر د منلو وړ دی چې له اساسي قانون سره موافق دی، نه له دې امله چې هغه د الله ﷻ حکم او شریعت دی. او که چېرې له اساسي قانون سره موافقت ونه لري نو بیا په هېڅ صورت کې عملي کېدلای نشي، که څه هم چې صریح آیت، یا صحیح حدیث او یا دامت د علماؤ اجماع هم وي. د خلکو رأیې او ارادې ته پر شریعت باندې د تفوق حق ورکول هغه کفر دی چې الله ﷻ خپل رسول ورڅخه منع کړی دی، الله ﷻ فرمایي:

﴿ وَأَنِ ٱحْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ وَٱحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَنۢ بَعْضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ ﴾ المائدة: ٤٩

ترجمه: (او فیصله وکړه د دوئ تر منځ په هغه قانون چې نازل کړی دی الله ﷻ او د دوئ په خوښو او ارزوګانو پسې مه ځه، او ځان وساته له هغوئ چې واړوي تا له ځیني هغه څه چې الله ﷻ درته رالېږلي دي). خو په ډیموکراسۍ کې باید حتماً ولس ته رجوع وشي او د هغوئ هیلې او آرزوګانې و پوښتلی شي، او د هغو پر بنا دې قوانین وضع شي، که څه هم چې د الله ﷻ د قانون مخالف وي، تر دې وروسته بیا هېڅ قانون او اراده د خلکو د ارادې پر بنا جوړ شوی قانون نشي ردولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د اکثریت د رایې د معیاریت موضوع

په ډیموکراسۍ کې د اکثریت رأیه د(حق معیار) ګڼلې کېږي. پدې معنی چې هر چا یا هر څه ته چې اکثریت رأیه ورکړي همغه حق ګڼلی کېږي، او هماغه ځوک به د حاکمیت مستحق وي چې اکثریت یې تأیید کړی وي.

خو په اسلام کې د رأیې ورکوونکو د شمېر ډېروالی د حق او استحقاق معیار نه دی. بلکې په اسلام کې حق هغه دی چې قرآن، حدیث او د شرع دلائل یې تأیید وکړي، که څه هم چې د هغه تر شا هېڅوك ولاړ نه وي، او یا لږ شمېر خلک ولاړ وي، او په مقابل کې یې ډېر خلک ولاړ وي.

د مثال په ډول که د یوه هېواد اکثریت خلک په یوه یا بل دلیل د زنا، لواطت یا سود د جواز په حق کې رأیې ورکړي او په مقابل کې یې یو کس مخالفه رأیه ورکړي، او یا هم هېڅوک رأیه ورنکړي، بیا به هم دغه افعال نه رواکېږي. بلکې د تل لپاره به حرام وي. خو په ډیموکراسۍ کې بیا د اکثریت رأیه د (حلال ګرځولو) او یا (حرام ګرځولو) صلاحیت لري.

په اسلام کې (حق) او (جائز) هغه دي چې شریعت (حق) او (جائز) بللی وي. او (باطل) او (ناجائز) هغه دي چې شریعت (باطل) او (ناجائز) ګرځولي وي.

په اسلام کې نه یوازې دا چې اکثریت د حق میعار نه دی منل شوی، بلکې قرآنی آیتونه په صراحت سره وایې چې لږ خلک د حق منونکي او شکر کوونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي ٱلْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿١١٦﴾ ﴾ الأنعام: ١١٦

ترجمه: (او که ته د زمکې د مخ د ډېرو خلکو خبره ومنې نو د الله ﷻ له لارې به دې واړوي، ځکه چې هغوئ په ګومانونو پسې روان دي او اټکليان دي)

همدا راز فرمايي: ﴿ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾ ﴾ الأعراف: ١٨٧

ترجمه: (خو ډېر خلک نه پوهېږي).

او بل ځای کې فرمايي: ﴿ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ ٱلشَّكُورُ ﴿١٣﴾ ﴾ سبأ: ١٣

ترجمه: (زما ډېر لږ بندګان شکر کوونکي دي).

رسول الله ﷺ ته هم چې کله حق د اقليت په رأيه کې ښکاره شوی دی نو د اکثريت د رأيې پر خلاف يې د اقليت رأيه منلې ده. لکه د (بدر) په جنګ کې يې چې يوازې د (حباب بن المنذر ﷺ) پر رأيه په داسې حال کې عمل وکړ چې خپله رسول الله ﷺ او نورو اصحابانو رضي الله عنهم د جنګ د ډګر په اړه بله رأيه درلوده.

همدا ډول رسول الله ﷺ د (حديبيې) په صلحه کې د اصحابو رضی الله عنهم د اکثريت رأيه ونه منله، او د هغوئ د رأيې په خلاف يې له قريشو سره صلحه وکړه.

ابوبکر صديق رضي الله عنه هم د ارتداد د فتنې په مقابل کې د قوي موقف په خپلولو کې د اکثريت د رأيې مخالفت وکړ او د (اسامه ﷺ) لښکر يې د شام په لوري ولېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پورتنیو ټولو دلایلو معلومېږي چې په اسلام کې د رأیه ورکوونکو اکثریت یا اقلیت د (حق) او (باطل) (روا) او (ناروا) په ټاکلو کې هېڅ نقش نه لري، پداسې حال کې چې په ډیموکراسۍ کې اکثریت د (إله)، او رأیه یې د (شریعت) پر ځای درول شوي دي، چې د ا یو ښکاره کفر دی.

۴- د قانون مصدر عقل دی که شرع ؟

دا چې ډیموکراسۍ اساساً د(سیکولریزم) پر بنسټ چې وایي (دین) باید د (ژوند) او (نظام) په چارو کې هېڅ نقش و نه لري ولاړه ده نو پر همدې اساس په (ډیموکراسۍ) کې د قانون مصدر د خلکو عقل دی، نه (إلهی وحیه).

په ډیموکراسۍ کې هر هغه څه ته (ښه) ویلی کېږي چې د خلکو عقل یې (ښه) وګڼي. او هر هغه څه ته (بد) ویلی کېږي چې د خلکو عقل یې (بد) وګڼي.او بیا د همدغو ښېګڼو یا مصالحو په پام کې نیولو سره قوانین وضع کېږي.

په مسلمانو هېوادونو کې خو ډېر ځلي داسې هم پېښېږي چې یوه نیمه شرعي ماده که چېرې په کوم قانون کې پاتې هم وي هغه هم باید د عقل په تله وتلل شي، او خلک ورباندی د خپل عقل په رڼا کې حکم وکړي. لکه چې په پاکستان کې څه موده مخکې د(حدود آرډنینس) د شرعي حدودو د فرمان په هکله د خلکو د اذهانو د تحریکولو لپاره د امریکا په بودیجه په ځیني تلویزونونو او اخبارونوکې پوره شپږ میاشتې د(ذراسوچئې) په نوم کمپاین وچلول شو او په نتیجه کې یې په پارلمان کې اکثریت د خپل عقل په حکم ځینې شرعي احکام منع اعلان کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- ايا يوازې عقل پر اشياؤ او افعالو د (ښه والي) يا (بدوالي) د صحيح حکم صلاحيت لري؟

عقل د لاندې وجوهاتو له امله پر اشياؤ او افعالو د صحيح حکم کولو صلاحيت نه لري:

۱ـ د خلکو عقلونه سره فرق لري، که ځينی يې يو (شی) يا يو (کار) ښه وګڼي، ځيني نور يې بيا هماغه (شی) او يا (کار) بدګڼي. يا هم داسې چې د ځيني خلکو په عقل به يو څوک د يوه کار د کولو له امله د مکافات وړ بلل کېږي، خو د ځينې نورو په عقل به بيا هماغه شخص د هماغه کار له امله د مجازات وړ بلل کېږي. ځکه خو عقل تر هغه وخته پر اشياوو او اشخاصو د صحيح حکم د صادرولو صلاحيت نه لري چې تر څو يې (الهي وحيې) لارښوونه نه وي کړې.

۲ـ د انسانانو عقلونه د هغوئ له خواهشاتو او فطري غريزو او تمايلاتو متأثر کېږي. او د ايوه منل شوې خبره ده چې د خلکو خواهشات او غريزې سره جلا جلا دي، نو پر همدې بنا يې عقلونه هم د همدغه تأثر له امله پر اشياؤ او افعالو بېل بېل حکمونه کوي، چې پدې کې بيا د حقيقي مصلحت تشخيص نا ممکن کار وګرځي.

۳ـ د انسانانو عقلونه د حالاتو، شرائطو او زماني له بدلون سره بدلون مومي، نن به يو شی ښه ګڼي خو سبا ته به په نورو شرائطو او حالاتو کې هماغه شی بدګڼي چې پدې کې د عقل بې ثباتي راځی، پداسې حال کې چې (الهی وحيه) د ټولو حالاتو په نظر کې نيولو سره يو ثابت حکم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ په اسلام کې د ثواب او عقاب په لحاظ پر اشیاؤ او افعالو باندې د (حِل) او (حُرمت) حکم یوازې او یوازې د الله ﷻ حق دی او بس، لکه چې الله فرمایي: ﴿إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۖ﴾ الأنعام: ۵۷

ترجمه: (حکم ندی مګر یوازې د الله). او همدا ډول الله ﷻ فرمایي:

﴿ثُمَّ جَعَلۡنَٰكَ عَلَىٰ شَرِيعَةٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡرِ فَٱتَّبِعۡهَا وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ١٨﴾ الجاثية: ۱۸

ترجمه: (تر دې وروسته مو پیغمبره! ته د دین پر یوه روښانه لار برابر کړې. ته باید همدا ومنې،او د هغو خلکو په هیلو او هوسونو پسې مه ځه چې نه پوهېږي).

۵ـ رسول الله ﷺ هم د هر هغه حکم د (رد) فیصله کړې ده چې د دین په کوم دلیل ولاړ نه وي. او انسانانو د خپل عقل پر بنا وضع کړي وی. له عایشې رضي الله عنها څخه روایت دې چې رسول الله ﷺ فرمایي: ((من أحدث فی أمرنا هذا مالیس منه فهو ردّ. وفي لفظ: من عمل عملاً لیس علیه أمرنا فهو ردّ)) بخاري او مسلم.

ترجمه: څوک چې زمونږ په دین کې داسې یو څه ایجاد کړي چې له دین څخه نه وي هغه مردود دي. په بل لفظ کې راغلي:څوک چې یو داسې کار وکړي چې پر هغه زمونږ امر (دلیل) نه وي هغه مردود دی.

خو د پورتنیو ټولو دلایلو پرخلاف په ډیموکراسۍ کې (حکم) کول او (قوانین جوړول) د عقل کار دی چې (وحیې) ته ورکښې هیڅ د دخالت حق نشته. په بل عبارت په ډیموکراسۍ کې د تشریع او قانون حق له الله ﷻ څخه په بشپړ ډول اخیستل کېږي، او په بشپړ ډول انسانانو ته سپارل کېږي چې د خپل عقل پر بنا یې جوړ کړي چې دا په حقیقت کې تر ټولو لوی کفر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخابات

په ډيموکراسۍ کې انتخابات د ملا د تیر حیثیت لري چې له هغو پرته هیڅ نظام ته صحیح ډیموکراتیک نظام نشي ویل کیدای. خو هغه ډول انتخابات چې په ډیموکراسۍ کې ترسره کیږي په اسلام کې یې هیڅ ځای نشته.

لکه څرنګه چې اسلام د ژوند د هر اړخ لپاره خپل اصول او ضوابط لري همدارنګه د حکومت او سیاست لپاره هم خپل نظام او اصول لري چې ځینې مشخصات یې په لاندې ډول دي:

په اسلام کې د نظام خصوصیات

اول خصوصیت – په اسلام کې حاکمیت یا ولایت یو غنیمت او ولجه نه ده چې په هره طریقه چې ممکن وي باید حاصله کړای شي. بلکې په اسلام کې حاکمیت او ولایت یو درونده مسؤولیت او خطرناک مکلفیت دی چې د ملت لخوا هغه چاته ورسپارل کیږي چې په هغه کې د امامت د انعقاد شپږ اساسي شرطونه موجود وي چې په لاندې ډول دي:

اول شرط: حاکم بایدمسلمان وي. کافر د اسلامی دولت مشر نشي جوړیدلی. یو ډول کافر هم د مسلمانانو مشر کیدای نه شي، که هغه (یهودی)،(نصرانی) ، یا (سیکولر) وی، او یا هم د کوم بل دین منونکې وي، او یا هم ملحد (کمونست) وي چې د یوه دین منونکې هم نه وي.

الله ﷻ فرمايي :﴿ وَلَن يَجْعَلَ ٱللَّهُ لِلْكَـٰفِرِينَ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ﴿١٤١﴾ ﴾ النساء: ١٤١

ترجمه:(او هیڅکله به ونه ګرځوي الله د کافرانو لپاره پر مؤمنانو باندې څه لاره).

په قرآن کریم کې د مسلمانانو له (أولى الأمر) سره هرځای د اقید لګول شوی دی چې هغه باید له مسلمانانو څخه وي. او پر دې شرط باندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام د ټولو علماؤ اجماع ده چې هېڅا يې مخالفت نه دی کړی. پر همدې بنا په اسلام کې پر مسلمانانو د کافرحاکم کېدل حرام دي.
خو په ډيموکراسۍ کې د دين لپاره هېڅ اعتبار نشته. هلته هرڅوک د مشرۍ لپاره ځان کانديدولای شي. پرته لدې چې د هغه (مسلمانۍ) يا (کفر) ته دې وکتل شي. بلکې اوس خو په عملي لحاظ د ټولې اسلامي نړۍ لپاره د دنيا د کفارو دا متفقه فيصله ده چې صحيح مسلمان بايد په يوه اسلامي هېواد کې هم حاکميت ته ونه رسېږي. او که ورسېږي که څه هم چې دانتخاباتو له لارې رسېدلی وي نو بيا هم بايد له حاکميته را وپرځولی شي، او پرې نښودی شي چې حکومت جوړ کړي، چې دغه مثالونه په ترکيه، الجزائر،مصر او نورو اسلامي هېوادونو کې وليدل شول.
دوهم شرط: په اسلام کې د حاکم لپاره دوهم شرط نارينتوب دی. د ښځې حاکم کېدل په اسلام کې حرام دي. په هغه حديث شريف کې چې امام بخاري، ترمذي، نسائي او امام احمد روايت کړی دی راغلي دي چې کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته خبر ورسېد چې د ايران خلکو د ايران د بادشاه (کسری) له مړينې وروسته د هغه لور حاکمه کړې ده نو ويې فرمايل: ((لن يفلح قوم ولوا أمرهم امرأة))
ترجمه: (هېڅکله به هغه قوم کامياب نشي چې خپل ولايت (حاکميت) يي ښځې ته ورکړی وي). خو د دې پر خلاف په ډيموکراسۍ کې نر او ښځه يو ډول د انتخابېدلو او حاکم کېدلو حق لري. او همدغه حکم د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې چې د امريکا د اشغال په وخت جوړ شوی هم په دې ډول بيان شوی دی: د((افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابيدلو حق لري)) (۳۳ ماده). چې دا کار له اسلام سره ښکاره مخالفت دی.
دريم شرط: دريم شرط بلوغ دی، ځکه چې نا بالغ مکلف نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم شرط: څلورم شرط عقل دی، ځکه چې لېونی هم مکلف نه وي.
پنځم شرط: پنځم شرط آزاد والی (حریت) دی، ځکه چې مریی د خپل ځان په هکله د تصرف ملکیت نه لري نو د بل چا په هکله به یې څه ولري.
شپږم شرط: شپږم شرط عدالت دی، پدې معنی چې د مسلمانانو مشر به فاسق نه وي، که څه هم چې ځینې علماء د فاسق ولایت هم سره له کراهیته جائز بولي.
دوهم خصوصیت- په اسلام کې حاکم د (اهل الحل والعقد) لخوا ټاکل کېږي. (أهل الحل والعقد) د ټولنې هغه صالح، زبده، علماء، سیاست پوه اهل خبره خلک وي چې دامت مصالح له مفاسدو څخه تشخیصولی شي او د حاکم په انتخاب کې له پوره احتیاط او د قت څخه کار اخلي. او د هغوئ تر انتخاب وروسته بیا امت له هغه سره د طاعت عمومي بیعت کوي.
خو په ډیموکراسۍ کې هر کافر، فاسق، مجرم، کم عقل او جاهل ته د حاکم په انتخابولو کې هماغه حق حاصل دی چې یوه مؤمن، متدین، صالح، هوښیار او عالم ته حاصل دی. په ډیموکراسۍ کې انسانانو ته د (صالح والي) او (فاسدوالي) له زاویې نه کتل کېږي، بلکې هلته یوازې خلک شمېرل کېږي، د هرچا شمېره چې ډېره شوه هماغه د حاکمیت حقدار بلل کېږي. د مثال په ډول که یوې خواته (۵۰) علماء، مجاهدین، صالحان او مجرب سیاست پوهان وي، خو بلې خواته (۵۱) فاسقان، شرابیان او جاهلان وي، نو د ډیموکراسۍ په تله کې دوهمه ډله تر لومړۍ ډلې غوره او د حاکمیت حقداره بلل کېږي. همدغه معیار ته په پام سره (علامه اقبال) د جمهوریت یادونه په خپل شعر کې داسې کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

متــاع معنــی بیگانــه از دون فطرتــان جــویی
ز مــوران شــوخی طبــع سـلیمانی نمــی آیــد
گریـز از طـرز جمهـوری غـلام پخته کـاری شـو
که از مغز دوصد خر فکر انسانی نمی آید([1])

درېیم خصوصیت: اسلام د الله تعالی ﷻ له طرفه نازل شوی حق دین دی چې تر ټولو نظریاتو او ادیانو اعلی دی. نه تر خپل ځان بله نظریه او دین په لوړ والي مني، او نه یې له ځان سره په مساوي او برابر حیثیت مني. بلکې خپلو اتباعو ته امر کوي چې تر هغه پورې باید د کفارو په خلاف وجنګېږي چې ترڅو د کفر فتنه له منځه ولاړه شي، او د الله کلمه تر ټولو په لوړ حیثیت ومنله شي. الله ﷻ فرمایي:

﴿ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ ﴾ الأنفال: ۳۹

ترجمه: (تر هغه د کفارو په خلاف وجنګېږئ چې فتنه ورکه شي او دین ټول د الله ﷻ شي).

خو د دې پر خلاف ډیموکراسي ټولو (ادیانو) ته په یوه نظر ګوري، او د کفر او اسلام توپیر نه مني. له همدې امله په ډیموکراسۍ کې کفارو او مسلمانانو ته یو ډول انتخابي حقوق او صلاحیتونه ورکول کېږي، او کافر د هغه د کفر له امله پر مسلمانانو له حاکمیت څخه نه منع کېږي. بلکې عملاً خو دا لیدل کېږي چې مسلمان د مسلمانۍ له امله له حاکمیت څخه لیرې ساتل کېږي.

په ډیموکراسۍ کې د کفر او اسلام ترمنځ د فرق د نشتوالي له امله ډیموکراسي په خپله یوه کفري نظریه ګڼل کېږي.

---

1 کلیات اقبال – افکار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا د دیموکراتیک (انتخابي) نظام له لارې اسلام نافذیدلی شي؟

په اسلامی نړۍ کې ځینې اسلامي تنظیمونه چې د غرب له سیاسي او فرهنګي فلسفې څخه متأثر دي او د اسلامي نظام د جوړولو ترتیب او طریقه د رسول الله ﷺ له سیرت څخه نه اخلي، بلکې غواړي د غرب د ډیموکراسۍ له لارې اسلامي نظام راولي، او د دې هدف لپاره د نورو سیکولر (بی دینه) احزابو په څېر ډیموکراتیک وسائل په کار اچوي، انتخاباتو ته درېږي او بیا د دین په نامه له خلکو ووټ (رأیه) غواړي، دغه خلک له لاندې دریو حالتونو بهر نه دي:

۱ـ دې خلکو ډیموکراسۍ سمه نه ده پېژندلې، ځکه چې په ډیموکراسۍ کې خو (**اعلی حاکمیت**) او (**د قوانینو د جوړولو حق**) د خلکو دی، نه د الله ﷻ. یعنې په ډیموکراسۍ کې خلکو ته اختیار ورکول کېږي چې هر ډول نظام او قوانین چې د ځان لپاره غواړي جوړ یې کړي، پداسې حال کې چې په اسلامي نظام کې د (**اعلی حاکمیت**) او (**د تشریع حق**) یوازې او یوازې د الله ﷻ دی، خو په ډیموکراسۍ کې به نهایي فیصله دخلکو وي، نه د الله ﷻ. نو دغه خلک څنګه د ډیموکراسۍ له لارې د الله ﷻ نظام نافذولی شي؟

۲ـ کېدای شي چې دغه خلک به په حقیقي اسلام نه پوهېږي.دوئ یوازې اسلامي علم او شریعت ته منسوب خلک دي، خو د اسلام په روح، تقاضا او خصوصیاتو نه پوهېږي. نه د اسلام نظام ورمعلوم دی او نه په اسلام کې د حاکمیت نظریه ورمعلومه ده. له همدې امله د اسلام او ډیموکراسۍ ترمنځ په فرق هم نه پوهېږي.

۳ـ دغه خلک ښایي پدې پوهېږي چې اسلام او ډیموکراسي دوه بېل بېل نظامونه دي، خو دا چې د اسلامي نظام اقامه جهاد، قربانیو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړاوونو زغمل غواړی او دوئ دې کار ته تیار نه دي، بلکې د خپلو دنیاوي مقاصدو او مصالحو تحقق ورته د ډیموکراسۍ له لارې آسان ښکاري، نو د منافقت له مخې په دیموکراسۍ باندې د اسلام نوم ږدي ترڅو له یوې خوا عام خلک پدې تېرباسي چې دوئ خو اسلامي تنظیمونه دي او د اسلام لپاره کار کوي، او له بلې خوا د طاغوت د لارې په خپلولو سره په آسانۍ او بې قربانۍ طریقې په حاکمیت کې له سیکولر احزابو سره شریک شي، او له حکومتي امتیازاتو دوئ هم خوندونه واخلي.

خو شریعت، عقل، تاریخ او تجربه ټول دا ثابتوي چې د انتخاباتو او ډیموکراسۍ له لارې اسلامي نظام په هېڅ ډول نشي نافذېدلی،چې ددې دعوی ځینې دلائل په لاندې ډول یادوو:

د انتخابي نظام له لارې د اسلام د نه نافذیدلو لس دلائل

لومړی دلیل: د ډیموکراسۍ اساسي مفکوره دا ده چې حکومت، نظام او قوانین به د خلکو لخوا ، د خلکو په لاس او د خلکو لپاره جوړېږي.

نو په همدې اساس هر هغه جهت چې ډیموکراتیک فعالیت کوي تر هرڅه مخکې باید دا ومني چې نظام به د خلکو په خوښه جوړېږي، حتی که اسلامي نظام هم راځي نو پدې اساس به نه راځي چې هغه د الله ﷻ له طرفه یو مکلفیت دی، بلکې پدې اساس به راځي چې د خلکو خوښ دی. په ډیموکراسۍ کې به خلکو ته پوره پوره اختیار ورکول کېږي چې اسلام غواړي او که کوم بل دین اوطریقه؟ په اسلام کې خلکو ته دغه حق ورکول د اسلام له فکر او شریعت سره ښکاره مخالفت لري.

د پورتنۍ خبرې بله معنی داده چې هر اسلامي تنظیم چې په انتخاباتو کې برخه اخلي باید د اخبره تر هرڅه د مخه ومني چې لکه څرنګه چې دوئ غواړي خلک اسلام ته دعوت کړي همدغه ډول باید غیر اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظیمونو او احزابو ته هم دا حق ومني چې مسلمانان دې کفر ته دعوت کړي او دوئ دې هېڅ اعتراض ورباندې ونه لري.

دوهم دلیل: په پارلمان کې د اکثریت حزب د هر ډول قوانینو د جوړولو او تصویبولو حق لري، او ترڅو چې کوم اسلامي تنظیم په پارلمان کې اکثریت ونه لري تر هغه د قانون جوړولو او د هغه د تصویبولو حق نه لري.

د پارلماني اصولو پر بنا پر اقلیت دا لازمه ده چې د قانون جوړولو لپاره دې د اکثریت حق ومني، که څه هم چې هغوئ د اسلام په خلاف قوانین جوړ کړي. په یو مسلمان هېواد کې د اسلام په خلاف د قوانینو د جوړولو حق تسلیمول د اسلام خلاف کار دی او مسلمانان باید هېڅا ته اجازه ورنکړي چې د دوئ په هېواد کې دې غیر اسلامي قوانین جوړ کړي.

دریم دلیل: د انتخاباتو ګټونکي تنظیم ته دا حق ورکول کېږي چې د څلورو یا پنځو کلونو لپاره حکومت وکړي، او نور خلک باید د هغوئ حکومت د دغې مودې لپاره ومني. که بالفرض کوم اسلامي تنظیم اکثریت تر لاسه کړي او اسلام نافذ هم کړي، نو بیا به هم د اسلام نفاذ د څلورو یا پنځو کلونو لپاره وي. او د خپلې مودې تر پوره کولو وروسته باید حاکم حزب له حکومت څخه لاس پر سر شي او خپل اسلامي حکومت رنګ کړي، چې دا کار په اسلام کې د اجماع په خلاف دی. په اسلام کې حاکم تر هغې د حاکمیت حق لري چې تر څو ژوندی وي او د حاکمیت شرعي اهلیت ولري. ځکه چې که شرعي اهلیت لري نو بیا ولې لیرې کېږي. او که شرعي اهلیت نه لري نو بیا ولې د دوهم ځل لپاره د حاکمیت حق ورکول کېږي؟

دوهم مخالفت یې له اسلام سره دا دی چې هغه اسلام چې دوئ نافذ کړی وي هغه باید د تل لپاره نافذ وي، خو پدې صورت کې څلور یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه کاله وروسته دغه نظام باید په خپله له منځه ولاړ شي، او خلکو ته یو ځل بیا دا حق ورکړ شي چې اسلامي نظام غواړي او که کوم بل ډول نظام او قانون؟ چې پدې کار سره بیا سیکولرو (بی دینه) احزابو ته حاکمیت ته درسېدو فرصت ورکول کېږي.

څلورم دلیل: د اسلام د حاکمیت او د ډیموکراسۍ د حاکمیت نظامونه دوه سره جلا جلا نظامونه دي. د اسلامي تنظیمونو او احزابو لخوا په ډیموکراسۍ کې شاملېدل د ډیموکراسۍ د تأیید او توثیق په معنی دي. ځکه چې عام خلک چې کله وګوري چې علماء هم په ډیموکراسۍ کې برخه اخلي او انتخاباتو ته درېږي، نو په ډیموکراسۍ کې د دوئ د شمولیت له امله عامو خلکو ته دا فکر پیداکېږي چې کېدی شي ډیموکراسي به هم یو حق نظام وي، ځکه چې که ناحق وای نو دیني علماؤ به ورکښې برخه نه اخیسته.

علماء که هر څو خلکو ته د خپل مشارکت لپاره د مجبوریت او د دعوت د مصلحت تأویلونه او دلایل وړاندې کړي عام خلک پرې نه پوهېږي. ځکه چې په پارلماني بهیر کې علماء او سیکولر (بی دینه) اشخاص ټول پر یو ډول اصولو چلېږی، او په عمل کې هم د دواړو تر منځ کوم فرق نه لیدل کېږي.

پنځم دلیل: هر نظام یوه ایډیالوژي او فکر لري چې هغه نظام ته د رسېدلو لپاره لار او وسایل هم له هماغه فکر څخه انتخابېږي.

دډیموکراسۍ ایډیالوژي او فکر (سیکولریزم) دی. او انتخابات هم د سیکولریزم پربنسټ ولاړ دي. ځکه چې د انتخاباتو لپاره اساسي شرط سیاسي مساوات دی، او دغه مساوات هغه وخت راتلای شي چې ټول جهتونه د ډیموکراسۍ لپاره خپل دین پرېږدي. او دا ځکه چې دین انسانانو ته یو پربل د تفاضل (برتری) درس ورکوي. د مثال په ډول اسلام وایي چې مسلمان تر کافر غوره دی، خو ډیموکراسي وایي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید دوئ دواړه مساوي وي، او مساوات یوازې په هغه صورت کې رامنځته کېږي چې د کفر او اسلام خبره له منځه ووځي.
پر همدې اساس انتخابات په ډیموکراسۍ پورې خاص دي. د هغو له لارې یوازې ډیموکراسي راتلای شي، نه اسلام. ځکه چې لکه څنګه چې اسلام له ډیموکراسۍ څخه یو جلادین دی نو د نافذولو لاره او وسیله یې هم له ډیموکراسۍ څخه جلا ده.
لکه څنګه چې ډیموکراسي له کمونیزم، نصرانیت، یهودیت او نورو ادیانو سره پیوند کاري نه منی، همدغه ډول اسلام هم له نورو ادیانو او طریقو سره پیوندکاري نه مني، او نه هم له نورو لارو قائمیدلای شي.
اسلام به یوازې په هغه طریقه قائمېږي چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې ورباندې قائم شوی وو. له همدې امله له باطلو لارو د اسلام د نفاذ لپاره کوښښونه یو ناروا او د عقل او فطرت خلاف کار دی.
شپږم دلیل: ډیموکراسي د پانګه وال نظام (کپیټالیزم) زېږنده او د همدغه نظام سیاسي مظهر دی. هر څومره چې په اسلامي نړۍ کښې ډیموکراسي ټینګېږي په هماغه اندازه پانګه وال پر سود او احتکار ولاړ نظام هم چې د اسلام مخالف اقتصادي نظام دی ټینګېږي.
که چېرې بالفرض کوم اسلامي تنظیم د ډیموکراسۍ له لارې قدرت ته هم ورسېږي، نو هغه هم په کراره کراره د پانګه وال نظام برخه ګرځي، او د اسلام له اقتصادي نظام څخه خارجېږي.
اووم دلیل: انتخاباتي سیاست داسې یو ډنډ دې چې که یوځل کوم اسلامي تنظیم ورکښې ولوېږي نو بیا یې له هغه څخه وتل ورته انتهایي مشکل کار وي. ټول هغه اسلامي تنظیمونه چې یو ځل په ډیموکراسۍ کې ور داخل شوي دي هغوئ نور د اسلام د غلبې لپاره له انقلابي جهادي هڅو لاس اخیستی. ځکه چې د ډیموکراتیک سیاست لپاره دا شرط دې چې مسلحه مبارزه به نه کوي. د مسلحې مبارزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښودل او په ډیموکراسۍ او انتخاباتو پورې د اسلام د غلبې د امیدونو تړل او دغه کار ته د اسلامي مبارزې نوم ورکول د اسلام د نفاذ په لاره کې یو خطرناک خنډ دی. ځکه چې له دې لارې مسلمانان په جهاد او د هغه په نتائجو بې باوره کېږي.

پدې میدان کې د مصر د (الاخوان المسلمون) د افغانستان د پخوانیو جهادي تنظیمونو او د پاکستان د اسلامي تنظیمونو ناکامه تجربې تر ټولو واضح مثالونه دي. نه یوازې دا چې د اوږدې مودې له تېرېدو سره سره یې اسلامي نظام نافذ نه کړای شو، بلکې د اسلام دښمنانو په ډېر مکر او مهارت دغه ډلې د مجاهدینو په خلاف په خپل کتار کې ودرولې. او خبره دې ځای ته راورسېده چې تش په نامه اسلامي ډیموکرات تنظیمونو هم خپل ټول تبلیغاتي وسائل د جهاد او مجاهدینو په خلاف له صلیبیانو او دهغوئ له ملګرو سره همغږي کړي دي.

اتم دلیل: ډیموکراسي یو داسې نظام دی چې په هغه کې اسلامي تنظیمونه اکثریت نشي ګټلی، لکه چې په تېرو شپېتو کلونو کې په اسلامي نړۍ کې ولیدل شول. او دا ځکه چې د ډیموکراسۍ فکري او سیاسي جوړښت داسې دی چې هلته باید سرمایه دران، فیوډالان، خانان، ملکان، صنعت کاران، لوی تاجران، پخواني بیروکراټان او په مالي درغلیو کې ککړ خلک قدرت ته ورسېږي. ځکه چې په ډیموکراسۍ کې قدرت ته د رسېدلو لپاره تر ټولو لویه او مهمه وسیله د مال مصرفول دي. او د دې تر څنګ رشوت ورکول، د خلکو رأیې په پیسو اخستل، د خلکو تېر ایستل، درواغجني وعدې ورکول او د ځان په ګټه مثبت او د مخالف لوري په خلاف پراخه منفي تبلیغات کول هم د انتخاباتو هغه ضرورتونه دي چې له هغو پرته په انتخاباتو کې کامیابېدل ممکن نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انتخاباتو لپاره دغه لاره انتخابول نه اسلامي ده نه داسلامي تنظیمونو له وسعې پوره ده.

نهم دلیل: که چېرې کوم اسلامي تنظیم له دې ټولو خنډونو او مشکلاتو سره سره بیا هم په انتخاباتو کې اکثریت وګټي او قدرت ته ورسېږي نو بیا به هم د هماغه اساسي قانون پابند وي چې د ډیموکراسۍ پر اساس او د هغې د تحقق لپاره جوړ شوی وي. او اساسي قانون د انتخاباتو ګټونکي تنظیم ته دا جازه نه ورکوي چې مکمل شریعت نافذ کړي. او د اساسي قانون بدلولو ته یې نور سیکولر (بی دینه) قوتونه نه پرېږدي.نو که کوم ګټونکی اسلامي ګوند اساسي قانون پرېږدي او مستقیماً مکمل شریعت نافذکړي، نو بیا یې په قدرت کې د پاتې کېدلو جواز له منځه ځي، ځکه چې د همدې اساسي قانون له مخې د انتخاباتو له لارې قدرت ته رسېدلی دی. او کله چې قانون ځي نو د دوئ د حاکمیت جواز به هم ورسره ځي.

لسم دلیل: د انتخاباتو له لارې قدرت ته رسېدونکی اسلامي تنظیم که اسلام نافذ هم کړي بیا به هم مکمل اسلام نه وي. ځکه چې د اسلامي حکومت یوه اهمه وجیبه د(**امربالمعروف**) **او** (**نهی عن المنکر**) وظیفه ده. او تر ټولو لوی منکر دا دی چې په اسلامي هېواد کې دې غیر اسلامي احزاب موجود وي او د غیر اسلامي فعالیتونو د تر سره کولو اجازه دې هم ولري.

اسلامي حکومت باید ټول سیکولر او مرتد احزاب له فعالیت څخه منع کړي. افراد یې اسلام ته دعوت کړي، او د امتناع په صورت کې یې له منځه یوسي. انتخابي حکومت دغه کار هېڅکله نشي کولای، ځکه چې ډیموکراسي هر چاته د هرې عقیدې د بیان او اظهار آزادي ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه دغه ډول حکومت دکفارو په خلاف د اقدامي جهاد فریضه هم نشي ترسره کولای. بلکې د دې پر خلاف باید د بین المللي قوانینو پر اساس له ټولو کفري هېوادونو سره د امن او تعاون متقابل حسنه روابط ولري.

همدارنګه باید دیموکراتیک انتخابي حکومت د ملګروملتو، د امنیت د شورى او نورو نړیوالو تړونونو او میثاقونو پوره رعایت وکړي، چې د مخالفت په صورت کې به له نړیوالو بندیزونو او سزاګانو سره مخ کېږي.

دا ټول هغه دلائل دي چې د اسلام له نافذولو سره د ډیموکراسۍ مخالفت ښيئ.

د اسلام د راتګ اصلي مقصد دا دی چې باید په نورو باطلو ادیانو غالب شي، نه دا چې له هغو سره یو ځای د تساوي پر اساس ژوند وکړي. الله ﷻ فرمايي ﴿ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٩ ﴾ الصف: ٩

ترجمه: (الله هغه ذات دی چې رالېږلی يې دی رسول خپل محمدﷺ په هدايت او په حق دين چې غلبه ورکړي الله ﷻ دغه حق دين ته پر ټولو دينونو باندې، که څه هم چې مشرکان دغه غلبه بده ګڼي).

نو پر همدې اساس باید اسلام په ډیموکراسۍ غالب وي، نه دا چې د هغې په چوکاټ کې وچلېږي.

د ډیموکراسۍ د حقوقو او ازادیو مناقشه

د ډیموکراسۍ دوهم اصل د حقوقو او آزادیو اصل دې. دغه حقوق او آزادۍ په حقیقت کې د ډیموکراسۍ د نظریې او فلسفې حاصل او ثمره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. په هر نظام کې چې دغه حقوق او آزدۍ خلکو ته حاصلې نه وي هغه نظام ډیموکراتیک نه بلل کېږي.

۱ـ د دین او عقیدې د ازادۍ مناقشه:

د آزادیو او حقوقو په لړ کې اول د دین د انتخاب او د عقیدې آزادي ده. په ډیموکراسۍ کې هر انسان ته دا حق ورکول کېږي چې هر وخت وغواړي د ځان لپاره په خپله خوښه نوی دین انتخاب کړي نو انتخابولی یې شي. د مثال په ډول: یو انسان حق لري چې نن یهودی وي، سبا ته نصرانی شي، بله ورځ هندو شي بله ورځ مسلمان شي، بل وخت بیا بېرته اسلام پرېږدي او بودائي شي، او یا هم له ټولو ادیانو انکار وکړي او ملحدیاکمونست شی. پدې ټولو حالاتو کې هغه نه محاسبه کېدلای شي او نه ورځخه څوک د عقیدې د آزادۍ حق سلبولی شي.

په ډیموکراسۍ کې دین او عقیده یو شخصي امر دی چې د دولت او نظام ورسره هېڅ کار نشته. دین په ډیموکراسۍ کې د جامو او فیشن حیثیت لري چې د هر چا خوښه ده چې کوم رنګ او ډول جامې اغوندي او څنګه فیشن غوره کوی. خو په اسلام کې دین او عقیده یو شخصي امر نه، بلکې یو مکلفیت دی. او همدغه تدین د انسانانو او پیریانو د خلقت هدف ښوولی شوی دی، لکه چې الله تعالیﷻ فرمایي:

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الذاریات: ٥٦

ترجمه:(او ما نه دي پیداکړي پیریان او انسانان مګر ددي لپاره چې زما عبادت وکړي).

الله تعالی ﷻ پېریان او انسانان د عبادت لپاره پیداکړي دي او بیا یې د عبادت دکیفیت د تعیین او د طریقې د ورښودلو لپاره ورته دین نازل کړی او انبیاء یې را لېږلي چې تر ټولو وروستی دین (اسلام) او تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو وروستی پیغمبر (محمد) ﷺ دی. او د همده په مبارک راتګ پخواني ټول ادیان منسوخ شوي دي، او د الله ﷻ په نزد یواځنی مقبول دین (اسلام) دی. نو هر څوک چې د الله ﷻ د عبادت لپاره له اسلامه پرته بل دین انتخاب کړي هېڅکله به یې الله تعالی ﷻ ورڅخه قبلول نه کړي، الله ﷻ فرمايي : ﴿ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥ ﴾ آل عمران: ۸۵

ترجمه:(او هر څوک چې له اسلام پرته بل دین ولټوي هېڅکله به ترې و نه منل شي په آخرت کې به له تاوانیانو څخه وي).

په اسلام کې له اسلام څخه وتل ارتداد دی، چې که مرتد توبه ونه باسي او بېرته په اخلاص اسلام ته راونه ګرځي نو سزا یې وژل کېدل دي. ځکه چې له یوه دین څخه وتل او بل دین ته داخلېدل د پخواني دین د باطل ګڼلو په معنی دي. یعنې هر څوک چې له اسلام څخه کوم بل دین ته ورځي هغه په خپل دغه عمل په اسلام باندې د بطلان حکم کوي او د نوي دین د حقانیت اعتراف کوي. خو په ډیموکراسۍ کې د دین بدلول هېڅ سزا نه لري. ځکه چې هغه یوشخصي امر دی.

په افغانستان کې چې اوس امریکایانو یو ډیموکراتیک نظام جوړ کړی دی همدغه د ارتداد حق یې هم د اساسي قانون له لارې د هر فرد لپاره خوندي کړی دی. ځکه چې د اساسي قانون په مقدمه او شپږمه ماده کې په صراحت سره د(ډیموکراسۍ تحقق) او د(بشري حقوقو ملاتړ) د دولت مکلفیت ښودل شوی دی. او د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په اته لسمه ماده کې په صراحت سره داسې لیکل شوي دي : (**هر انسان د فکر د آزدۍ او د دین د انتخاب له حق څخه برخمن دی. او همدا حق د دین او د عقیدې تبلیغ، د ډله ییزو ښوونو او رسنیو له لارې د نظر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اظهار او همدا ډول د شعائرو سرّي او علني ترسره کولو او له هغو څخه حفاظت ته هم شامل دی). (اتلسمه ماده).

د همدغې اعلامیې په نولسمه ماده کې د ارتدارد حق په نور صراحت سره پدې ډول بیان شوی دی:

(**هر انسان د نظر او خپل لید لوري د آزادۍ له حق څخه برخمن دی. دغه حق دېته هم شامل دی چې څوک دې دبل چا افکار او نظریات د بل چا له مداخلې پرته ومني. او هم کولای شي خپل افکار او نظریات په هرې ممکنې وسیلې له هر جغرافیوي قید او بند څخه پرته تر لاسه او نشر کړي**). (نولسمه ماده).

دا چې د افغانستان اوسنی اساسي قانون چې د (**ډیموکراسۍ تحقق**) او د (**بشر د حقوقو ملاتړ**) د دولت مکفیت ګڼي او پدې دواړو کې د دین او عقیدې انتخاب د هر چا شخصي حق دی او د بل چا دخالت ورکښې ناروا کار ګڼي، نو ځکه خو اساسي قانون هم تر پردې لاندې په ضمني ډول هر چاته د مرتدکېدلو حق ورکوي. اوس نو په خلکو، وضعیت حالاتو پورې اړه لري چې څوک د عبدالرحمن پنجشېري په څېر د ډیموکراسۍ له دغه حق څخه د استفادې علني جرأت کوي؟

ځینو تش په نامه اسلامي حکومتونو په خپلو اساسي قوانینو کې دا لیکلي چې د اسلام په خلاف به قوانین نه جوړېږي، خو له بل لوری یې دا هم په صراحت سره لیکلي چې هېوادونه یې د ملګرو ملتونو، نړیوالو تړونونو او د بشر د حقوقو د اعلامیې د رعایت کولو تعهد لري. لکه دافغانستان په اوسني اساسي قانون کې چې په اوومه ماده کې داسې لیکل شوي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوومه ماده: «**دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بین الدول معاهدو، د نړیوالو میثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو ولري او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې رعایت کوي**».

د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې چې د افغانستان اساسي قانون یې رعایت کوي په **۲۹** مه ماده کې د بشري حقوقو د اعلامیې له حقوقو سره د تعامل په اړه داسې راغلي دي:

۲۹ مه ماده: د (ج) جزء: «**په هېڅ ډول شرایطو کې روا نه ده چې د بشر له حقوقو سره دې په داسې ډول چلند وشي چې د ملل متحد له اصولو او اهدافو سره تضاد ولري**».

یعنې د بشري حقوقو د تعبیر او تفسیر صلاحیت یوازې د ملګرو ملتونو له سازمان سره دی، او هر دولت یې چې رعایت کوی باید د ملګرو ملتو له اصولو او اهدافو سره سم یې وکړی، نه دا چې د خپل دین او مذهب مطابق یې تعبیر کړي، نو په همدې بناء دا خبره یوازې یو منافقت دی چې په یوه اسلامي هېواد کې دې هم اسلام تطبیق شي هم د ملل متحد او د بشر د حقوقو اعلامیه. بلکې له دواړو څخه به یوازې یو تطبیق کېږي او بس.

په اسلام کې هم د عقیدې او دین د آزدۍ حق شته دی، خو هغه په دې معنې دی چې د نورو ادیانو منونکي به په زور نشي مسلمانولی، بلکې یوازې دعوت او په ښه طریقه به مناقشه او مناظره ورسره کولی شي. لکه چې الله تعالی فرمایي: ﴿ ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ ﴾ النحل: ۱۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: (ای پیغمبره د خپل رب د لارې په لور په حکمت او نیک اسلوب بلنه وکړه مباحثه کوه هغوئ سره په هغه طریقه چې هغه ډېره ښه وي).
او د زور دنه استعمال په هکله الله تعالی ﷻ فرمایي:

﴿ لَآ إِكْرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ ٱلْغَيِّۚ ﴾ البقرة: ۲۵۶

ترجمه: (نشته زور د دین په منلو کې، په تحقیق سره ښکاره شو هدایت له بې لارې ځخه).
اسلام نامسلمانو خلکو ته د اسلام حقانیت او فضیلت بیانوي او د منلو توصیه یې ورته کوي، خو په زور یې هېڅکله منلو ته نه اړباسي.
او که څوک اسلام نه مني هغوئ پر خپل دین او طریقه پدې شرط پرېږدي چې مسلمانان به کفر ته نه دعوت کوي او د اسلامي نظام له انتظامي اصولو او لوائحو به سرغړونه نه کوي.
د اصحابو رضي الله عنهم له زماني راهیسې تر ننه پوري په اسلامي نړۍ کې د مسیحیانو، یهودیانو، هندوانو او نورو طائفو شتون پر دې دلالت کوي چې اسلام هغوئ په مسلمانېدلو نه دي مجبور کړي، بلکې هغوئ ته یې په خپل دین دآزاد پاتې کېدلو حق ورکړی دی.
خو په اسلام کې په هېڅ ډول یوه مسلمان ته دا اجازه نشته چې هغه له اسلام ځخه مرتد شي. ځکه چې مرتد له اسلام ځخه د وتلو په عمل په اسلام باندې د بطلان حکم کوي. که داسې نه وي نو بیا ولې له اسلام ځخه خارجېږي؟ دا چې هغه پدې کار سره په حق دین د بطلان حکم کوي په اسلامي ټولنه کې اضطراب رامنځته کوي، نو ځکه باید تر استتابې (توبه غوښتنې) وروسته که بېرته راونه ګرځېد ووژلی شي، لکه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ((**من بدّل دینه فاقتلوه**)) بخاري.
ترجمه:(چا چې خپل دین بدل کړ ویې وژنئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلام کې د عقیدی آزادي د ډیموکراسی د عقیدې له آزادۍ سره د رڼا او د تیارې فرق لري. خو هغه ډله غرب پلوي عالم نمایان چې غواړي خلکو ته اسلام او ډیموکراسي یو شی وښئي په منافقانه ډول دغه دواړه آزادۍ یو ډول ښیي، تر څو خلکو ته د اسلام په قالب کې کفر ښائسته کړي.

د رایې د اظهار د ازادۍ مناقشه

د ډیموکراسۍ له آزادیو څخه یوه هم د رأیې (نظر) د اظهار آزادي ده. په ډیموکراسۍ کې هرڅوک حق لري چې خپل هر ډول نظر په آزادۍ بیان کړي، که څه هم چې هغه نظر د الهي وحیې او دیني مقدساتو په خلاف هم وي.

د دغې آزادۍ د ترلاسه کولو تصور ځکه په غرب کې را پیداشو چې ټول غرب د فرانسې تر انقلابه د مخه دکلیسا تر مطلقې دیني او فکري واکمنۍ لاندې اوسېده.

دا چې کلیسا دانحراف او فکري استبداد اوج ته رسېدلې وه او هېچا ته یې په دینیاتو، اخلاقیاتو، اجتماعي اصولو او حتی ساینس کې د رأیې د اظهار حق نه ورکاوه، او که به چا د رأیې د اظهار جرأت وکړ نو هغه به په ډول ډول سزاګانو محکومېده. له همدې امله اروپایانو د کلیسا د استبداد په خلاف آواز پورته کړ، د تحریف شوي مسیحیت د کلیسا تسلط یې له منځه یووړ او په هر څه کې یې د نظر د اظهار آزادي تر لاسه کړه.

اروپایانو خو په هغه وخت کې دغه اقدام د یو (باطل او تحریف شوي) دین په خلاف وکړ، خو وروسته یې دغه آزادي د یو (مقدس حق) په حیث د (حق دین) په خلاف هم استعمالول شروع کړل. ان تردې چې د اسلام مقدسات یې هم د دغې بې بندوباره آزدۍ تر برید لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوستل، او د اسلام د شریعت، قرآن او پیغمبر ﷺ په خلاف یې خپل له سپکاوي ډک اظهارات د رأیې او بیان د آزادۍ د حق په نامه یاد کړل، چې پدې لړ کې دغه لاندې اقدامات په نږدې ماضي کې ټولې دنیا ولیدل:

هندوستانی مرتد سلمان رشدي چې د برتانیې تابعیت لري د غرب په هڅونه یې د اسلام په خلاف خپل مشهور کتاب (شیطاني آیتونه) ولیکه او د ټولې دنیا مسلمانانو ته یې سپکاوی وکړ، خو کله چې مسلمانانو له غرب څخه د هغه د محاکمې غوښتنه وکړه، ټول غرب په یوه خوله د هغه له دې اقدام څخه دفاع وکړه او د هغه دغه کار یې د رأیې او بیان د آزادۍ حق وګڼه، او هغه ته یې پناه ورکړه چې تر ننه یې په خپل حفاظت کې ساتي.

نه یوازې دا چې غرب سلمان رشدي ته پناه ورکړې، بلکې د برتانیې ملکې هغه په لویو شاهانه القابو هم په رسمي ډول ونازاوه، او د مسلمانانو د عواطفو هیڅ پروا یې ونه لرله.

تر سلمان رشدي وروسته بنګله دیشۍ مرتدې لیکوالې (تسلیمې نسرین) هم د رشدي پر پله پل کېښود او هغې ته هم غرب په خپلې غېږې کې پناه ورکړه، او د هغې اقدام یې د نظر د اظهار په آزادۍ تعبیر کړ.

هالنډي ژونالیست د قرآن د سپکاوي فلم جوړ کړ، او کله چې مسلمانانو احتجاج وکړ نو د هالنډ صدراعظم د هالنډي ژونالست کار د رأې د بیان آزدي وبلله او له هغه څخه یې دفاع وکړه.

د قرآن کریم بل سپکاوی هغه ؤ چې غرب د (ربښتیني قرآن) په نامه له الحاد او سپکاوي ډک کتاب چې د قرآن کریم سورتونو ته په ورته شکل لیکل شوی ؤ رامنځته کړ او په انټرنیټ کې یې خپور کړ. او دا یې هم د رأیې د اظهار حق وګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډنمارک یوه کاریکاتور جوړوونکي د اسلام پیغمبر ﷺ ته منسوب له سپکاوي ډک کارتونونه جوړ کړل او خپاره یې کړل. کله چې مسلمانانو په ټوله نړۍ کې احتجاج وکړ او د هغه رسام د محاکمې غوښتنه یې وکړه، نو د ډنمارک صدر اعظم (راسموسن) چې وروسته بیا د ناټو د ترون رئیس شو له کارتون جوړونکي څخه دولتي دفاع وکړه، او د هغه کار یې د رأیې د بیان د آزادۍ حق وباله.

کله چې مسلمانانو خپل احتجاج ته نور هم زور ورکړ، او له اروپایي مصنوعاتو سره یې د پرېکون اعلان وکړ، نو د ناټو د ترون رئیس د ډنمارک موقف د ټولې اروپا د موقف په حیث اعلان کړ، او په دې ډول هغه کارتونونه په مکرر ډول په نورو اروپایي هېوادونو کې هم خپاره شول.

په افغانستان کې چې د امریکا د پوځي شتون تر حمایې لاندې مرتد (پرویز کامبخش) د اسلام خلاف مضامین چاپ او خپاره کړل او کله چې د مسلمانانو د شدید فشار په نتیجه کې محکمې هغه په ارتداد محکوم او بندي کړ، ټول غرب او غربي مېډیا د هغه تر څنګ ودرېده، د هغه موقف یې د رأیې د اظهار په آزادۍ تعبیر کړ، او د هغه د خوشې کولو هڅې یې پیل کړې، چې په نتیجه کې یې د اعدام حکم په حبس تبدیل شو او کېدی شي چې څه موده وروسته په کومه بهانه له زندان څخه آزاد او د بیان د آزادۍ په یوه قهرمان تبدیل شي[1].

اسلام د رأیې د اظهار د آزادۍ مخالف نه دی، بلکې د ګمراه کوونکې رأیې د اظهار مخالف دی. هغه رأیه چې د حق د بیان او آزادۍ لپاره وي اسلام نه یوازې د هغې پلوی کوي، بلکې هغه یو عبادت بولي او اظهار ته یې خلک تشویقوي. که څه هم چې هغه د یو ظالم حاکم په

1 حامد کرزي د خپلو دوهم ځل انتخابیدلو په درشل کې هغه د یو فرمان په صادرولو آزاد کړ او په درناوي د غربي حلقو لخوا له افغانستانه ووېستلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې وي. په هغه حدیث شریف کې چې ابوسعید الخدري ﷺ روایت کړی رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

((**إن من أعظم الجهاد کلمة عدل عندسلطان جائر**)) [1].

ترجمه: (له لوی جهاد څخه دا هم دی چې د عدل خبره دې د ظالم پادشاه په مخکې وکړای شي).

او که څوک د حق د وینا له امله ووژل شي هغه په اسلام کې له غوره شهیدانو څخه شمېرل کېږي، لکه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (**خیر الشهداء حمزة بن عبدالمطلب و رجل قام إلی رجل فأمره و نهاه في ذات الله فقتله علی ذلک**)[2]

ترجمه: (په شهیدانو کې غوره شهید حمزه بن عبدالمطلب او هغه سړی دی چې د الله جل جلاله لپاره یو بل چاته په نېکۍ امر وکړي او له بدۍ څخه یې منع کړي او هغه یې بیا پدې کار ووژني).

نو معلوه شوه چې په اسلام کې هر څوک بل چاته د حق وینا او نصیحت کولی شي. او باید چې ویې کړي، ځکه چې (دین نصیحت دی).

خو په ډیموکراسۍ کې انسان ته د هر څه د ویلو او اظهار اجازه شته چې هغه (حق) وي او که (باطل).

په هغو اسلامي هېوادونو کې چې غربي ډیموکراسي ورکښې حاکمه ده په ښکاره لیدلی کېږي چې هلته خلک یوازې د باطل د اظهارولو حق لري او بس. او هر څوک چې د حق رأیه اظهار کړي هغه له وژلو، تړلو، شړلو او ډول ډول تهدیدونو سره مخ کېږي.

د کفري نظریاتو د خپرولو لپاره ټول وسائل په کار اچول کېږي، خو د حق د اظهار لپاره هېڅ راډیو، تلویزیون، مجلې، اخبار او نشریې ته اجازه نه ورکول کېږي. او که چېرې یو نیم ځای اجازه هم ورکړل شي نو

1 الترمذي کتاب الفتن باب أفضل الجهاد.
2 المستدرک للحاکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یې هم پالیسي، حدود او موضوعات ورته د دولتي ادارو لخوا ټاکل کېږي چې تر هغو هاخوا یې نشریات جرم ګڼل کېږي.

د شخصي ازادۍ مناقشه

د ډیموکراسۍ تر ټولو مهمه آزادي چې د ډیموکراسۍ زړه بلل کېږي شخصي آزدي ده چې اخلاقی آزادي هم بلل کېږي.

د شخصي آزدۍ معنی دا ده چې انسان د خپل شخص (ذات) په اړه مکمله آزادي لري چې هر څه ورباندې کوي بې له کوم قید او شرط څخه یې وکولی شي. د ټولنې عرفونه، رسم او رواج، اداب او اخلاقي قوانین باید له ژوند څخه د خوند د اخستلو په لاره کې مانع ونه ګرځي. او فرد باید پدې کار کې د هر چا له تسلط او محاسبې څخه آزاد وي.

د دغه ډول آزادۍ مطالبه هم په غرب کې د کلیسا د طغیان او د خلکو په اجتماعي او اخلاقي ژوند باندې د هغې د شدید مراقبت عکس العمل وو. لکه څنګه چې خلکو د دین، عقیدې او عبادت په مجال کې د کلیسا تسلط ورختم کړ، همدا ډول یې د کلیسا اخلاقي څار او رقابت هم له منځه یوور.

د فرانسې انقلاب (دین) له (دولت) څخه جلا کړ، او د سیکولریزم نظریه یې ایجاد کړه. او ترهغې وروسته یې د (دین) او د (اخلاقو) تر منځ هم بېلتون راوست. د اخلاقو په ښه والي او بدوالي باندې حکم کول د دین صلاحیت نه، بلکې د شخصي ذوق او سلیقې کار وګڼل شو. پدې معنی چې هر هغه څه چې فرد ته ښه ښکاري هماغه ښه اخلاق دي او څوک باید پرې د اعتراض حق ونه لري. د همدغې شخصي آزادۍ د فلسفې د منل کېدو له امله په غرب کې زنا ، لواطت، سحاق، (ښځینه همجنس بازي) د نارینه له بل نارینه او د ښځې له بلې ښځې سره واده کول د اخلاقو خلاف کارونه نه ګڼل کېږي، او د غربي هېوادونو قوانین ورته اجازه ورکوي. دغه ټول کارونه د ډیموکراسۍ په فرهنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې تر هغه پورې جرم نه ګڼل کېږي چې ترڅو په اجباري شکل نه وي تر سره شوي. او که په اجباري شکل ترسره شي نو بیا هم لدې امله جرم نه وي چې دغه کارونه حرام دي، بلکې لدې امله جرم ګڼل کېږي چې په اجباري شکل تر سره شوي دي.

د شخصي آزادۍ غربي معیارونو ته په پام سره په ډیموکراسۍ کې (امر بالمعروف او نهی عن المنکر) هېڅ ځای نه لري. او پر همدې بنا چې په هر دولت کې دیموکراسي عملي کېږي هلته د (امر بالمعروف او نهي عن المنکر) حق په خپله په اتوماتیک شکل له منځه ځي. هلته به یا ډیموکراسي وي یا به امربالمعروف وي، دواړه په هېڅ صورت نشي جمع کېدلای. ځکه چې امربالمعروف او نهي عن المنکر اکثره په عباداتو او اخلاقیاتو پورې اړه لري، او په ډیموکراسۍ کې دغه دواړه شخصي امور دي چې بل څوک ورکښې د مداخلې حق نه لري.

په دیموکراسۍ کې د شخصي آزادۍ او اخلاقو فلسفه د انګریز فیلسوف هوبز (۱۵۸۸ – ۱۶۷۹م) پر نظریاتو ولاړه ده چې وایي: د خیر معنی شهوت (خوند) دی، او د شر معنی نفرت (کرکه) ده. یعنې په هر هغه څه کې چې شهوت (خوند) موجود وي هغه د خیر کار دی. او په هر هغه څه کې چې نفرت (کرکه) موجوده وي هغه د شر کار دی. د خیر او د شر د معیارونو تعیین د دین کار نه، بلکې د شخصي ذوق او غریزې کار دی.

دغه ډول شخصي آزادي نه یوازې دا چې په اسلام کې ځای نه لري بلکې له نورو ادیانو او سلیم فطرت سره هم مخالفت لري. نو پر همدې بنا ډیموکراسي د دغه ډول آزدۍ د لرلو له امله هم صریح کفر ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسکن د انتخاب د ازادۍ مناقشه

په ډيموکراسۍ کې هر انسان ته حق ورکړ شوي چې په هر ځای کې يې چې زړه وي هلته واوسېږي. پر همدې اساس غربي ډيموکراسي دا نه مني چې کفار دې له (جزيرة العرب) څخه ووېستل شي، او يا دې کفار د حرم په ساحه کې نه پرېښودل کېږي، پداسې حال کې چې د عربو په جزيره کې دکفارو د نه پرېښودلو صريح حکم په حديث شريف کې راغلی دی، رسول الله ﷺ فرمايي:((**أخرجوا المشركين و في رواية: اليهود و النصارى من جزيرة العرب**...)) ([1]).

ترجمه: (مشرکان د عربو له جزيرې وباسئ) په بل روايت کې دي: (يهود او نصاری له جزيرة العرب څخه وباسئ).

له همدې امله عمر بن الخطاب رضی الله عنه په خپل خلافت کې ټول يهودان او نصاری له جزيرة العرب څخه ووېستل. خو که په اوسني وخت کې څوک له جزيرة العرب څخه د يهودو، نصاراؤ او يا نورو کفارو د وېستلو مطالبه کوي يا يې د وېستلو هڅه کوي هغوئ د ډيېموکراسۍ د مخالفت په جرم محکومېږي او د وژلو جواز يې برابرېږي.

د ملکيت د حق مناقشه

دا چې غربي ډيموکراسي د کپيټاليزم (پانګه وال اقتصاد) د خوندي ساتلو لپاره رامنځته شوې ده، نو له همدې امله ورکښې فرد ته له هرې لارې د مال د ګټلو او په هر څه کې د مصرفولو مطلقه آزادي ورکړل شوې ده.

د مال په ګټلو او مصرفولو کې ډيموکراسي هېڅ ديني او اخلاقي عامل ته د دخالت حق نه ورکوي. همدا دليل دی چې په ډيموکراټيکو

1 بخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونو کې پانګه وال د سود، احتکار، د مزدورانو د زيېښناک او ان د نورو هېوادونو د نيولو او د هغوئ د طبيعي زېرمو د غلا کولو، لوټولو، د جنګونو د رامنځته کولو له لارې د وسلو د خرڅولو او حربي فابريکو د چلولو په ذريعه خپله پانګه ډېروي او بيا يې په عيش او عشرت، قمار، فحشاء او بدخرڅيو کې مصرفوي.
خو په اسلام کې لکه څنګه چې د مال د ګټلو لپاره د حلالو لارو او وسايلو انتخاب ضروري دی، همدارنګه يې د مصرفولو لپاره هم قيود وضع شوي دي.
اسلام د يو داسې متوازن اقتصادي نظام لرونکې دی چې نه لکه د پانګه وال نظام سرمايه د څو محدودو خلکو په منځ کې ساتي او نه لکه کمونيزم چې افراد له شخصي ملکيت څخه محروموي. بلکې اسلام هم د سرمايې د لرلو حق ورکوي او هم د بډايو خلکو په سرمايه کې د نېستمنو او غريبو خلکو حق تثبيتوي.

د کار د حق مناقشه

په ډيموکراسۍ کې انسان ته د هر ډول کار د کولو او پېشې د اختيارولو مطلق حق حاصل دی. خو په اسلام کې فرد يوازې د حلال او روا کار د کولو حق لري. او که چېرې داسې يو کار اختيار کړي چې له مسلمانۍ سره تضاد ولري لکه شرابخانه خلاصول يا د زنا اډه او داسې نور جوړول نو په هغه صورت کې اسلام فرد ته د دغه ډول کار اجازه نه ورکوي. خو په ډيموکراسۍ کې فرد دا هر څه کولای شي.

د زده کړې د حق مناقشه

په ډيموکراسۍ کې فرد ته د هر فن او علم د زده کړې مطلق حق حاصل دی. خو په اسلام کې فرد ته د داسې علومو او فنونو د زده کولو حق نه ورکول کېږي چې هغه له اسلام سره ټکر لري، لکه: د کوډو (جادو، شعبده بازۍ، مداري ګرۍ او داسې نور علمونه. اسلام د جادو زده کړه کفر بولي او مخنيوی يې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پارلمان د ډیموکراسۍ ممثله طاغوتی اداره

پارلمان څه شي دی؟

پارلمان په ډېموکراسۍ کې د خلکو د منتخبو استازو هغه اداره ده چې د خلکو لپاره د قوانينو د جوړولو يا د تشريع (تحليل تحريم) مطلق حق لري. د اکسفورډ قاموس د(پارلمنټ) کلمه داسې تشريح کوي:

Parliament: a group of people that makes the lows of a Country.

پارلمنټ د خلکو هغه ډله ده چې ديوه هېواد لپاره قوانين جوړوي.

په تېرو بحثونو کې وليدل شول چې په ډيموکراسۍ کې د خلکو اکثريت د (إله) مرتبه لري، ځکه چې د سيادت (اعلی حاکميت) حق چې د (امر) او (نهې)، (تحليل) او (تحريم) مطلق حق دی په اکثريت پورې اړه لري. او لکه څنګه چې په دين کې د الله ﷻ فيصله نشي رد کېدلی همدا ډول په ډيموکراسۍ کې د اکثريت فيصله نشي رد کېدلی.

دا چې اکثريت په ډيموکراسۍ کې د الله مرتبه لري، نو پارلمان چې د اکثريت استازی دی د پيغمبرۍ (استازيتوب) مرتبه لري. پدې معنی چې استازی به د خپلو موکّلينو د خوښې مطابق قوانين ايجادوي او د هغوئ مصالح به تأمينوی.

ډېموکراسۍ چې اصلاً د سيکولريزم (لا دينيت) پر بنسټ ولاړه ده د حکومت او نظام په چارو کې (دين) ته د مداخلې حق نه ورکوي. نو په همدې اساس ټول هغه قراردادونه او مسودې چې د قانون کېدلو لپاره پارلمان ته د بحث او غور په مقصد وړاندې کېږي بايد پر ديني بنسټونو ولاړې نه وي.

د ډيموکراسۍ له لارې طرحې، نظريات او مسودې تر هغه وخته د تطبيق وړ نه دي چې تر څو يې د پارلمان لخوا د(قانونيت) حيثيت نه وي تر لاسه کړی. ځکه چې په پارلمان کې هغې مصوبې ته (قانون) ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي چې د پارلمان دواړه جرګې يې تصويب کړي او جمهور رئيس يې توشيح کړي. او ترڅو يې چې دا مراحل نه وي طي کړي تر هغه پورې د تطبيق وړ نه ګڼل کېږي.

په ډيموکراسۍ کې پارلمان ته د هر فکر او نظر خلک د انتخاباتو له لارې ځان رسولی شي.کفر، الحاد، يا کوم بل عقيدوي انحراف پارلمان ته د هغوئ د رسېدو مانع نه ګرځي. پر همدې اساس چې هر څوک پارلمان ته ورسېږي هغوئ هلته د خپلې خوښې او نظريې مطابق قانوني طرحې پارلمان ته وړاندې کوي، او هغوئ بيا د خپلو هر ډول افکارو او نظرياتو د بيان له امله تر عدلي تعقيب لاندې هم نشي راتلای، که څه هم چې هغه نظريات د دين په خلاف وي چې همدغه صلاحيت په افغانستان کې د امريکايي اشغال د حکومت د ۱۳۸۲هـ ش کال د اساسي قانون په ۱۰۱ مه ماده کې داسې بيان شوی دی: «د ملي شورى هېڅ غړی د هغې رأيې يا نظريې له امله چې د وظيفې د اجرا په وخت کې يې څرګندوي تر عدلي تعقيب لاندې نه نيول کېږي». [1]

پارلمان ولې طاغوتي اداره ده؟

طاغوت په اسلامي شريعت کې هر هغه څه ته ويل کېږي چې پرته له الله ﷻ يې عبادت کېږي.

عبادت يوازې لمانځه، روژې، زکات، حج او دعا ته نه ويل کېږي، بلکې د يو چا د تحليل، تحريم او تشريع منلو ته هم ويل کېږي. پدې معنى چې که يو څوك او يا کوم جهت د يو چا لپاره داسې قانونګذاري وکړي چې حلال ورته پکښې حرام او حرام ورته پکې حلال کړي، او خلك هم د دې فرد يا جهت همدغه قانون يا قوانين ومني نو دغه کار د دې خلکو له لوري د دې فرد او يا د دې جهت عبادت کول ګڼل

1 د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون يو سل او يوومه ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي. دليل يې دا لاندې حديث شريف دی چې امام ترمذي، امام بيهقي او نورو محدثينو په خپلو سننو کې له عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روايت کړی دی:

(عن عدى بن حاتم: أنّه سمع النبى ﷺ{يقرأ هذه الآية: (اتَّخَذُوا أحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أرْبَاباً مِنْ دُونِ الله وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إلَّا لِيَعْبُدُوا إلَهاً وَاحِداً لا إلَهَ إلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ)[التوبة: ٣١]، فقلت: إنا لسنا نعبدهم. قال: (أليس يحرمون ما أحل فتحرمونه، ويحلون ما حرم الله فتحلونه؟ فقلت بلى، قال: (فتلک عبادتهم). رواه أحمد والترمذى وحسنه).

عدي بن حاتم د بنوطی د قبيلې د مشهور سخاوتمند حاتم طائي زوی ؤ، هغه مسيحيت منلی ؤ او په شام کې يې له اهل کتابو سره ګوزاره کړې وه. هغه د خپلې خور په دعوت اسلام ته تشويق شو او پداسې حال کې د رسول الله ﷺ مجلس ته راغی چې د سرو زرو صليب يې په غاړه ؤ. هغه وايي: زه په داسې حال کې د رسول الله ﷺ مجلس ته راغلم چې هغه مبارک د قرآن کريم دا آيت لوست: ﴿ ٱتَّخَذُوٓاْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَـٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ التوبة: ٣١

ترجمه: (يهودو او نصاراؤ خپل علماء او پيران له الله جل جلاله پرته خدايان نيولي ؤ).

عدي رضي الله عنه وايي: ما رسول الله ﷺ ته وويل: موږ خو يې عبادت نه کوو. رسول الله ﷺ و فرمايل: آيا هغوئ د الله حلال درباندې حراموي نه چې تاسې هم ورسره حراموئ؟ او د الله حرام درته حلالوي نه چې تاسې يې هم ورسره حلالوئ؟ ماورته وويل: هو ولې نه. ويې فرمايل: همدغه کار د هغوئ عبادت کول دي.

دا چې په ډيموکراسۍ کې حلال او حرام د تشريعي قوې (پارلمان) لخوا تعيينېږي، او د پارلمان غړو ته د قوانينو د وضع کولو مطلق حق ورکړ شوی دی، نو په همدې اساس دوئ ته (مشرّعين) هم ويل کېږي. پداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال کې چې د حلال او حرام تعیینول یوازې د الله ﷻ خصوصیت دی، او په دغه خصوصیت کې د بل هر چا ورګډول د الله ﷻ د تشریع په خصوصیت کې له هغه سره شرک ګڼل کېږي. الله ﷻ تعالی فرمایي:

﴿أَمْ لَهُمْ شُرَكَٰٓؤُا۟ شَرَعُوا۟ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ ۚ﴾
الشورى: ۲۱

ترجمه:(آیا داسې شریکان لري چې هغه دین یې ورته جوړ کړی چې الله ﷻ یې اجازه نه ده کړې).

په ډیموکراسۍ کې د دین او اخلاقي امورو په اړه د حکم وضع کول هم د پارلمان کار دی. د مثال په ډول که په غرب کې د پارلمان اکثریت غړي دا تأیید کړي چې (همجنس بازي) روا ده، نو هغه یو (روا) او قانوني عمل ګڼل کېږي، د هغه لپاره قوانین جوړېږي او حقوق یې تثبیتېږي. اویا دا چې که زنا د دواړو لوریو په موافقه وشي نو هېڅ جرم نه ګڼل کېږي.

په اسلام کې د جرم او د سزا تعیین د شریعت کار دی، خو دا په ډیموکراسۍ کې د پارلمان حق دي، نه د شریعت.

په ډیموکراسۍ کې به د اختلاف په صورت کې منازعه د فیصلې لپاره شریعت ته نه بلکې اساسي قانون او نورو هغو وضعي قوانینو ته وروړل کېږي چې د ډیموکراسۍ له اصولو سره سم وضع شوي دي. پداسې حال کې چې په اسلام کې د الله ﷻ له قانون او شریعته پرته بل هر قانون، شریعت او د فیصلې مرجع ته (طاغوت) ویل شوي دي. او مسلمانانو ته امر شوی چې پر هغو کافر شي (ویې نه مني). او د هغو خلکو ایمان د درواغو ایمان بلل شوي چې په خوله وایې مؤمن یم، خو فیصله د الله ﷻ په قانون نه، بلکې د بل چا پر قانون کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ ءَامَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴿٦٠﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَى مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا ﴿٦١﴾ ﴾ النساء: ٦٠- ٦١

ترجمه: (آيا ته نه ګورې (ای محمده) هغه خلک چې ګومان کوي چې په هغه کتاب يې ايمان راوړی چې نازل شوی دی تا ته او هم په هغه چې نازل شوی ؤ تر تا د مخه، غواړي د فيصلې لپاره وړاندې شي طاغوت ته، پداسې حال کې چې دوئ ته امر شوی چې په طاغوت کافر شي. (ويې نه مني) شيطان غواړي هغوئ ډېر زيات ګمراهان کړي. او چې کله هغوئ ته وويل شي د الله ﷻ نازل کړي کلام او رسول ته راشي (د فيصلې لپاره) نو ته وينې چې منافقان له تا څخه مخونه اړوي).

همدارنګه الله د هغو خلکو په هکله چې فيصله د اللهﷻ په قانون نه کوي داسې فرمايي:

﴿ وَيَقُولُونَ ءَامَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّن بَعْدِ ذَلِكَ وَمَا أُولَئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٤٨﴾ ﴾ النور: ٤٧- ٤٨

ترجمه: (او منافقان وايي چې مونږ په الله ﷻ او رسول ﷺ ايمان راوړی. او طاعت مو کړی دی. خو بيا ځينې خلک لدې وينا مخ اړوي، دوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مؤمنان نه دي. او کله چې هغوئ د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ په لور ور وبلل شي چې رسول ﷺ د هغوئ ترمنځ فیصله وکړي، نو ځینی یې نابېره ډډه کوي).
خوکه چېرې د اسلام کوم حکم له ډیموکراسۍ سره مطابق وي او د دوئ مقاصد ورڅخه په یو ډول ترسره کېږي، نو بیا هغه د اسلام حکم هم مني. خو د دې لپاره نه چې هغه د الله ﷻ واجب العمل حکم دی، بلکې د دې لپاره چې هغه د ډیموکراسۍ مطابق دی.
پدې کار کې ډیموکراتان کټ مټ د الله ﷻ د دې وینا مصداق دي چې فرمايي: ﴿ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ﴿٤٩﴾ ﴾ النور: ٤٩
ترجمه: (که چېرې حق د هغوئ په خوا وي نو بیا ښه غاړه ایښودونکي د پیغمبر په لور را روان وي).
د اسلامي نړۍ په ټولو هغو حکومتونو کې چې ځان ډیموکراټیک بولي فیصلې د الله د شریعت په خلاف د هغه اساسي قانون مطابق کېږي چې د ډیموکراسۍ له اصولو سره سم جوړ شوی وي.
په د غو حکومتونو کې د (اساسي قانون) حرمت او قداست تر (قرآن کریم) او (حدیث شریف) پورته وي. که چېرې د کومې فیصلې په تأیید کې هر څومره د قرآن، حدیث او شریعت دلایل راوړل شي، خو چې د اساسي قانون مطابق نه وي نو د منلو وړ نه ګڼل کېږي، او د پارلمان وکیلان هم هېڅکله داسې قوانین نشي تصویبولی چې د اساسي قانون د موادو مخالف وي. نو له همدې امله پارلمان یوه (طاغوته) اداره ده.
که په کوم اسلامي هېواد کې چې په ډیموکراسۍ عمل کېږي او د پارلمان کوم غړی یا جهت چې د اسلام لپاره کار کول غواړي هم وغواړي چې د شریعت کوم حکم یا احکام د پارلمان له لارې د قانون په حیث عملي کړي نو باید خپل وړاندیز د مسودې په شکل پارلمان ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحث او رأيې اخيستنې لپاره وړاندې کړي، چې يا به تأييدېږي، او يا به رد کېږي. او د رد کېدلو په صورت کې به بيا دغه وړانديز ديوې ټاکلې مودې لپاره دوهم ځل د بحث لپاره نه وړاندې کېږي.

په پورتنې صورت کې د الله ﷻ حکم بشر ته د (موافقې) يا (نه موافقې) لپاره وړاندې کېږي چې (وړاندې کوونکی) او (ردوونکی) يې دواړه له دين څخه وځي. ځکه چې وړاندې کوونکي دلته بل څوک د الله تعالی پر حکم (حَکَم) ګرځوي او بل چاته حق ورکوي چې د الله ﷻ فيصله (رد) او يا (تأييد) کړي، پداسې حال کې چې الله ﷻ فرمايي د ده فيصله هېڅوک نشي وروسته کولی: ﴿وَٱللَّهُ يَحۡكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ۝٤١﴾ الرعد: ٤١

ترجمه: (او الله ﷻ فيصله کوي (په هر څه چې اراده وفرمايي) نشته هېڅوک وروسته کوونکی د هغه د فيصلې، او هغه ډېر زر حساب کوونکی دی).

همدارنګه الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤۡمِنٖ وَلَا مُؤۡمِنَةٍ إِذَا قَضَى ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَمۡرًا أَن يَكُونَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُ مِنۡ أَمۡرِهِمۡۗ وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلٗا مُّبِينٗا ۝٣٦﴾ الأحزاب: ٣٦

ترجمه: (او نه ده روا هېڅ مؤمن سړي او مؤمنې ښځې ته چې فيصله وکړي الله ﷻ او رسول ﷺ يې په يو کار کې چې وي دې دوئ ته اختيار په خپل کار کې. او هر څوک چې نافرماني کوي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ په يقين سره هغه ګمراه شو په ګمراهۍ ښکاره).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه ډول پارلماني جریان کې د الله ﷻ د حکم رد کوونکی د (رد) له امله کافر کېږي، او وړاندې کوونکې یې له دې امله له دین څخه ووځي چې بل چا ته د الله ﷻ پر فیصلې د پاسه د بلی فیصلې په حق قائل دي.
په دې هکله همدغه فهم د عمر بن الخطاب رضي الله عنه له هغه عمل څخه هم څرګندېږي چې د یوه منافق چې له یوه یهودي سره یې منازعه وه او رسول الله ﷺ د یهودي په حق کې فیصله وکړه خو منافق په هغې فیصلې قناعت ونه کړ او د رسول الله ﷺ فیصله یې عمر رضي الله عنه ته یووړه.
کله چې عمر رضي الله عنه پوه شو چې په دې منازعه کې رسول الله ﷺ یو ځل فیصله کړې ده او منافق د رسول الله ﷺ پر فیصلې د پاسه د عمر فیصله غواړي نو ځکه یې هغه مرتد و باله او سر یې ترې پرې کړ.
رسول الله ﷺ نه یوازې دا چې پدې کار عمر رضي الله عنه ملامت نه کړ، بلکې هغه ته یې د (فاروق) لقب هم ورکړ.
په اسلام کې لکه څنګه چې د لمانځه، روژې، زکات او حج حکم د اکثریت د فیصلې لپاره نه وړاندې کېږي او رأساً یې د تطبیق امر شوی، همدا ډول حدود، حجاب، قصاص، له کفارو سره د دوستۍ حراموالی او نور احکام هم د تطبیق لپاره د اکثریت رأیې او فیصلې ته نه وړاندې کېږي. خو په ډیموکراسۍ کې دغه کار د ډیموکراسۍ د اصولو خلاف او د نه منلو دی.

په ډیموکراسۍ کې د مشارکت په هکله شبهې او ځوابونه

ځیني اسلام ته منسوب علماء چې یا د غرب له فکري تأثیر لاندې راغلي دي، او یا هم د جهاد او قربانیو د نبوي منهج له لارې د اسلامي حکومت د رامنځته کولو له طریقې سره نا آشنا دي، او یا هم په هر ډول حکومت او شرایطو کې د حکومتونو له رعایتونو او امتیازاتو برخمن کېدل غواړي، که څه هم چې په هر قیمت وي، دوئ په ډیموکراسۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشارکت له لارې د اسلامي حکومت د قائمولو بېځایه هڅې او عبث کوښښ کوي.

د افغانستان په اوسنۍ د امریکایانو په زور راغلې ډېموکراسۍ کې هم ډېرو تش په نامه اسلامي تنظیمونو، ټولنو او اشخاصو همدا نامطلوبه لاره نیولې ده. دغه خلک په ډېموکراټیکو حکومتونو او پارلمانونو کې د ورګډېدو لپاره په اسلامي شریعت کې د خپل دغه کار لپاره ځینې شبهې او دلایل تراشي، او په بېځایه استدلالونو او د شبهاتو په راولاړولو د ځان لپاره په ډېموکراسۍ کې د کار کولو جوازونه برابروي چې ځینې شبهې یې په لاندې ډول دي:

لومړۍ شبهه- یوسف علیه اسلام د مصر له بادشاه سره کار کړی دی

ځینی خلک استدال کوي چې یوسف علیه السلام پداسې حال کې چې د الله پیغمبر ؤ د مصر له کافر بادشاه سره یې د هغه په حکومت کې د وزیر په حیث کار کړی دی. نو په همدې دلیل اوس هم مسلمانان کولی شي چې په یوکافر نظام کې کار وکړي.

په ډېموکراسۍ کې د کار لپاره په پورتنۍ دلیل استدالال کول د لاندې وجوهاتو له امله باطل دي:

الف ـ اوسني پارلمانونه شرکي او طاغوتي پارلمانونه دي. او دلیل یې دادی چې پارلمان ته د تشریع (تحلیل او تحریم) حق ورکړل شوی دی، پداسې حال کې چې د تشریع (تحلیل اوتحریم) حق یوازې او یوازې د الله ﷻ دی. خو په ډیموکراسۍ کې دغه حق په ولس پورې اړه لري چې پارلمان یې ممثل دی.

په اسلام کې د(اعلی حاکمیت) او د(تشریع) حق هېڅ شریک نه مني. خو په ډېموکراسۍ کې نه یوازې دا چې حلال او حرام ګرځول د ولس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکثريت حق دی، بلکې په قطعي ډول يې الله ﷻ له دغه حق څخه د دوئ په زعم محروم کړی دی.

د همدی او نورو دليلونو له مخې (اسلام) يو دين او (ډيموکراسۍ) يو ځانګړی بل دين دی. او په دې دواړو دينونوکې د تشريع او قوانينو مصادر هم سره جلا جلا دي.

په اسلام کې د تشريع مصدر (الهي وحيه) او (رسول صلّى الله عليه وسلّم) دي. خو په ډېموکراسۍ کې د تشريع مصدر (د خلکو خواهشات او هوسونه) دي. او الله ﷻ ته يوازې د اسلام دين د منلو دی. الله فرمايي: ﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥﴾ آل عمران: ٨٥

ترجمه : (او هر څوک چې پرته له اسلامه بل دين غوره کړي هېڅکله به ورڅخه ونه منل شي او هغه به په آخرت کې له زيان کارانو څخه وي).

نو آيا څوک داسې تصور کولی شي چې يوسف عليه السلام به له اسلامه پرته بل دين منلی وي؟ او يا به يې د خپلو موحّدو نيکونو له ملت څخه پرته بل ملت غوره کړی وي؟ او يا به يې د هغه د احترام او پاسدارۍ سوګند پورته کړی وي؟ او يا به يې هم د هغه مطابق قانون ګذاري کړې وي لکه څنګه چې داوسنۍ زمانې دپارلمانونو حال دي؟

يوسف عليه السلام خو لا د بنديتوب او بې وسۍ په وخت کې چې هېڅ يې په واک کې نه ول له شرک او مشرکينو څخه د بيزارۍ اعلان کړی ؤ لکه چې الله تعالى ﷻ فرمايي: ﴿إِنِّي تَرَكۡتُ مِلَّةَ قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ٣٧ وَٱتَّبَعۡتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشۡرِكَ بِٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ ﴾ یوسف: ۳۶-۳۸

ترجمه: (بېشکه ما پرې ایښې دی دین د هغو خلکو چې ایمان نه راوړي پر الله ﷻ او حال دا چې دوئ په آخرت همدوئ کافران دي. او متابعت کړی دی ما د دین د خپلو پلرونو چې ابراهیم، اسحق او یعقوب دي. نه ښایي مونږ ته چې شریک ونیسو په الله ﷻ پوری کوم شی).

وروسته یوسف علیه السلام د شرک او د توحید د حقیقت بیان کوي او دا اعلانوي چې حکم به یوازې د الله تعالی ﷻ چلیږي او عبادت باید یوازې د الله ﷻ وشي، لکه چې الله تعالی ﷻ له هغه څخه په حکایت فرمایي: ﴿ يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ ﴿٣٩﴾ مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِۚ أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٤٠﴾ ﴾ یوسف: ۳۹- ۴۰

ترجمه: (ای زما د زندان دوارو ملګرو! آیا متفرق خدایان غوره دي که هغه الله ﷻ چې یو دی؟ ډېر قوي غالب دی. عبادت نه کوئ تاسې غیر له الله ﷻ مګر د څو نومونو چې نومونه مو ایښي دي د هغو تاسو او ستاسو پلرونو. نه دی رالیږلی الله ﷻ پر عبادت د هغوئ کوم دلیل او سند. نه دی حکومت د هیڅا، مګر خاص د الله ﷻ دی. امر یې کړی پدې چې عبادت مه کوئ تاسې مګر یوازې د همده. دغه سم دین دی، خو زیات خلک نه پوهیږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو آیا دا کېدی شي چې یوسف علیه السلام دې د بند او ضعف په وخت کې شرک په لوړ آواز ردوي، او حکومت دې یوازې د الله ﷻ ګڼي، او بیا دې د آزادۍ او قوت په وخت کې دغه حقیقت پټوي؟! او د پادشاه په دین دې فیصلې کوي؟ پداسې حال کې چې الله تعالی په زمکه کې (تمکین) هم ورکړی وو؟

یوه بله خبره چې د یادولو وړ ده هغه دا ده چې په پارلمان او وزارت کې فرق موجود دی. پارلمان شریعت او قوانین جوړوي او وزارتونه یې تنفیذوي. نو هغه خلک چې په اوسنیو پارلمانونو کې د الله ﷻ د دین په خلاف قوانین جوړوي او تصویبوي یې د هغوئ جرم تر هغو ډېر دی چې جوړ کړي قوانین عملي کوي. نو پر دې اساس د هغو خلکو استدلال چې د یوسف علیه السلام په عمل یې پارلمان ته د ور تللو لپاره کوي صحیح نه دی. خو دا پدې معنی نه ده چې په اوسنیو حکومتونو کې دې پارلمان ته ورتګ ناجائز او وزات قبلول دې جائز شي.

په اوسینو طاغوتي نظامونو کې چې د الله ﷻ له دین سره یې جګړه اعلان کړې ده، د الله ﷻ له دوستانو سره جنګېږي او د الله ﷻ له دښمنانو سره دوستۍ او ایتلافونه کوي د وزارت قبلول هم حرام او د یوسف علیه السلام په عمل استدلال باطل دی. ځکه چې په اوسینو حکومتونو کې وزیران هم د هماغه اساسي قانون د پاسدارۍ او احترام سوګند پورته کوي چې د ډېموکراسۍ د کفر پر بنسټ جوړ شوی وي. پداسې حال کې چې الله ﷻ په دغه ډول طاغوتی (حَکَم) باندې د کافر کېدلو امر کړی دی لکه چې فرمایي:

﴿ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦ ﴾
النساء: ٦٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: (غواړي چې خپله دعوی دفیصلې لپاره طاغوت ته یوسي، پداسې حال کې چې دوئ ته امر شوی چې په هغه (طاغوت) دې کافر شي).

اوس که څوک دا گومان کوي چې یوسف علیه السلام به هم همدغه ډول د طاغوتي قانون د منلو، پاسدارۍ او احترام سوګند پورته کړی وي پداسې حال کې چې الله ﷻ له هغه څخه بدي اړولې وه او هغه یې له خپلو مخلصو بندګانو ګرځولی ؤ، نو یقیناً چې دغه ګومان کوونکی به د الله ﷻ په یوه پیغمبر د دروغو ویونکی، تر ټولو بد کافر او له اسلامي ملت څخه وتلی انسان وي.

ب: په اوسنیو حکومتونو کې وزیران د وضعي کفري قوانینو منونکي، منفذین او په هر څه کې باید د وضعي قوانینو پابند وي. نو آیا د یوسف علیه السلام په هکله دا ګومان کېدلی شي چې– معاذ الله– هغه به د دغه ډول وضعي کفري، ظالمو او باطلو قوانینو پابندؤ؟ که څوک د هغه په هکله دغه ډول ګومان کوي او بیا د هغه په فعل استدلال کوي، نو په یقیني ډول به هغه د الله ﷻ یو پیغمبر د کفري قوانینو په منلو تورن کړی وي، چې دا کار په خپله کفر او د اسلام له دین څخه وتل دي. ځکه چې الله تعالی انبیاء د دې لپاره خپلو امتونو ته رالېږلي دي چې هغوئ ته د طاغوت د پرېښودلو او یوازې د الله ﷻ د احکامو د منلو تعلیم ورکړي، الله ﷻ فرمایي :

﴿ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ﴾ النحل: ٣٦

ترجمه: (په یقین سره مونږ رالېږلی په هر امت کې رسول د دې لپاره چې خلکو ته ووایي د الله ﷻ عبادت وکړئ او له طاغوت څخه ځان وساتئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدغه پیغام د یوسف علیه السلام د رسالت هم ؤ. نو دا څنګه کېدای شي چې یوسف علیه السلام دې له پیغمبرۍ سره سره د طاغوت قانون منلی او فیصلې دې یې د هغه مطابق کړې وي؟

ج: د یوسف علیه السلام وزارت هغه ته د الله ﷻ له لوري په زمکه کې (تمکین) ؤ. هغه د الله ﷻ د حکم مطابق فیصله کوله. ځکه هغه ته هېڅ ضرر نشو رسولی. نه چا لیرې کولی شو او نه یې په کومه فیصله مجبورولی شو. او همدغه د (تمکین فی الأرض) معنی ده.

نو آیا د نن زمانې په طاغوتي حکومتونو کې هم وزیران همدغه ډول مطلق صلاحیتونه لري؟ تر څو یې د یوسف علیه السلام پر وزارت قیاس صحیح شي؟

د نن وزیران خو په ټوله معنیٰ د طاغوتي قوانینو په بندونو داسې تړل شوي چې د اسلام په ګټه هېڅ حرکت ورځخه نشي کولی.

یوسف علیه السلام د خپل کار په تر سره کولو کې له هر ډول عدلي تعقیب او څارنې څخه آزاد وو. ځکه کله چې بادشاه یوسف علیه السلام له زندان څخه راووېست او هغه بادشاه ته خپلې خبرې وکړې،

نو بادشاه یی په خبرو داسې قانع شو چې هغه ته یې وویل: ﴿إِنَّكَ ٱلۡيَوۡمَ لَدَيۡنَا مَكِينٌ أَمِينٞ ٥٤﴾ یوسف: ٥٤

ترجمه: (بې شکه ته نن ورځ له مونږ سره د مرتبې خاوند او امانتګر یې).

مفسرین لیکي چې تر دې وروسته د مصر بادشاه هسې تش په نامه بادشاه وو، او نور ټول کارونه به یوسف علیه السلام اجرا کول، او د (عزیز) په نامه به یادېده. ځیني علماء لا دا هم وایې چې هغه پادشاه د یوسف علیه السلام په لاس مسلمان شو، او تر دې وروسته د یوسف علیه السلام پر دین چلېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو آیا په اوسینو طاغوتي حکومتونو کې هم صالحو مسلمانو وزیرانو ته همدغه مرتبه حاصله ده؟ او که د نن وضعیت د یوسف علیه السلام تر وضعیته بدل وي نو بیا خو قیاس نه دی صحیح.

د: الله تعالی د یوسف علیه السلام په هکله د تمکین یادونه کړې ده:

﴿ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ﴾ یوسف: ۲۱

ترجمه: (او همدغه ډول مو یوسف علیه السلام ته تمکین په زمکه کې ورکړ).

د تمکین لفظ په دې آیت کې مجمل دی، خو په بل ځای کې الله تعالی د دغه اجمال تفصیل داسې بیان کړی دی:

﴿ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ ٤١ ﴾

الحج: ٤١

ترجمه: (هغه کسان که چېرې ورکړو مونږ دوئ ته په زمکه کې تمکین نو قائموي دوئ لمونځ او ورکوي زکات او امر به کوي خلکو ته په نیکۍ او منع کوي به خلک له بدۍ او خاص د الله ﷻ په اختیار کې ده آخره خاتمه د ټولو کارونو).

دا چې د یوسف علیه السلام په هکله هم الله ﷻ هغه ته د تمکین یادونه کړې ده، نو یقیناً چې یوسف علیه السلام هم له همدغو خلکو څخه ؤ چې د قدرت په وخت په خلکو لمونځونه دروي، زکات ورکوي، امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي. او پدې لړ کې تر ټولو لوی معروف (توحید) او تر ټولو لوی منکر (شرک) دی.

یوسف علیه السلام د خپلو پلرونو د حق دین اتباع او په هغه یې فیصله کوله. په هغه قانون یې هېڅکله فیصله نه کوله چې الله ﷻ نه وو نازل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي. او نه يې هم د الله ﷻ د قانون خلاف د نورو قوانينو جوړولو ته اجازه ورکوله. او که څوک د هغه عليه السلام په هکله د دې په خلاف عقيده ولري هغه مسلمان نشي پاتې کېدی.

د اوسنۍ زمانې په طاغوتي حکومتونو کې خو که کوم وزير يوازې د اسلام لپاره يو ادنی کار هم وکړي نو فوراً له وظيفې څخه برطرف کېږي، او يا اساسي قانون او حکومت ته د خيانت په جرم زندان ته ورغورځول کېږي. او که چېرې ټول حکومت او وزارتونه د انتخاباتو له لارې هم د مسلمانانو لاس ته ورشي نو بيا هم ورته د حکومت کولو فرصت نه ورکول کېږي، لکه چې د اسلامي نړۍ په ځينې دولتونو کې وليدل شول. نو پر همدې اساس د يوسف عليه السلام په کار استدلال کول يوازې يوه بهانه ده او بس.

دوهمه شبهه – د نجاشي (رح) په عمل استدلال

ځينې هغه مسلمانان چې په زړونوکې يې د ډيموکراسۍ مرض ځای نيولی په ډيموکراټيکو نظامونوکې د خپل مشارکت لپاره د نجاشي رحمة الله عليه په عمل استدلال کوي، او وايي چې نجاشي سره لدې چې يو مسلمان پادشاه وو خو اسلامي حکومت يې نه وو نافذ کړی. او لدې سره بيا هم رسول الله ﷺ هغه ستايلی او هغه ته يې (عبدصالح) ويلي او پر هغه يې غايبانه جنازه هم کړې ده. نو که په اوسني وخت کې هم کوم پادشاه اسلامي نظام نافذ نه کړي او يا نور مسلمانان په يو غير اسلامي نظام کې برخه واخلي څه ناروا خبره نه ده.

نجاشي (رح) څوک ؤ؟

نجاشي (رح) د حبشې هغه پادشاه وو چې د نبوت په پنځم کال يې هغو مسلمانو مهاجرينو ته پناه ورکړه چې رسول الله ﷺ له مکې مکرمې څخه ورلېږلي ؤ. دې پادشاه د همدغو مهاجرينو په لاس اسلام قبول کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مسيحيت يې پرېښود. هغه مهاجرين په ډېر عزت او احترام وساتل. کله چې قريشو د مهاجرينو د بېرته ورسپارلو په هدف يو دوه کسيز وفد هغه ته له ډېرو سوغاتونو سره ور ولېږه، له مناقشې او تحقيق وروسته هغه ته ښکاره شوه چې قريش ظالمان دي او بايد مهاجرين ور ونه سپارل شي. هماغه ؤ چې د قريشو وفد يې نامراده رخصت کړ.

نجاشي (رح) وروسته رسول الله ﷺ ته خبر ور ولېږه چې ده د جعفر بن ابي طالب (رضی الله عنه) په لاس اسلام قبول کړی او له رسول الله ﷺ سره يې د هغه په واسطه بيعت کړی دی. او بيا يې په يوه مرحله کې خپل زوی د يو لوی وفد په ملګرتيا د رسول الله ﷺ د تأييد او نصرت لپاره ور ولېږه او ترې وېې غوښتل چې که رسول الله ﷺ غواړي نو مدينې منورې ته به هجرت ور وکړي. رسول الله ﷺ هغه ته دعا وکړه، او کله چې هغه وفات شو نو رسول الله ﷺ په مدينه منوره کې د هغه غايبانه جنازه هم وکړه.

دا چې اوس ځينې خلک دا استدلال کوي چې هغه مسلمان وو خو اسلامي شريعت يې نه وو نافذ کړی، نو که دوئ هم دا کار وکړي هېڅ باک نه لري. دغه استدلال له لاندې څو وجهو باطل دی:

۱ـ پدی اړه چې هغه اسلامي شريعت نه وو نافذ کړی د دې دعوی له لرونکو سره هېڅ قطعي او د اعتبار وړ دلايل نشته. د نجاشي (رح) غائبانه ايمان راوړل، مسلمانانو له ځان سره خوندي کول، د خپلو بطريريکانو (مسيحي علماؤ) مخالفت او رسول الله ﷺ ته خپل زوی او شپيته کسان د تأييد او نصرت لپاره ورلېږل، دا ټول پدې دلالت کوي چې هغه دې د مسلمانۍ په حالت کې د طاغوت په حکم او نظام فيصلې ونه کړي.

۲ـ د نجاشي (رح) په وضعيت استدلال کول قياس دی. او قياس په اصولو کې دې ته وايي چې يوه داسې حادثه چې د شرعي نص د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هکله موجود نه وي د یوې بلې داسې حادثې حکم په هغې ولګولی شي چې د شرعې نص وربانديې موجود وي. خو شرط یې دا دی چې د دواړو حادثو تر منځ مشترک علت موجود وي او د دواړو تر منځ فرق موجود نه وي. او د قیاس له شرطونو څخه یو دا هم دی چې : هغه فرع چې پر اصل قیاس کیږي په هغې کې به نص موجود نه وي.

دلته اوس د نجاشي (رح) عمل اصل ګرځول شوی او په اوسنۍ زمانه کې په ډېموکراتیک حکومت کې مشارکت فرع ګرځول شوی. او د دواړو ترمنځ د شریعت نه تنفیذول مشترک علت ګرځول شوي دی. خو دغه قیاس ځکه صحیح نه دی چې دلته د فرعې په هکله صریح نصوص وجود لري او هغه دا چې هر څوک چې شریعت (حَکَم) ونه ګڼي هغه مسلمان نشي پاتې کیدی، لکه چې الله ﷻ په صراحت سره فرمایي:

﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ ﴾

النساء: ٦٥

ترجمه: (قسم دی په رب ستا چې نه مؤمنان کیږي دوئ تر هغه پورې چې حَکَم (فیصله کوونکی) نه کړي تا په هغو شخړو کې چې پېښې شوې د دوئ تر منځ او بیا ونه مومي دوئ په خپلو زړونو کې ناراضي ستا له فیصلې، او ومني دوئ ستا خبره په منلو سره (بې له جګړې).

او همدارنګه الله ﷻ فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا ٦٠ ﴾ النساء: ٦٠

ترجمه: (آیا نه ګورې هغه خلک چې ګومان کوي چې ایمان یې راوړی پر هغه کتاب چې نازل شوی دی تا ته، او پر هغه چې نازل شوی وو تر تا د مخه. غواړي د فیصلې لپاره وړاندې شي طاغوت ته، پداسې حال کې چې دوئ ته امر شوی چې پر طاغوت کافر شي (ویې نه مني) او شیطان غواړي هغوئ ډېر زیات ګمراهان کړي).

نو آیا دا روا ده چې د شرعي نص له شتون سره دې په قیاس عمل وکړو؟ پداسې حال کې چې اصولي قاعده دا ده چې د شرعي نص په شتون کې قیاس صحیح نه دی.

۳ـ د نجاشي (رح) په وخت کې شریعت مکمل شوی نه وو. او نه هغه ته د مسافې د لیرې والي او د مواصلاتو د وسائلو د نشتوالي له امله د هرې ورځې، هفتې او میاشتې احکام وررسېدل. هغه په هغومره څه مکلف وو چې ورسېدلي وو. خو اوس چې شریعت مکمل دی او ټول شریعت په یو ځای مونږ ته رارسېدلی دی نو د ډیموکراسۍ عاشقان څنګه اوسنی مکمل شریعت پرېږدي او د هغه وخت پداسې یو عمل استدلال کوي چې لا هغه وخت شریعت نه ؤ مکمل شوی؟!

دریمه شبهه ـ ډیموکراسۍ ته د شورئ نوم ورکول

سیکولر او غرب پلوي عناصر چې په اسلامي نړۍ کې د ډیموکراسۍ د خپرولو او نافذولو په هڅه کې دي غواړي د مسلمانانو د تېر ایستلو په هدف غربي بې دینې ډیموکراسۍ ته د اسلام د (شورئ) نوم ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په دروغو تبلیغات کوي چې ډیموکراسي د شورى یو مترقي شکل دى، او په عملي کېدلو یې د اسلام شواریي نظام عملي کېږي.
امریکا او نورو صلیبي ملګرو یې چې کله افغانستان د بې دریغه او سختو بمباریو او د داخلي منافقو او جاسوسو ډلو ټپلو په مټ تسخیر کړ او د لسګونو زرو مسلمانانو له وژلو وروسته یې وغوښتل دلته یو غلام او بې واکه حکومت جوړ کړي او بیا د هغه له لارې خپل پوځي اشغال ته د جواز دلایل برابر کړي، نو دلته یې هم د ډیموکراسۍ نغاره وډنګوله او یو ځو اجیر، په ډالرو اخیستل شوي، او له غرب څخه یو ځو راصادر شوي سیکولر افغانان یې له پرونیو کمونستانو او د هغوئ له ملګرو ملیشه ډلو سره د ډیموکراسۍ په وندر وتړل او د هغوئ پر سر یې هم د ﴿ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴾ مبارک آیت په هغه خیمه کې لیکلی ؤ چې د همدغو اشغالګرو لخوا یې پر سر د لویې جرګېد خیمې په نامه درولې وه.
ډیموکراسۍ ته د شورى په نوم ورکولو هغه نه اسلامي کېږي، لکه څنګه چې شراب د (روحي مشروباتو) او زنا د (جنسي تقاضا) په نومونو نه حلالېږي.
د اسلام د شورى او د ډیموکراسۍ د پارلمان تر منځ د حق او د باطل توپیرونه دي چې ځینې یې په لاندې ډول یادوو:

د پارلماني رایې اخیستنې او د اسلام د شورى ترمنځ توپیرونه

اول توپیر:
د اسلام (**شورې**) د مؤمنو، موحدو او شریعت منونکو مسلمانانو تر منځ وي، پداسې حال کې چې (**پارلماني رأیه اخیستل**) د داسې یو مجلس د اعضاؤ تر منځ وي چې په هغه کې مسلمان، هندو، نصراني، یهودي، کمونست او ملحد ټول په یو ډول د(رأیې ورکولو) حق لري، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فيصله ورکښې د حق او د دليل د قوت پر بنسټ نه، بلکې د اکثريت د رأيو پر بنسټ کېږي.
قرآن کريم چې کله د شورى آيت ذکر کوي، نو د داسې مؤمنانو لپاره يې د وصف په ډول ذکر کوي چې هغوئ پر الله ﷻ ايمان راوړی دی، پر الله ﷻ توکل کوي، له لويو ګناهونو او د بې حيايۍ له کارونو ځان ساتي، چې کله په قهر شي ښښنه کوي، هغوئ هغه خلك دي چې د رب بلنه يې منلې، لمونځونه يې درولي، کار يې په شورى سره وي، او د الله ﷻ له ورکړې انفاق کوي، او چې کله تېری پرې وشي بدل اخلي.

قرآن مجيد وايي: ﴿وَأَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ﴾، خو ډيموکراسي او پارلماني رأيه اخيستنه وايي: (وأمرهم شورى بينهم وبين غيرهم). يعنې په اسلام کې به شورى يوازې د مؤمنانو ترمنځ وي، خو په ډيموکراسۍ کې به شورى د مؤمنانو او کافرو ټولو تر منځ وي. نو په همدې اساس د اسلام (شورى) او د ډيموکراسۍ (رأيه اخيستل) دواړه يو شی ګڼل په حقيقت کې د حق او د باطل يوشی ګڼل دي.

دوهم توپير:

د اسلام شورى يو الهي حکم او شرعي منهج دي چې په وحيې نازل شوی او د الله رسول ﷺ عملي کړی دی. خو ډيموکراسي د بشر د هوی او هوس پر بنسټ د کفارو لخوا يو وضع شوی نظام او يوه بې دينه مفکوره ده.

دريم توپير:

د اسلام شورى په هغو امورو کې کېږي چې هلته (شرعي نص) موجود نه وي. او چې کله (شرعي نص) موجود شي نو بيا شورى ته ځای نشته. خو په ډيموکراسۍ کې اساساً د الله ﷻ احکامو او شريعت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای نشته. ځکه چې په ډيموکراسۍ کې د (حاکميت) او (تشريع) حق په مطلق ډول په ولس پورې اړه لري چې اکثريت يې تمثيلوي.

څلورم توپير:

په ډيموکراسۍ کې (اکثريت) د (الله) مرتبه لري چې بايد په خپله خوښه قوانين جوړ کړي، او د قوانينو په وضع کې هېڅ خارجي طاقت (وحيه) د مداخلې حق نه لري. خو د اسلام په شورى کې اکثريت نه يوازې دا چې (مُشَرِّع) او (مُطَاع) نه دی، بلکې مأمور، ملتزم او مطيع دي چې په هرڅه کې به د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ خبره او د (أولأمر) خبره مني، ترڅو يې چې ورته د معصيت امر نه وي کړی.

په شورى کې امام په هرڅه کې د اکثريت د حکم په منلو ملزم نه دی، بلکې اکثريت د امام په طاعت ملزم دی تر هغه وخته چې طاعت په معروف کې وي.

پنځم توپير:

په ډيموکراسۍ کې د قانون مصدر د خلکو خواهشات او د حق معيار د (اکثريت رأيه) ده. خو د اسلام په شورى کې اکثريت د احکامو په وضع او معياريت کې هېڅ دخل نه لري، بلکې د اکثريت پرځای د دليل قوت اعتبار لري که څه هم چې د يوشخص لخوا وړاندې شي.

شپږم توپير:

ډيموکراسي د اروپا په هغې الحاد ځپلې ټولنه کې پيدا شوې او نشأت يې کړی چې هلته (دين) د ژونداو نظام په ټولو چارو کې (بې واکه) شوی او يوازې د کليسا په کونج کې بندي دی. خو شورى بيا د اسلام نظام دی چې د ژوند او نظام په هغو ټولو چارو کې چې صريح نصوص ورکښې موجود نه وي خپل تأثير لري، او مسلمانان يې عملي کولو ته تشويق شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د پورتنيو توپيرونو پر اساس د(**اسلام شورى**) او د(**ډيموکراسۍ رأيه اخيستل**) دوه جلا جلا نظامونه دي چې يو يې له اسلام او بل يې له الحاد څخه سرچينه اخلي.
او هغه خلک چې کوښښ کوي ډېموکراسي خلکو ته د اسلام د شورى مرادف ښکاره کړي هغوئ يا د اسلام د شورى نظام او حيثيت نه پيژني، يا ډېموکراسي نه پيژني، او يا دواړه ښه پيژني، خو د منافقت له مخې د ډېموکراسۍ کفري نظام عامو مسلمانانو ته د اسلام د شورى په قالب کې ور معرفي کوي، تر څو مسلمانان له هغې څخه کرکه ونه کړي او ويې مني.

څلورمه شبهه ـ د دعوت د مصلحت لپاره په ډيموکراسۍ کې مشارکت

ځيني اسلامي تنظيمونه او يا اشخاص د دعوت د مصلحت په بهانه په ډيموکراسۍ کې برخه اخلي، او دا دليل نيسي چې که دوئ د انتخابېدلو لپاره ونه دربږي کېدی شي هلته يو بل اسلام دښمن تنظيم او يا شخص هغه ځای اشغال کړي. او يا دا دليل نيسي چې دوئ کوښښ کوي چې د پارلمان له لارې د اسلامي قوانينو د عملي کولو لپاره زمينه برابره کړي. او يا هم پدې خبره استدلال کوي چې په ډېموکراټيکو نظامونو او حکومتونو کې د هغه چا لپاره د دعوتي فعاليت علني اجازه موجوده وي چې ډېموکراسي مني، او د ډېموکراټيک نظام په چوکاټ کې اوسېږي. خو هغه څوک چې له ډېموکراټيک چوکاټ څخه د باندې وي هغوئ له ډول ډول محدوديتونو سره مخ وي. نو د دې لپاره چې په علني ډول دعوت وکولی شي او د ټولنې ټولو طبقوته خپل غږ په ښکاره وررسولی شي، نو د دعوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصلحت دا تقاضا کوي چې په ډېموکراټیک جوړښت کې دې دننه کار وکړای شي، او په ډېموکراسۍ کې د بیان له آزادۍ دې استفاده وشي.
د پورتنۍ شبهې او وهمي دلایلو او بهانو په هکله دا لاندې څو ځوابونه وړاندې کوو:

د دې شبهې څلور ځوابونه:

اول ځواب: پداسې یو نظام کې چې اساساً پر کفر ولاړ وي لکه ډېموکراسي چې د سیکولریزم پر کفر ولاړه ده، دین او (وحیې) ته د ژوند اوحکومت په چارو کې د مداخلې هېڅ حق نه ورکول کېږي او د حلال او حرام تعیین ورکښې د بشر په خوښه د اکثریت د تأیید په شکل کې ترسره کېږي، له الله ﷻ څخه د تشریع مطلق حق اخیستل شوی او په مطلق ډول بشر ته ورکړل شوي وي، د کفر او اسلام تر منځ فرق دې موجود نه وي، ټولو انسانانو ته دې یوازې د انسان په سترګه کتل کېږي،او د دواړو رأیه دې پر اشخاصو او اشیاؤ باندې د حکم کولو یو ډول ارزښت او صلاحیت ولري، (امر بالمعروف او نهي عن المنکر) دې د شخصي آزدۍ سره د ټکر له امله ممنوع ګرځول شوي وي، ارتداد دې د انسان خپل حق وي، او مرتد دې له هر ډول مجازات څخه مصؤون وي، د اسلام په خلاف غږ پورته کول دې د رأیې د اظهار د آزادۍ له امله روا او قانوني کار وي. نو په دغه ډول کفري نظام کې مشارکت به د هغه تأیید او منل نه وي؟ آیا د دغه ډول نظام په چوکاټ کې کار کول او د هغه منل د هغه (توحید) منافي نه دي چې تر ټولو لومړی له مسلمان څخه پر طاغوت کافر کېدل غواړي؟ هغه توحید چې اول په (لا إله) سره تر (إلاّ الله) د مخه له هر ډول طاغوت څخه د انکار اعلان غواړي؟
په اسلام کې خو د هغه چا ایمان اصلاً نه صحیح کېږي چې توحید مني خو د شرک په خلاف بې موقفه وي، او له هغه سره جنګ نه اعلانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ﷻ خو (کفر بالطاغوت) تر (ایمان بالله) د مخه یاد کړی لکه چې فرمایي: ﴿فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾﴾ البقرة: ٢٥٦

ترجمه: (نو هغه څوک چې کافر شي پر طاغوت او ایمان راوړي پر الله، نو یقیناً یي منګولې ولګولې په هغې کلکې کړۍ چې نشته پرېکېدل هغې لره، او الله ﷻ ښه اورېدونکی او ښه عالم دي).

نو آیا د اسلامي دعوت مصلحت به پدې کې وي چې د کفر صف جلا او د ایمان صف دې جلا وي ترڅو خالص توحید متحقق شي، او له کفر څخه د بیزارۍ او انکار ښکاره اعلان وشي؟ او که به په دې کې وي چې د ځینې موهومو او جزئې مصالحو لپاره دې د توحید د اعلی مصلحت قرباني ورکړل شي؟

په اسلام کې خو تر ټولو مصالحو لوی مصلحت د الله ﷻ توحید او له طاغوت څخه بېزاري ده. که دا مصلحت له منځه ځي نو نور مصلحتونه دې زر ځلې له منځه ولاړ شي.

له مشرکانو، سیکولرو، کمونستانو او ملحدانو سره په یوه مجلس کې او د یوه قانون په حدودو کې، د یوه نظام د چلولو لپاره غاړه غړۍ کېناستل او یا هغوئ ته د کفر د بیانولو حق ورکول هېڅکله نه اسلام دی او نه د اسلامي دعوت لپاره مصلحت. بلکې الله ﷻ په ښکاره له داسې خلکو سره له یوځای کښیناستلو څخه منع کړې ده لکه چې فرمایي:

﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ إِنَّكُمْ إِذًا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱلْكَٰفِرِينَ فِى جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴿١٤٠﴾
النساء: ١٤٠

ترجمه: (او یقیناً نازل کړی دی الله ﷻ پر تاسو دا حکم چې کله مو واورېدل د الله ﷻ آیاتونه چې کفر ورباندې کولی شو او مسخرې ورپورې کېدلې، نو تاسې مه کښېنئ له هغوئ سره تر هغې چې په نورو خبروکې مشغول شي، (او که چېرې تاسی ورسره کښېنئ) نو تاسو به هم د هغو په څېر یاست. یقیناً الله ﷻ یوځای کوونکی دی د منافقانو او کافرانو په جهنم کې د ټولو).

په موجودو پارلمانونو کې په ښکاره لیدل کېږي چې سیکولر (بې دینه) عناصر، کمونستان، د هوی او هوس بنده ګان او نورې ګمراه ډلې په صراحت سره له ارتداد څخه دفاع کوي، د کفري قوانینو پلوی او په اسلامي احکامو لکه جهاد، حدودو، حجاب او نورو پورې مسخرې کوي او په ډول ډول بدو نومونو یې یادوي، خو بیا هم تش په نامه دیموکرات او پارلماني مسلمانان د دعوت د مصحلت په بهانه له مرتدانو سره یو ځای په یوه پارلمان کې کار کوي.

دوهم ځواب: د اسلامي نړۍ په اکثرو پارلمانونوکې هغه ډلې چې ځان د مسلمانانو استازي بولي په (اقلیت) کې دي، چې د(سیکولر (اکثریت) په مقابل کې د خپل اقلیت له امله په نا اسلامي قوانینو کې هېڅ تبدیلي نشي راوستلی. ځکه چې په ډیموکراسۍ کې د اکثریت رأیه حق بلله کېږي. له همدې امله په تېرو اتیا کلونو کې چې ډیموکراسي د اسلامي نړۍ حکومتونو ته راغلې ده په هېڅ ځای کې ونه لیدل شول چې د ډیموکراسۍ او انتخاباتو له لارې دې په کوم اسلامي هېواد کې اسلامي شریعت نافذ شوی وي. خو د ډیموکراسۍ مسلمان ډوله (لیوني) بیا هم له هغې لاس نه اخلي، او د بدلون لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام نبوي منهج ته رجوع نه کوي، چې دا په خپله د هغوئ پر نیتونو او اخلاص باندې د شک باعث ګرځي.

دریم ځواب: رسول الله ﷺ ته هم د مکې مشرکانه نظام همدغه ډول ډیموکراسۍ ته ورته د یو مشترک نظام وړاندیز کاوه. د داسې یونظام چې هم به شرکي عقاید، نظریات، تصورات او اعمال ورکښې خوندي ول، او هم به تر یوه حده اسلام هم ورکښې لیدل کېده. خو له اوسنۍ ډیموکراسۍ سره یې فرق دا وو چې پرته له انتخاباتو او اکثریت څخه ئې مشري، زعامت، مال، حکومت او سیاسی قیادت هم پیغمبر ﷺ ته ورکاوو، لکه چې د پیغمبر ﷺ په مبارک سیرت کې راغلي چې د مکې د مشرکانو مشرانو د شورى مجلس دائر کړ او فیصله یې وکړه چې (عتبه بن ربیعه العبشمي) چې د (بنو عبدشمس) له مشرانو څخه وو له دغه وړاندیز سره رسول الله ﷺ ته ور ولېږي، عتبه رسول الله ﷺ ته د مشرکینو وړاندیز داسې وړاندې کړ: (ای وراره! ته پوهېږې چې ته په موږ کې د ښه نسب او حسب خاوند ئې، خو تا دې خپل قوم ته داسې یو دین راوړی چې د هغه له امله دې د خپل قوم اتحاد او اتفاق ورختم کړ، هغوئ دې کم عقلان وګڼل، د هغوئ معبودان دې بد یاد کړل، د هغوئ دین دې کفر او د هغوئ پلرونه دې کفار وبلل. زه یو څو وړاندیزونه درته لرم، وائي وره !کېدای شي چې ځینې یې ومنې).

رسول الله ﷺ هغه ته و فرمایل: ابو الولیده ویې وایه! اورم یې.

عتبه خپل وړاندیزونه داسې بیان کړل:

(ای وراره! که ته په دې پیغمبرۍ مال غواړې نو دومره مال به درته راټول کړو چې تر موږ ټولو به ستا مال ډېر وي. او که عزت ورباندې غواړې نو خپل داسې (سید) او مشر به دې وټاکو چې له تا پرته به یوه فیصله هم نه کوو. او که بادشاهي غواړې نو بادشاه به دې کړو، او که چیرې کوم پیرى درباندې ناست وي او ځان ترې نشې خلاصولی نو کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(دم ګري) کاهن ته به دې ورولو چې دم دې کړي او پدې لار کې که زموږ هرڅومره مال مصرفېږي مصرفوو يې ترڅو تا لدې تکليفه خلاص کړو.
رسول الله ﷺ چې کله د هغه خبرې واورېدې ورته ويې فرمايل: ابولوليده خبرې دې خلاصې شوې؟ هغه وويل هو. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اوس يې له ما واوره: او بيا يې د (فصّلت) د سورت څو آياتونه ورته ولوستل او له قريشو سره يې د داسې يو مشترک نظام وړانديز رد کړ چې مشر به يې هم په خپله رسول الله ﷺ وو.
د رسول الله ﷺ لخوا له کفارو سره د مشترک نظام د وړانديز له ردلو څخه دا په ښکاره معلومېږي چې هغه صلی الله عليه وسلّم لا د مظلوميت او محروميت په وخت کې چې دی مبارک او اصحاب (رضي الله عنهم يې د مشرکينو له شديد اذيت او تکليف سره مخ ول هم له هغوئ سره د ګډ نظام نظريه ونه منله، پداسې حال کې چې کېدای شو چې د وړانديز د منلو په صورت کې به پر مسلمانانو چې په مظلوميت کې واقع ول يو څه آساني راغلې وه. خو بيا هم رسول الله ﷺ دا کار ځکه ونه کړ چې مسلمانانو ته دا وروښيې چې مؤمن او کافر په يوه نظام کې چې ريښتنی واک ورکې د جاهليت او کفر په لاس کې وي سره يوځای نشي پاتې کېدای.
قريش که څه هم چې کافران ول خو لکه داوسنۍ زمانې دکفارو په څېر درواغجن او دوه مخې نه ول، هغوئ کفار ول خو دروغ او دوکه به يې نه خوښوله. هغوئ په خپلو وعدو کې له رسول الله ﷺ سره ريښتني ول، هغوئ په ريښتيا رسول الله ﷺ ته (سيادت)، مال، بادشاهي او زعامت ورکاوو، خو په مقابل کې يې له هغه څخه د دوئ د جاهليت په خلاف د رسول الله ﷺ د مبارزې توقف غوښتو، او دا هغه کار دی چې د اوسنۍ زمانې د ډیموکراسۍ کفار يې هم له مسلمانانو څخه غواړي. خو رسول الله ﷺ بيا هم ورسره دغه ډول وړانديزونه ونه منل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس پوښتنه دا ده چې آیا اوسنیو هغو احزابو ته چې ځان اسلامي بولي او په ډېموکراسۍ کې په خپل مشارکت سره د هغې تأیید کوي او تور مخ يې ورسپينوي، دغه ډول حیثیت ورکول کېږي؟ هغوئ ته خو د ډيموکراسۍ د کفر د تأیید په بدل کې له یو څو پیسو پرته بل هېڅ نه ورکول کېږي.

آیا رښتیا هم دغه ډول ځان تېراېستونکو اسلامي احزابو ته په ډېموکراسۍ کې د ریښتني اسلام د بیانولو او د کفر د ټولو انواعو د ردولو او د هغو په خلاف د عملي اقدام اجازه ورکول کېږي؟ که ورکول کېږي نو په تېره یوه پېړۍ کې دغه حق په کوم مسلمان هېواد کې ولیدل شو؟ او که نه ورکول کېږي نو بیا ولې په دغه ډول باطل حجت استدلال کوي، او اسلام ته د دعوت له نبوي منهج څخه چې مثال يې د صحابه ؤ رضي الله عنهم ژوند او دعوت دی په شنګ ځي؟

که چېرې په دغه ډول مشارکت کې د دعوت مصلحت وای نو رسول الله ﷺ به په هغه وخت کې منلی وی چې مسلمانانو پرته له زغم او صبر بله هېڅ لاره نه درلوده.

په هغه وخت کې رسول الله ﷺ خپلو مظلومو اصحابو رضي الله عنهم ته امر وکړ چې (حبشې) ته مهاجر شي خو له کفارو سره يې په مشترک نظام کې يو ځای اوسېدلو ته پرې نښودل، ترڅو ور وښيي چې اسلام د ژوند لپاره د جاهلیت له هر قید او بند څخه آزاد محیط او نظام غواړي، او مسلمانان به تر هغې په کراره نه کښيني چې ترڅو يې ځانته خپلواک، خالص اسلامي نظام نه وي جوړ کړي.

څلورم ځواب: د اسلامي نړۍ د هېوادونو په نږدې ماضي کې تاریخ او مشاهدې دواړو دا ثابته کړه چې ډيموکراسي او انتخابات یوازې د کفري نظام د اقامې لپاره دي. او په ډيموکراسۍ کې د (ريښتيني

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام) لپاره هیڅ ځای نشته، که څه هم چې مسلمانان د ډیموکراسۍ او انتخاباتو له لارې قدرت ته ورسیږي.
په مصر کې تقریباً له تېرو اتیاوو کلونو راهیسې (الإخوان المسلمون) په ډیموکراسۍ کې د مشارکت له لارې د اسلامي حکومت لپاره ښه جدي فعالیت کوي، خو کله چې هم مصري نظام د (الإخوان) په لاس د څه بدلون علامې ویني نو سمدستي هغوئ له یوه مصیبت سره مخ کړي. یا یې مشران او اعضاء زندانونو ته ور وغورځوي، یا یې په سیاسي فعالیت محدودیتونه ولګوي، او یا یې په تنظیم باندي بندیز ولګوي، ټولې شتمنۍ یې مصادره کړي او مشران یې د سیاست او تأثیر له صحنې څخه محروم کړي. نتیجه یې دا شوه چې له تېرو اتیاؤ کلونو راهیسې نه په مصر کې حکومت اسلامي شو، نه اسلامي ټولنه منځته راغله او نه هم د (الاخوان) تنظیم پر خپلو اصولو او هغې تګلارې ټینګ پاتې شوکومه چې (امام حسن البنا) او (شهید سیدقطب) په خپلو ویناؤ او تالیفانو کې د (الإخوان المسلمون) لپاره د فکري او عملي منهج په حیث واضح کړې وه. بلکې د زمانې په تېرېدلو ډیموکراسۍ د هغوئ عزم ور سست او تګلاره یې ور بدله کړه.
په ترکیه کې چې کله د نجم الدین اربکان اسلام پلوي ګوند په انتخاباتو کې د ډیموکراسۍ د اصولو مطابق اکثریت ترلاسه کړ او حکومت یې جوړ کړ، خو کله چې د ترکیې له ډیموکراسۍ څخه مدافع سیکولر پوځ د اسلام په ګټه د بدلون علامې ولیدې نو سمدستي یې د هغه حکومت ړنګ او پر تنظیم یې بندیز ورولګاوه، او د تنظیم مشران یې له سیاسي فعالیت څخه منع کړل.
همدا ډول د شمالي افریقا په تر ټولو لوی اسلامي هېواد (الجزایر) کې چې کله د (انقاذ اسلامي جبهې) د غربي ډیموکراسۍ د اصولو مطابق په انتخاباتو کې اکثریت تر لاسه کړ، هلته هم سیکولر پوځ مداخله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه، دانتخاباتو نتائج یې لغوه اعلان کړل، او د انقاذ د اسلامي جبهې مشران او منسوبین یې په زندانونو کې واچول، او د الجزائر مسلمان ملت یې له داسې یوې داخلي جګړې سره مخ کړ چې تر ننه یې لمبې او لوخړې پورته کېږي، چې لسګونه زره انسانان یې په اور کې وسوځېدل او لا نور هم سوځي.

په پاکستان کې هم کله چې ځینې اسلامي تنظیمونو د (بل چا) د قربانیو له برکته د ولس خواخوږي حاصله او په ۲۰۰۲ م کې یې د سرحد صوبې (خیبر پښتونخوا) انتخابات وګټل او خپل حکومت یې جوړ کړ، نو د خپل حکومت په ټوله موده کې یې یو اسلامي قانون هم نافذ نه کړای شو. او نه یې د اسلام په ګټه کوم داسې اقدام وکړای شو چې تاریخ یې د هغوئ د لاسته راوړنې په حیث له ځانه سره وساتي. بلکې په ډېرو مشکلاتو یې یوازې هغه کارونه پر مخ بوتلل چې سیکولر حکومتونو به په آسانۍ پر مخ بیول. او د اځکه چې دغه ډیموکراتیک حکومت ته د مرکزي حکومت لخوا د اسلام د تنفیذ اجازه نه ورکول کېده، او دوئ هم له ډیموکراسۍ (جمهوریت) سره د (وفادارۍ) سوګند پورته کړی وو.

همدغه ډول په ټولې اسلامي نړۍ کې اسلامي شریعت له عملي کېدو څخه لیرې ساتل کېږي او پلویان یې له حاکمیت څخه محرومېږي، که څه هم چې د ډیموکراسۍ له لارې واک ته رسېدلي وي.

نو معلومه شوه چې په ډیموکراسۍ کې د صحیح اسلام لپاره هېڅ ځای نشته. البته دا کېدی شي چې د ډیموکراسۍ له لارې دې کفر د اسلام په حیث معرفي شي.

د ډیموکراسۍ په هکله د دغې مقالې په پای کې دې نتیجې ته رسېږو چې ډیموکراسۍ یو غیر اسلامي، کفري او شیطاني دین دی چې د انساني ژوند ټولې خواوې یې احتوا کړې دي. ډیموکراسۍ په حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې له الله ﷻ څخه د بشریت لپاره د هر ډول نظام او قانون د جوړنې د حق سلبول او د هغه – نعوذ بالله – بې واکه کول دي. ډیموکراسي په غرب کې د مسیحیت د انحراف او د الحاد د رامنځته کېدو په نتیجه کې منځته راغلې ده چې هر څه ورکښې له هر دیني قید او بند څخه آزاد او د انسانانو په خپله خوښه تر سره کېږي. په ډیموکراسۍ کې د الله ﷻ منل او نه منل دواړه یو ډول ارزښت لري. ځکه چې د منلو په صورت کې یې بیا هم د قانون او شریعت منل د ډیموکراسۍ د اصولو خلاف کار دی.

ډیموکراسۍ د غرب د ملحدو فیلسوفانو د افکارو او نظریاتو پر بنسټ ولاړه ده او له اسلام سره هېڅ ډول مشابهت او رابطه نه لري. خو غرب پلوي سیکولر (بی دینه) عناصر او له هغوئ څخه یو څو متأثر غولېدلي مسلمانان کوښښ کوي چې عامو مسلمانانو ته په درواغو د اسلام او ډیموکراسۍ تر منځ روابط او مشابهتونه وتراشي، تر څو لدې لارې هغوئ د ډیموکراسۍ د کفري دین په خلاف له مبارزې او جهاد څخه راوګرځوي.

ډیموکراسي په اسلامي نړۍ باندې د غربي استعمار او تسلط د دائمي ساتلو یو خطرناک تضمین دی چې غرب یې د زور، زر، تزویر، زندان، او مرګونو په مټ په اسلامي نړۍ کې د خپلو غلامو حکومتونو له لارې خوندي او تلپاتې ساتي، او د هغې د خپرلو او تنفیذ په لاره کې په زرګونو ملیارده ډالره، په لکونو پوځیان او پوځي وسایل مصرفوي او د مخالفت د له منځه وړلو لپاره یې په لکونو مسلمانان په اسلامي هېوادونو کې وژني، او اسلامي حرکتونه او نهضتونه لدې وېرې له منځه وړي چې مظلوم او ځپل شوي مسلمانان د ډیموکراسۍ له کرغېړن حقیقت څخه خبر نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چې افغانستان د غرب تر یرغل لاندې راغلی پدې هېواد کې یې مرګونې جګړه پدې خاطر روانه کړې چې ډیموکراسي ورکښې نافذه کړي، نو په کار ده چې افغان مسلمان ملت د خپل دغه دښمن په فکري، عقائدي او اخلاقي ماهیت پوه شي، او د دښمن هویت ورته له هرې زاویې معلوم شي. د همدغه مقصد لپاره مې دغه موضوع په تفصیل سره د خپل مجاهد ملت بچیانو ته د لسګونو کتابونو له منځه او د زرګونو صفحو له مطالعې وروسته راووېسته او په روانه ساده ژبه مې د خپل ملت د هغو ځوانانو مخې ته کېښوده چې له اسلام څخه د دفاع په لاره کې هرې قربانۍ ته تیار او عملاً د ډېموکراسۍ د کفر په خلاف په جهاد بوخت دي.

په پای کې دومره ویل غواړم چې که پدې موضوع کې زه حق ته رسېدلی یم نو دا به د الله ﷻ له لوري وي. او که چېرې زه په کوم ځای کې خطا شوي یم نو دا به زما د کم علمۍ او ناتوانۍ نتیجه وي چې له مخلصو علماؤ څخه یې د تصحیح لپاره د متوجه کولو هیله لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امــريكـايي اســلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ډوله اسلام

په اوس وخت کې په نړۍ کې دوه ډوله اسلام وجود لري. يو هغه اسلام دي چې الله ﷻ پر محمد ﷺ نازل کړی او هغه خپل امت ته په مکمل ډول رسولي دی، او د اسلامي امت د تاريخ په اوږدو کې مسلمانانو منلی او هم يې په خپل فردي او اجتماعي ژوند کې تطبيق کړي دی. او همدا ډول يې له هغه څخه د دفاع په لار کې په ميليونونو سرونه قربان کړي دي.

د اسلام علماؤ هم تل د همدغه اسلام په اړه د دښمنانو د تورونو او شکونو علمي او معقول ځوابونه ويلي او د دغه دين د مختلفو اړخونو او احکامو د شرح کولو لپاره يې په لکونو کتابونه ليکلي چې د نړۍ په بېلابېلو ژبو کې په پراخه پيمانه موجود دي. دا هغه اسلام دي چې الله ﷻ له هغه څخه پرته بل هېڅ دين نه قبلوي، لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ ﴾ آل عمران: ١٩

ترجمه: (د اللهﷻ په نزد منل شوی دين اسلام دی).

﴿ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥ ﴾ آل عمران: ٨٥

او که څوک پرته له اسلام څخه بل دين غواړي نو هېڅکله به ورڅخه و نه منل شي او په آخرت کې به له زيان کارانو څخه وي.

دغه اسلام هغه دين دی چې په هېڅ صورت په او هېڅ وخت کې کافران د هغه له دښمنۍ څخه لاس نه اخلي، او په هر شکل او وسيله به د هغه د منونکو په خلاف په هميشني جنګ اخته وي. او تر هغه به دغه جنګ جاري ساتي تر څو مسلمانان له اسلام څخه وباسي، چې دغه کار به هېڅکله تر سره هم نه کړاي شي. الله ﷻ فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ وَلَا يَزَالُونَ يُقَـٰتِلُونَكُمۡ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمۡ عَن دِينِكُمۡ إِنِ ٱسۡتَطَـٰعُواْ ﴾ البقرة: ۲۱۷

ترجمه: (همېشه به وي کافران چې جګړه به کوي له تاسې سره تر هغې چې بېرته وباسي تاسې له خپل دين (اسلام) څخه که چېرې دوئ په دې کار وتوانېږي).

يعنې تر څو چې مسلمانان په هغه اسلام ټينګ ولاړ وي چې الله ﷻ نازل کړی دی، نو د کفارو جنګ به د دوئ په خلاف هر وخت په يوه يا بل شکل حتماً روان وي، او دوئ به مسلمانان يوازې هغه وخت د دوئ دوستان ګڼي چې هغوئ له اسلامه ووځي.

الله ﷻ په بل آيت کې همدغه مفهوم داسې بيانوي: ﴿ وَلَن تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَـٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡ ﴾ البقرة: ۱۲۰

ترجمه: (هېڅکه به يهود او نصارى له تاڅخه خوشحاله نه شي تر هغه چې د دوئ پر ملت (دين) روان نه شې).

له يادو شويو آيتونو په واضح ډول معلومېږي چې **(الهي اسلام)** هېڅکله يهودو، نصاراؤ او نورو کافرانو ته د منلو نه دی. او له همدې امله يې په ټوله دنيا کې خپل ټول مادي او معنوي وسائل په کار اچولي ترڅو **(الهی اسلام)** په هېڅ ځای کې تطبيق نه شي. او که چېرې تطبيق شوی هم وي هغه بايد په هره طريقه چې وي له منځه يوړل شي.

خو د **(الهي اسلام)** په مقابل کې يو بل ډول اسلام هغه دی چې غرب او په سر کې يې امريکا د هغه د معرفي کولو، خپرولو او تطبيقولو لپاره کار کوي، او خپل ټول مادي او معنوي وسائل په کار اچوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترڅو په اسلامي نړۍ کې همدغه (**امریکایي اسلام**) د (**الهی اسلام**) پرځای د مسلمانانو په ژوند کې ځای ونیسي.
د امریکایي اسلام د معرفي کولو لپاره د امریکا تر ټولو مهمې تحقیقاتي اداري RAND Corporation (رنډکارپوریشن) چې په امریکا کې د امریکا نظام ته له امریکا څخه د دفاع لپاره د تحقیقاتو، مشورو ورکولو او استراتېژکو مطالعاتو لوی او مهم مرکز دی او د معاصرې امریکا لوی رهبران او مفکرین یې غړي او مشاورین دي چې د هغوئ په ډله کی د امریکا پخواني د دفاع وزیران (هارولډ براون)، (فرانك کارلوچي)، (ولیام پیري)، (ډونالډ رامسفیلډ)، د ملی امنیت پخواني لوی مدیران او مشاورین (سیکوکرفت)، (کنډولیزا رایس)، (زلمی خلیلزاد)، په دوهمه نړیواله جګړه کې د امریکایي پوځ لوی قومندان جنرال (آرنولډ)، د امریکا معاصر فیلسوف او مفکر (فرانسیس فوکویاما) او د امریکا پخوانی مشهور خارجه وزیر (هنري کیسنجر) شامل دي. دغه مرکز د امریکا لپاره د اسلامي نړۍ په اړه د پالیسۍ جوړولو ستر تحقیاتي مرکز دی، او د امریکا حکومت ته د اسلامي نړۍ په چاروکې په سیاسي، اجتماعي، دفاعي او استراتیژیکو چارو کې پالیسۍ جوړوي، او د اسلامي چارو څېړونکي ورکې د مسلمانانو پر ژوند مسلسلې څېړنې کوي او نتائج یې د امریکا د حکومت بېلابېلو ادارو ته د تطبیق لپاره ورکوي، د همدغې اداري یوې ډلې مستشرقینو چې Cheryal Benard یې مشري کوي یوه طرحه وړاندې کړې ده.
چېریل بینارډ Cheryal Benard چې په خپله یهودۍ او د افغاني الاصله امریکایي (زلمي خلیل زاد) ښځه ده دغه طرحه یې د Civil democratic Islam Partners Resources and strategies یعنې (متمدن، دیموکراتیک اسلام، ملګري، منابع او استرتیژای) په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامه په دري اتیا صفحو کې ترتیب کړې چې د خلیل زاد تر څنګ نهو نورو څېړونکو هم ورسره مرسته کړې ده.
یاده شوې طرحه یو نوی امریکایي اسلام معرفي کوي، او بیا د دغه نوي اسلام د خپرولو لپاره په اسلامي نړۍ کې ملګري تشخیصوي، او هغه منابع هم په ګوته کوي چې د دغه نوي اسلام په تطبیق کې ورڅخه استفاده کېدی شي. او همدارنګه د الهي اسلام د له مسخه کولو او یا محدودولو لپاره استراتیژي هم وړاندې کوي.

د امریکایې اسلام تعریف

هغه اسلام چې امریکا یې غواړي (چیریل بنارډ) یې پدې ډول تعریفوي:

(امریکا، نوې صنعتي نړۍ او په مجموع کې بین المللي ټولنه داسې یو اسلام غواړي چې د نورې نړۍ له نظامونو سره پر یوه لار روان شي. ډیموکراتیک او مترقي اسلام وي، او پر نړیوالو قوانینو، احکامو او اخلاقو وچلېږي).[1]

په یاد شوي تعریف کې لاندې نقطې مشخصې شوې دي:

۱ـ اسلام باید د امریکا او بین المللي ټولنې په خوښه وي.

۲ـ اسلام باید یو بېل تشخص او ځانګړی نظام ونه لري، بلکې د نورې نړۍ له نظامونو سره دې یو شی وي.

۳ـ اسلام دې ډیموکراټیک وي. یعنې د خلکو لخوا دې رامنځته شي، نه دا چې د (وحیې) پر بنسټ دې ولاړ وي.

۴ـ اسلام دې خپل زړو شکل پرې ایښی وي، او نوی مترقي شکل دې یې غوره کړی وي.

1- اتم مخ Civil democratic Islam Partners Resources and strategies

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ ـ دغه اسلام دې په احکامو او اخلاقي فلسفه کې د غرب له احکامو او اخلاقو سره یو ډول وي.
چېريل بنارډ وروسته په همدې صفحه کې د دغه اسلام د منونکو د ملاتړ او تشويق په هکله ليکي:
«دا به د حکمت کار وي چې په مسلمانانو کې د هغو عناصرو ملاتړ او تشويق وشي چې له (نړيوالې سولې) او (بين المللي ټولنې) سره يو ځای پر لاره ځي او ډيموکراسي او تمدن خپلوي»([1])
په پورتنۍ جمله کې دغه مفاهيم جوت شوي دي:
۱ـ د ټولو مسلمانانو ملاتړ بايد ونه شي، بلکې د خاصو عناصرو ملاتړ دې وشي.
۲ـ د هغو عناصرو ملاتړ دې وشي چې له کفارو سره هېڅ ډول مشکل نه لري، بلکې له هغوئ سره په نړيواله سوله کې ژوند تېروي، او په جهاد هېڅ باور نه لري، که څه هم چې کفار په مسلمانانو هرڅه کوي.
۳ـ د هغو مسلمانانو ملاتړ دې وشي چې ډيموکراسي د ژوند د تګلارې او غربي تمدن د ژوند د بنې په حيث مني.
ليکواله د مسلمانانو او کفارو تر منځ د بېلوالي عامل د دغو دوو امتونو تر منځ د غرب له فرهنګ څخه چې هغه يې (نړيوال فرهنګ) بولي د مسلمانانو ليرې والی ښيي او ليکي:
«له نړيوال معاصر فرهنګ څخه د مسلمانانو ليرې والي د هغوئ او د نورو ترمنځ د کړکيچ زمينه برابره کړې ده»[2].
د پورتني عبارت معنی داده چې د مسلمانانو او نورو ترمنځ به تر هغه وخته کړکېچ دوام لري ترڅو چې مسلمانانو خپل اسلامي

1- پورتنۍ مرجع.
Civil democratic Islam Partners Resources and strategies -2

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ پرې ایښې نه وي او نړیوال فرهنګ یې خپل کړی نه وي. او هر کله چې د فرهنګ دغه توپیر له منځه ولاړ شي نو کرکېچ به په خپله له منځه ځي. او دا کټ مټ هماغه مفهوم دی چې الله ﷻ یې په قران کریم کې داسې یادونه کړې ده:

﴿وَلَن تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡ﴾ البقرة: ۱۲۰

ترجمه: (یهود او نصارى به تر هغه له تا څخه راضي نشي ترڅو چې د دوئ ملت ونه منې).

او دا ښکاره خبره ده چې ننی (نړیوال نظام) او (نړیوال فرهنګ) یهودانو ایجاد او ډیزاین کړي، او نصارى یې چې برتانیه او امریکا یې په سر کې دي په ټولې نړۍ تطبیقوي. او د همدغه نړیوال فرهنګ د عملي کولو لپاره یې ټوله اسلامي نړۍ د جنګ میدان ګرځولې ده ترڅو خپل نوی اسلام ورکې عملي کړي.

د امریکایي اسلام د خپرولو پلان

د کتاب لیکواله چیریل بنارډ د خپل کتاب په نهم مخ کې د نوي امریکایي اسلام د پیروانو د نقش د تقویه کولو لپاره یو منظم پلان وړاندې کوي او امریکایي حکومت ته د توصیې په شکل لیکي:

(د دې لپاره چې په اسلامي نړۍ کې پراخې ډیموکراسۍ، ماډرنیزم، او له معاصر نړیوال نظام سره د یو ځای کېدو په خاطر یو مثبت بدلون رامنځته شي امریکا او غرب ته په کار ده چې په ټول جدیت او دقت سره په مسلمانانو کې هغه عناصر ولټوي چې اسلام (امریکایي اسلام) تقویه کېدل غواړي. او همدا راز پر امریکا او ملګرو یې لازمه ده چې د دغو عناصرو لپاره په دقت سره اهداف او ارزښتونه وټاکي، او پدې هم پوه شي چې د دغو عناصرو دکار له پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه کوم نتائج په لاس ورځي. او کېداى شي چې د دوئ د تقويې لپاره لاندې پروګرامونه په نظر کې ونيول شي:
۱ـ د دغو عناصرو ليکنې او مطبوعات بايد چاپ او په ارزانه خپاره شي.
۲ـ بايد دغه ډلې او عناصر تشويق کړاى شي چې د عامو خلکو او ځوانانو لپاره ليکنې وکړي.
۳ـ د دوئ نظريات او افکار بايد د حکومتي تعليمي نصاب د دينياتو په کتابونو کې ځاى کړاى شي.
۴ـ هغوئ ته بايد راډيوګانې، ډله يزې رسنۍ او د وينا منبرونه په اختيار کې ورکړاى شي.
۵ ـ د اسلامي احکامو او مسايلو په اړه بايد د دوئ تعبير او تفسير په خلکو کې عام کړاى شي، تر څو وکولاى شي له هغو بنسټګرو سره رقابت وکړي چې مدرسې، معاهد او کتابخانې لري، او د نظرياتو د خپرولو لپاره عصري اليکترونکي وسايل په کار اچوي.
۶ ـ (ماډرن) او (سيکولر) علماء بايد په پراخه پيمانه خلکو ته معرفي شي، تر څو د دوئ له لارې د قهرېدلو مسلمانو ځوانانو څپاند عواطف او احساسات ساړه کړاى شي.
۷ـ د غير اسلامي تاريخ او فرهنګ د پوهې او کتابونو د خپرولو لپاره بايد خپروونکي تشويق شي، او د چاپ او خپرولو چارې يې ورته آسانه شي. او هم بايد دغه ډول معارف د اسلامي هېوادونو په تعليمي نصاب او مطبوعاتو کې ځاى پرځاى کړاى شي، په خاص ډول هغه تاريخ او معارف بايد ډېر خپاره شي چې له اسلام څخه د مخه په اسلامي هېوادونو کې موجود ول.
۸ ـ د مدني ټولنې په نامه دې د مستقلو تنظيمونو، ټولنو او احزابو په رامنځته کولو کې مرسته وکړاى شي، ترڅو د مدني ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ په خلکو کې خپور شي. او هم دې د عامو خلکو لپاره د سياسي اجرآتو د زده کړې او د بيان د آزا دۍ فرصتونه برابر کړای شي([1]).

په افغانستان کې د امريکايي توصيود تطبيق مثالونه او مصداقونه

د دې لپاره چې عام افغانان پدې پوه شي چې د دغې امريکايې اداري RAND Corporation د (امريکا يي اسلام) د خپرولو پلان په افغانستان کې په څه ډول عملي کېږي؟ او څوک ورته په کوم شکل کار کوي؟ د ياد شوي پلان په اته ګونو مادو جلا جلا لنډه تبصره کوو او عملي مثالونه او مصداقونه يې ښيو:

او له ماده د ديموکراتيک اسلام د پلويانو د ليکنو د چاپولو او ارزانه خپرولو توصيه کوي چې په افغانستان کې پدې ډول تر تطبيق لاندې نيولې شوې ده:

امريکا په افغانستان باندې له خپل يرغل سره سم اکثره هغه افغاني ليکوالان، اديبان، شاعران، فلم جوړونکي، ژورنالستان، مترجمين، ممثلين (سينماګران)، ناشران، علمي او فرهنګي کدرونه او اشخاص چې په غرب کې روزل شوي او يا له غربي فرهنګ څخه متأثر شوي وو له ځانه سره افغانستان ته راوستل، او دلته يې ورته د فکر په بېلابېلو ډګرونو کې د کار فرصتونه او وسائل تيار کړل.

دغو واردو شويو عناصرو دلته په فکري او فرهنګي ډګرونو کې ښه پراخه کار شروع کړ، او په سلګونو کتابونه، مجلې، اخبارونه، نشريې او خبرڼې يې رامنځته کړې. دومره په پراخه پيمانه مطبوعات

1- ۷۲ مخ Civil democratic Islam Partners Resources and strategies

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځته شول چې د اخستلو يې څوک نه پیداکیږي او په بېلابېلو ادارو او افرادو په وړیا ډول وېشل کیږي.

دا چې عام افغانان د اقتصادي کمزورتیا او یا د نورو دلایلو له امله په کتاب او مطبوعاتو پیسې نه ورکوي او نه مطبوعات داسې محتوی خپروي چې د ملت د ذوق مطابق وي او د افغانانو د مشکلاتو حل دې وړاندې کړای شي، بلکې ټول یې تقریباً د (وارداتي) مفاهیمو او نظریاتو په خپرولو بوخت دي، نو له همدې امله اوسني افغاني مطبوعات د سرمایه ګذارۍ او تجارتي فعالیت پر اساس نه چلیږي، بلکې د همدغو امریکایانو او د هغوئ د ملګرو لخوا مرسته ورسره کیږي، او ټول مصارف يې د بېلابېلو امریکایي او اروپایي مؤسساتو لخوا د هغه پلان د تطبیق پخاطر ورکول کیږي چې د RAND Corporation لخوا په مسلمانانو کې د یوه (ډیموکراټ اسلام) د خپرولو په خاطر جوړ شوی دی.

دوهمه ماده د ډیموکراټ اسلام پلویان عام ولس او په خاص ډول ځوانانو ته د ډېرو لیکلو لپاره تشویقوي چې د دې مادې تطبیق هم په پوره جدیت تر کار لاندې نیول شوی دی.

ټول هغه لیکوالان او د قلم خاوندان چې یو څه لیکلی شي په لوړو معاشونو د بېلابېلو مؤسسو لخوا په فرهنګي کارونو ګومارل شوي دي. او دغه سیکولر لیکوالان بیا نه یوازې دا چې په سیاسي او اجتماعي موضوعاتو کې لیکنې کوي، بلکې په دین او شرعي موضوعاتو کې هم خپل نظریات ښکاره کوي. او ځینې خو يې حتی په علني ډول د ارتداد تر سرحده پورې د رسېدلو جرأت هم کوي چې مثالونه يې (علي محقق نسب)، (پرویز کامبخش)، (لطیف پدرام) او ځینې نور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې لړ کې ځينو نورو په تحريف شوي شکل د قران کريم ترجمه چې د قران کريم متن هم ورسره نه ؤ د عامو خلکو د ګمراه کولو په مقصد چاپ کړه چې د افغانستان خلکو د دې ټولو په خلاف شديد غبرګون ښکاره کړ.

د سياسي، ديني او اجتماعي موضوعاتو تر څنګ د ادب او ادبياتو تر عنوان لاندې د اخلاقي فساد په زرګونو فحش، لوېدلې او مبتذلې کيسې ځوانانو ته خپرېږي چې په لوستو ځوانانو او پيغلو کې جنسي عواطف تحريکوي او د فساد لورته يې سوق کوي، چې يو مثال يې (د يوې شپې ډيموکراسي) په نامه کيسه ده چې د يوې خبريالې نجلۍ او يوه بل خبريال هلک ترمنځ په سفر کې د زنا يو کيسه ده چې د آزادۍ دراډيو يوې خبريالې نجلۍ ليکلې وه.

درېيمه ماده توصيه کوي چې د ډيموکراټ اسلام د پلويانو نظريات دې په تعليمي نصاب کې شامل کړای شي تر څو په لازمي شکل ټول خلک د دغو نظرياتو لوستلو ته مجبور شي، او بيا همدغه نظريات د دينياتو د مضمون له لارې د دين او عقيدې په حيث ومني.

پدی لار کې هم امريکا په افغانستان کې د خپلو دوو مؤسسو هرې يوې (USAID) او د (نبراسکا) د پوهنتون له لاري ښه ډېر کار وکړ.

د (نبراسکا) په پوهنتون کې د افغانستان د تعليم او تربيې مرکز د افغانستان د تعليم او تربيې د وزرات لپاره نوي تعليمی نصاب تيار او (USAID) چاپ کړ. دغه نصاب د امريکايي مشاورينو تر نظارت لاندې جوړ شو او ټول هغه مضامين چې د جهاد، له کفارو سره د دښمنۍ، حجاب او پر اسلام د ټينګ پاتې کېدلو مفاهيم ورکې ول هغه يې ټول له نصاب څخه واېستل او پر ځای يې له کفارو سره د سولې او تفاهم، د غرب له نظره د بشر د حقوقو، د ښځو د غربي ډوله آزادۍ، د تروريزم (جهاد) په خلاف د جکړې او د غربي ډوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند مفاهیم ځای پر ځای کړل[1]. همدغه کار نامه د صلیي جګړې اعلانوونکي د امریکا جمهور رئیس (جورج ډبلیو بوش) خپل ولس ته په افغانستان کې د خپلې یوې لویې لاسته راوړنې په حیث داسې اعلان کړه:

"And before the end of the year, we'll have sent almost 10 million of them [that is, new textbooks] to the children of Afghanistan. These textbooks will teach tolerance and respect for human dignity ***instead of indoctrinating students with fanaticism and bigotry***."

– George W. Bush, "Weekly Radio Address," March 16, 2002

(د کال د پای ترمخه به موږ د افغانستان ماشومانو ته تقریباً لس ملیونه درسي کتابونه ورلېږلي وي. دغه کتابونه به هغوئ ته (د نورو په مقابل کې) زغم او د توندلاریتوب او تعصب پر ځای د انساني کرامت احترام ور زده کوي).

همدغه کوښښونه په مسلسل ډول دوام لري او په هر کال کې د دینیاتو، اجتماعیاتو، تاریخ او ادبیاتو په کتابونو کې نوي نوي مضامین داخلېږي. دغه کار نه یوازې دا چې په افغانستان کې جریان لري، بلکې د ټولې نړۍ په اسلامي هېوادونو کې او بیا په خاص ډول په هغو هېوادونو کې چې امریکایې پوځیان ورکې پراته دي او یا هلته د امریکا مصالح تر تهدید لاندې دي په ټول زور سره عملي کېږي. امریکا د دې کار لپاره هر کال په سلګونو میلیونو ډالر د (USAID)، آغاخان فاونډیشن، ایشا فاونډیشن او نورو مؤسسو په

1- پدې هکله د مثال په ډول د امریکایانو د وخت او د مجاهدینو د وخت د نصاب د اول صنف مقارنه د همدې کتاب (***د امریکایانو له راتګ سره په تعلیمي نصاب کې تبدیلي***) تر عنوان لاندې کې وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیتار کې ورکوي تر څو په تدریج سره د مسلمانو هېوادونو تعلیمي نصابونه له حقیقي اسلام څخه خالي او پر ځای یې د (نوي ډیموکراټ اسلام) مفاهیم خلکو ته ور معرفي کړي.
د RAND Corporation د امریکایي اسلام د طرحې څلورمه ماده په اسلامي نړۍ کې سیکولرو عناصرو ته د رسنیو په اختیار کې د ورکولو خبره کوي چې په افغانستان کې پدې ډول عملي شوه:
د دې لپاره چې په افغانستان کې ډېموکراټو او سیکولر عناصرو ته د وینا د رسولو پراخ وسایل او ډېر فرصتونه په لاس ورغلي وي امریکا یو منظم تبلیغاتي پلان جوړ کړ چې په درې سطحو کې تطبیق شو:
اول: ټولې هغه بهرنۍ راډیو ګانې چې د افغانستان لپاره یې د ورځې د نیم ساعت یا یو ساعت پروګرامونه درلودل خپل پروګرامونه یې دولسو او څلرویشتو ساعتو ته وغزول، تر څو په پراخه پیمانه د ټولنې ډېر خلک تر تبلیغاتي پوښښ لاندې ونیسي، او د غو راډیوګانو چې پخوا یې یوازې اخباري پروګرامونه درلودل اوس یې د هغو تر څنګ په پراخه پیمانه د سیاسي، اجتماعي، تعلیمي، ادبي، فرهنګي، اقتصادي او دیني پروګرامونو سلسلې او سریالونه خپرول هم شروع کړل. او هم دغو راډیوګانو د افغانستان تکړه خبریالان، ژورنالستان، څېړونکي، ادیبان سیاسي کار پوهان د ډېرو لوړو ډالري معاشونو په بدل کې خپلو ادارو ته جذب کړل، تر څو د افغانانو د (غربي) کولو لپاره هر اړخیز کار وشي.
غرب د امریکا غږ او بي بي سي راډیو تر څنګ نورې راډیوګانې لکه د آزادۍ راډیو چې د امریکا د کانګرس لخوا چلېږي، ډیوه راډیو او د مشال راډیو هم په کار واچولې. او بیا غرب د خپلو دغو راډیوګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره سیمه ییز د F.M ستېشنونه هم په بېلابېلو ښارونو کې پرانستل، تر څو خپل نشرات په ښه کیفیت خلکوته ورسولی شي.

دوهم: غرب په افغانستان له خپل یرغل څخه وروسته د افغانستان په بېلابېلو لویو ښارونو کې په لسکونه محلي نادولتي راډیوګانې فعالې کړې او په زرګونو د امریکايي اسلام منونکي یې ورکې توظیف کړل، چې هره یوه یې د بېلابېلو اهدافو لپاره خپرونې کوي. پدې لړ کې یوازې د کابل له ښار څخه ۴۹ دولتي او نا دولتي راډیوګانې خپرونې کوي.[1]

دریم: امریکایانو د افغانستان د ولایاتو په ډېرو ولسوالیو کې محلي راډیوګانې جوړې کړې چې اکثره یې په منطقه کې پرتو د امریکایانو له پوځي مراکزو څخه خپرونې کوي او د دې ټولو لپاره د امریکا د بین المللي پراختیا اداره (USAID) بودیجه برابروي، چې تر اوسه پورې د دغه ډ ول سیمه ییزو راډیوګانو شمېر په ولسوالیو کې تر ۲۵۰ راډیوګانو رسېدلی دی.[2]

دا ټول هر څه هماغه د RAND Corporatio د (ډیموکراټ او متمدن) اسلام د پلویانو د پیغام د خپرولو لپاره تر سره کېږي.

د دغه امریکايي پلان پنځمه ماده دا ده چې اسلامي احکام باید هغه ډول تعبیر او تفسیر شي چې د امریکا سیکولر ملکري یې غواړي. یعنې د اسلام دین باید د غربي کلتور د مفاهیمو مطابق د غرب لخوا د وضع شویو بشري حقوقو په چوکاټ کې تعبیر شي. او هر هغه حکم چې د غرب له بشري حقوقو، نړیوالو میثاقونو، بین المللي قوانینو او همدارنګه د غربي فرهنګ له معیارونو سره مخالف وي

[1]-http://www.elections.pajhwok.com/dr/node/6691

[2]- http://www.bbc.com/persian/afghanistan-38954508

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه باید ارتجاعي، بیرته پاتې او زوړ وبللی شي، چې اوس د دوئ په ګومان د تطبیق وړتیا نه لري.
غرب همدغه تجربه په ډېرو اسلامي هېوادونو لکه: ترکېې، مصر، لیبیا، تونس، الجزائر، مراکش، هندوستان، پاکستان او نورو اسلامي هېوادونو کې تکرار کړې ده، چې په نتیجه کې یې هلته د خلکو په ذهنونو کې د داسې یو اسلام تصور قائم شوی چې له کفر او کفري ژوند سره هېڅ حساسیت نه لري، او له نورو ادیانو او مذاهبو سره یې دومره دښمني نشته لکه له حقیقي اسلام سره یې چې لري.
همدغه وجه ده چې غرب ځپلي تش په نامه مسلمانان د اسلامي نظام د قائمولو تر غربیانو هم سخت دښمنان دي، او په هر قیمت یې د قیام مخه نیسي.
امریکا او ملګري یې اوس غواړي په افغانستان کې هم همدغه ډول یو غرب پلوی اسلام چې تفسیر او تعبیر یې د غرب له معیارونو سره سم تر سره کېږي عملي کړي، چې پدې لړ کې یې لاندې اقدامات تر سره کړي دي:

د اسلام د غربي تعبير لپاره په افغانستان کې د امریکا اقدامات

اول: د حقیقي اسلام د پلویانو (مجاهدینو) فکر او تصور د یو افراطي، بیګانه، تند لاري او داسې یو فکر او تصور په حیث معرفي کول چې د تطبیق وړتیا نه لري. او د هغه پر ځای له غرب څخه په راغلو نظریاتو، د افغانانو په زړو رواجونو، له شریعت څخه د منحرفو خلکو په خواهشاتو ټینګار کول او هماغه د دین په حیث معرفي کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم: راډیوګانو، تلویزونونو او نورو رسنیو ته د هغو علماؤ رابلل چې د غرب د نظریې مطابق د اسلام تفسیر کوي او اسلام یې له استشراقي منابعو څخه زده کړی وي.

دریېم: د امریکایانو د ګوډاګي رژیم لخوا په مرکز او ولایاتو کې د یرغلګرو په بودیجه دیني مدرسې جوړول او په هغو کې د هغه دیني نصاب تدریسول چې د تعلیم او تربیې په وزارت کې د دیني تدریساتو د ریاست لپاره د امریکایي مشاورینو تر نظارت لاندې جوړ شوی دی.

څلورم: د افغانستان عدلي او قضائي سیستم چې تر ډېره حده په اسلام ولاړ ؤ اوس په هغه کې د ایټالیا د هېواد لخوا بیا کتنه او تعدیلات راوستل شول او هم د ایټالیا د حقوقي او قانوني ماهرینو له لوري د افغاني قاضیانو، څارنوالانو، عدلي او حقوقي کارپوهانو روزل چې له تېرو اوو کلونو راهیسې په مسلسل ډول دغه پروسه په چټکۍ سره روانه ده په سلکونو میلیونونه ډالر د دې لپاره ورباندې مصرفېږي چې د افغانستان عدلي او قضائي نظام هم د همغه اسلام مطابق عیار کړي چې د RAND Corporation لخوا یې د Civil democratic Islam په نامه طرحه تیاره شوې ده.

د دې مقصد لپاره په تېرو اتو کلونو کې په افغانستان کې د ایټالیا د سفارت له لوري د افغانستان د عدلي او قضایي سیستم د ادارو د کارکوونکو، قاضیانو، څارنوالانو، حقوق پوهانو، مدافع وکیلانو او نورو لپاره په لسګونو تعلیمي سمینارونه جوړ شول. له دغو سیمنارونو څخه فارغ شوو قاضیانو ته له حکومتي تنخواه څخه علاوه هره میاشت د ایټالیا د هېواد لخوا د هغوئ د رتبو او فعالیت په تناسب په سلګونو ډالره نور معاش هم ورکول کېږي، تر څو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عدلي او قضائي سیستم د غربي کولو د پروسې په وړاندې حساسیت ونه ښئي.

پنځم: په افغانستان کې د مصر د الازهر د سیکولر ډوله پوهنتون د څانګې پرانستل:

امریکا پدې پوهېږي چې تر څو پورې افغانان له خپلو مخلصو علماؤ څخه په مسجد، محراب او مدرسه کې دین زده کوي نو تر هغه پورې به په افغانستان کې خلک حقیقي اسلام د دین په حیث مني او له هغه څخه د دفاع پخاطر به په ملیونونو ککرۍ هم قربانۍ ته وړاندې کوي، لکه چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې ولیدل شول.

نو باید امریکایان د افغاني مخلصو علماؤ او د هغوئ د مدارسو پر ځای افغانانو ته داسې نوي او غرب پلوي علماء چې په امریکایي اسلام روزل شوي وي له بل ځایه راوارد کړي، او دغه ډیموکراټ علماء باید له داسې یوه هېواد څخه را وارد کړي چې هم د غرب لپاره کار وکړي، او هم یو څه دیني او علمي وجاهت ولري، چې دغه صفات په اوسني ازهر او ازهري علماؤ کې لېدل کېږي. له همدې امله د کابل ګوډاګۍ اداري له مصر څخه چې په عربي نړۍ کې د اسرائیلو او امریکا تر ټولو لوی حلیف دی په کابل کې د ازهر د پوهنتون د یوې څانګې د پرانستلو غوښتنه وکړه چې ومنله شوه.

یوه خبره د یادولو وړ ده چې ازهر پخوا د حقیقي اسلام د زدړه کړې مرکز، د اسلام یوه ستره کلا او له الله ﷻ څخه د وېرېدونکو علماؤ د روزنې ځای وو، خو اوس ازهر د مصر د سیکولر حکومت یوه (سیکولر ډوله) او دمصر د حکومت تابع تعلیمي مؤسسه ده چې یو مسخ شوی اسلام تقدیموي. د ازهر اوسني ډېری مدرسین داسې خلک دي چې ږېرې یې خرېیلې وي، تدین یې کمزوری وي، هر څه چې حکومت ورته وایي هماغه تدریسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نږدې ماضی کې چې څومره ازهریان او یا د مصر د پوهنتونونو فارغان جمهور رئیسان او یا وزیران او د لوړو رتبو خاوندان شوي دي ټولو یې ښه تاریخ نه دی پرې ایښی. د مثال په ډول په اندونیزیا کې عبدالرحمن وحید، په مالدیف کې مأمون عبدالقیوم، په افغانستان کې رباني او مجددي د رئیسانو په حیث او سیاف د یوه تنظیم د مشر په حیث، او د سترې محکمې رئیس عبدالسلام عظیمي هم یو سیکولر ازهری عالم دی.
په اوسنیو ازهریانو کې د ټولې اسلامي نړۍ په سطحه یوه مشترکه نظریه موجوده ده او هغه دا چې د غرب په خلاف هر ډول مسلح فعالیت باید جهاد ونه بللی شي، هغه ته باید تروریزم، افراطیت او خارجیت وویل شي، باید د هغه مخالفت وشي او ځوانان ورڅخه واړول شي، چې همدغه د غرب هدفونه هم دی. تر اوسه پورې ډېر لږ معاصر ازهریان داسې لیدل شوي چې د اسلام لپاره او د غرب په خلاف د جهاد په اړه یې ښه مواقف لرلي وي.
امریکا اوس په افغانستان کې د ازهر د پوهنتون د څانګې له لارې د امریکایي (سیکولر اسلام) علماء روزل غواړي، تر څو په مستقبل کې د دغه ډول (امریکایي اسلام) لپاره کار او دعوت وکړي، او هم په سیمه کی د ریښتنیو او مخلصو مسلمانو علماؤ په مقابل کې یوه داخلي جبهه پرانیزي.
شپږم: شپږمه ماده ټولنې ته د دیموکراتو علماؤ د معرفي کولو توصیه کوي چې په افغانستان کې پدې ډول عملي شوې ده:
امریکایانو له خپل یرغل وروسته ټول حق پالونکي علماء په یوه او بل نامه تر تعقیب او مجازات لاندې ونیول. ځینې. یې بندیان کړل، ځینې یې شهیدان کړل، او ځینې نور یې د هېواد پرېښودلو او یا د خولې بندولو ته اړ کړل، تر څو پدې ډول منبر، محراب، مکتب او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدرسه له هغو علماؤ څخه خالي کړي چې د (امریکایي اسلام) د خپرېدو مخینوی کوي. او په عین وخت کې یې دغه تشه په هغو علماؤ او پوهانو ډکه کړه چې له امریکا او غرب څخه متأثره دي، ډیموکراسي منې، او د ډیموکراسۍ په چوکاټ کې هغومره دیني فعالیت کوي چې ډیموکراسي ورته اجازه ورکوي او د دې لپاره چې د ډیموکراسۍ د افادیت او د بیان د آزادۍ دروغجن حق یې ادا کړی وي کله ناکله د حکومت په ځینو اقداماتو نقد هم کوي، چې پدې کار سره دوه هدفه تر لاسه کول غواړي، چې یو یې د یرغلګرو ترڅنګ په خپل شتون د هغوئ تور مخ ورسپینول او بل خلکو ته دا ورښودل چې امریکایان له علماؤ سره هېڅ دښمني نه لري. او که څوک غواړي د اسلام لپاره کار وکړي، نو رادې شي د دوئ په څېر دې د ډیموکراسۍ په قالب کې دین ته خدمت وکړي.
امریکایانو دغو غرب پلوو ملایانو او استاذانو ته د شهرت د ترلاسه کولو لپاره د نشراتو اجازه هم ورکړې ده. په مرکز او ولایاتو کې یې د مراکزو د جوړولو او د هېواد په پوهنتونونو کې د محصلینو او استاذانو په منځ کې د علني فعالیت جواز هم ورکړی دی. د دغې اجازې په بدل کې دغه تش په نامه مسلمانان د امریکا له لوري جوړ شوي ګوډاګي حکومت ته لاندې خدمات تر سره کوي:

امریکا ته د غرب پلوو علماؤ خدمات

اول: په افغانستان کې د دیني علماؤ په حیث د ډیموکراسۍ منل او له یوه سیکولر ډیموکراټ حکومت سره حساسیت نه ښودل.
دوهم: د ځوانانو او عامو مسلمانانو له ذهن څخه د جهاد، قتال، هجرت، ولاء او براء یعنې (د الله ﷻ لپاره له چا سره د دوستۍ او دښمنۍ کولو) د مفاهیمو وېستل، خلکو ته دا خبره ورتلقینول چې جنګ او ټوپک د مشکل حل ندی، او هم دا چې همدې جنګ او ټوپک

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان وران کړی دی، نور باید له نړیوالې ټولنې سره د وطن په آبادولو کې لاس یو کړو. او هم خلکو ته دا تبلیغات کول چې مجاهدین د فلاني او فلاني جهت ایجنټان دي او هېڅ افغاني اجنډا نه لري، نو باید د هغوئ خبره ونه منل شي.

له جهاد او قتال څخه د خلکو را ایسارول یو لوی منافقت او د امریکایانو د هدف پوره کول دي چې دغه ډول ډیموکراټ علماء یې په ډېرې بې شرمۍ ترسره کوي.

درېیم: د شکوکو او شبهاتو په خپرولو د حقیقي علماؤ د دعوت په وړاندې د خنډونو راولاړول: لکه ځوانانو ته دا ویل چې د جهاد لپاره د متفق علیه امیر شتون او د بیرغ یو والی شرط وي چې اوس په افغانستان کې نشته، نو پر همدې بنا په اوسنیو شرایطو کې جنګ شرعي جهاد نه، بلکې د وطن ورانول دي. خو دوئ د نفاق له مخې له خلکو دا خبره پټه ساتي چې یاد شوي شرایط (د طلب په جهاد) یعنې هغه جهاد کې چې مسلمانان یې د کفارو په خاوره کې کوي ضروري دي. اوس خو په افغانستان کې دفاعي جهاد دی چې پر ټولو افغانانو د لمانځه په څېر فرض دی.

څلورم: په اسلامي نړۍ کې د غرب یو لوی هدف دا دی چې څنګه مسلمانې ښځې له کور څخه دباندې راوباسي او هغه موانع او بندونه مات کړي چې د ښځو او نرو ترمنځ د اختلاط مخنیوی کوي. پدې لار کې غرب په تدریج سره حرکت کوي او ټول ممکن وسائل په کار اچوي، که څه هم چې ځینې به یې ظاهراً اسلامي بڼه هم ولري، لکه په ۲۰۰۹ / ۷ / ۴ تاریخ کې چې د کونړ په مرکز اسد آباد کې د امریکا د (P. R. T) د ولایتي بیارغونې ادارې د یو سل او اتیا زره ډالرو په مصرف خاص د ښځو لپاره د یوه مسجد بنسټ کېښود. ډېره د تعجب خبره ده چې امریکا دې طالبان، عالمان او په مساجدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې په لمانځه ولاړ مسلمانان په بمباردونو وژني، خو د هغوئ ښځو او خویندو ته دې بیا په ښارونو کې له خپلې جنګي بودیجې څخه ځانګړې ښځینه مساجد جوړوي.
دغه ډیموکراسي پلوي علماء د دیني غونډو، تعلیمي محافلو او تربیوي اجتماعاتو په نامه په زرګونو مسلمانې خویندې او میرمنې له کوره د باندې را وباسي او په پارکونو، د ښارونو په عیدګاه ګانو او لوبغالو کې ورته د راجمع کېدلو فرصتونه برابروي. دا کار که څه هم چې د دین په نامه تر سره کېږي، خو په حقیقت کې هماغه د غرب د اجنډا پوره کول دي چې د مسلمانو مېرمنو له کوره دباندې وېستل غواړي. د اسلام په تاریخ کې مسلمانو علماؤ د دعوت دغه ډول اسلوب ښځو ته د دین د ورزده کولو لپاره نه دی غوره کړی، او نه هم دا د اسلام له هغه عمومي روح سره سمون لري چې د ښځو لپاره یې کورونه تر مساجدو هم د عبادت لپاره غوره ګڼلي دي.
د (رنډکار پوریشن) د امریکایې طرحې اومه ماده په اسلامي هېوادونو کې د غیر اسلامي هېوادونو او ولسونو د تاریخ او تمدن د معرفي کولوخبره کوي، او بیا په خاص ډول توصیه کوي چې له(اسلام څخه د مخکې) زمانې تاریخ دې مسلمانانو ته معرفي شي تر څو هغه خپل تاریخ وګڼي، او هغه ته د خپل ځان په منسوبولو افتخار وکړي.
پدې هکله امریکا پلوي حکومت تر اوسه په پراخه پیمانه د مکتب په کتابونو کې لدې وېرې پراخ تغییر ندی راوستلی چې د افغانستان په کلیو او ولسونو کې لا تر اوسه اسلامي احساس ژوندی دی او ډېرې سیمې داسې دي چې حکومت ورباندې تسلط نه لري، خو همدغه کسر یې د مېډیا او مطبوعاتو له لارې پوره کړی دی. او هغه پداسې ډول چې ښه ډېر تلویزونونه او راډیوګانې چې د پردیو لخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمولبږي او سیکولر افغانان یې چلوي شپه او ورځ افغانانو ته د غرب او د هندوانو تاریخ، تمدن او فرهنګ وړاندې کوي.
داچې د دغو تلویزونونو چلوونکي د هغو غربیانو لخوا استخدام شوي دي چې د افغانستان اوسنی حکومت یې هم جوړ کړی دی نو ځکه خو د ګوډاګۍ اداري د اطلاعاتو او کلتور وزیرانو (عبدالکریم خرم او مخدوم رهین) ونشو کولای چې ځینې تلویزونونه له هغو نشراتو څخه منع کړي چې د افغانانو له دین، فرهنګ، اخلاقو او ملي ارزښتونو سره په تضاد کې دي.
همدا ډول هغه سیکولر لیکوالان او څېړونکي چې له اسلام او اسلامي تاریخ سره کینه لري کوښښ کوي چې خپلې لیکنې په افغانستان کې له اسلام څخه د مخه زمانې د تاریخ او ادیانو لپاره وقف کړي، تر څو وکولای شي خلکو ته دا ورتلقین کړي چې اسلام او اسلامي تمدن د افغانانو په تمدني ژوند کې یو عارضي شی دی چې د فاتحینو په زور دلته راغلی دی، او هم دا چې د دغو ولسونو اصالت په (آریائیت) (زردشتیت) (مزدکیت) او (بودایيت) کې دی. له همدې امله ورته په بودا پورې تړلي آثار او د تېرو پخوانیو ادیانو پاتې شوني ډېر د اهمیت وړ دي. او د هغو په هکله په سلګونو مقالې په (دایرة المعارفونو) او نور مجلو کې چاپوي. او له دې لارې هڅه کوي خلک له اسلام څخه په مخکې زمانې پورې وتړي.
د رنډکار پوریشن د پلان اتمه ماده په اسلامي نړۍ کې د سیاسي پلورالیزم (سیاسي څوګوني توب)، د مدني ټولني او د سیاسي احزابو او تنظیمونو د رامنځته کولو توصیه کوي او د ولس عام خلک په سیاسي اجرآتو کې فعال مشارکت ته وربولي. دغه توصیه چې په حقیقت کې د اسلامي ټولنې د ټوټه کولو او په بې شمېره ګوندونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې د وېشلو يوه د سيسه ده په افغانستان کې هم په ډېر مهارت سره عملي شوه.

د امريکا له راتګ وروسته افغاني ټولنه چې لا د هغه وخت د اتو يا نهو احزابو د تفرق او منازعاتو له بلا څخه خلاصه شوې نه وه او نه يې هغه درزونه سره ببرته سره پيوند شوي ول چې د مجاهدينو د اوو ګوندونو او د شعيه ګانو د دوو ګوندونو د جګړو په نيتجه کې په افغاني ټولنه کې رامنځته شوي ول چې امريکايانو افغاني ټولنه يو ځل بيا ببرته په تقريباً دوو سوو سياسي احزابو او ډلو وويشله.

هر اروپايې هېواد د تقريبا يو يو درجن سياسي احزابو د تأسيس، تمويل او چلولو کفالت پر غاړه واخيست. له اروپايي هېوادونو پرته ګاونډيو هېوادونو هم په افغانستان کې پر قومي او ژبنيو بنسټونو د خپلو سياسي او کلتوري مصالحو د خوندي ساتلو په هدف احزاب او ټولنې رامنځته کړې او د هغو لپاره يې په پراخه پيمانه تبليغاتي وسائل او ډله ييزې رسنۍ په کار واچولې.

دغو احزابو او سياسي جريانونو افغانې ټولنه پداسې ډول و وېشله چې د وحدت خبره يواځې داسې يو شعار پاتې شو چې هېڅ عملي تحقق نشي موندلای.

مستعمرين هر ځای استعمار شوي ملتونه همداسې په ډلو او ټپلو وېشي، تر څو د دوئ په خلاف د يو کېدلو امکان له لاسه ورکړي. او هم هره ډله د بلې په مقابل کې د ځان لپاره محتاجه وساتي او په دې ډول د خپلو پاليسيو او طرحو د عملي کولو لپاره له يوه څخه زيات بديلونه په اختيار کې ولري. او همدغه د انګريزانو د پخواني استعماري شعار عملي مصداق دی چې وايې divide and rule يعنې (بېل يې کړه ايل يې کړه).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سیاسي اجرآتوکې د عامو خلکو د ګډون او د بیان د غربي ډوله آزادۍ مقصد دا دی چې په مسلمانانو کې د اطاعت اوله مرکز څخه د ملاتړ پر ځای په محلي سطحه د تصمیم نیولو متعدد مراجع رامنځته شي، او د ټولنې افراد دېته تشویق شي چې مرکزي حکومتونه د خپلو سیاسي اقداماتو په نتیجه کې تر فشارونو لاندې وساتي، چې دا په یوه وخت کې غرب ته دوه فایدې په لاس ورکوي، چې یوه یې د مرکزي حکومتونو کمزوري کول او بله یې په عامو خلکو کې په خلاص لاس د فعالیت د زمینې برابرول او هغوئ د حکومتونو په مقابل کې د بېلابېلو سیاسي او اجتماعي جریاناتو له لارې متحرک کول دي.

د اسلام پرضد له رواجي ملایانو څخه کار اخیستل

د RAND Corporation تحقیقاتي اداره د امریکایې اسلام د خپرولو په کار کې یوه ډله نور خلک هم تشخیصوي چې اصلاً د دوئ ملګري نه دي، خو له هغوئ څخه استفاده ورته ممکنه ده.

دغه ډله خلک هغه رواجي ملایان دي چې د شرعي علم پانګه یې لږه ده، د اسلام له روح او له عمومي رسالت سره یې آشنایي کمزورې ده، او د شرعي علم د تقاضا مطابق د ټولنې له تنظیمولو او لاربښوونې عاجز دي، خو په Professional (حرفوي) ډول په ټولنه کې د دیني چارو په سمبالولو کې اخته دي. او د هر هغه حرکت او نوښت مخالفت کوي چې غواړي اسلام له رواجي شکل څخه راوباسي او بېرته یې خپل هغه اصلي شکل ته ورستون کړي چې یو وخت یې په ټوله نړۍ کې هم دین او هم دنیا سمبالوله.

دغه ډول رواجي ملایان فکر کوي چې پدغه ډول یو بدلون دوئ خپل هغه ټول مادي او معنوي مصالح له لاسه ورکوي چې په (حرفوي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملایۍ کې يې لري. نو له همدې امله نه غواړي تحریکي او په سیاست پوه علماء دې په ټولنه کې د دوئ ځای ونیسي.
د «رنډ کارپوریشن» څېړنیز مرکز د خپل دغه **کتاب** civil democratic Islam په دوه اویایمه صفحه کې هغه لارې چارې په ګوته کوي چې څنګه رواجي ملایان د جهادي فکر او د تحریکي علماؤ او ځوانانو په خلاف استعمال کړای شي، هغه لیکي:

«د رواجي ملایانو هغه نیوکې او انتقادونه چې د جهادي تحریکی فکر د لرونکو په کړو وړو يې لري باید په ښه زور او شور سره نشر کړای شي، او د دې دواړو ډلو تر منځ دې د اختلاف اور نور هم تازه کړای شي.

د بنسټګرو او رواجي ملایانو د یوځای کېدو په لاره کې باید خنډونه ایجاد کړای شي.

د رواجي ملایانو او غرب پلوو ډیموکراټو علماؤ تر منځ دې د نږدې کولو کوښښونه تشویق کړای شي.

رواجي ملایانو ته باید له بنسټګرو سره د مناقشو او مناظرو ښوونه وکړای شي، تر څو و کولای شي د استدلال په ډګر کې د بنسټګرو مقابله وکړای شي. او دا ځکه چې په عمومي ډول بنسټګر د بلاغ او استدلال په ډګر کې تر رواجي ملایانو ډېر قوي دي.

په ځینې هېوادونو کې باید رواجي ملایانو ته د«ډیموکراټ اسلام» تعلیم او تربیت ورکړای شي، تر څو په قوت سره د بنسټګرو په مخکې ودریدلی شي.

د رواجي ملایانو په مدرسو او مراکزو کې دې «ماډرن» علماء ځای پر ځای کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو حنفي رواجي ملایانو ملا تړ دې وشي او نظریات دې یې خپاره شي چې د ماډرن علماؤ له نظریاتو سره توافق لري، تر څو د سخت دریزه وهابي نظریاتو مخنیوی وربانديې وشي، چې دغه کار پیسو او علم ته ضرورت لري، ځکه چې د سخت دریزه وهابي نظریاتو د خپرولو لپاره هغوئ هم ډېر مال مصرفوي او هم یې په علمي لحاظ ډېر پرمختګ کړي دي.[1]

د پورتنیو یادوشویو توصیو د عملي کولو پخاطر ولیدل شول چې امریکا تر خپل یرغل وروسته په افغانستان او پاکستان کې له رواجي ملایانو او د هغوئ له مدارسو په لاندې ډول استفاده وکړه:

په افغانستان کې د امریکا حکومت په مرکز او ولایاتو کې د علماؤ شورى ګانې جوړې کړې، هغوئ ته یې معاشونه مقرر کړل، او د مجاهدینو د بد معرفي کولو لپاره یې له منبر او محراب څخه سوء استفاده وکړه. دغو رواجي ملایانو یرغلګر مستأمنین او مجاهدین باغیان وبلل.

حکومت هر کال د دغو اجیرو ملایانو یو زیات شمېر په دولتي پیسو حج ته هم ولېږل.

د کرزي د ادارې د تعلیم او تربیې وزیر فاروق وردګ د 2013م د ډسمبر په ۱۱تاریخ ولسي جرګې ته اعتراف وکړ چې له همدغو نیمه باسواده ملایانو څخه یې ۶۵۰۰ تنه پرته لدې چې شهادتنامې ولري د هېواد د معارف په نظام کې د استاذانو په حیث مقرر کړي دي.

د امریکایانو په لاس د جوړ شوي حکومت لخوا د ملایانو د روزلو په هکله د بي بي سي راډیو پښتو څانګې ویبسایټ د ۲۰۱۳م کال د

1- ۷۲ مخ Civil democratic Islam Partners Resources and strategies

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپتمبر په ۶ تاريخ وليکل چې: (افغان حکومت ۲۰۰۰۰ ملايان روزي). ددې خبر تفصيلات په لاندې ډول دي:

((په افغانستان کې شاوخوا ۲۴۰ زره امامان او مؤذنان فعاليت لري.

افغان دولت د متحده عربي اماراتو په مرسته د جوماتونو د امامانو د روزنې لپاره يو پراخ روزنيز پروګرام پيل کړی دی.

په پام کې ده چې د دې پروګرام له مخې ۲۰۰۰۰ ديني عالمان او امامان وروزل شي.

د روزنې د دې پروګرام يوه برخه په مصر کې د الازهر پوهنتون د استادانو له خوا پرمخ وړل کېږي.

په پام کې ده چې د افغانستان د جوماتو د امامانو د روزنې د دې پروګرام په لړ کې ۱۰۰۰۰ تنه امامان له کابله او ۱۰۰۰۰ تنه نور له ولايتونو وروزل شي.

د جوماتونو د امامانو زياتره به په کابل کې د کورنيو او بهرنيو استادانو له خوا د اوږده مهال لپاره ديني زده کړې تر لاسه کړي.

د حج، ارشاد او اوقافو وزارت د جوماتو رييس مولوي عبد المالك ضيايي وايي په پام کې ده چې يو شمېر نور امامان نورو هېوادونو ته د روزنې لپاره واستول شي.

د روزنې په لومړيو پړاوونو کې اول نمره، دويم نمره او دريم نمره ټاکو. په دې کار سره ۴۰کسيزه ډله جوړېږي. دا ۴۰ کسيزه ډله بيا متحده عربي اماراتو ته استول کېږي. بيا چې کله دا ډله بېرته هېواد ته ستنه شي نو هغوی بيا نورو علماوو ته په مرکز او ولايتونو کې زده کړه ورکوي. "

په افغانستان کې شاوخوا ۲۴۰ زره امامان او مؤذنان فعاليت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې ډلې یوازې نژدې ۴۰۰۰ یې له ارشاد، حج او اوقافو وزارت سره ثبت شوي دي.
دغه راز په افغانستان کې له ۱۲۰۰۰ جوماتونو یوازې ۱۴۰۰ یې له ارشاد، حج او اوقافو وزارت سره ثبت شوي دي.
اوس د الازهر پوهنتون د استادانو له خوا د قباء اصلاحي مرکز په نوم د یوه نادولتي مرکز په همکارۍ د جوماتونو امامانو او خطیبانو ته د دوئ له زده کړو په پراخه او لوړه کچه دیني زده کړې ورکول کېږي.
د دې مرکز مشر (محمد قاسم حلیمي) وایي له منبر څخه باید په ټولنه کې د سوله ییز ژوند کولو او د ټولنې د سمون لپاره کار واخیستل شي.
په کابل کې د مصر سفارت قونسل محمد صبري وایي د الازهر د پوهنتون شاوخوا ۵۰ دیني عالمان په کابل کې دي او د افغانستان په دیني مدرسو او ښوونځیو کې د تدریس ترڅنګ د خطیبانو او امامانو د روزنې چاره هم پر غاړه لري:
موږ پوهېږو چې افغانستان کې مشري د علماوو په لاس کې ده. دوئ د دې هېواد اساس جوړوي او خلك تل د دوئ خبرې اوري. موږ غواړو یو دیني عالم مخکې له دې چې منبر ته پورته شي او خلکو ته د دین پیغام ورسوي هغه باید په هر څه پوه وي. د هغه پیغام باید پر **سخت دریځۍ** ولاړ نه وي بلکې په اعتدال او منځ لاریتوب باید متکي وي.
موږ دا درك کړې چې د افغانستان او مصر علماء باید د د دیني مفاهیمو د ښه درك لپاره پخپل منځ کې د نظرونو تبادله وکړي.
زموږ لپاره د دین اساس منځلاریتوب دی. "
افغان حکومت یوازې ۳۶۰۰ امامانو او خطیبانو ته د میاشتې شاوخوا ۴۰۰۰ افغانۍ میاشتنې معاش ورکوي او پاتې نورو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرې سيمې له رواج سره د خلکو له خوا د مياشتې ټاکلې اندازه پيسې ورکول کېږي.

هغه چې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت چارواکو په وينا د امامانو ترمنځ د يوه واحد غږ د رامنځ ته کولو مخه يې ډب کړې ده)).[1]

همدا ډول په پاکستان کې امريکا پلوي حکومت د پاکستان د رواجي او جمهوريت پلوو ملايانو ټول تنظيمونه، مدارس او دارالافتاء ګانې د (لال مسجد) له حرکت، د نفاذ شريعت محمدي له حرکت او د طالبانو له حرکت څخه نه يوازې دا چې ليرې وساتلې، بلکې په ښکاره يې له هغوئ څخه د دغو جهادي او تحريکي نهضتونو په غندلو کې بيانونه هم صادر کړل، او هم يې له هغوئ سره د همکارۍ د نه کولو فتواګانې ورڅخه صادرې کړې، چې دې کار په پاکستانۍ ټولنه کې د رواجي او جمهوريت پلوو ملايانو موقف ته ډېر سخت تاوان هم ور واړاوه، او د عامو مسلمانانو ديني اعتماد يې له هغوئ څخه سلب کړ.

د دې تر څنګ دا هم وليدل شول چې د برتانيې او امريکا حکومتونو په مستقيم ډول د پاکستان له ځينې مشهورو مدارسو او په خاص ډول له هغو سره چې په صوبه سرحد کې نه دي تماسونه ونيول، او ځينې مشهورو مدرسو خو لا په کراچۍ کې په هغو موضوعاتو کې چې غرب ته په اوسني وخت کې ډېر اهميت لري، لکه د بشر د حقوقو، د نورو دينونو په مقابل کې د زغم، سوله ييز ژوند او د يته ورته نورو موضوعاتو کې (تقريري مسابقې) هم په کار واچولې، او په دغو مسابقو کې د کاميابانو لپاره درنې نقدې جائزې هم په نظر کې نيول شوې وې.

---

[1]- http://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2013/09/130906_ss-afghanistan-to-train-mullahs

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپږمي توصيې د پرځای کولو لپاره په افغانستان کې د P. R. T ګانو او امریکایانو لخوا په بېلابېلو ولایاتو کې مساجد او مدارس جوړ شول او هغه ماډرن یا رواجي ملایان ورکې موظف شول چې له جهاد او مجاهدینو سره کینه لري.

او همدارنګه په پاکستان کې د دیني مدارسو په چوکاټ کې حکومتي ډوله د شرعیاتو غیر رسمي فاکولتې هم جوړې شوې، او هغه محصلین ورکې جذب شول چې پخوا یې مدرسې نه وې ویلې. د دولتي پوهنتونونو او کالجونو دغه فارغان یوازې په څو لنډو دورو (Short courses) کې د برخې اخیسلوله لارې چې هغه هم اکثره د حکومتي پوهنتونونو د استاذانو لخوا ورته تر سره کېږي د اسلام د علماؤ په القابو نازول کېږي، او د مدارسو اداري، توجیهي او مطبوعاتي چارې ورسپارل کېږي، تر څو په راتلونکي وخت کې دغه ډله خلک د ماډرن علماؤ په حیث په مدارسو کې تبارز وکړي.

د تعجب ځای خو لا دا دی چې دغه ډول ماډرن شاګردانو ته د شاګردۍ په وخت کې هم تر مدرسینو یې لوړې تنخواګانې ورکول کېږي، پداسې حال کې چې د مدرسې نور طالبان د چندو په راټولولو ګومارل کېږي، او ډېره موده په داسې علومو او فنونو مصروف ساتل کېږي چې اصلاً ورته هیڅ ضرورت نه شته.

همدغه پاکستاني مدارس اوس په ښکاره خپل شاګران له مجاهدینو سره له یوځای کېدو منع کوي، او مجاهدین ورته د دین او د وطن د دښمنانو په حیث معرفي کوي.

البته دغه خبره یوازې په هغو مدارسو پورې خاصه ده چې چلوونکي یې له حکومت سره قوي روابط لري، او سیاسي اجنډا یې هم له حکومت سره شریکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اومې توصيې د عملي کولو لپاره چې بايد د مجاهدينو نظرياتو ته د (وهابيانو نظريات) وويل شي هم په ساحه کې پراخ کار روان دی.
غربي مطبوعات هڅه کوي جهادي فکر يو (وهابې) فکر وښيي او په دې هکله ښه پراخ تبليغات کوي. او هم په غير مستقيمه طريقه رواجي ملايان تحريکوي تر څو له مذهب څخه د دفاع په نامه د هغو عربو مجاهدينو په خلاف موقف ونيسي چې يوازې د الله ﷻ د رضا په خاطر يې د جهاد لاره نيولې ده، او پدې لاره کې يې له ماښيو، وظيفو، هوسا ژوند ، خپل کور او کلي او بالآخره له هر دنياوي نعمت څخه ځانونه محروم کړي دي، د غرونو او غارونو ژوند او د شهادت او ټوټه ټوټه کېدلو مرګ يې خوښ کړی تر څو د الله ﷻ له دين او د مظلومو مسلمانانو له ننګ او ناموس څخه دفاع وکړي.
امريکايان غواړي چې عام افغانان بايد دغه مجاهدين پردي وبولي، خو د دوئ په خلاف راغلي يرغلګر صليبي پوځيان بايد خپل دوستان وګڼي.
او که خبره د(وهابيت وي)، نو د وهابيانو تنظيمونو خو په افغانستان، پاکستان، سعودي او مصر څلور واړو کې له امريکا پلوو حکومتونو سره بيعت کړی دی. او د مجاهدينو په خلاف د حکومتونو له نعمتونو څخه خوندونه اخلي، د مجاهدينو په خلاف فتواوې صادر وي او (خوارج) يې بولي، او په ښکاره د صليبي ځواکونو په خلاف جنګېدونکو مؤمنو مجاهدوته د (ګمراه ډلې) خطاب کوي.

د بنسټګرو مخالفت او مخنيوی

د RAND Corporation امريکايې تحقيقاتي اداره د سيکولر عناصرو له ملاتړ او له رواجي ملايانو څخه د استفادې د لارو چارو تر تشخيصولو وروسته په خپل کتاب ((Civil democratic Islam

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دریښتینیو مسلمانانو چې دوئ یې بنسټګر بولي د مخالفت او مخنیوي یوه مفصله طرحه وړاندې کوي چې عناصر یې په لاندې ډول معرفي کوي او لیکي:

((د اسلام په اړه باید د بنسټګرو د تعبیر او تفسیر مخالفت وشي او غلطي یې بربنډې کړای شي.

د بنسټګرو هغه روابط باید راوسپړل شي چې له غیر شرعي ډلو سره یې لري.

د بنسټګرو زور زیاتی او د هغه عواقب باید خلکو ته نشر شي.

د دې خبرې د اثبات لپاره باید ډېر کار وشي چې بنسټګر د خپلو ټولنو او دولتونو د ترقۍ او پرمختګ لپاره هیڅ پروګرام نه لري. او همدغه پیغام باید په خاص ډول ځوانانو، عامو او ساده خلکو، ښځو او په غرب کې میشتو اقلیتونو ته ورسول شي. (تر څو خلک په هغوئ اعتماد ونه کړي).

د خلکو له ذهنونو څخه باید د بنسټګرو احترام د هغوئ دکارنامو تقدیرول وایستلی شي. او هم باید په بدو نومونو لکه: ویره اچوونکو، ورانکارو او ډارنو یاد کړای شي.

لیکوالان، ژورنالستان او څېړونکي باید وهڅول شي چې د بنسټګرو په هکله د فساد، نفاق او فسق لیکنې وکړي، راپورونه تیارکړي او خپاره یې کړي.

باید کوښښ وشي چې بنسټګر په بېلابېلو طبقو وویشل شي)). [1]

پورتنۍ توصیې هم په دقیق ډول په افغانستان کې په لاندې ډول د عملي کېدلو په جریان کې دي:

1- Civil democratic Islam Partners Resources and strategies

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا د خپلې مېډیا له لارې کوښښ کوي چې (حقیقي اسلام) د مجاهدینو یو خپل (افراطي تعبیر) وبولي چې په اوسنۍ زمانه کې د عملي کېدلو وړتیا نه لري. او هغه (اسلام) حقیقي اسلام وبولي چې د دوئ لخوا په (سیکولر) اسلامي هېوادونو کې رامنځته شوی او همدوئ یې تر شا ولاړ دي.

امریکا او ملګري یې کوښښ کوي چې په درواغو د مجاهدینو او (مافیایي) ډلو تر منځ د روابطو خبرونه خپاره کړي. او د مجاهدینو مصاریف له مخدرو موادو څخه له لاسته راغلو پیسو څخه وګڼي.

د غرب مېډیا شپه او ورځ د مجاهدینو په خلاف منفي تبلیغات کوي چې د امریکا او غرب د ړندو او وحشیانه بمباریو د مرګ ژوبلې پړه پر مجاهدینو واچوي.

که امریکایان په سلګونو کلیوال او عام خلک ووژني هغه یوه سهوه او غلطي هم نه بولي، بلکې اصلاً یې خبر نه تأییدوي، که څه هم چې د دوئ ګوډاګیانو څو څو ځله هغه تأیید کړې هم وي. خو که مجاهدین چېرته کوم خائن، غدار او جاسوس ووژني او یا کوم شرعي حد نافذ کړي نو له هغه څخه بیا ډنډوره جوړوي، او په هفتو هفتو د غرب مېډیا ور باندې مرکې او تبصرې خپروي.

امریکا کوښښ کوي مجاهدین ورانکاري او د سولې دښمنان معرفي کړي. خو خپله یې چې نیم افغانستان لوټې لوټې کړ، په لکونو خلک یې د وطن پرېښودلو ته اړ کړل، او په لسګونو زره بې ګناه خلک یې په تېرو څو کلونو کې ووژل، او مؤسسو یې په لسګونو ملیارده ډالر غلا او اختلاس کړل، خو بیا هم غواړي ځان د سولې کوتره وښیي او د افغانستان د آبادولو دعوی وکړي.

غرب هڅه کوي چې د خپلو تبلیغاتو له لارې د اسلام ریښتیني علماء او مجاهدین د تنګ نظرو، بېرته پاتو، نامهذبو، سخت زړو، کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمو او بې سوادو په حیث معرفي کړي. او د مجاهدینو هغو زړورو او حیرانوونکو کارنامو ته چې ټول کفار یې هیښ او حیران کړي دي ډارن او بزدلانه بریدونه ووایي.

که د اسلام حقیقي علماء بېرته پاتې، نامهذب او کم علمه وي، نو ټول غرب یې د خبرو ځواب په خبرو او منطق ولې نشي ورکولی؟

ولې د خبرو او منطق پرځای له بمونو او مرګونو کار اخلي؟

او که مجاهدین ډارن وي، نو بیا امریکا یوازې ولې نه ور میدان ته کېږي؟

ولې یې ټوله دنیا په زاریو او ننواتو د ځان تر څنګ درولې ده؟

دا چې د ریښتنیو علماؤ او د الله ﷻ د لارې د مجاهدینو په منځ کې که څه هم چې معصوم ندي فسق او اخلاقي فساد وجود نه لري، نو ځکه غرب پلوو لیکوالو ته هم څه په لاس نه ورځي چې لیکل پرې وکړي.

د مجاهدینو پر بېلابېلو ډلو او طبقو د وېشلو هڅه له پخوا راهیسې روانه ده، کله کوښښ کوي یوه ډله د منځلارو په نامه او کله بله ډله د منځلارو په نامه ونوموي. خو تر اوسه هېڅوک د دوئ د خوښې په منځلاریتوب ندي راوتلي، او هغو چې ددوئ په خوښه منځلاری توب منلی هغوئ بیا د مجاهدینو له صفه تجرید شوي دی.

د ډیموکراتو عناصرو مرسته

د (رنډ کارپوریشن) څېړنیز مرکز که په خپلې طرحې کې له یوې خوا د ریښتینو مسلمانانو او مجاهدینو د بدنامولو او په هغوئ پورې د تورونو او تهمتونو د پورې کولو توصیه کوي، نو له بلې خوا په اسلامي هېوادونو کې د هغو بې دینه (سیکولر) عناصرو د تقویې او د هغوئ د مواقفو په ستایلو، او په ټولنه کې ورته د قیادي حیثیت د ورښنلو طرحه هم په لاندې ټکو کې وړاندې کوي او لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((سیکولر او ډیموکرات عناصر باید وپوهول شي چې بنسټګر د دوئ او د امریکا مشترک دښمنان دي.

په اسلامي هېوادونو کې باید کوښښ وشي چې غرب پلوي او ډیموکراټ عناصر له هغو جهتونو سره له ائتلاف څخه لیرې وساتل شي چې له امریکا سره اختلاف لري لکه نشنلستان او یا د کمونیستي ایډیالوژۍ لرونکي عناصر، (هسې نه چې غرب پلوي دیموکراتان د غرب په ځای د بل چا د اجنډا لپاره په کار اخته شي).

په اسلامي نړۍ کې باید د دین او دولت د جلا والي نظریه تقویه شي. او پدې لار کې باید مسلمانانو، ته دا تلقین وشي چې دغه نظریه دین ته هېڅ خطر نه پېښوي، بلکې دین نور هم خالص کوي او تقویه کوي یې.

په اسلامي ټولنو کې باید نوي قیادتونه ایجاد کړای شي او هغوئ ته رشد ورکړل شي.

هغه غرب پلوي نوي قیادتونه چې د ذلیل کېدلو له خطر سره مخ دي باید په هغو کې له مدني حقوقو څخه د مدافعو قیادتونو زړورتیا او مواصفات پیدا کړو. په خاص ډول په ښځو کې لکه په افغانستان کې چې (سیما ثمر) او په مصر کې (نوال سعداوي) رامنځته شوې دي.

د مسلمانانو اکثریت باید په پراخو سیاسي فعالیتونو کې شریک کړای شي، تر څو د عامو مسلمانانو د (افراطي مسلمان کېدو) مخینوی وشي. او د افراطي مسلمان کېدو په عوض دا خبره ورته تلقین کړای شي چې اسلام خو د دوئ د فرهنګ یوازې یو جزء تشکیلوي، او د هغه تر څنګ نور شیان هم شته چې د ټولنې عمومي فرهنګ ترې جوړېږي.

د مدني ټولنې فرهنګ ته دې وده ورکړل شي. په خاص ډول په جنګ ځپلو سیمو، مهاجرینو او له کړکېچ څخه په راوتلو ټولنو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيکولر او ديموکرات قيادت بايد له دغه ډول وضعيت څخه استفاده وکړي، د غير حکومتي مؤسساتو او ټولنو په جوړولو او په کليو او ښارونو کې داسې بنسټيز فرصتونه ايجاد کړي چې په نتيجه کې په خلکوکې معتدل (ماډرن) سياسي قيادتونه او سياسي فرهنګ راوټوکېږي)). ([1])

پورتنۍ يادې شوې توصيې هم د نورو توصيو په څېر په پوره دقت په اسلامي هېوادونو او بيا په خاص ډول په هغو هېوادونو کې چې جهادي حرکتونه ورکې موجود دي عملي شوې دي.

امريکا نه يوازې د سيمې ډيموکراټ او سيکولر عناصر پدې وپوهول چې رښتني مسلمانان د دوئ او د امريکا مشترک دښمنان دي، بلکې عملاً يې ديموکرات حکومتونه د خپل ځان ترڅنګ د مسلمانانو په خلاف د جنګ په صف کې ودرول. همدغه سيکولر حکومتونه دي چې په لکونو مسلمانان بې کوره کوي، وژنې يې او په کليو او کورونو يې پدې جرم بمونه اوروي چې هغوئ اسلامي ژوند غواړي.

همدغو د پرديو په لاس جوړو شويو حکومتونو داسې نظامونه جوړ کړي چې اسلام ورکې هېڅ ځای او نقش نه لري. دين يې د دولت او نظام له چارو محروم کړی، او په ټولنه کې يې يوازې تش نوم غواړي او بس. او که څوک د عملي اسلام غوښتنه کوي هغه د تروريستو، بنسټپالو، سخت دريځو او ورانکارو په نامه ځپل کېږي.

غربيانو مسلمانو ملتونو ته د حقيقي قيادتونو او رښتينيو قهرمانانو پر ځای ډمان، سندرغاړي، لوبغاړي، ګداګر، کرکټيان او د فلمونو ممثلين د قهرمانانو په حيث ورمعرفي کړل. او شپه او ورځ د غرب او

1- ۷۰-۷۳ مخونه Civil democratic Islam Partners Resources and strategies

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوئ د ډيموکراټو ملګرو مطبوعاتي او نشراتي ادارې د همدغو جعلي قهرمانانو په ځلولو او ستايلو بوختې دي. غواړي چې د مسلمانو ولسونو ځوانان دې په هر څه کې د دغو خلکو تقليد وکړي.

غرب دغو جعلي قيادتونو ته د رشد او تبارز ورکولو پخاطر په سلګونو بېلابېلې ټولنې، جرګې، سازمانونه، ادبي بهيرونه، کلبونه، قومي جرګې او کلتوري بنيادونه ايجاد کړي دي، ترڅو همدوئ د ټولنې په اجتماعي ذهنيت کې د قهرمانانو په حيث ځای و نيسي.

په افغانستان او نورو اسلامي هېوادونو کې د ډيموکراټانو تعليمي نظام او مېډيا هڅه کوي خلکو ته اسلام د يو رواجي دين په حيث چې په عرفونو او عنعناتو ولاړ دی ورمعرفي کړي. او دا هم ورته تلقينوي چې اسلام بايد د دوئ د فرهنګ يو جزء وي، نه دا چې د ژوند هر څه دې يې د اسلام تابع وي.

د غرب او د هغه د لاسپوڅو ډيموکراتانو اخبارونه، راډيوګانې او تلويزيونونه د مسلمانانو د بېلابېلو مهمو سياسي، اجتماعي، فرهنګي، پوځي او ستراتيژيکو چارو په هکله له داسې اشخاصو سره مرکې کوي چې هغوئ اصلاً نه په اسلام خبر دي او نه د اسلامي نړۍ د مشکلاتو د تشخيص استعداد او ظرفيت لري. بلکې ټول يې هغه خلک دي چې کوښښ کوي په هر څه کې د غرب تله درنه او دريځ يې پرحقه وښيې. او دا هر څه د دې لپاره تر سره کېږي چې دغه ډول خلکو ته په ټولنه کې قيادي حيثيت ور وبښي.

د بنسټګرو په خلاف هجومي کړنلاره

د Civil democratic Islam کتاب په پای کې د مسلمانانو په خلاف غرب او د هغه سيکولرو ملګرو ته يوه هجومي کړنلاره ټاکي، تر څو اسلام او مسلمانان په خپل کور کې تر هجوم لاندې ونيول شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا توانايي له لاسه ورکړي چې خپل دعوت او جهاد غرب ته ورسوي.

په دغې هجومي کړنلارې کې استعمالېدونکي وسایل بیا هم له اسلامي نړۍ څخه غوره شوي دي، تر څو د مسلمانانو په خپله وسله ببرته همدوئ له منځه یوړل شي.

دغه کړنلاره په درېو مهمو بنسټونو درول شوې ده چې په لاندې ډول دي:

۱ـ مسلمانان له هجومي استعداد او صلاحیت څخه محرومول.

۲ـ له صوفیانو او تصوف څخه د غرب د اهدافو د تر سره کولو لپاره استفاده کول.

۳ـ د نوي نسل غربي ډوله روزل.

چیریل بینارډ دغه هجومي تګلاره پدې ډول تشریح کوي او لیکي:

((... **په بنسټګر اسلام پورې له مربوطو اشخاصو او منصبونو څخه باید د قانونیت او صلاحیت حیثیت سلب کړای شي، او هم ورباندې اخلاقي بریدونه تر سره شي. تر څو هغوئ له خپل ځان څخه په دفاع مصروف وساتل شي او د غرب اخلاقي فساد یې له یاده ووځي**))[1]

همدارنګه له تصوف څخه د استفادې په هکله لیکي:

((**صوفي مذهب ته باید ډېر اهمیت ورکړل شي. هغه هېوادونه چې صوفیانه توجهات لري د هغو اوسېدونکي باید دېته وهڅول شي چې پر خپل صوفیانه تاریخ او فرهنګ ټینګار او ترکیز وکړي او د اسلام صوفیانه فهم ته دې په تعلیمي نصابونو کې ځای ورکړي، ترڅو خلک صوفیانه اسلام ته وروبولي**)). ([2])

1- ۷۲ مخ Civil democratic Islam Partners Resources and strategies

2- پورتنی مصدر ۵۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیریل د تصوف او صوفیانو په هکله لیکي:

((... صوفیان په ماډرنستانو کې شمېرل کېدی شي. هغوئ د اسلام په اړه یو آزاد فکر او تعبیر لري. په کار ده چې په افغانستان او عراق کې چې خلک یې صوفیانه عنعنات لري صوفیانه تأثیرات په تعلیمي نصابونو او د خلکو په کلتوري معیارونو کې تشویق او تأییدکړای شي... صوفی حرکت د خپلې فلسفې، خپلو صوفیانه اشعارو، او خپلې موسیقۍ له لارې د بېلابېلو دینونو تر منځ د وصل کېدو قوي پلونه غزوي)).

له صوفیانو او تصوف څخه د استفادې توصیې په افغانستان کې په لاندې ډول عملي شوې:

د امریکایانو له راتګ سره سم د افغنستان او سیمې په لویو او وړو ښارونو کې د خرافي زیارتونو بازار ډېر ګرم شو. د اطلاعاتو او کلتور وزارت چې امریکایې پلوی (مخدوم رهین) یې په رأس کې وو په ښارونو کې د صوفیانه دربارونو او خانقاوو جوړولو ته پوره توجه وکړه. بېلابېلو منحرفو صوفیانه ډلو په کابل او ولایاتو کې دعوتي پروګرامونه پیل کړل.

حکومت د بلخ په ولایت او د کابل په (کارته سخي) کې په خرافي زیارتونو هلته په ترسره کېدونکو مشرکانه مراسمو په لکونو ډالره ولګول. د سیمې د هېوادونو په مزارونو کې د ملنګۍ، چرسیتوب، موسیقۍ او ګډا د محفلونو د برابرولو لپاره ډېرې آسانتیاوې رامنځ ته شوې. او دا هر څه د صوفیانه اسلام د مظهر او روحانیت ته د توجه تر عنوان لاندې تر سره کېږي. مساجد او مدارس بمبارېږي، مدرسین او طالبان وژل کېږي، خو په مقابل کې یې خانقاوې او صوفیانه دربارونه ودانېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه صوفیانه اسلام ته درواج ورکولو په نیت ۲۰۰۷ م کال د (یونسکو) لخوا د مشهور صوفي شخصیت (جلال الدین رومي) په نامه ونومول شو. او د هغه د صوفیانه شخصیت، فلسفې او افکارو په اړه د اروپا په بېلابېلو ښارونو او استشراقي مراکزو کې سیمنارونه او غونډې جوړې شوې، تر څو د هغه صوفیانه افکار خلکو ته د اسلام په حیث معرفي کړای شي.

امریکا غږ، بي بي سي، آزادي راډیو او د غرب نورو راډیوګانو چې د اسلامي هېوادونو لپاره خپروني کوي په خپلو خپروونوکې د تصوف پروګرامونه پیل کړل او خلکو ته یې دا تلقین ورکوول شروع کړل چې حقیقي اسلام هغه دی چې صوفیان یې غواړي او (ټولو انسانو) ته د قدر په سترکه ګوري. نه هغه اسلام چې مسلمانانو ته د کفارو په خلاف د جنګېدلو امر کوي، هغه چې مجاهدین یې غواړي او د هغه د نافذولو لپاره جهاد او مبارزه کوي.

البته دا خبره باید ضرور واضحه کړای شي چې تصوف په دوه ډوله دی. یو هغه تصوف دی چې خلکو ته د زهد ، تقوی، مأثورو اذکارو او په سنتو د عمل کولو درس ورکوي. چې پدې معنې کې تصوف زهد ، تقوی، حسن خلق او ایثار ته ویل کېږي چې پدې معنی باید هر مسلمان ذاکر او زاهد وي.

او بل فلسفي تصوف دی چې د(وحدة الوجود)، (وحدة الشهود)، (حلول)، (اشراق)، (د عباداتو د ضرورت د نشتوالي) او (یوازې د زړه د پاکوالي) په مشرکانه فلسفې ولاړ دی، چې کټ مټ همدغه ډول تصوف په هندویزم، مسیحیت، یهودیت، بودائیت، کنفوشیسیت، زردشتیت او نورو فلسفو کې هم وجود لري.

دغه ډول تصوف په اسلام کې هېڅ ځای نه لري او د اسلام ربنتنیو علماؤ تل د هغه له خطر څخه مسلمانان وېرولي دي. خو غرب ته بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه تصوف مطلوب دی، ځکه چې په دغه تصوف باندې یهودیت، مسیحیت، هندویزم او نور دینونه او فلسفې د حقیقي اسلام په مقابل کې سره راټولېدی شي. لکه چې همدا اوس يې په ټوله دنيا کې د جهاد په خلاف يوه مشترکه جبهه نيولې ده.

له تعليم څخه د اسلام په خلاف کار اخيستل

دا چې تعليم څه ډول د اسلام په خلاف د يوې وسيلې په حيث وکارول شي او د ښې کارونې په صورت کې کوم نتائج د امريکا په لاس ورځي (چيريل بنارډ) يې داسې وضاحت کوي :

((... **دا په آسانۍ سره ممکنه نده چې بالغ او متدين خلک چې له اسلامي حرکتونو سره تړاو لري تر تأثير لاندې راوستل شي او د خپلو نظرياتو پرېښودلو ته دې وهڅول شي. خو دا کار په ډېرې آسانۍ سره په نوي نسل کې ترسره کېدای شي، پداسې شکل چې د ډيموکراتيک اسلام پيغام او مفاهيم دې ورته په تعليمي نصاب او عمومي نشراتو کې وړاندې کړای شي**))([1]).

وروسته هغه په دې لاره کې د پرتو خنډونو په هکله ليکي :

((... **خو پدې ډګر کې هم بنسټګرو د خپل تسلط د ټينګولو لپاره ډېر کار کړی دی. او ښکاري چې هغوئ د دې ميدان پرېښودلو ته له سختې جګړې پرته تيار نه دي. نو په کار ده چې په هماغه قوت او پيمانه چې بنسټګر پدې ميدان مسلط دي مونږ هم کار وکړو، تر څو دا ميدان هم له دوئ څخه خپل کړو**)). ([2])

1- ۷۲ مـخ. Civil democratic Islam Partners Resources and strategies

2- پورتی مصدر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعليم د استعمالولو په اړه هم د RAND Corporation توصيې ښې په دقت سره په افغانستان او سيمه کې په لاندې ډول د عملي کېدو په حال کې دي:

امريکايانو پر افغانستان د تسلط د قايمولوسره سم په يوه مياشت کې ټول تعليمي نصاب تبديل کړ. د مجاهدينو او طالبانو د وخت نصاب چې له تجربوي علومو سره يې د دين ښوونه هم کوله، لغوه شو، او پر ځای يې د امريکا د (نبراسکا) د پوهنتون لخوا جوړ شوی نصاب مقرر شو.

له نوي تعليمي نصاب څخه د جهاد، هجرت او له کفارو سره د دښمنۍ په اړه ټول مضامين وېستل شوي، او پر ځای يې د سولې او تفاهم، ښځې او نننۍ نړۍ او د تروريزم (جهاد) په خلاف د جدوجهد په هکله مضامين ځای پرځای شوي دي.

امريکا چې د نبراسکا په پوهنتون کې د افغانستان د تعليمي چارو کوم د څېړنو مرکز جوړ کړی ؤ هغه يې افغانستان ته رانقل کړ،او د پوهنې د وزرات د ټولو چارو نګراني يې د دغه مرکز او نورو امريکايي تعليمي مراکزو د مسؤولينو په غاړه ور واچوله.

د امريکا سفارت څو څو ځلې افغان ښځينه او نارينه معلمان د زده کړې او د امريکا د تعليم له روحيې سره د آشنا کېدو لپاره امريکا ته ولېږل، او همدا سلسله لاتر اوسه روانه ده.

د تعليم د(سيکولر) کولو لپاره د کابل د رژيم تر څنګ په سلګونو نورې اروپايي او امريکايې مؤسسې هم په بېلابېلو شکلونو په کار اخته دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي :

۱ـ د آغاخان تعليمي خدمات (AKES)

۲ـ د آغاخان د کلتوري خدماتو مرکز (AKTC)

۳ـ د افغان تحصيلي بورسونو بنياد (FSA)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ـ د افغان ترک د تعلیمي خدماتو مؤسسه (ATCE)
۵ـ د افغانستان انکشافي او تربیوي مرکز (AITM)
۶ـ د افغانستان د لومړنیو زده کړو پروګرام (APEP)
۷ـ د افغانستان دښځو لپاره تعلیمي اوخدماتي مؤسسه (AWSE)
۸ـ د افغانستان د ماشومانو تعلیمي او تربیوي سرکس (MMCC)
۹ـ د افغانستان د ښځو لپاره د بشر د حقوقو د روزنې مرکز(THRA)
۱۰ـ د BBC روزنیزه پروژه: (BBC-AEP))
۱۱ـ د تعلیمي پرمختیاؤ اکاډمي (ACD))
۱۲ـ د زده کړې لپاره مشورتي سازمان (ACT)
۱۳ـ د سرف تربیوي او اضطراري دفتر (SERVE)
۱۴ـ د سي آی سي روزنیز مرکز (CIC- ETC)
۱۵ـ د ښوونې انکشافي مرکز (EDC)
۱۶ـ د افغانستان د ښځو تعلیمي مرکز (AWEC)
۱۷ـ د مېډې د تعلیمي مرستو مرکز (MESAA)

دا ټولې هغه مؤسسې دي چې په افغانستان کې د اروپایې او امریکایي ادارو لخوا په تعلیمي چارو کې د فعالیت لپاره جوړې شوې دي، او ټولې په هم آهنګ شکل په افغانستان کې د تعلیم د نصاب، محیط، تګلارې او اهدافو د غربي کولو لپاره کار کوي.

د امریکایانو له راتګ سره په تعلیمي نصاب کې تبدیلۍ

د امریکا لخوا د افغانستان تر اشغالولو وروسته څو څو ځله تعلیمي نصاب تبدیل شو. اول ځل یې هغه نصاب له منځه یووړ چې د جهاد په کلونو کې د اسلام د اساساتو پر بنا په یوه سالمه اسلامي روحیه لیکل شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجاهدينو د نصاب پر ځای يې يو بل نصاب راوړ چې د جهاد او د دفاع په اړه ټول مضامين او مفاهيم ورڅخه وېستل شوي وو، تر هغه وروسته يې بل نصاب عملي کړ چې په بشپړ ډول د(سيکولريزم) پر روحيه ليکل شوی او عيار شوی وو.
په وروستي نصاب کې داسې ادبيات او مفاهيم ځای کړل شوي دي چې په شعوري ډول نوی نسل له اسلامي مفاهيمو او عقائدو څخه په داسې ډول ليرې کوي او د غرب له فکري، اخلاقي او اجتماعي ارزښتونو سره يې آشنا کوي چې هغوئ ورباندې پوه هم نشي.
د غرب مفاهيم لکه سيکولريزم، ليبراليزم، ډيموکراسي، په غربي معيار بشري حقوق، له کفر او کافرانو څخه کرکه نه کول، له کفارو سره ګډه سوله ييز ژوند او نور ډېر غربي مفاهيم په نوي نصاب کې په ډېرې زيرکۍ او ماهرانه طريقې په تدريجي ډول ځای پرځای شوي دي. او په مقابل کې يې ټول هغه مفاهيم له کتابونو څخه وېستل شوي چې د نوي نسل پر اسلام د ټينګ پاتې کېدلو په مقصد د مجاهدينو د وخت په نصاب کې ځای پر ځای شوي ول.
د دې لپاره چې د دې مدعا ثبوت مو وړاندې کړی وي يوازې د مثال په ډول د مجاهدينو د وخت د نصاب او د امريکايانو تر نګرانۍ لاندې د جوړ شوي نصاب د اول صنف د کتاب محتوی په مقايسوي ډول وړاندې کوو، او د هر مضمون په پای کې د راوړل شوې تبديلۍ د وضاحت پخاطر يوه مختصره تبصره ليکو. لوستونکي به وګوري چې په څومره پيمانه اسلامي مفاهيم يوازې د اول صنف له کتاب څخه وېستل شوي دي:

دمجاهدينو دوخت نصاب   د کرزي د وخت نصاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

(الف)
الله
الله يو د ی.
محمدﷺ د الله جَلَّ جَلَالُهُ رسول دی.

(الف)
الله
الله يو دی.
مونږ د الله بنده ګان يو.

تبصره: د (محمد ﷺ د الله جَلَّ جَلَالُهُ رسول دی) جمله چې د کلمې طيبې دوهم جز دی غورځول شوې ده.

(ب)
بابا
بابا قرآن شريف وايي.
قرآن شريف د الله جَلَّ جَلَالُهُ کتاب دی.

(ب)
بريالی
بريالی کباب خوري.
بابا هم کباب خوري.

تبصره: (قرآن او د هغه لوستل) غورځول شوي. (قرآن شريف د الله کتاب ګڼل) غورځول شوي. او پر ځای يې د ګېډې د خواهشاتو د پوره کولو په مقصد د کباب خوړولو يادونه شوې ده.
تبصره: پاکوالي ته د تشويق پر ځای توپ کولو ته د تشويق مفهوم وړاندې شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پ)
پاک

زه خپل کالي پاک ساتم.
پاکوالی ښه دی.

(پ)
پوپل

پوپل توپ لري.
په توپ لوبې کوي.
زما توپ سپین دی.

(ت)
توره
احمد توره لري.
په توره جهاد کوي.

(ت)
تله
دا تله ده
په تله تول کوي.
توتیا توت تلي.

تبصره: د تورې او جهاد درس ټول غورځول شوی دی.

(ټ)
ټوپک
زما ماما ټوپک لري.
په ټوپک جهاد کوي.

(ټ)
ټال
خاټول په ټال کې زانګي.
ختک د خاټولې ورور دی.

تبصره: د ټوپک او جهاد درس غورځول شوی پر ځای یې د بې پیغامه جملو درس راوړل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ث)
ثواب
د ناروغ پوښتنه ثواب لري.
زه د ثواب کارونه کوم.

(ث)
ثور د پسرلي دويمه مياشت ده.
په ثور کې ګلان شنه کېږي.
کوثر په باغچه کې ګلان کري.

تبصره: د ناروغ پوښتنه او د ثواب کارونه چې ديني مفاهيم دي غورځول شوي دي.

(ج)
جهاد
جهاد فرض دی
احمد جهاد ته تللی دی.
زه به هم جهاد ته ځم.

(ج)
جاله وان
دا جاله ده
سراج جاله وان دی.
جاله له ژیو څخه جوړېږي.

تبصره: د جهاد د کولو او د هغه د فرضيت درس په جالې او جاله وان تبديل شوی دی.

(چ)
چمن
دا چمن شين دی.
په چمن کې ګلان شنه کېږي.
مونږ دچمن ګلان نه شکوو.

(چ)
چمن چار مغز راوړل
کوچی توت او چار مغز خوري.
چمن د مچيو له شاتو سره مينه لري.

تبصره: د چمن د ګلانو د نه شکولو مفهوم د ماشومانو لپاره په اخلاقي لحاظ د توتو او د چارمغزو له خوړلو غوره دی، خو دلته غورځول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ح)
حج
زما کاکا حج ته ځي.
د حامد پلار حاجي دی.
حج کول فرض دي.

(ح)
حج
ذبیح حج ته ځي.
د جمال کاکا حاجي دی.
حج کول فرض دي.

تبصره: مشکل نه لري.

(خ)
خدای ﷻ
خدایﷻ یو دی.
زه د خدایﷻ بنده یم.
زه په خدای ﷻ ایمان لرم.

(خ)
خیمه
کوچیان خیمې لري.
په خیمو کې ژوند کوي.
اختر په خره بار وړي.

تبصره: د خدایﷻ د توحید، د هغه د بنده ګۍ او پر هغه د ایمان درس غورځول شوی او پر ځای یې د کوچیانو د ژوند او د خره یادونه شوې ده.

(ځ)
ځادر
اسلم ځادر لري.
د اسلم ځادر نوی دی.
زه په ځادر لمونځ کوم.

(ځ)
ځرخی
زما مور ځرخی کوي.
ځرخي ته په لومځي ناسته ده.
لومځی د وړیو ځخه جوړېږي.

تبصره: په ځادر د لمانځه کولو دیني مفهوم غورځول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ځ)

ځان

زه خپل ځان پاک ساتم.

زلمی په پاک ځای کې کښیني.

ښه هلک بې ځایه خبرې نه کوي.

(ځ)

ځنګل

دا ځنګل دی.

توریالی هره ورځ ځنګله ته ځي.

ښځې او نارینه په ځنګله کې

پاڼې ټولوي.

تبصره: د ماشومانو لپاره په اخلاقي لحاظ د ځان پاک ساتلو، په پاک ځای د کښیناستلو او د بې ځایه خبرو نه کولو مفاهیم تر ځنګله او په هغه کې له پاڼو ټولولو غوره دي، خو دلته غورځول شوي دي.

(د)

دین

اسلام زمونږ دین دی.

زه په خپل دین سر ورکوم.

روسان او ټول کافران زمونږ د

دین دښمنان دي.

(د)

دوکان

ودود دوکان لري.

په د وکان کې سودا خرڅوي.

داود له ودود سره مرسته کوي.

تبصره: د اسلام د دین، په هغه د سر ورکولو او د دین دښمنانو د پېژندلو، درس غورځول شوی او پر ځای یې د دوکان درس راوړل شوی دی.

(ډ)

ډوډۍ

(ډ)

ډنډ

زه د ډوډۍ خوړلو په شروع کې مونږ په باغچه کې یو ډنډ لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم وایم.
مونږ په کور کې یوځای ډوډۍ خورو.
زما پلار مجاهدینوته ډوډۍ ورکوي.

ماشومان په ډنډ کې لامبو وهي.
مونږ کله کله د ډنډ په غاړه ډوډۍ هم خورو.

تبصره: د ډوډۍ خوړلو په پیل کې بسم الله الرحمن الرحیم ویل، په کورنۍ کې یوځای ډوډۍ خوړل او مجاهدینو ته ډوډۍ ورکول ټول دیني او اخلاقي مفاهیم دي چې ټول له یوې مخې غورځول شوي دي.

(ذ)
ذکر
زه د الله ﷻ ذکر کوم.
مسلمانان د الله ﷻ ذکر کوي.
د الله ذکر ثواب لري.

(ذ)
آذان
ملا آذان کوي.
ذکي جومات ته ځي.
په جومات کې لمونځ کوي.

تبصره: دومره ډیر فرق یې نشته.

(ر)
روژه
روژه نیول فرض دي.
مونږ په کال کې یوه میاشت روژه نیسو.
روژه روغتیا ته ګټه رسوي.

(ر)
رمه
کوثر رمه لري.
رمه په غره کې پیایي.
له رمې څخه شیدې اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصره: د روژې د فرضیت، د روژې د نیولو او د هغې د ګټې درس ټول غورځول شوی دی او پر ځای یې د رمې او غره خبره راوړل شوې ده.

(ړ)	(ړ)
ړوند	د زرګې پلار ړوند دی.
ړوند سړی څه نه ویني.	د ړانده سره مرسته کول ښه کار دی.
د ړانده سره مرسته ښه ده.	ړوند سړی اوربدل، لیکل او لوستل کولای شي.
زه د ړانده سره کومک کوم.	

تبصره: څه مشکل نه لري.

(ز)	(ز)
زکات	زرګر
زکات پر مسلمانانو فرض دی.	زما زوی زرګر دی.
زکات په مال کې برکت پیداکوي.	زمرک له زرو څخه ګاڼې جوړوي.
زکات بې وزلو ته ورکول کېږي.	په ګردیز کې د کاڼو دوکان لري.

تبصره:د زکات د فرضیت، د زکات له امله په مال کې د برکت او بې وزلو ته د زکات د ورکولو د دیني مفاهیمو درس ټول غورځول شوی دی او پر ځای یې د زرګر، زور او کاڼو خبره راوړل شوې ده.
د اول ټولګي د ماشوم لپاره دا جمله غیر منطقي او بې ځایه ده چې وواییي (زما زوی زرګر دی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ژ)

ژمی

ژمي کې ډېر ساړه وي.

ژمي کې واوره اوري.

خلک په ژمي کې تودي جامې اغوندي.

(ژ)

ژرنده

نژند یوه ژرنده لري.

پژواک د نژند ملګری دی.

پژواک ژرندې ته نژدې اوسېږي.

تبصره: د امریکاایي اشغال د وخت د نصاب په درسونو کې د افغانانو لپاره د داسې نومونو د معرفی هڅه شوې چې هېڅ اسلامی معنی نه لري، لکه نژند، پژواک، وږمه، تورګل، ګل اندامه، ګلناره او داسې نور. پداسې حال کې چې افغانان په خپلو اولادونو اکثره داسې نومونه ږدي چې عربي بڼه او دیني مفهوم لري.

(ږ)

ږیره

ږیره پرېښودل مؤکد سنت ده.

زما پلار ږیره لري.

د ږیرې خلالول په اوداسه کې سنت دي.

(ږ)

وږی

وږمې او تورګل غنم وریبل.

سپوږمۍ د غنمو وږي راټول کړل.

وږمې د غنمو د وږو څخه کودې جوړې کړې.

تبصره: د ږیرې د پرېښودلو، د پلار د ږیرې د لرلو او د ږیرې د خلالولو د سنتوالي، د دیني مفاهیمو درس غورځول شوی دی او پرځای یې د وږمې او تورګل د غنمو خبره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(س)
سبق
زه په مدرسه کې سبق وایم.
استاذ مونږ ته سبق ښئي.
ما د قرآن شریف سبق یاد کړی دی.

(س)
سابه
اسلم له بازار څخه سابه راوړل..
بسم الله سابه پاک و مینځل.
سابه روغتیا ته ډېره ګټه رسوي.

تبصره: د مدرسې، سبق ویلو، د استاذ له لوري د سبق ښودلو او د قرآن د سبق دیادولو، د دیني مفاهیمو درس غورځول شوی دی او پرځای یې د سابو خبره شوې ده.

(ش)
شیدې
غوا شیدې کوي.
له شیدو څخه مستې جوړېږي.
زما شیدې خوښې دي.

(ش)
شپون
شپون رمه پیایي.
رمه چې مړه شي بیا شپیلۍ وهي.
دی په غره کې روښې هم خوري.

تبصره: د کرزي د نصاب په درس کې د شپیلۍ د وهلو چې شرعاً یو ناروا عمل دی د تلقین په هدف یادونه شوې ده.

(ښ)
ښار
دا ښار لوی دی.
دا ښار بریښنا لري.

(ښ)
ښار
زه په ښار کې اوسېږم.
ښار جګ جګ تعمیرونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ښار زما خوښ دی. پـه ښار کې کارخانې ډېرې دي.

تبصره: مشکل نه لري.

(ص)
صداقت
صداقت ښه کار دی.
صادق سړی د هر چا خوښ وي.
مسلمان سړی صادق وي.

(ص)
صندلۍ
موږ ژمی صندلۍ ږدو.
د بصير دوئ صندلۍ توده ده.
د صندلۍ ذغال خلاص شول.

تبصره: د صداقت، صادق سړي او مسلمان سړی، عبارتونه چې اسلامي روحيه لري غورځول شوي دي او پر ځای يې د صندلۍ او ذغالو خبره شوې ده.

(ض)
ضرر
ضرر رسول گناه ده.
ښه هلک چاته ضرر نه رسوي.
مسلمان سړی بې ضرره وي.

(ض)
حوض
مونږ په باغ کې حوض لرو.
دا حوض افضل جوړ کړی دی.
په حوض کې ضمير لامبو وهي.

تبصره: ضرر رسول دگناه په حيث معرفي کول، د ښه شاگرد ضرر نه رسول او د مسلمان بې ضرره والی، په اخلاقي لحاظ د ماشومانو لپاره تر حوض او لامبو وهلو غوره دي، خو دلته غورځول شوي دي.

(ط)
طالب

(ط)
طوطي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ورور د مدرسې طالب دی. دا د طاهر طوطي دی.
دعلم طلب په هر مسلمان فرض دی. طاهر له طوطي سره خبري کوي..
طارق د اسلام يو نوميالی مجاهد دی. دخياط طوطي شپيلۍ وهي.

تبصره: د طالب، مدرسې، د علم د طلب د فرض والي او د طارق (بن زياد) د اسلام د نوميالي مجاهد ګڼلو د ديني مفاهيمو ارزښتمن درس غورځول شوی دی. او پرځای يې د طوطي او شپيلۍ وهلو يادونه شوې ده او د همدې درس په صفحه کې د طبلې عکس چې د ډمتوب يوه آله ده هم لګول شوی دی.

(ظ)	(ظ)
ظريف	منظره
ظريف خپل نظافت ساتي.	دا دمحفوظ د کلي منظره ده.
نظافت د ايمان يوه برخه ده.	زمونږ هېواد ښکلې منظرې لري.
نظافت د روغتيا لپاره ګټه لري.	ښکلې منظرې د هر چا خوښېږي.

تبصره: د نظافت ساتل، هغه دايمان يوه برخه معرفي کول او د روغتيا لپاره د نظافت د ګټې ښودل، په يقيني ډول په اخلاقي او ديني لحاظ د منظرې تر معرفي د ماشومانو لپاره ډېر غوره دي. خو دامريکايي اشغال د وخت په نصاب کې غورځول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ع)
علم
دعلم زده کړه په هر چا فرض ده.
مونږ په مدرسه او مسجد کې
علم زده کوو.
بی علمه ژوندون ګران دی.

(ع)
ساعت
دا ساعت دی.
ساعت بېل بېل ډولونه لري.
عبدالله ساعت جوړونکی دی.

تبصره: د علم د زده کړې د فرضوالي، مدرسه او مسجد د علم ځای ګڼل او د بې علمه ژوندون د ګران ګڼلو د دیني مفاهیمو درس غورځول شوی دی، چې له علم، فرض، مسجد او مدرسې سره د دښمنۍ مقصد ورکې له ورایه ښکاري.

(غ)
غیرت
هرمسلمان په اسلام غیرت کوي.
افغانستان یو غرنی اسلامي
مملکت دی.
د افغانستان مسلمانان دهېچا
غلامي نه مني.

(غ)
غابښ
غمی غابښونه برس کوي.
د غمي غابښونه روغ دي.
غمی روغتیا ته ډېر پام کوي.

تبصره: په اسلام د هر مسلمان د غیرت کولو، د افغانستان د غرني اسلامي مملکت ګڼلو او د هېچا د غلامۍ د نه کولو، د مفاهیمو ارزښتمن درس غورځول شوی دی.

(ف)
فرمان
قرآن شریف د الله ﷻ فرمان دی.

(ف)
فوټبال
فواد او غفور فوټبال کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ د الله ﷻ فرمان منلی دی.	دوئ د فوټبال د لوبې سره مینه
مجاهدین د خپل مسلمان امیر	لري.
فرمان مني.	فوټبال کول روغتیا ته ګټه رسوي.

تبصره: قرآن شریف د الله ﷻ فرمان ګڼل، د الله ﷻ فرمان منل، د مجاهدینو له لوري د خپل مسلمان امیر فرمان منل، چې ټول دیني مفاهیم دي غورځول شوي دي.

(ق)	(ق)
قلم	قلم
زما قلم نوی دی.	قدیم سبق وایي.
زه په ډېر شوق خط لیکم.	دی په قلم لیکل کوي.
مقیم او فقیر خبرې کوي.	مقیم په سبق کې ډېر قابل دی.

تبصره: څه مشکل نه لري. ځکه چې د مجاهدینو په نصاب کې په دې درس کې کوم خاص دیني پیغام نه ؤ چې د وېستلو ضرورت یې پېښ شوی وای.

(ک)	(ک)
کور	کور
افغانستان د مسلمانانو کور دی.	زمونږ کور ښکلی دی.
کافران زمونږ د دین او وطن دښمنان دي.	زه خپل کور پاک ساتم.
مونږ په خپله پاکه خاوره کې دښمنان نه پرېږدو.	زمونږ په کور کې ګلان شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصره: افغانستان د مسلمانانو کور ګڼل، کافران د دين او وطن دښمنان ګڼل او په خپله پاکه خاوره د دښمنانو نه پرېښودل، چې ټول ديني مفاهيم دي او د جهاد او دفاع روحيه ورکې پرته ده غورځول شوي دي.

(ګ)

ګل

په پسرلي کې ګلان اوسا ګ شنه کېږي.

په باغ کې رنګارنګ ګلان وي.

ښه شاګرد د ونو څانګې او ګلان نه شکوي.

(ګ)

ګلان

دا دګلوباغ دی.

ګلناري د ګلانو ګېډۍ راوړه.

د ګلنارې برګ ګلان خوښېږي.

تبصره: څۀ مشکل نه لري. کوم خاص اسلامي مفهوم ورکې نه و چې د غورځولو ضرورت يې پيښ شوی وای.

(ل)

لمونځ

پر مسلمانانو لمونځ فرض دی.

مسلمانان په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ کوي.

زه لمونځ کوم.

لمونځ سړي له بدو کارو څخه ساتي.

(ل)

لو

لالالو کوي.

غنم په لاره ريبل کېږي.

لوګرى د لو کالي اغوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصره: د لمانځه د فرض والي، د پنځه وخته لمانځه د کولو او د لمانځه په سبب له بدو کارونو څخه د منع کېدلو درس چې د ماشومانو لپاره ډېر ارزښمن دیني پیغام لري غورځول شوی دی چې له لمانځه سره د دښمنۍ ښکاره بېلګه ده.

(م)	(م)
مجاهد	**مور**
د افغانستان مسلمانان مجاهدین دي.	زما مور کالي ګنډي.
مجاهدین له کافرانو سره جهاد کوي.	مور په اولاد حق لري.
جهاد کول له کافرانو سره فرض دي.	زه د مور احترام کوم.
زما کاکا جهاد ته ځي.	

تبصره: دافغانستان مسلمانان مجاهدین ګڼل، له کافرانو سره جهاد کول، د کافرانو په خلاف د جهاد فرض والی او د کاکا جهاد ته تلل، ټول جهادي مفاهیم دي چې له یوې مخې غورځول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ن)

نوم

زه خپل نوم لیکلی شم.

زمونږ د پیغمبر نوم حضرت محمدﷺ دی.

زمونږ د ټولګي زده کوونکي کېږي.

خپل نوم لیکلی شي.

سپک او بد نوم اخیستل ګناه ده.

(ن)

نارنج

زما نارنج خوښېږي.

نارنج ډېره ښه میوه ده.

په ننګرهار کې نارنج ډېر پیدا

تبصره: د پیغمبر صلي الله علیه وسلم نوم او د سپک او بد نوم اخیستل ګناه ګڼل، چې اسلامي مفاهیم دي غورځول شوي دي.

(ڼ)

منه

دا بڼ د منو ونې لري.

دا منه پخه ده.

پخه منه خوږه وي.

زه خامه منه نه خورم.

(ڼ)

اتڼ

اتڼ دافغانانو ملي دود دی.

افغانان له اتڼ سره مینه لري.

زما اتڼ ډېر خوښېږي.

تبصره: پدې درس کې اتڼ چې د ګډا یو ډول دی، د افغانانو ملي دود ښودل شوی. له هغه سره د افغانانو مینه ښودل شوې، او د شاګرد په ژبه ویل شوي چې زما اتڼ خوښېږي. او د درس په سرکې داسې یو عکس لګول شوي چې د څو ډمانو غټ غټ ډولونه په غاړه دي او یوه ډله ځوانان ګډېږي. درس یوه ناروا عمل ته د ماشومانو د تشویقولو مفهوم افاده کوي، او داسې انګېرنه ورکوي لکه چې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانان ګډېدونکي او اتڼچیان وي. پداسې حال کې چې د افغانانو شهرت د یو قوم په حیث په مېړانه، شجاعت، جهاد او دفاع کې دی. نه په ګډا او اتڼ کې.

(و)

ورور

زما کشر ورور مدرسې ته ځي.

زه دخپل مشر ورور عزت کوم.

ټول مسلمانان سره ورونه دي.

(و)

واوره

په ژمي کې واروه اوري.

واوره ډېره یخه ده.

حامد له خپلو ورونو سره ډېره مینه کوچنیان په واوره کې لوبې لري. کوي.

تبصره: مدرسې ته تلل، د مشر ورور عزت کول، د ټولو مسلمانانو وروري، ټول اسلامي مفاهیم دي چې غورځول شوي دي. او پر ځای یې واوره او په هغې کې د لوبو کولو بې پیغامه جملې راوړل شوې دي.

(هـ)

هوا

په پسرلي کې هوا ښه وي.

د دوبي په ډېره توده هوا کې ګرځېدل ښه نه دي.

سهار تازه هوا بدن ته ګټه رسوي.

زمونږ هېواد ډېره ښه هوا لري.

(هـ)

اره

اره تېره غاښونه لري.

په اره لرګي اره کېږي.

نجار په اره کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصره: په توده هوا کې د نه ګرځېدلو، بدن ته د تازه هوا د ګټې، د هېواد د ښې هوا د ستايلو مفاهيم په صحي، اخلاقي او د هېواد پالنې په لحاظ د ماشومانو لپاره د ارې تر غاښونو او د لرګې تر اره کېدولو غوره دي، خو ټول غورځول شوي دي.

همزه (ء)

قرائت

زه هر سهار د قرآن کريم قرائت اورم.
مونږ د قرآن کريم د قرائت په وخت کې
خبرې نه کوو.
د قرآن کريم قرائت اورېدل ثواب لري.
مونږ اوس د پښتو او فارسي کتاب
قرائت کولی شو.

د (همزی) (ء)
حرف ندی معرفي شوی.

تبصره: د مجاهدينو د نصاب د همزې د حرف ټول درس چې يو اسلامي درس دی غورځول شوی دی.

(ی)

يو

ټول مسلمان په يو الله ﷻ ايمان
لري.
او د يو پيغمبر ﷺ امتيان دي.
ټول مسلمانان ديو اسلامي قانون
پيروان دي.
الله مو يو، قرآن مو يو، پيغمبر مو

(ی)

منی

زړګی خټکی خوري.
خټکي په منې کې پخېږي.
منی د ميوو موسم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو، دین مو یو او قبله مو یوه ده.
هېڅوک نشي کولي چې مسلمانان
سره بیل کړي.

تبصره: د مجاهدینو د نصاب د (ی) درس چې پر الله ﷻ او رسول ﷺ د مسلمانانو د ایمان او د اسلامي قانون د منلو او د ټولو مسلمانانو د وحدت تلقین ورکوي غورځول شوی دی، او پر ځای یې د ختهکي د خوړلو خبره یاده شوې ده.

اسلام

اسلام تر ټولو دینونو غوره دین دی.
مونږ د اسلام د مبارک دین پیروان یو.
حضرت محمدﷺ د اسلام پیغمبر او د مسلمانانو ستر لارښود دی.
امام ابوحنیفه د اسلام یو لوی عالم او مجاهد ؤ.
مونږ د امام ابوحنیفه په مذهب یو.

هېڅ نشته

تبصره: پورتنی درس چې ټول یو مهم اسلامي درس دی، د امریکایي اشغال د وخت له نصابه غورځول شوی دی.

مسواک

مسواک وهل سنت دي.
مسواک وهل روغتیا ته ګټه رسوي.
مسواک وهل غاښونه پاکوي او

هېڅ نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان د ناروغۍ څخه ساتي.
څوک چې مسواک نه وهي خوله
یې بوی کوي او خلک ترې کرکه
کوي او په ډول ډول ناروغیو
اخته کېږي.
تبصره: پورتنی درس هم چې یو دیني درس دی ټول د امریکایي اشغال د وخت له نصابه غورځول شوي دي.

سلام اچول

سلام اچول سنت دي. هر مسلمان
باید بل مسلمان ته سلام واچوي.
څوک چې سلام واچوي باید د هغه
ځواب ورکړ شي. ځکه چې سلام
اچول زمونږ ترمنځ مینه او محبت
پیداکوي.
زلمي پرون خپل پلارته ته وویل:
السلام علیکم، پلار یې وویل:
وعلیکم السلام، شاباش زویه! مونږ
باید مشرانو او کشرانو ته سلام
ووایو.
استاد چې نن ټولګي ته راغی ټولو
ته یې سلام واچاوه او بیایې په درس
پیل وکړ.

هیڅ نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصره: پورتنی درس هم چې ټول اسلامي مفاهیم لري، غورځول شوی دی.

اتحاد

اتحاد ډېر ښه کار دی. الله تعالی مسلمانانو ته د اتحاد امر کړی دی او له بې اتفاقۍ څخه یې منع کړې ده. ځکه چې په اتفاق سره د مسلمانانو ترمنځ مینه پیداکېږي. د افغانستان مجاهدین په اتفاق سره جهاد کوي. پاک الله دې د دنیا ټول مسلمانان په اتفاق ولري (آمین).

هېڅ نشته

تبصره: پورتنی درس د خپل دیني اهمیت له امله ټول د امریکایي اشغال د وخت له نصابه غورځول شوی دی.

زمونږ هېواد

افغانستان زمونږ ګران هېواد دی. کابل زمونږ د هېواد پایتخت دی.

زمونږ هېواد لوی لوی ښارونه او ښکلې هوا لري. روسانو زمونږ پر اسلامي هېواد تېری کړی دی. د افغانستان مسلمان مجاهدین له تېري کوونکو سره جهاد

زمونږ هېواد

زمونږ هېواد ډېر ښکلی دی. ډېر ځنګلونه او لوی لوی غرونه لري. په ښکلو درو کې یې سیندونه بهېږي. او خاوره یې د غلو دانو لپاره زیاته ګټوره ده. دا هېواد په زړه پورې کانونه هم لري. زمونږ هېواد د یو ګډ او شریک کور په شان دی. نو راځئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. د دين او هېواد ساتنه پر چې خپل هېواد ودان او آباد کړو. آباد دې وي زمونږ ګران افغانستان!

مونږ فرض ده.

تبصره: د امريکايي اشغال د وخت په نصاب کې له پورتني درس څخه د اسلامي، مسلمان، مجاهدين، تېري کوونکو، جهاد، دين، هېواد ساتنه او فرض کلمات او مفاهيم چې زده کوونکو ته اسلامي روحيه ورکوي ټول غورځول شوي دي، د آبادۍ خبره يې کړې، خو د آزادۍ خبره يې غورځولې ده.

مرسته

د بې وزلو مرسته کول د هر مسلمان ديني وظيفه ده.

هر څوک چې بې وزلی ووينې بايد له هغه سره مرسته وکړي.

مرسته کول له يو بل سره په مسلمانانو کې مينه او محبت پيدا کوي. که مونږ له يو بې وزلي، غريب او بې چاره سره مرسته او کومک وکړو نو الله ﷻ او پيغمبرﷺ راڅخه رضا کېږي. او که مونږ د بې وزلو او غريبو سره مرسته ونه کړو نو الله ﷻ او پيغمبر ﷺ به راڅخه ناراضه شي.

همدارنګه مونږ بايد دکور په کارونو کې د خپل پلار، مور، وروڼو او خپلوانو سره هم مرسته

همکاري

ټول ماشومان يو د بل همکارۍ ته اړتيا لري.

دوئ په هر کار کې بايد يو بل ته لاس ورکړي. ځکه په ګډو هلو ځلو کې هر کار په ښه شان سرته رسېږي.

ماشومان په ګډ کار کې يو د بل څخه زده کړه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړو.

تبصره: په پورتني درس کې د محتوي د تبدیلۍ سربیره، لاندې اسلامي ټکي لکه: مسلمان، دیني وظیفه، په مسلمانانوکې مینه او محبت، الله ﷻ، پیغمبرﷺ، د الله ﷻ او د هغه د پیغمبر ﷺ رضا هم غورځول شوي دي.

پر پورتنیو تبدیلیو او غورځوونو سربیره ځو نور مضامین هم په بشپړ ډول د اول صنف له کتابه غورځول شوي او پر ځای یې نور داسې مضامین راوړل شوي چې په ظاهره بې ضرره ښکاري، خو په حقیقت کې هغه د معاصرې غربي فلسفې د مفرداتو لپاره مقدمه او ذهن جوړونه ګڼل کېږي، چې په لاندې ډول د کتاب ښۍ خواته غورځول شوي مضامین او چپې خوا ته یې نوي راوړل شوي مضامین لیکو:

نوي راوړل شوي مضامین	غورځول شوي مضامین
انسانیت	د ناروغ پوښتنه
ټول انسانان یو شان پیدا شوي دي. هر انسان عزت لري، تور په سپین او سپین په تور، لوړوالی نه لري، خو هغه انسان تر نورو ښه دي چې نېکخویه وي، ښه کارونه وکړي او نورو ته ګټه ورسوي.	د ناروغ پوښتنه پر هر مسلمان لازمه ده. څوک چې د ناروغ پوښتنه وکړي الله ﷻ هغه ته ډېر ثواب ورکوي. پرون زما پلار د بریالي د کاکا پوښتنې ته تللی وو او د ډاکتر څخه یې ورته دوا راوړې وه. د بریالی کاکا ډېر ښه سړی دی پنځه وخته لمونځ کوي. که په جومات کې مسافر وي هغه ته ډوډي راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خلکو سره ښه ګوزاره کوي. له لارو څخه اغزي، تیږي او نور شیان لرې کوي او که څوک ناروغ شي پوښتنې ته یې ورځي.

تبصره: دا درس په ظاهره بې ضرره ښکاري، خو په حقیقت کې د مؤمن او کافر ترمنځ د توپیر د نشتوالي پر بنسټ ولاړ دی. او زده کوونکو ته دا تصور ورکوي چې مؤمن او کافر یو ډول ارزښت لري چې همدغه د غرب د هیومنیزم (انسانیت) د فلسفې د مغز ټکی دی.

مدرسه

مدرسه د علم، پوهې او ادب د زده کولو ځای دی.
مونږ هره ورځ په ټاکلي وخت مدرسې ته ځو، کله چې زنګ ووهل شي خپلو ټولګیو ته ځو او آرام کښینو.
کله چې استاذ ټولګي ته راشي مونږ ټول ورته ولاړېږو او د هغه احترام کوو.
د خپل استاذ په لارښوونه په درس پیل کوو.
مونږ په مدرسه کې لمونځ، قرآن کریم، دینیات، ادب او د جهاد کولو لیارې زده کوو.

زغم

کله کله ماشومان په خپلو منځو کې لانجې کوي، ماشومانو ته په کار دي چې د شخړو په وخت کې د زغم او خبرو کولو څخه کار واخلي. او د ځان څخه دا پوښتنه وکړي چې آیا دا لانجه په شخړه ارزي او که نه؟ ځکه چې شخړه کول ښې اړیکې تاواني کوي او ملګري توب ته زیان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصره: دا مضمون هم د تېر مضمون په څېر د غرب د فلسفې د زغم (Tolerance) تلقین ورکوي، پدې معنی چې مسلمانان دې د غرب د مظالمو په مقابل کې له زغم څخه کار واخلي او د بالمثل ځواب پر ځای دې یوازې ډیالوګ (خبرو اترو) ته مخه وکړي.

روغ سړی	مېلمه پالنه
روغ سړي چې هر سهار له خوبه پاڅېږي سپورت کوي، هغه په وړو خبرو ځان نه خپه کوي او کوښښ کوي چې په ژوند کې خوشحاله وي، روغ سړي نه یوازې خپل ځان بلکې خپل چاپېریال هم پاک او ستره ساتي، روغ سړی تل سابه، مېوې او نور خوراکي شیان په اوبو پاک مینځي او بیا یې خوري. پاکوالی روغتیا ته ډېره ګټه لري.	مسلمانان په مېلمه پالنه کې تکړه دي. مونږ مېلمه پالنه له حضرت محمدﷺ او د هغه له اصحابو څخه زده کړې ده. مونږ د مېلمه په راتګ خوشحالېږو. د مېلمه عزت کول ډېر ثواب لري. هر مسلمان باید د مېلمه عزت وکړي. الله ﷻ د مېلمه په عزت امر کړی دی.

تبصره: دا درس چې ربنتیا هم ښه مفاهیم لري، خو د درس د پیل په جمله کې په ډېر مهارت شاګردانو ته دا تصور ورکړل شوی چې له خوبه له پاڅېدلو وروسته چې کوم کار د کولو دی هغه سپورت کول دي، نه اودس او لمونځ کول، پداسي حال حې چې په یوه مسلمانه ټولنه کې باید شاګردانو ته دا تصور ورکړل شي چې له خوبه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوېښېدلو په وخت کې مسلمان لومړی دعا وايي، اودس کوي، لمونځ کوي او بیا سپورټ کوي.

د مجاهد زوی

زلمی د مجاهد زوی دی، زلمي له خپلې مور څخه پوښتنه وکړه چې: مورې زما پلار چېرته تللی دی؟ مور يې وويل:

زويه پلار دې جهاد ته تللی دی. زوی پوښتنه وکړه چې د چا په مقابل کې جهاد کوي؟ مور يې وويل: پلار دې د روسانو او د هغوئ د مزدورانو په مقابل کې جهاد کوي. زلمي پوښتنه وکړه: د روسانو مزدوران څو ک دي؟ موريې وويل: د روسانو مزدوان خلقيان او پرچميان دي.

زوی وويل: مورې! زه هم د هغه پلار زوی يم چې د خپل دين او وطن د آزادولو لپاره يې خپل سر په لاس کې نيولی، مورې! دا زمونږ اسلامي وظيفه ده چې د خپل پلار په قدم لاړ شو او خپل سر د الله ﷻ د دين په لار کې قربان او خپل وطن د روسانو او

لويه جرګه

لويه جرګه زمونږ يو پخوانی دود دی. د لويې جرګې غړ د خلکو غړ دی. په لويه جرګه کې د خلکو ستونزې اوارېږي.

د لويې جرګې پرېکړو ته هر څوک درناوی کوي او هغه مني.

تبصره: د امريکايانو په لاس اوسني جوړ شوي نظام او اساسي قانون، تش په نامه د لويې جرګې لخوا رامنځته شوي او تأييد شوی دی. دا چې مجاهدين د دغې لويې جرګې د نا اسلامي پرېکړو په خلاف را پورته شوي دي او يو لوی جهاد يې روان کړی دی، ځکه نو دغه ګوډاګی نظام د تعليمي نصاب له لارې د هېواد ماشومانو ته د لويې جرګې د پرېکړو د درناوي او منلو ذهنيت او تلقين ورکوي.

د خلکو ستونزې په اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوئ د مزدوانو له وجود شریعت اواربږي، نه په لویو ځخه پاک او اسلامي شریعت جرګو. جاري کړو.

اسلامی ترانه

دین زمونږ اسلام دی د دې لارې پتنګان یو
مـونـږ مسلمانـان یو، مـونږ مسلمانان یـو
رب مو یو الله دی چې قادر په هر یو کار دی
بـې مـثلـه واکدار دی بې مثله واکدار دی
شــکر امـتيـان د مـحمـد آخـــر زمان یـو
مـــونـږ مسلمانــان یو، مونږ مسـلمانــان یو
لـوی کـتاب قـرآن زموږ د لارې بـل مشــال دی
مـل مـو ذوالـجلال دی، مـل مو ذوالجلال دی
مونږ د دې مشال په لور د حق په لار روان یو
مــونـږ مســلمـانـان یـو، مـونږ مسـلمانان یو

کوتره

کــاشـکـې! زه کوتره وای
غــاړه مــې کــمـــره وای
نــاســتــه پـه ډبـره وای
ډبره تـــیـز نـــظـره وای
پښې مې دسرو زرو وای
ژونـد مـې بی خطره وای

تبصره: د اسلامي ترانې پر ځای داسې یو شعر راوړل شوی چې هېڅ دیني، اخلاقي، اجتماعي او ادبي پیغام نه لري.

شعار

۱- د الله ﷻ رضا زمونږ هدف دی.
۲- **محمد**ﷺ زمونږ رهبر دی.
۳- قرآن کریم زمونږ قانون دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ – في سبیل الله جهاد زمونږ
لاره ده.
۵- د الله په لاره کې نصرت او
شهادت زمونږ هیله ده.
۶ – شرعي حجاب زمونږ پت
دی.
۷- استقلال زمونږ عزت دی.
۸ – د اسلامي نړۍ وحدت
زمونږ آرزو ده.

بدکارونه

سګرټ، نسوار، چرس او د نورو نشه یي
موادو کارول روغتیا ته زیان رسوي.
کله کله داسې بدعملونه د انسان د مرګ
سبب هم کېږي. بد عملونه اقتصاد ته هم
زیان رسوي. له بدو کارونو څخه ډډه کول
د خدای ﷻ امر هم دی.

تبصره: په پورتنی درس کې د نورو نشه یي موادو استعمال بد کار ګڼل شوی چې رښتیا هم بد کار دی، خو (شراب) چې (ام الخبائث) دي غربیانو ټول افغانستان ورباندې رنګ کړی دی او په لکونو خلک یې ورباندې اخته کړي دي، نوم یې ندی یاد شوی چې په حقیقت کې شاګردانو ته په پټه خوله د دې تصور د ورکولو په معنی ده چې شراب بد عمل او ضرري شی ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تبديلۍ يوازې هغه دي چې د اول صنف په کتاب کې راوړل شوي دي. او هغه چې په لوړو کتابونو کې راوړل شوي دي تر دغو ډېرې خطرناکې او ورانوونکې دي.

د افغانانو د فکر او فرهنګ د بدلولو لپاره د هندوستان فعاليتونه

د افغانستان لپاره د هندوستان تعليمي او کلتوري فعاليتونه يو بل خطرناک پلان دی چې د امريکا او هندوستان لخوا په مشترک ډول پرمخ بيول کېږي، هغه هم په لاندې ډول د تعليم او د کلتور په ډګر کې د تطبيق په حال کې دی:

امريکا فکر کوي چې هندوستان يې په سيمه کې د پاکستان په پرتله ښه استراتيژيک ملګری کېدای شي، نو له همدې امله پاکستان ته د يو مؤقت او شکمن اجير په سترګه خو هندوستان ته د يو باثباته استراتيژيک ملګري په سترګه ګوري. په همدې دليل امريکا غواړي په افغانستان کې د پاکستان په نسبت د هندوستان اثر او رسوخ زيات کړي. ځکه چې امريکا د طالبانو پديده د پاکستان د ديني مدارسو زېږنده بولي. نو بايد په مقابل کې يې په افغانستان کې د هندوستان لخوا ښه ډېر خلک وروزل شي او بيا په دولتي پوستونو او خصوصي سکتور کې ځای پرځای کړای شي، تر څو په داخل کې د طالب د پديدې مقابله وشي.

له همدې امله هندوستان افغاني محصلينو ته د خپلو تعليمي ادارو او پوهنتونونو غبړه خلاصه کړې او هر کال تقريبا زر تنه افغاني محصلين په هندوستان کې د عالي تحصيلاتو لپاره منل کېږي، چې تر اوسه هلته د افغاني محصلينو شمېره د رسمي احصائيو پر بنسټ پنځو زرو تنو ته رسېدلې ده او دغه شمېره په همدغه تناسب هر کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوره هم لوړېږي، چې د وخت په تېرېدلو به دغه شمېره لسګونو زرو ته رسېږي او د دولت يوه زياته برخه اداري به بيا د همدغو خلکو لخوا اداره کېږي.
د دې ترڅنګ امريکا په افغانستان کې د هندي ژبې او کلتور د خپرېدو لپاره هم ښه اساسي او پراخه زمينه برابره کړې ده. او هغه په افغانستان کې د امريکا د ملګرو لخوا د لسګونو تلوېزوني چېنلونو پرانستل او په هغو کې په زياته پيمانه د هندي کلتور او ژبې د موادو خپرول دي.
همدا اوس تقريبا د افغانستان د ښارونو ډېرو خلکو خصوصا ځوانانو او پېغلو د تلويزوني پروګرامونو او هندي فلمونو له لارې هندي ژبه زده کړې ده.
په تعليم، سياست او دولتي ادارو کې په هند کې روزل شوي خلک، او په ولسي سطحه د هندي فرهنګ خپرېدا افغانستان کې د هند د هر ډول فعاليت لپاره پراخه زمينه برابروي. او اټکل کېږي چې امريکايان به د خپلې ماتې په صورت کې خپل خلافت په يو ډول هندوستان ته ورسپاري. ځکه چې هندوستان په سياسي لحاظ په افغانستان کې دلچسپي او په فرهنګي او اقتصادي لحاظ د دې کار وړتيا لري. او هم په سيمه کې له چين او پاکستان سره د اختلاف له امله له امريکا سره استراتيژيکه دوستي لري.
دا ټول د دې عامل ګرځي چې هندوستان په افغانستان کې تعليمي او کلتوري فعاليتونه ولري، او د افغانستان د تعليم په سېکولريزه (بې دينه) کولو کې له امريکا سره لاس يو کړي، تر څو په سيمه کې د هغه اسلام په رواجېدلو کې مرسته وکړي چې RAND Corporation يې د Civil democratic Islam په حيث خوبونهويني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهم وړاندیزونه او توصیې

په تېرو بحثونو کې شرح شوي وضعیت ته په پام سره اوس خبره په سیمه او افغانستان کې جهادي قیادتونو ته راجع کېږي چې څنګه د جګړې او پوځي مقاومت تر څنګ په علمي، فرهنګي، فکري او سیاسي ډګرونو کې هم د دښمن د توطیو مقابله وکړي، او په دغو ټولو ډګرونو کې د اسلامي بدیلونو د لرلو عملي هڅې شروع کړي، چې دا کار هم په هماغه اندازه کوششونو، مصاریفو او د پلانونو د جوړولو لپاره د مسلحې مبارزې په صف او منسوبینو کې د شخصیتونو روزلو ته ضرورت لري.

له غرب او د هغه له ملګرو سره په دې سیمه کې کشمکش اوږد تاریخ لري او په راتلونکي کې به هم په مختلفو شکلونو تر ډېره وخته دغه جګړه روانه وي. نو د دې لپاره چې جهادي صف په ځان کې د مبارزې د دوام وړتیا پیدا کړي باید لاندې کارونو ته جدي توجه وکړي:

لومړۍ توصیه: د مجاهدینو سیاسي او فکري روزنه

د مجاهدینو د سیاسي او فکري روزنې او د غرب له دسیسو او توطیو څخه د هغوئ د خبرولو په منظور دې داسې کتابونه ولیکل شي چې په هغو کې د دښمن د توطیو د هر اړخیزې پېژنګلوۍ تر څنګ د جهاد کرښلارې، اهداف، د خپل ملت د خصوصیاتو پېژندل او د سیمې د هېوادونو او ګاونډیو هېوادو هغه ارادې او فعالیتونه چې د افغانستان په اړه یې لري هم توضیح شوې وي.

دغه کتاب باید په پوره دقت سره اړوند موضوعات مجاهدینو ته په ساده ژبه وړاندې کړي. کتابونه باید په جیبي کچه (سایز) چاپ شي او لوستل یې د یوه فکري نصاب په حیث د قیادت لخوا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدینو لاژمې وګرځول شي. تر څو مجاهدین د پوره سیاسي بصیرت په رڼا کې خپله جهادي مبارزه پرمخ بوځي. او د دښمن د تبلیغاتو ښکار نه شي.

دوهمه توصیه: د فکري جګړې په اړه پوهاوی

د افغانستان په مهمو ژبو کې دې د غرب د فکري او رواني (روحي) جګړې په اړه چې د پوځي جګړې تر څنګ په بېلابېلو شکلونو روانه ده کتابونه ولیکل شي، او د قیادت له لوري دې مجاهدین د هغو په لوستلو مکلف شي. او هم دې له غرب سره د فکري جګړې په هکله درسونه، ویناوې، بیانیې او حقایق په صوتي شکل ترتیب کړل شي او د مجاهدینو په منځ کې دې خپاره شي، تر څو هغوئ په ښه ډول د دښمن له پلانونو خبر شي، او د مقابلې لپاره یې په ځان کې وړتیا پیدا کړي.

دریمه توصیه: د مدارسو په نصاب کې د لاندې مضامینو داخلول

د دیني مدارسو په نصاب کې دې په هره درجه (صنف) کې لاندې مضامین اضافه کړای شي:

(الف) سیرة النبي:

سیرة النبي هغه مبارک علم دی چې د اسلام د پیغمبرﷺ د شخصي، اجتماعي، سیاسي، پوځي، تربیوي، تشریعي، اخلاقي او تعبدي ژوند عملي او تطبیقي نقشه وړاندې کوي. او هغه طریقه او تګلاره روښانه کوي چې پیغمبرﷺ څنګه د جزیرة العرب له نالوستو، نامنظمو، غیر سیاسي، نادارو، شاړو اوشډلو اوسېدونکو څخه د ټولې نړۍ لپاره د انسانیت، قیادت، علم او تمدن استاذان جوړ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تأسف ځای دی چې دغه مبارک علم ته زمونږ په ديني نصاب کې مناسب ځای ندی ورکړ شوی. او که ورکړ شوی هم دی نو د عمر په داسې مرحله کې لوستل کېږي چې طالب لا د عقل او ادراک د پوخوالي هغې مرحلې ته نه وي رسېدلی چې له دغه علم څخه د ځان لپاره د ژوند يوه نقشه جوړه کړي.

دغه مبارك علم بايد د زده کړې په لوړو درجو لکه: د احاديثو په دوره کې او يا تر هغې يو کال د مخه تدريس شي.

(ب) په اسلام کې د سياسي نظام تصور:

له ډېرې مودې راهيسې لکه څنګه چې په عملي ډول سياسي نظام له واقعي مسلمانانو څخه اخېستل شوی او د سيکولر عناصرو په لاس کې ورکړ شوی دی، همدا ډول يې تصور او مضمون هم له ديني او دنياوي دواړو نصابونو څخه وېستل شوی دی.

له همدې امله د ډېرو ملايانو او علماؤ په ذهن کې هم دا خبره نه ده پرته چې دنياوي او سياسي قيادت هم د معنوي او روحاني قيادت ترڅنګ د علماؤ او ديندارو خلکو حق دی. دغه حق په قران کې د (صالحينو) ښودل شوی دی.

رسول الله ﷺ او راشدين خلفاء هم د مسجد امامان ول، او هم د دولت مشران او د پوځ سر لښکران. هغوئ عملاً امت ته دا ورښودلې وه چې ديني او سياسي قيادت دواړه د صالحينو حق دی.

وروسته بيا د نامطلوبو شرايطو او حالاتو له امله د ديني او سياسي قيادت ترمنځ بېلتون راغی، او په دغه ډګر کې د اسلام له منهج څخه انحراف رامنځته شو. دغه انحراف به هغه وخت کې له منځه ځي چې (صالحينو) ته بيا وروپوهولی شي چې سياسي قيادت د دوئ حق دی، او د دې حق د ترلاسه کولو لپاره بايد مبارزه وکړي، ترڅو يې د مفسدو (سيکولر) عناصرو له لاسه بېرته را وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج) د کفر د معاصرو انواعو او اشکالو پېژندل:

د معاصر کفر د اشکالو او انواعونه پېژندل په بې علمه مسلمانانو کې د دې علت ګرځي چې خلک د معاصر کفر په لومو کې پر ېوځي.
دغې موضوع ته قرآن کریم هم پوره توجه کړې ده. که د قرآن طریقې او منهج ته وکتل شي نو وبه وینو چې که قرآن کریم له یوې خوا مسلمانانو ته ایمان او د هغه تقاضاوې ورمعرفي کوي نو له بل لوري ورته کفر، د کفر انواع او اشکال او له هغه څخه د ځان ساتلو طریقې او د کفر مفاسد هم ورمعرفي کوي.
قرآن د خپل نزول په زمانه کې د هغې زمانې د کفر ټول انوع او اشکال معرفي کړي دي. د یهودو کفر، د نصاراؤ کفر، د صابئینو کفر، د مشرکانو کفر، د حاکمیت کفر، د عبادت کفر، د استعانت کفر، د نذر کفر، د محبت کفر، د مولات کفر، د نفاق کفر او نور بېلابېل ډولو نه یې ښه په تفصیل سره د مثالونو په بیانولو ذکر کړي دي.
قرآن کریم نه یوازې دا چې د رسول اللهﷺ د زمانې د کفر انواع معرفي کړي دي، بلکې د پخوانیو امتونو لکه د نوح علیه السلام د امت کفر، د ابراهیم علیه السلام د امت کفر، د هود، صالح، شعیب، لوط، موسی او نورو پیغمبرانو علیهم السلام د قومونو کفرونه او د هغوئ کفري دلایل یې هم ښه په تفصیل سره د دې لپاره معرفي کړي چې مسلمانان ترې ځان وساتي، او د هغوئ په سرنوشت اخته نه شي.
په همدې ډول د اسلام علماؤ په خپلو خپلو وختونو کې د کفر او ګمراهۍ بېلابېل ډولونه او د هغوئ کفري او ګمراهانه فلسفې یې امت ته واضح کړې او ردونه یې ورباندې لیکلي دي چې پدې لړ کې مرتدان، زندیقان، چنګیزیان، خوارج، مرجئه، جهمیه، قدریه، روافض، وجودیان، حلولیان، بابیان، بهائیان، ذکري طائفه (هغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایران او د پاکستان په بلوچستان کې اوسي او د اسلام د احکامو او عباداتو پر ځای یې ځان ته یوازې د یو څو ذکرونو دین جوړ کړی دی)، قادیانیان او نور راځي.
د کفر او ګمراهۍ زاړه اشکال ښه په تفصیل سره امت ته واضح شوي دي، خو مشکل اوس په دې کې دی چې د معاصر کفر ډولونه او فلسفې چې په نویو نومونو او قالبونو کې راڅرګندې شوې دي او امت یې د ابو الحسن علي ندوي (رحمه الله) په وینا د یو اجتماعي ارتداد له ګواښ سره مخ کړی دی په پوره او واضح شکل د علماؤ لخوا په تعلیمي نصاب کې ندي معرفي شوي.
د معاصر کفر ډولونه لکه کمونیزم، کپیټالیزم، لیبرالیزم، ډیموکراسي، ماډرنیزم، نشنلیزم، وضعي قوانین او ګلوبلایزېشن تر پخوانیو کفرونو ډېر خطرناک دي. ځکه چې پخوانیو کفرونو ساده اشکال درلودل او یوازې به په تعبّدي او تصّوري ساحه کې محدود ول. خو داوسني کفر انواع د انساني ژوند ټول اړخونه لکه سیاست، نظام، عقاید، اخلاق، اقتصاد، تمدن او هر څه په خپله غېږه کې نیسي. او تر دې هم خطرناکه خبره دا ده چې دغه ډول کفرونه خلک خپل ځان ته د کفر په صفت او نامه نه وربولي، بلکې د ترقۍ، تمدن، نړیوالتوب، عدالت، مساوات او انسانیت په نومونو یې وربولي، چې عام خلک د دغو شعارونو او اصطلاحاتو په حقیقي مدلول او معنی نه پوهېږي. او همدغه وجه ده چې په ملیونونو مسلمانان کله ځان د کمونیزم غېږې او کله هم د ماډرنیزم، لیبرالیزم، دیموکراسۍ او هیومنیزم غېږې ته ورغورځوي او بیا هم ځانونه مسلمانان بولي.
پدې هکله جهادي او اسلامي حرکتونو ته په کار ده چې د قرآن کریم د طریقې مطابق د دې زمانې د کفر ټول اشکال او انواع نوي مسلمان نسل ته د تعلیمي نصاب، مطبوعاتو او له نورو بېلابېلو لارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورمعرفي کړي. او هم يې د ردلو لپاره پراخې ليکنې وشي، تر څو د مسلمانانو اوسني او راتلونکي نسلونه د معاصر کفر له خطر څخه وساتل شي. او که داسې ونشي نو ډېر خلک به په مسلمانۍ کې کافر وي، خو دوئ به لا په ځان خبر هم نه وي چې کافر شوي دي.

څلورمه توصیه: د غرب د جناياتو بربنډول

د اسلامي حرکتونو او مجاهدينو له لوري دې په خپلو نصابونو کې د غرب له سياسي، استعماري، پوځي، اقتصادي، اخلاقي جنايتونو او ظلمونو پرده پورته کړای شي، تر څو د غربيانو هغه جنايات چې د اسلامي هېوادونو د استعمارولو او پر مسلمانانو د خپلې مستقيمې او غير مستقيمې واکمنۍ په وخت کې يې ترسره کړي دي بربنډ شي.
هغه ټول جنايات بايد بربنډ کړای شي چې انګريزانو په آسيا کې فرانسويانو، ايټاليايانو او هسپانويانو په خپلو خپلو وختونو کې په اسلامي افريقا کې، روسانو په منځنۍ اسيا کې، او امريکا يانو په ټوله دنيا کې پر مسلمانانو ترسره کړي دي.
همدا ډول بايد هغه پلانونه هم بربنډ شي چې څرنګه امريکا غواړي د خليج، منځنۍ آسيا او نورو اسلامي هېوادونو زېرمې او طبيعي موارد تر خپل کنټرول لاندې راولي، که څه هم پدې لاره کې د ميليونونو انسانانو د وينو بهولو ته ضرورت هم پېښ شي.
د غرب د جناياتو په سلسله کې بايد دا هم تشريح شي چې امريکا او اروپا څنګه د يهودو له شر څخه ځان خلاص کړ، او په فلسطين کې يې د يو يهودي دولت په جوړولو هغوئ د مسلمانانو په اوږو ورسپاره کړل.
د غرب د جناياتو په سلسله کې بايد د ملګرو ملتونو د ادارې او د امنيت د شورى هغه ټول جنايات راوسپړل شي چې په تېرو شپېتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونو کې یې د فلسطین، کشمیر، قبرص او نورو اسلامي هېوادونو په هکله د منفي مواقفو په لړلو سره تر سره کړي دي.

د دغو ټولو جنایاتو په څېړلو او راسپړلو مسلمانانو ته د غرب د عدالت، مساوات، ډیموکراسۍ او تمدن حقیقي څېره ورښکاره کېږي، او مسلمانان پدې پوهېږي چې غربیان د دوئ دوستان دي او که یې دښمنان؟ او هم دا چې د امریکا له لوري ډیزاین شوی Civil democratic Islam (متمدن ډیموکراتیک اسلام) حقیقي اسلام دی او که د کفر یو بل ماډل دی چې د اسلام په نامه یې معرفي کوي؟

پدې لړ کې باید د زرګونو هغو غربي نادولتي مؤسساتو جنایات هم بربنډ کړای شي چې د جاسوسۍ، مالي اختلاسونو، اخلاقي فجایعو د خپرولو، په مسلمانه نړۍ کې د لوېدلي غربي فرهنګ د نشرولو او مسیحیت ته د دعوت په شکل کې یې تر سره کوي.

دغه مؤسسې په مجموعي شکل د غرب یو نا پوځي لښکر دی چې د وسلې له استعمال پرته د اسلامي نړۍ د نیولو په نیت په اسلامي هېوادونو کې تر بېلابېلو نومونو او عنوانونو لاندې کار کوي.

پنځمه توصیه: د جهاد تر څنګ دعوت ته هم پاملرنه

یوه مهمه وظیفه چې جهادي حرکت هغې ته ډېره توجه نده کړې هغه د مسلح جهاد تر څنګ د ریښتني اسلام په لور د خلکو مخلصانه دعوت دی.

مجاهدین باید په افغانستان کې په کلیو، ولسوالیو او قومونو کې د کفر په خلاف د جنګ ترڅنګ دعوتي کارونه لکه: عمومي درسونه، ویناوې، اجتماعات او غونډې، تربیوي سیمینارونه، د پروجکټور په وسیله د کلیوالو عامو خلکو لپاره د جهادي او اسلامي فلمونو نمایش، د ځوانانو او د مکتبونو او مدرسو د هلکانو تر منځ علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د قرآن کریم د ځینې سورتونو او یو خاص شمېر احادیثو د حفظ مسابقې، ادبي غونډې او د کلیو د ځوانانو ترمنځ مناسب سپورتي پروګرامونه هم تر سره کړي.
په هره اندازه چې د خلکو ترمنځ اسلامي دعوت خپرېږي په هماغه اندازه په خلکو کې د جهاد او مبارزې مینه پیداکېږي، او د دښمن د تبلیغاتو تاثیر له منځه ځي. د دغه ډول دعوتي پروګرامونو د اجراء لپاره باید په جهادي صف کې مجاهد ځوانان په خاصو تعلیمي، تربیوي او دعوتي استعدادونو وروزل شي. او په هره جبهه کې باید د فرهنګي او دعوتي چارو یوه یوه کمیټه جوړه شي چې د بېلابېلو ذوقونو او استعدادونو ځوانان، مجاهدین او محلي علماء ورکې غړیتوب ولري او فعالیت وکړي.
په هغو سیمو کې چې د مجاهدینو تر تسلط لاندې دي باید د F. M د وړو وړو سیارو راډیوګانو فعالولو ته توجه وشي چې د دعوت پیغام په پراخه پیمانه کورنیو او ښځو ته هم ورسېږي. کوښښ دې وشي چې اسلامي مطبوعات په کافي اندازه خلکو ته ورسول شي، او په هغو کې دې په هغو موضوعاتو په خاص ډول ترکیز وشي چې د اسلام او مسلمانانو په اړه د غرب خطرناک پلانونه څېړي، او عواقب یې مسلمانانو ته بیانوي.
که پورتني یاد شوي کارونه ترسره کړو نو د جهاد ترڅنګ به مو د مسلمانانو د ایمان او اخلاقو د خوندي ساتلو لپاره مؤثر دعوت هم په کار اچولی وي، د دښمن پلان به مو شنډ کړی وي، او مسلمانانو ته به مو دا خبره واضح کړې وي چې د الله ﷻ له لوري رالېږل شوی اسلام یو دین دی، او د امریکا لخوا ډیزاین شوی Civil democratic Islam یو بل (کفري دین) دی چې غواړي د حقیقي اسلام پر ځای یې په مسلمانانو کې خپور کړي، او د هغه په وسیله مسلمانان د غرب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعماري سیاستونو په خلاف له جهاد او مبارزې څخه منحرف کړي: ﴿ يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨﴾ ﴾ الصف: ٨

ترجمه: (کافران غواړي چې د الله رڼا (شریعت) د خپلو خولو په پوکیو مړه کړي او الله د خپلې رڼا پوره کوونکی دی، که څه چې د کافرانو خوښه نه وي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاصر فکري ارتداد

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاصر فکري ارتداد د علامه ندوي له نظره

د غرب له لوري د معاصر ارتداد د خپرولو حرکت په اسلامي نړۍ کې د اسلام او مسلمانانو په خلاف په تاریخ کې تر ټولو خطرناک حرکت دی. د غه حرکت د تیرې یوې نیمې پیړۍ په اوږدو کې له بېلابېلو لارو او په بېلابېلو فکري، سیاسي او فرهنګي وسائلو په میلیونونو مسلمان ځوانان له اسلام څخه پردي کړل ،او د غربي الحادي نظریاتو په منلو یې د ښکاره کفر تر بیرغ لاندې د اسلام په خلاف ودرول. خو د تأسف وړ خبره دا ده چې نه دغه د غرب د افکارو او نظریاتو منونکي د مسلمانانو زامن دا مني چې دوئ عملاً په یو صریح ارتداد کې اخته دي چې کله د کمونیزم په شکل او کله هم د غربي لیبرالیزم، ډیموکراسۍ او د الله د دین د حاکمیت د نه منلو په شکل کې دي او نه هم دغه ډول ارتداد ته د اسلام د یوې زیاتې برخې دیني علماؤ پام وراوښتی دی.

دغه ډول ارتداد ته د علماوو د پام د نه وراووښتلو علت کېدی شي دا وي چې له یوې خوا دغه ډول ارتداد په داسې پوښلو او پېچلو اشکالو کې دی چې د کفر حقیقت یې په آسانه نه ښکاري. او له بلې خوا زمونږ د دیني مدارسو او نصابونو په محتوی کې فکري، عقیدوي او د معاصرو کفري ایډیالوژیو او نظریاتي موضوعاتو ته هېڅ ځای ندی ورکړ شوی، نو طبیعي ده چې یوه زیاته برخه د دغو دیني نصابونو فارغان د معاصر ارتداد د حرکت له تأثیر او خطرونو څخه بې خبره او یا لږ تر لږه د هغو په اړه بې تفاوته پاتې شي.

خو د الله شکر دی چې په امت کې داسې سترې هستۍ، زړه سواندي دعوتګران او زماني په فکري او سیاسي نبض خبر او پوه عالمان هم شته چې دغو مسائلو ته یې پوره توجه کړې، امت یې د معاصر ارتداد

(c) ketabton.com: The Digital Library

له حقیقت او اشکالو څخه خبر کړی او پدې هکله یې ټولې اسلامي نړۍ ته د خطر زنګونه وهلي دي.
له دغو علماؤ څخه یو هم (علامه سید ابوالحسن علي الحسني الندوي) د هندوستان د شلمې میلادي پیړۍ ستر عالم، سترګور شخصیت، د نړۍ په ټولو جریانونو او تحولاتو خبر انسان ؤ.

د علاّمه ندوي (رحمه الله) پېژندګلوي

علامه سید ابوالحسن علي الحسني الندوي په ۱۹۱۴میلادي کال د هندوستان د اترپردیش د ولایت د(رائې بریلي) د سیمې د (تکیه کلان) د کلي د ستر عالم (علامه سید عبدالحی الحسني) په کور کې دنیا ته سترګې وغړولې. پلار یې د هندوستان د اتو پېړیو د علماؤ د تذکرو او سوانحو په هکله په اتو جلدونو کې د (الإعلام بمن في تاریخ الهند من الأعلام) په نوم یو لوی کتاب ولیکه چې د نړۍ د کتابخانو له مهمو کتابونو څخه ګڼل کېږي.
علامه ندوي رحمة الله علیه تر ثوارلس کلنۍ پورې مروج علوم ولوستل. فارسي، عربي او انګلیسي ژبې یې زده کړې او په پنځه لس کلنۍ کې یې په ۱۹۲۹ میلادي د ندوة العلماء له دارالعلوم څخه د حدیثو دوره وکړه. وروسته یې له علامه (احمد علي لاهوري) رحمة الله علیه څخه په لاهور کې د تفسیر علم حاصل کړ او هم یې د (دیوبند) په دارالعلوم کې له علامه (حسین احمد مدني) رحمة الله علیه څخه د حدیثو او تفسیر زده کړه وکړه.
علامه ندوي له (۱۹۶۱م) څخه تر (۱۹۹۹م) یعنې د ده تر وفاته پورې د ندوة العلماء د دارالعلوم رئیس ؤ. د اسلامي فکر او د اسلامي نړۍ د مهمو موضوعاتو په اړه یې تر اتیاؤ ډېر کتابونه او په سلګونو مقالې چاپ شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علامه ندوي د عربي او اسلامي نړۍ ډېرو مجلوته ليکنې کړي او د نړۍ د لويو علمي مراکزو او ټولنو رئيس او يا غړۍ پاتې شوی چې ځينې يې په لاندې ډول يادوو:

۱ـ د (هند) د ندوة العلماء د نړيوال دارالعلوم رئيس.
۲ـ په (رياض) کې د اسلامي ادبياتو د نړيوالې رابطې رئيس.
۳ـ په (انګلستان) کې د اکسفورډ د اسلامي څېړنو د مرکز رئيس.
۴ـ د ټول هند د مسلمانانو د شخصي احوالو د قانون د هيئت رئيس.
۵ـ د (هند) د اتراپرديش د ولايت د اسلامي تعليماتو د هيئت رئيس.
۶ـ په (مکة المکرمة) کې د رابطة العالم الإسلامي د تأسيسي مجلس غړی.
۷ـ په (قاهره) کې د اسلامي دعوت د نړيوال مجلس د تأسيسي هيئت غړی.
۸ـ په (دمشق) کې د عربي ژبې او قواميسو د ټولنې غړی.
۹ـ په (قاهره) کې د عربي ژبې او قواميسو د ټولنې غړی.
۱۰ـ په (اردن) کې د عربي ژبې او قواميسو د ټولنې غړی.
۱۱ـ په (اردن) کې د اسلامي تمدن د څېړنو د شاهي ټولنې غړی.
۱۲ـ په (مراکش) کې د نړۍ د اسلامي پوهنتونونو د نړيوالې رابطې غړی.
۱۳ـ د (مدينې منورې) د نړيوال اسلامي پوهنتون د مشورتي بورډ غړی.
۱۴ـ د (اسلام آباد) د نړيوال اسلامي پوهنتون د مشورتي بورډ غړی.
۱۵ـ د (ديوبند) د دارالعلوم د مشورتي مجلس غړی.

علامه ندوي تر بل هر چا پدې ښه پوهېده چې د غرب معاصره فکري او اخلاقي فلسفه پر الحاد ولاړه ده، او هرڅوک چې دغه فلسفه له زړه او په قناعت او پوهې سره مني هغه پدې کار له اسلامه مرتد کېږي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه يې خپله دغه تاريخي او علمي مقاله چې د دغه ترخه حقيقت وضاحت يې ورکې کړی په لسګونو کلونو مخکې د(مصر) د(المسلمون) مجلې ته د افتتاحيې په ډول ليکلې وه. د مقالې نوم په عربي کې (**ردة ولاأبابكر لها**) دی.

دا چې د علامه په دغه مقاله کې د داسې واقعيتونو په هکله په زغرده علمي او شرعي موقف بيان شوی چې زمونږ ټولنه هم له ډېرې مودې ورسره مخ ده، او د امريکايانو له يرغل وروسته خو حکومت پر مسلمان ملت د همدغو نظرياتو تحميلول خپله اساسي وظيفه ګڼلې او د همدې لپاره امريکايانو قدرت ورته سپارلی، نو ضروري وه چې دغه موضوع دې د يو داسې چا په قلم افغانې مسلمانې او مجاهدې ټولنې ته وړاندې شي چې علم، رسوخ، تقوی، انصاف، جهانګردي، حکمت او تجارب يې د نړۍ ټولو مسلمانانو ته پرته له کومې منازعې د منلو دي، نو ځکه خو ما هم دغه مقاله له عربي ژبې پښتو ته راواړوله او پرته له کوم کمي او زياتي مې هغې ته پدې کتاب کې ځای ورکړ، او دا دی ستاسو درنو لوستونکو په خدمت کې يې وړاندې کووم، هيله ده چې پدې کار سره به مې خپل مجاهد ملت د معاصر فکري ارتداد له خطر څخه خبر کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د معاصر فکري ارتداد په هکله د علامه ندوي د مشهورې مقالې بشپړ پښتو متن

(بیا ارتداد دی، خو ابوبکر نشته)

(علاّمه أبو الحسن علي الحسني الندوي)

اسلامي تاريخ د ارتداد ډېرې پېښې لېدلي دي چې تر ټولو ښکاره او زوروره يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر وفات وروسته د عربي قبايلو د ارتداد پېښه وه. دا هغه لوی پاڅون وو چې ابوبکر صديق رضي الله عنه په خپل بې ساري عزم او ايمان تر خاورو لاندې کړ. او بله پېښه بيا هغه د اجباري نصراني کولو حرکت ؤ چې د مسلمانانو تر شړل کېدو وروسته د هسپانيا د مسلمانانو په هغو سيمو کې خپور شوي ؤ چې د مسيحي دولتونو تر تسلط لاندې راغلې وې او د مسيحي پادريانو او د هغوئ د تبليغي ډلو فعاليت ورکې زور اخيستی ؤ.

ځيني نورې پېښې هم د هندوستان په ځای ځای کې پېښې شوې وې چې ځينې کم عقل او ضعيف النفسه مسلمانان ورکې له اسلامه (برهميت) او يا (آريائيت) ته مرتد شوي ول، خو دغه پېښې ډېرې نادرې وې.

په حقيقت کې د اسلام په تاريخ کې عمومي ارتداد نه لېدل کېږي، پرته له هغو پېښو چې په غمځپلې هسپانيا کې ولېدل شوې، هغه هم په هغه صورت کې که يې ارتداد وګڼو. دا هغه حقيقت دی چې د اديانو مؤرخين ورباندې اعتراف کوي.

د ارتداد دغه ډول پېښو به دوه ځانګړتياوې درلودې: يوه دا چې مسلمانانو به له مرتد شوو خلکو څخه سخته کرکه کوله. او بله هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرتدينو له اسلامي ټولنې څخه جلا والی ؤ. هر څوک به چې مرتد شو نو هغه به د مسلمانانو ډېر بد ايسېده او له هغې اسلامي ټولنې به جلا ګڼل کېده چې دی به ورکې اوسېده. له ارتداد سره سم به د مرتد او د هغه د خپلو خپلوانو ترمنځ ټولې اړيکې او خپلوۍ پرې شوې. ارتداد به له يوې ټولنې څخه بلې ټولنې او له يوه ژونده بل ژوند ته لېږدېدل ګڼل کېدل. کورنۍ به له مرتد سره پرېکون کاوه له ځانه به يې ليرې کاوه. نه به چا خپښې ورسره کوله، نه به چا خور او لور ورکوله او نه به هم د ده او د ده د کورنۍ تر منځ د ميراث معامله وه.

د ارتداد حرکتونو به په مسلمانانو کې د مقاومت او د اديانو تر منځ د مقارنې روحيه را پاروله. د مسلمانانو په هره سيمه کې به چې د ارتداد پېښې رامنځته شوې هلته به عالمان، دعوتګران او ليکوالان د ارتداد د ردولو او د هغه د اسبابو د لټولو او راسپړلو لپاره راپورته کېدل او د اسلام ښېګڼې او ځانګړتياوې به يې خلکو ته بيانولې.

د دغه ډول پېښو په اړه به په مسلمانو ټولنو کې هم د نارضايتی، غندنې، ناکرارۍ زوروري څپې خورې شوې، خلک به يې کرارې ناستې ته نه پرېښودل. د خواصو او د ديني غيرت د لرونکو خلکو ترڅنګ به عوام خلک هم همدغو خبرو مشغول کړي ول. دغه به د ارتداد د پېښو وضعيت ؤ که څه هم چې ډېرې لږې به پېښېدلې او په ژوند به يې څه اثر هم نه ښکارېده.

خو پدې وروستيو کې اسلامي نړۍ له يو داسې ارتداد سره مخ شوه چې اسلامي نړۍ يې له يوه سره تربل سره ټوله نيولې او په خپل قوت، عموميت او ژوروالي کې تر پخوانيو ټولو ارتدادونو مخکې شوی دی. يو ځای هم ورڅخه خوندي ندی پاتې شوی. د مسلمانانو ډېرې لږې کورنۍ ښايي له دغه ارتداد څخه محفوظې پاتې وي. دا هغه ارتداد دی چې د شرق په خلاف د اروپا د سياسي او فرهنګي استعمار په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نتیجه کې را منځته شو. دغه ارتداد په اسلامي نړۍ او اسلامي تاریخ کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وخته رانیولې تر دې وخته تر ټولو لوی ارتداد دی.

ارتداد د اسلام په عرف او د شریعت په اصطلاح کې څه شي ته ویل کېږي؟

ارتداد د یوه دین او عقیدې په بل دین او عقیدې بدلولو او یا له هغه څه څخه انکار ته ویل کېږي چې رسول صلی الله علیه وسلم راوړي او په تواتر رارسېدلي دي او د هغه ثبوت په ضروري ډول د اسلام له دین څخه ګڼل کېږي.

مرتد به پخوا په څه مرتد ګڼل کېده؟ مرتد به پدې مرتد ګڼل کېده چې د محمد صلی الله علیه وسلم له رسالت څخه به یې انکار کاوه، اسلام به یې پرېښوده، (مسیحیت)، (یهودیت)، یا (برهمیت) به یې مانه او یا به یې د الحاد لاره خپلوله او له رسالتونو، وحیې او آخرت څخه به یې انکار کاوه. دغه ډول کارونو ته به پخوانیو خلکو او ټولنو ارتداد ویلو او هر څوک به چې مرتد شو هغه به یا کلیسا ته داخلېده او یا به یې د کوم بل دین معبد او بتخانې ته مخه کوله. پدې کار سره به هغه ټولو خلکو وپېژانده، مسلمانانو به خپل امید ورنه پرېکړ او د هغه ارتداد به اکثره پټ نه پاتې کېده.

اروپایانو شرق ته داسې نظریات له ځانه سره راوړل چې د دین له اساساتو او هغه رب څخه په انکار ولاړ دي چې د ټول عالم چلوونکی او واکمن دی. دغه نظریات د هغه علیم ذات له وجود څخه په انکار ولاړ دي چې د ټول عالم چارې یې په واک دي، (ألا له الخلق والأمر) پیدا کول او حکم چلول یوازې د هغه حق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه فلسفې او نظریات له غیبیاتو، وحې او نبوتونو څخه د انکار پربنسټ ولاړې دي او له آسماني شریعتونو، روحاني او اخلاقي ارزښتونو څخه انکار کوي.
د اروپایانو د دغو فلسفې ځینې یې د بیالوژۍ، نشأت او ارتقا له نظریاتو څخه بحث کوي [لکه د داروینزم فلسفه]. ځینې یې په اخلاقو پورې اړه لري [لکه دکانت او سارتر فلسفه]، ځینې یې د اروا پوهنې په محور څرخي [لکه د فروید فلسفه] د ځینې نورو موضوع یې بیا اقتصاد او سیاست دي [لکه د لیبرالیزم فلسفه].
دغه فلسفې که څه هم چې په شکلونو، هدفونو او بنسټونو کې یو له بل سره توپیر لري خو ټولې یې په دا یوه نظریه کې سره شریکې دي چې انسان او دنیا ته په خالص مادي نظر ګوري او د نړۍ او انسان د چارو تحلیل د مادي علتونو پر اساس کوي.
دغو فلسفو او نظریاتو شرقي ټولنې لاندې کړې، په رګونو کې یې وچلېدلې او په تاریخ کې تر اسلام وروسته د یو لوی دین په حیث راښکاره شوې. په اسلامي ټولنه کې یې په پراخه پیمانه او په زور ډول د خلکو زړونه او عقلونه تر خپل تسلط لاندې راوستل، د اسلامي نړۍ تر ټولو ذکي او باسواده خلکو ورته مخه وکړه او هغه یې داسې ومنلې لکه مسلمان چې اسلام او مسیحی چې مسیحیت په ټوله معنی مني.
دغه خلك د خپلو دغو نظریاتو په لاره کې قربانۍ ورکوي، شعارونو ته یې سپڅلتیا او لاړښوونکو ته یې عظمت وربښي. په خپلو تألیفاتو او ادبیاتو کې ورته خلك رابلي، د ټولو هغو دینونو، طریقو او نظریاتو سپکاوی کوي چې د دوئ د نظریاتو مخالف دي. او ټول هغه خلك خپل ورونه ګڼي چې له دوئ سره د دوئ نظریات مني. دغه خلك ټول سره یوه کورنۍ، یو امت او یو بلاك دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس دا خبره چې د دوئ دغه دين څه شی دی؟ که څه هم چې منونکي يې هغه ته له دين ويلو څخه انکار کوي.

د دوئ دين د ټول عالم له عليم، خبير او هغه خالق څخه انکار دی چې هر څه يې اندازه کړي او بيا يې لاره ورښوولې ده. د دوئ دين له بيا ژوندي کېدلو، حشر، د جنت، دوزخ، ثواب او عذاب، پيغمبرۍ او رسالتونو، اسماني شريعتونو، شرعي حدودو او له دې څخه انکار دی چې الله تعالی په ټولو خلکو د ستر پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم اطاعت فرض کړی دی او هدايت او سعادت يې يوازې د هغه په پيروۍ کې منحصر کړی دی.

د دوئ دين له دې څخه انکار دی چې اسلام هغه وروستی او تلپاتې رسالت دی چې د ټولو دنيوي او اخروي سعادتونو تضمين او کفالت کوي او د ژوند لپاره تر ټولو ښه او غوره نظام دی. او دا هغه دين دی چې الله جلّ جلاله له هغه پرته بل دين نه مني، او نه هم نړۍ له هغه پرته په بل دين کې سعادت موندلی شي. د دې خلکو دين له دې څخه هم انکار دی چې دنيا د انسان لپاره پيدا شوې ده او انسان د الله لپاره پيدا شوی دی.

دا د هغې روڼ اندې طبقې دين دی چې په اسلامي نړۍ کې يې د چارو واګې په لاس کې دي. که څه هم چې دغه طبقه خلك په دغه دين باندې په ايمان او له هغه څخه په دفاع کې ټول يو ډول ندي، ځينې يې يقيناً په الله جلّ جلاله هم ايمان لري او اسلام هم د دين په حيث مني، خو د دغې طبقې د غالب اکثريت او د ډېرو افرادو او مشرانو دين ماديت، او د غرب هغه فلسفه ده چې پر الحاد ولاړه ده.

د دغه ډول نظرياتو منل پرته له شکه ارتداد دی، چې د اسلامي نړۍ له يوه سره تربل سره خپور شوی او ډېرې د لوړې سطحې کورنۍ، پوهنتونونه، فاکولتې، مکتبونه او مؤسسې يې لاندې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې یوه کورنۍ نده پاتې چې په هغې کې د دغه دین کوم منونکی او یا ورسره محبت لرونکی او یا د هغه درناوی کوونکی نه وي، پرته له هغو چې الله تعالی ورڅخه ساتلې دي.
که دغه ډله خلك په خبرو راولې او یا ورسره د بحث او مناقشې لپاره یوازې شې، نو وبه ګورې چې یا به پر الله تعالی ایمان نه لري، یا به پر آخرت ایمان نه لري، یا به پیغمبر نه مني، یا به قرآن د یو معجز تلپاتې او د ژوندانه د قانون د کتاب په حیث نه مني. په دوئ کې تر ټولو غوره یې هغه دي چې وایې: مونږ نه پدې مسائلو کې فکر کوو او نه هغو ته په څه اهمیت قایل یو.
دغه نظریات پرته له کوم شکه یو ارتداد دی، خو د مسلمانانو پام یې ځانته ندی وراړولی، او نه یې د هغوئ ذهن مصروف کړی دی. او دا ځکه چې دغه مرتدین ترخپل ارتداده وروسته نه کومې کلیسا او د بل دین معبد ته ورځي، او نه د خپل ارتداد له یوه دین څخه بل دین ته د ورتللو اعلان کوي، او نه یې هم کورنۍ دغه ارتداد ته متوجه کیږي. نه ورسره مقاطعه کوي او نه یې هم له ځانه شړي. بلکې هغوئ په خپلو کورنیو کې ژوند کوي، او د کورنۍ ټول حقوق ورته حاصل دي. او کله خو داسې هم پیښیږي چې په کورنۍ باندې واك هم د همدغو مرتدانو چلیږي.
همدارنګه د دوئ ارتداد ته نه ټولنه متوجه کیږي، نه حساب ورسره کوي، نه یې ملامتوي، او نه یې له ځانه بیلوي. بلکې په دائمي ډول په ټولنه کې اوسیږي، له حقوقو یې استفاده کوي. او کله خو تسلط هم وربادې د همدوئ وي.
دغه ډول ارتداد د اسلامي نړۍ تر ټولو لویه قضیه او تر ټولو لویه ستونزه ده. دا یو ارتداد دی چې خوریږي او ټولنه لاندې کوي، خو د چا پام نه وراوړي. علماء او د دین پوهان یې هم په هکله د خطر چیغې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهي. مخکې به خلکو ویل: ((قضیه پېښه شوه خو أبو الحسن (علي کرم الله وجهه) ورته نشته)) خو زه اوس وایم چې: قضیه پېښه ده خو ابوبکر ورته نشته.
دا یوه داسې قضیه ده چې نه جنګ غواړي او نه هم د خلکو د نظریاتو راپارول. نه کوم انقلابي عمل غواړي او نه یې هم تاوتریخوالي ته ضرورت شته. بلکې د زور استعمال او تاوتریخوالی نور هم ورته تاوان پېښوي او نوره یې هم راپاروي.
په اسلام کې نه د مسیحیت د تفتیش محکمې شته او نه هم د دین له امله د چا ځپل. بلکې دا داسې یوه قضیه ده چې عزم، حکمت، صبر، د مشکلاتو زغملو او څېړنې ته ضرورت لري.
دغه نوی دین ولې په اسلامي نړۍ کې خپور شو؟
دغه نوي دین څنګه وکولی شول چې مسلمانان په خپل کور کې مغلوب کړي؟
او څنګه یې وکولی شول چې د خلکو په عقلونو او زړونو دغه ډول ټینګ تسلط قایم کړي؟
د دغو ټولو پوښتنو ځواب دقیق او ژور فکر او پراخې څېړنې ته ضرورت لري.
اسلامي نړۍ په نولسمه مسیحي پېړۍ کې په دعوت، عقیده، عقل او علم کې له کمزورۍ سره مخ شوه او ستوماني او زړښت ورکې ښکاره شو، پداسې حال کې چې اسلام زړښت او کمزوري نه مني. اسلام د لمر په څېر نوی، د لمر په څېر پخوانی او د لمر په څېر ځوان دی. دا خو مسلمانان دي چې ستړي او کمزورۍ شوی وو، نه یې علمي انکشاف وکړ او نه یې په فکر او تولید کې څه ابتکار وښود. نه یې د عقل پیاوړتیا وښوده او نه یې په دعوت کې حماس او نه یې هم په ښکلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مؤثر ډول اسلام، د اسلام ځانګړتیاوې او پیغام په پراخه پیمانه خلکو ته وړاندې کړای شو.
نه یې د امت باسواده او روڼ اندي ځوانان خپل کړای شول او نه یې د هغوئ عقل او فکر متأثره کړای شو. دا پداسې حال کې چې همدغه ځوانان د سبا امت وو، او همدوئ ته د امید سترګې وراووښتې. هغوئ ته چا پدې د قناعت ورکولو هڅه ونه کړه چې اسلام د انسانیت دین او تلپاتې رسالت دی. او قرآن هغه معجز او تلپاتې کتاب دی چې هېڅکله یې نه نوي انکشافات خلاصېږي، نه یې د علومو ذخیرې پای لري، او نه یې ځواني زړېږي.
هغوئ ته چا دا قناعت ورنه کړ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله یوه لویه معجزه، د هر نسل پیغمبر او د هرې زمانې امام دی او اسلامي شریعت تر ټولو قوانینو غوره او په هره زمانه کې د ژوند د ټولو چارو د ښه حل او تنظیم صلاحیت لري. او هم دا چې ایمان، عقیده، اخلاق او معنوي ارزښتونه د یو غوره تمدن او عزتمنې ټولنې بنسټونه تشکیلوي.
ځوانان پدې هم چا پوه نه کړل چې له نوي تمدن سره له وسایلو او آلاتو پرته بل څه نشته. او نه چا دا خبره وروښووله چې د پیغمبرانو لارښوونې د عقیدې، اخلاقو او لوړو اهدافو مصدر دي. او د یو صالح او متوازن تمدن تمه تر هغه نشي کېدای چې تر څو وسایل او اهداف سره یو ځای نه کړای شي.
په دغه ډول یو حالت کې اروپا په اسلامي نړۍ د خپلو فلسفو یرغل وکړ. د هغو فلسفو چې د هغو په تدوین او تهذیب کې د اروپا لویو فیلسوفانو او د زمانې نابغه شخصیتونو ځانونه ستومانه کړي ول، خپلو نظریاتو ته یې د داسې علمیت او فلسفې رنګ ورکړی ؤ چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدلو یې سړي ته داسې ښکارېدل لکه چې همدغه د انساني فکر، عقل، څېړنو او تجربو وروستي نتائج او د بشري تأملاتو نچوړ وي.
په دغو فلسفو کې ځینې داسې ټکي ول چې د تجربې او مشاهدې پر بنسټ ولاړ ول او تجربې یې هم تصدیق کاوه. او ځینې ورکې داسې ټکي هم ول چې یوازې پر اټکلونو، تخیل او وهم ولاړ ول او حق او باطل، علم او جهل، واقعي حقیقتونه او شاعرانه تخیلات ټول پکې وو. شعر یې یوازې په نظم او قافیه کې بند کړی نه ؤ، بلکې هغه یې په فلسفې او علم کې هم ځای کړی ؤ.
دغه فلسفې له اروپایي مستعمرینو سره راغلې، دلته هم د انسانانو عقلونه او زړونه ورته تابع شول، او په شرق کې ورته د باسواده او روڼ اندې طبقې خلك ورتسلیم شول. ځینې یې رښتیا پرې پوهېدل، خو هغوئ ډېر لږ خلك ول. او ډېر یې داسې ول چې له سره پرې پوهېدل نه، خو ټولو پرې ایمان درلوده او د هغو له سحر څخه متأثر شوي ول چې ظرافت او ذکاوت به یې د هغو په منلو کې ګاڼه او دغه نظریات به یې د آزادو روښان فکرو شعارونه ګڼل.
دغه ډول الحاد او ارتداد په اسلامي ټولنه کې پداسې حال کې خپور شو چې پلرونه، استاذان، مربیان غیرتمن خلك ورته هېڅ متوجه نه شول. او دا ځکه چې دغه مرتدین نه کومې کلیسا ته تلل، نه کوم معبد ته داخلېدل، نه یې کوم بت ته سجده کوله، او نه یې د کوم طاغوت په نامه قرباني او حلاله کوله، چې همدغه به په پخوا زمانه کې د کفر، ارتداد او زندیقیت دلائل او نښې ګڼل کېدې.
پخوا به چې څوك له اسلامه وتل، هغوئ به له اسلامي ټولنې هم وتل، او له هغې ټولنې سره به یو ځای کېدل چې دوئ به یې نوی دین منلی ؤ. مرتدینو به خپله عقیده او خپل اوښتون په صراحت او زغرده اعلاناوه، او د خپلې نوې عقیدې په لاره کې به د هر ډول تاوان زغملو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته تيار ول. په دې به يې اصرار نه کاوه چې په پخوانۍ ټولنه کې پاتې شي، ترڅو د هغې له حقوقو او منافعو څخه هم برخمن شي.
خو نن چې څوك له اسلام سره خپلې اړيکې پرېکوي، هغوئ نه غواړي له اسلامي ټولنې سره هم خپلې اړيکې پرې کړي، سره لدې چې اسلامي ټولنه يواځنۍ هغه بشري ټولنه ده چې د عقيدې پر بنسټ ولاړه ده او له عقيدې پرته دغه ټولنه منځته نه راځي. خو دغه خلك بيا هم اصرار کوي چې بايد په اسلامي ټولنه کې پاتې شي، د ټولنې باور هم تر لاسه کړي، او له هغو حقوقو څخه هم برخمن شي چې اسلام يې د اسلامي ټولنې افرادو ته ورکوي. دغه ډول وضعيت يو شاذ وضعيت دی چې اسلامي تاريخ يې مثال نه لري.
ځنې نور جاهلي تصورات او افکار هم شته چې اسلام يې په خلاف ښکاره جګړه اعلان کړې ده، او رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل ټول توان د هغو په خلاف جنګېدلی دی. لکه جاهلي تعصب او قوم پرستي چې د وينې، وطن او توکم د يو والي پر بنسټ ولاړه ده. اوس دغه ډول عصبيت ستايلی کېږي، مقدس او سپېڅلی ګڼل کېږي، دفاع ورڅخه کېږي، تر بيرغ لاندې يې جګړې کېږي، او انساني ټولنه د هغه پر اساس وېشل کېږي، تر دې چې د خلکو دين او عقيده وګرځي، او د خلکو په عقلونو، زړونو، ژوند او آدابو تسلط پيدا کړي.
دغه توکم پالنه (قوم پرستي) يقيناً په خپل ژوروالي، پوخوالي، قوت او هر اړخيز والي کې له دينونو سره ډغره وهي، او انسانان خپلې بنده ګۍ ته وربولي، دانبياؤ عليهم السلام کوښښونه له منځه وړي، او (دين) چې په ټول ژوند باندې د حاکميت لپاره راغلی يوازې په يو څو عباداتو او حرکاتو کې خلاصه کوي، انساني نړۍ په خپلو منځو کې په جنګېدونکو بلاکونو ويشي، او هغه امت په ډېرو امتونو وېشي چې الله تعالی يې په هکله فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَٰحِدَةً وَأَنَا۠ رَبُّكُمْ فَٱتَّقُونِ ۝٥٢﴾ (المؤمنون: ۵۲)

ترجمه: (بې شکه دغه امت ستاسې يو امت دی او زه ستاسې رب يم له ما څخه ووېرېږئ).

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل ټول قوت د دغه جاهليت په خلاف جنګېدلی او پدې لاره کې يې هېڅ نرمي نده ښودلې. خلك يې ترې وېرولي، او د هغه ټولې لارې يې بندې کړې دي.

د اسلام نړيوال دين او واحد امت له دغو جاهليتونو سره يو ځای نشي پاتې کېدی. د اسلامي شريعت منابع د هغو له انکار او غندلو څخه ډك دي، او پدې هکله د اسلام بې شمېره دلائل موجود دي.

څوك چې د اسلام په طبيعت پوهېږي او يا د دينونو په طبيعت پوهېږي، هغوئ پدې پوهېږي چې دينونه دغه ډول قوم پرستۍ نه مني.

که څوك تاريخ ته له سياسي او مذهبي تمايلاتو په يو بې طرفه نظر وګوري نو وبه ويني چې دغه قوم پرستۍ د انسانانو تر منځ د وراني، تخريب، فساد او تفرقې ترټولو زورور عامل ده.

له هغو انسانانو څخه چې غواړي نړيوال سره يو کړي او ټول انسانيت د يوه بيرغ تر سيوري لاندې په يوه عقيده راټول کړي او له هغوئ څخه يوه داسې نوې ټولنه جوړه کړي چې د دين او پر رب العالمين د ايمان پر اساس ولاړه وي او د انساني ټولنې د کورنۍ د اعضاؤ ترمنځ سوله او امنيت، مينه او پيوستون خپور کړي او ټول د يوه داسې جسد په څېر کړي چې که يوه غړي ته يې څه تکليف ور رسېږي نو ټول غړي به ورسره په بې خوبۍ او تبه ناکراره وي. له دغو انسانانو څخه خو معقول او د انتظار وړ کار دا دی چې په ښکاره او پوره وضاحت د عصبيت او قوم پرستيو په خلاف و جنګېږي، او راتلونکو انسانانو ته داسې تاريخ پرېږدي چې حق ته د هغوئ د لارښوونې سبب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اسلامي نړۍ وروسته له هغه چې اروپايانو په سياسي او فرهنګي ډول لاندې کړه، دغو عصبيتونو ته چې دوينې، توکم او وطن د اختلاف پر بنسټ ولاړ دي ورتسليم شوه، او هغه يې د يوې داسې علمي قضيې، منل شوي حقيقت او واقعيت په توګه ومنل چې هيڅ خلاصون ورڅخه نشته.

د اسلامي ټولنې ملتونه د هغو عصبيتونو چې اسلام له منځه وړي وو په بيارا ژوندي کولو پسې شول، د هغو بوللې يې وبوللې، د هغو شعائر يې را ژوندي کړل، په هغو او د هغو پر هغې زمانې يې ووياړل چې تر اسلام د مخه وه. او دا هغه کار دی چې اسلام ورته په ټينګار سره (جاهليت) وايي، او د اسلام په قاموس کې د دغې عقيدې لپاره تر (جاهليت) بل بد او وېرووونکی نوم نشته.

له دغه جاهليت څخه وتل قرآن کريم پر مسلمانانو د يوه احسان په توګه يادوي، او مسلمانان دېته هڅوي چې پر دغه لوی احسان او نعمت د الله تعالی شکر ادا کړي:

﴿ وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَا ﴾
آل عمران: ۱۰۳

ترجمه: (او هغه پېرزووني در يادې کړئ کله چې تاسې يو د بل دښمنان واست، نو ستاسې د زړونو په منځ کې يې مينه راوستله، او د هغه په دغه نعمت سره ورونه شوئ، او تاسې د اور د کندې پر څنډه واست، نو له اور څخه يې خلاص کړئ).

﴿ بَلِ ٱللَّهُ يَمُنُّ عَلَيۡكُمۡ أَنۡ هَدَىٰكُمۡ لِلۡإِيمَٰنِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ١٧ ﴾
الحجرات: ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: (بلکې پر تاسې د الله احسان دی چې د ايمان په لور يې ښوونه درته کړې، که تاسې ريښتني مؤمنان ياست).

﴿ هُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبْدِهِۦٓ ءَايَـٰتٍۭ بَيِّنَـٰتٍ لِّيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَـٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٩﴾ ﴾ الحديد: ۹

ترجمه: (الله هغه ذات دی چې پر خپل بنده (محمد صلی الله عليه وسلم) ښکاره دلايل نازلوي، تر څو تاسې له تيارو رڼا ته وباسي، بې شکه چې الله پر تاسې ډېر مهربان او د ډېر رحم خاوند دی).

مسلمان ته په طبيعي ډول دا په کار ده چې د جاهليت زمانه له بدۍ، کرکې او نفرت څخه پرته په بل څه ياده نه کړي، که هغه هر څومره تاريخي او يا اوسنۍ وي. آيا دا به داسې نه وي لکه له زندان څخه يو آزاد شوی شخص چې خپل د بنديتوب، سپکاوي او تعذيب وختونه ځانته وريادوي او په يادولو يې غوني زيږه شي او ترخې او دردونکي خاطرې يې بېرته په ذهن کې تازه شي؟

يا به داسې نه وي لکه له يوه خطرناك مرض څخه جوړ شوی انسان چې خپل د هغه مرض يادونه په خپل ذهن کې بيا تازه کوي چې يو وخت يې د مرګ تر پولي رسولی ؤ چې اوس يې په يادولو خاطر پرېشانه کېږي او رنګ يې الوزي؟

آيا هغه انسان چې يو خطرناك او وېروونکی خوب يې ليدلی وي په وېښېدلو به د الله شکر نه ادا کوي چې ښه دی چې دا هرڅه يې په خوب کې ليدلي او په ويښه کې يې نشته؟

هغه جاهليت چې د جهل، ګمراهۍ او له حق څخه د لرې والي د دنيا او آخرت خطرونه ورکې راجمع شوي ؤ تر دې ټولو بددی. او بايد چې د هغه بيا يادول او تازه کول د انسان په زړه کې د هغه په هکله کرکه او نفرت پيدا کړي، او انسان له هغه څخه د خلاصون په بدل کې شکر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشویق کړي. څکه خو په یو صحیح حدیث کې راغلي چې ((**ثلاث من کن فیه وجد حلاوة الإیمان: أن یکون الله ورسوله أحب إلیه مما سواهما، و أن یحب المرأ لا یحبه إلا لله، و أن یکره أن یعود إلی الکفر کما یکره أن یقذف في النار**)) (**متفق علیه**).

ترجمه: (درې صفات داسې دي چې څوك يې ولري په هغو به د ايمان خوند احساس ګړي: چې الله او د هغه رسول ورته تر بل هر څه ګران وي، او دا چې له چا سره مينه او محبت يوازې د الله لپاره وکړي، او کفر ته بېرته ورګرځېدل يې داسې بد واېسي لکه اورته ورغورځېدل يې چې بد ايسي).

الله تعالی په ډېر شدت سره د جاهليت د شعائرو او د هغه د نوميالیو او مشرانو بدي بيان کړې ده او فرمايلي يې دي:

﴿ وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ وَأَتْبَعْنَٰهُمْ فِى هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلْمَقْبُوحِينَ ﴿٤٢﴾ ﴾ القصص: ٤١- ٤٢

ترجمه: (او مونږ هغوئ د اور په لور د بلنې مشران وګرځول، او د قيامت په ورځ به هېڅ مرسته ورسره ونه شي. او ورپسې موكړ په هغوئ پسې پدې دنيا کې لعنت، او په قيامت کې به هغوئ له غندلو شوو څخه وي).

او همدارنګه فرمايي: ﴿ وَمَآ أَمْرُ فِرْعَوْنَ بِرَشِيدٍ ﴿٩٧﴾ يَقْدُمُ قَوْمَهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فَأَوْرَدَهُمُ ٱلنَّارَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْوِرْدُ ٱلْمَوْرُودُ ﴿٩٨﴾ وَأُتْبِعُوا۟ فِى هَٰذِهِۦ لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ بِئْسَ ٱلرِّفْدُ ٱلْمَرْفُودُ ﴿٩٩﴾ ﴾ هود: ٩٧- ٩٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: ((د فرعون حکم په سمه برابر نه ؤ، د قیامت په ورځ به د خپل قوم په وړاندې روان وي او ټول به اورته ننه باسي، د ورتګ خورا بد ځای دغه اور دی چې دوئ پرې وننویستل کېږي، په دنیا کې پرې لعنت دی، او د قیامت په ورځ هم، دا خورا بده ورکړه ده چې دوئ ته ورکول کېږي)).

خو اوس د اسلامي نړۍ ډېرې سیمې او ولسونه له غربي فلسفو او افکارو څخه د تأثر په نتیجه کې داسې شول چې له اسلام څخه د مخکې زمانې تمدن او عنعنات ستایي او هغو ته د بېرته ورګرځېدلو لپاره لېوالتیا ښیي. هڅه کوي چې د هغې زمانې دیني شعائر بېرته راژوندي کړي او مشهور اشخاص، د جاهلیت دوخت اتلان، بادشاهان او د هغوئ کار نامې تلپاتې وښیئ، لکه هماغه یې چې د تاریخ زرینه زمانه وي، او یا هغه کوم داسې لوی نعمت وي چې اسلام دوئ ورڅخه محروم کړي دي.

د جاهلیت زمانې ته په دغه ورګرځېدلو د اسلام له لوی نعمت څخه انکار او د هغه د احسانونو ناشکري او د اسلام د نعمت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فضل د قدر نه پېژندل دي. پدې کار سره د خلکو په ذهن کې د کفر، بت پرستۍ او د جاهلیت د خرافاتو، ګمراهیو، بې عقلیو او خندوونکو او ژړوونکو هغو عقایدو او نظریاتو چې د هېڅ هوښیار مسلمان عقل یې نه مني خطر کم ښودل دي. دا هغه کار دی چې په کولو یې د دې وېره شته چې مسلمان دې له اسلام او ایمان څخه محروم شي، او د الله تعالی له سخت عذاب سره دې مخ شي. الله فرمایي:

﴿ وَلَا تَرْكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنْ أَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾ ﴾ هود: ۱۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: (میلان مه کوئ هغو خلکو ته چې ظلم يې کړی چې اور به مو وسوځوي، او نه به وي ستاسو لپاره له الله پرته نور دوستان، او نه به له تاسو سره مرسته کېږي).

له دغو نظرياتو سره نن په اسلامي نړۍ کې د مادياتو د حاصلولو لپاره شديده لېوالتيا ، ماديات تر هر ډول اصولو او عقيدې غوره ګڼل، دنيا ته پر آخرت ترجيح ورکول، له معنويت څخه پرېکون او په هوی او هوس پسې تلل هم ملګري شوي دي چې نتيجه يې بې بندوباري، د الله تعالی حرامو ته د حرامو په سترګه نه کتل، په لوړو طبقې کې د شرابو او فسق خپرېدل راووتله. تر دې چې دغه طبقه خلك په هر اسلامي هېواد کې په همدغه يو شکل او صورت کې رامنځته شول، ډېر لږ يې داسې دي چې الله تعالی له دغه ډول وضعيت څخه ساتلي دي. دغه د لوړې طبقې خلك ځان د اسلام له هر ډول قيودو او فرايضو څخه په مکمل ډول داسې آزاد بولي لکه چې له اسلام او شريعت سره يې هېڅ رابطه نه وي. او يا داسې چې لکه اسلام چې کوم منسوخ شريعت او خيالي افسانه وي.

دغه په اجمالي ډول د اسلامي نړۍ د ديني او اعتقادي وضعيت تصوير دی. دا يوه داسې د جاهليت څپه ده چې اسلامي نړۍ يې له يوه سره تر بل سره لاندې کړې ده. او دا د اسلامي نړۍ په اوږده تاريخ کې تر ټولو لويه څپه ده چې ورسره مخ ده.

دغه څپه په خپل قوت، هر اړخيزوالي او تأثير کې له ټولو هغو اسلام مخالفو څپو څخه زياته ده چې اسلامي تاريخ تر اوسه ليدلې دي. خو له نورو څپو څخه يې فرق دا دی چې دغې څپې ته د ډېرو لږو خلکو پام ورګرځېدلی دی. او هغه خلك چې د دې په خلاف جنګېږي پدې لاره کې خپل ټول قوت او استعدادونه کاروي، ډېر لږ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوا هم د یونان له فلسفې نه د متأثر کېدو په نتیجه کې الحاد او زندیقیت منځئته راغلی ؤ، خو په هغه وخت کې د هغه د مقابلې لپاره داسې خلك رامیدان ته شوي وو چې په خپل لوی عقل، بې ساري ذکاوت، قوي علم، پراخې څېړنې او قوي شخصیت د هغه پر خلاف وجنګېدل.

باطنیان او ملحدان هم پیدا شوي ول، خو د هغو په خلاف هم داسې خلك را میدان ته شول چې په علم، حکمت او دلائلو د هغو په خلاف وجنګېدل، او اسلام خپل عقلي نفوذ او علمي لوړه مرتبه وساتله، او هره توپاني څپه یې بېرته په شا کړه، هېڅ توپان او سېلاب د اسلام هسك غر لانديې نکړای شو.

دغه مسأله کومه د اخلاقي تنزل، یا په عباداتو کې د کمزورۍ او یا د شعائرو د پرېښودلو او د پردیو د تقلید مسأله نه ده، که څه هم چې دغه مسائل هم توجه او په خلاف یې مبارزه غواړي. نن ورځ د اسلامي نړۍ مسأله تردې مسائلو ډېره ډېره لویه او پلنه ده. دا د کفر او د ایمان مسأله ده، په اسلام باندې د پاتې کېدلو او یا له اسلام څخه د وتلو مسأله ده.

نن جګړه د غرب د سیکولرۍ (بې دینۍ) فلسفې او د وروستي اسماني دین (اسلام) تر منځ روانه ده. د مادیت او د اسماني شریعت تر منځ جګړه ده. او داسې ښکاري چې همدا به د دین او بې دینۍ تر منځ وروستۍ جګړه وي، او همدا به د نړۍ برخلیك ټاکي.

د نن ورځې جهاد، د نبوت خلافت، الله ته د نږدې کېدلو تر ټولو لویه ذریعه او تر ټولو غوره عبادت دا دی چې د (بې دینۍ) د دغې څپې چې پر اسلامي نړۍ یې یرغل کړی او د مسلمانانو عقلونه او مرکزونه اشغالوي مخه دې ونیول شي، او د ځوانانو او روڼ اندو زړونو ته دې بېرته د اسلام په اصولو، عقائدو، حقائقو، قوانینو او پر محمدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسالت له منځه تللی باور او اعتماد راستون کړای شي. او هم دې هغه فکري او رواني (روحي) بې باوري او اضطراب له منځه یوړل شي چې د امت روښانفکره ځوانان ورباندې اخته دي. هغوئ ته باید د عقل او فرهنګ په ساحه کې په اسلام قناعت ورکړ شي. د هغو ټولو جاهلي افکارو او نظریاتو په خلاف باید علمي او عقلي مبارزه وشي چې د خلکو په زړونو عقلونو مسلط دي. او پر ځای یې اسلامي فکر او نظر د قناعت، ایمان او ایماني غیرت له لارې حاکم شي.
پوره یوه پېړۍ شوه چې اروپا زموږ ځوانان او زموږ عقلونه له موږ ځخه یرغمال کړي دي، او زموږ په ذهنونو کې د شك، الحاد، منافقت او په ایماني او غیبي حقیقتونو باندې د بې باورۍ تخم شیندي، او په مقابل کې یې موږ پر نوو اقتصادي او سیاسي فلسفو ایمان راوړلو ته وربولي. پداسې حال کې چې مونږ د دغو نوو فلسفو مقاومت ته شا وراړولې، او یوازې په خپل تاریخي میراث مو اکتفا کړې ده، او له نوي ایجاد ځخه مو لاس نیولی دی.
موږ د اروپا د فلسفو او قوانینو له علمي محاسبې، نقد او د جراحي د طبیبانو په څېر د هغو جراحۍ او سپړنې ته هم شاکړې ده. او یوازې په بېړني او سطحي ډول مو هغه د خپلو پخوانیو علمي معلوماتو د زیاتولو په مقصد یو څه څېړلي دي. د دغه غفلت په نتیجه کې خبره تردې را ورسېده چې په نابېره ډول اسلامي نړۍ پدې وروستیو کې د ایمان او عقیدې په ډګر کې له سقوط سره مخ شوه، او په اسلامي هېوادونو کې د چارو واګې داسې خلکو په لاس کې واخیستل چې نه د اسلام په اصولو او عقیدې باور لري، نه ورڅخه دفاع کوي، او نه یې له مؤمن او مسلمان ولس سره له یو ډول (اسلامي نشلیزم) او سیاسي مصالحو پرته بله رابطه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغې د (بې دینۍ) روحیې په کراره کراره د ادبیاتو، فرهنګ، ژورنالیزم او سیاست له لارې ولسونو ته لاره پیدا کړه، تر دې چې مسلمان ولسونه دغې بې دینه طبقې ته لدې امله تابع شول چې هغوئ ډېر مکار خلك ول او په ټولنه باندې یې خپل نفوذ او فرهنګ حاکم کړی ؤ، که څه هم چې په مسلمانو ولسونو کې ډېر خیر، صلاح او ښه استعداد شته او په نړۍ کې هغوئ له غوره ټولنو څخه دي.

او که وضعیت همدغه ډول پاتې شي، نو الحاد او فساد به دغو ټولنو ته نوره هم لاره پیدا کړي، او حتی هغو خلکو ته به هم ورسېږي چې په کلیو او بانډو کې اوسېږي او په صنعت او زراعت باندې مشغول دي. هغوئ کې به هم (لادینیت) او (زندیقیت) خپور شي. همدغه ډول په اروپا کې هم وشول، او دا دی اوس په شرق کې هم دا پېښېږي که وضعیت همدغه ډول وي او چارې په همدې ډول پر مخ ولاړې شي او الله تعالی یې په خپل قدرت مخه ونه نیسي.

اسلامي نړۍ نن ورځ یو نوي اسلامي دعوت ته ضرورت لري. او د نن ورځې د دعوتګرو نعره او هدف هم همدادی چې وایي: ((یو ځل بیا داسلام پر لور!)). خو پدې لاره کې یوازې شعارونه کافي نه دي. اوس تر کار د مخه یو حکیمانه تصمیم ته ضرورت دی، باید په سړه سینه پدې غور وکړو چې هغه طبقه چې ځان روشنفکران بولي او د ولسونو د ژوند د ټولو چارو واګې یې په لاس کې نیولي دي څنګه یې بېرته اسلام ته را واړوو؟ او څنګه یې زړونه بېرته له ایمان او په اسلام باندې له باور څخه ډك كړو؟ او څنګه یې د غربي فلسفو او د معاصر تمدن د بې دینه نظریاتو له غلامۍ څخه خلاص كړو؟

اسلامي نړۍ نن ورځ داسې شخصیتونو ته ضرورت لری چې د دغه دعوت لپاره ځانونه وزګار کړي، خپل علم، استعدادونه او توان د دغه دعوت په لاره کې ولګوي، او داسې خلك وي چې نه یې منصب په کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او نه مرتبه، نه د وظیفې په لټه کې وي او نه د حکومت، او نه یې هم د چا لپاره کینه په زړه کې وي. خلکو ته ګټه رسوي، خو د ځان لپاره په ګټو پسې نه ګرځي، داسې خلك چې خلکو ته ورکړه کوي، خو له خلکو یې نه غواړي. له هېڅ طبقې سره په کوم داسې دنیاوي شي کې چې هغه یې ډېر حرص لري او ځان پرې وژني په کشمکش کې نه پرېوځي ترڅو د دغو خلکو لپاره دغه دعوتګر شخصیتونه پر خپل ځان نه کوم حجت په لاس ورکړي، او نه هم شیطان ته لاره پرېږدي چې د دوئ زړونو ته ورداخل شي. د دغو دعوتګرو شعار باید اخلاص، له هر ډول شهوتونو، ځان غوښتنو او تعصباتو څخه لیرې اوسېدل وي.

اسلامي نړۍ نن ورځ داسې ټولنو او ادارو ته ضرورت لري چې د یو داسې نوي او قوي اسلامي ادب د رامنځته کولو لپاره کار وکړي چې ځوانان په پراخه معنی بیا د اسلام غېږې ته راوګرځوي، او د هغو غربي فلسفو له غلامۍ یې وژغوري چې ځینو یې د پوهې او څېړنې په نتیجه کې منلي دي، او ځینو نورو یې بیا یوازې په پټو سترګو د غربیانو د تقلید په نتیجه کې منلي دي.

د دغه نسل په ذهنونو او فکرونو کې باید بېرته د اسلام اصول ځای پرځای شي، فکر او ذهن یې باید بېرته په اسلام موړ کړای شي.

اسلامي نړۍ نن په هره ساحه کې دغه ډول شخصیتونو ته ضرورت لري تر څو په ټینګه او جدي ډول دغه جهاد پر مخ بوځي.

زه له هغو خلکو هېڅکله نه یم چې دین له سیاست څخه جلا بولي، او د دین داسې تعبیر او تفسیر کوي چې له حاکم وضعیت سره په ټکر کې رانشي- که څه هم چې حاکم وضعیت هر څومره له اسلام سره نا آشنا او له هغه نه منحرف هم وي- او یا یې داسې تعبیروي چې له هرې ټولنې سره همغاړی کېدي شي. او نه هم له هغو خلکو څخه یم چې سیاست (**شجرة ملعونة في القرآن**) ګڼي. بلکې زه د هغو خلکو په سر کې یم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمانو ولسونو لپاره دسالم سیاسي پوهاوي او صالح قیادت د ایجاد لپاره کار کوي.
زه له هغو خلکو څخه یم چې پدې باور دي چې دیني ټولنه له یوه سالم دیني حاکمیت چې د اسلام پر بنسټونو ولاړ وي پرته منځته نشي راتلای. زه به تر څو چې ژوندی یم همدې نظریې ته خلك رابلم. خو خبره د ترتیب، تقدیم او تأخیر، د دین د حکمت او پوهې د تقاضا او د اوضاعو او د واقعیتونو ده.
مونږ خپل کوښښونه، استعدادونه، موجود فرصتونه او خپل وسائل په سیاسي او تنظیمي حرکتونو کې مصرف کړل، او دا ټول پدې بنیاد چې ولس مؤمن دی، او هغه خلك چې د ولسونو قیادت کوي او د چارو واګې یې په لاس کې دي (روښانفکران) هغه هم مؤمنان دي، د اسلام په اصولو او عقیدې باور لري او د اسلام د سر لوړی او د حدودو د تنفیذ لپاره به یې په لېوالتیا سره کار کوي، خو خبره سر چپه راووته او هغه داسې چې د ولس مو په همدې ډول حال کې ایمان کمزوری شو، او اخلاق یې د انحطاط (لویدنې) په لور لاړل، چې نه موږ ورته متوجه شوو، او نه هغه خپله په ځان پوه شو. او د روښانفکره طبقې د اکثرو خلکو اسلامي عقیده د غرب د فلسفې، سیاست او نفوذ د منلو په نتیجه کې له منځه لاړه، او یوه لویه برخه خلك خو یې د اسلامي عقیدې په خلاف هم راپورته شول، او پر هغو غربي نظریاتو یې ایمان راووړ او دفاع یې ورڅخه پیل کړه او د هغو د خپرولو او تطبیقولو لپاره یې متې راونغښتې چې اصلاً له دین سره په ټکر کې دي.
دغه خلك غواړي چې د ژوند چارې ټولې د همدغو غربي نظریاتو پر اساس او د هغو په رڼا کې تنظیم کړي. او ملت په هغو باندې عمل کولو ته اړباسي. ځینې یې غواړي د دغو نظریاتو تطبیق په بیړه او افراط سره عملي کړي، او ځینې یې غواړي یو څه له حکمت څخه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخلي او مرحله په مرحله يې عملي کړي. او ځينې يې دغه غربي نظريات د زور او خشونت په ذريعه عملي کوي. ځينې نور يې بيا کوښښ کوي چې خلکو ته يې ښايسته کړي تر څو يې خلك په خپله ومني، خو هدف د ټولو يو دی.

ديني علماء پدې اړه دوه ډلې دي: يوه ډله يې هغه دي چې د دغې طبقې په خلاف يې سخته جګړه پيل کړې، هغوئ کافر ګڼي، او له هغوئ سره يې هر ډول مقاطعه اعلان کړې ده، او د دغو بې دينه نظرياتو او فرهنګ د اسبابو او ريښو د لټولو هڅه هم نه کوي.

هغوئ د دغې اسلام دښمنې طبقې د احوالو د تغيير او اصلاح هڅې هم نه کوي، پداسې ډول چې له هغوئ سره ناسته ولاړه ولري، د دين په اړه د دغې طبقې له زړونو څخه نفرت ليرې کړي، چې پدې ترتيب د هغوئ په زړونو کې د ايمان د کومې پاتې ذرې په سالمو او مؤثرو اسلامي ادبياتو پالنه وکړي. له هغوئ څخه هيڅ مال، قوت او منصب ونه غواړي، خو مخلصانه لارښوونه ورته په حکيمانه ډول تقديم کړي.

بله ډله بيا هغه علماء دي چې له دوئ سره مرسته کوي، په مصالحو او منافعو کې ورسره شريك دي، له دنيا څخه يې استفاده کوي، پرته له دې چې په دين کې څه ګټه ورورسوي. دوئ نه د دعوت غم کوي او نه د عقيدې، نه په دين باندې غيرت لري، او نه هم د هغوئ د اصلاح اراده لري او نه هم له هغوئ سره په دغه نږديوالي کې دکوم رسالت خاوندان دي.

خو دريمه ډله چې هغوئ بايد له دغه وضعيت څخه دردمن وي، او دا هم مني چې دغه طبقه خلك داسې مريضان دي چې د تداوي او شفا وړتيا هم ورکې شته، هغوئ ته بايد په مهربانۍ دعوت ورکړي، او په مخلصانه نصيحت ورته خپل حکيمانه پيغام ورورانډې کړي، چې دغه ډله ډېر لږ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه طبقه خلك چې د غرب نظريات يې منلي دي او دين او د دين چاپېريال سره يې هېڅ تړاو نشته، له دين نه لیرې او له هغه څخه په وېره کې اوسېږي، او نور هم له دين څخه لیرې کېږي. په هر هغه څه پورې چې په دين پورې تړاو لري پسخند او مسخرې کوي. د هغې ډلې مسلمانانو دښمني چې له دوئ سره په جګړه اخته دي دوئ نور هم د سختې جګړې خواته بيايي. او هغه مسلمانان چې د دين زعامت کوي او غواړي چې حاکميت د دغې بې ديني طبقې له واکه وباسي دواړه سره د زعامت پخاطر په سيالۍ اخته دي، د هغوئ دغه دښمني د دې سبب شوې چې د غربي نظرياتو منونکي نور هم له دين سره کينه وکړي او ورڅخه په وېره کې شي.

په انسانانو کې دا فطري خبره ده چې له هغه چا سره کينه وکړي چې غواړي دنيا له دوئ څخه واخلي، او دا په داسې حال کې چې که يې ايمان هم يوازې په دنيا وي. او له هغه چا سره کينه وکړي چې غواړي حکومت او واك ترې واخلي. پداسې حال کې چې دوئ خپل پايښت هم يوازې په حکومت او واك کې ګڼي. او له هغه چا سره هم کينه وکړي چې غواړي له ماد ياتو او خوندونو يې بې برخې کړي، پداسې حال کې چې پرته له ماد ياتو او خوندونو بل څه نه پېژني هم نه.

اسلامي نړۍ نن داسې يوې ډلې داعيانو ته ضرورت لري چې له دنياوي مقاصدو خلاص وي، او د دعوت لپاره اخلاص ولري، له هر هغه څه لیرې وي چې خلکو ته دا تصور ور پيدا کوي چې کېدی شي ددوئ مقصد به ماديات يا د خپل ځان، خپل قوم او يا خپل تنظيم لپاره د حکومت غوښتل وي.

دغه دعوتګر بايد د خلکو د ذهن او نفس هغه روحي او رواني عقدې لیرې کړي چې د غرب فرهنګ او د ملايانو غلطيو، د دغې طبقې غلط فهميو، د علم کموالي او له اسلام او د هغه له چا پېريال څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیرې والي د دوئ په ذهنونو کې ایجاد کړې دي. دغه کار د لیدنو کتنو، ملګرتیاؤ، خبرو اترو، د لیکنو د تبادلې، د سفرونو او ملاقاتونو، د اسلامي مؤثرو ادبیاتو، شخصي روابطو، پاك نفسۍ، اخلاقي لوړتیا، د قوي شخصیت په لرلو، له دنیا څخه په زهد، د خوندونو په پرېښودلو او د انبیاؤ علیهم السلام او د هغوئ د خلفاؤ د اخلاقو په تمثیل سره ترسره کړي.([1])

1علامه ندوي رحمة الله علیه په دغه فقره کې دغربي فلسفو د منونکو (مرتدانو) د علاج لپاره د یوې سوله ییزې، علمي، دعوتي، عاطفي او صوفیانه مبارزې طرحه وړاندې کوي،دغه طرحه په خپل ځای او خپل وخت کې په نظري ډول یوه سمه طرحه ده، خو دا چې علامه رحمة الله علیه دغه مقاله لسګونه کلونه مخکې د هماغه وخت د فکري، سیاسي،اجتماعي او نظامي وضعیت په نظر کې نیولو سره لیکلې وه او په هغه وخت کې که دغو مرتدینو له یوې خوا له اسلام څخه په عملي ډول د وتلو لاره نیولې وه، خو له بلې خوا یې د اسلام او مسلمانانو په خلاف د کفر تر بیرغ او قوماندې لاندې پوځي جګړه نه وه پیل کړې، بلکې په منافقتونو، تزویرونو، ریاکاریو او دروا‌غو به یې له مسلمانو ولسونو سره د خوا خوږۍ دعوی هم کوله. نو ځکه یې ندوي صاحب د دغه ډول فکري انحرافونو د علاج لپاره د فکري وسائلو توصیه کړې ده. دا چې اوس دغه حاکم مرتدین په علني ډول د کفر تر بیرغ لاندې او د کفر په صف کې د کفارو د اهدافو د تحقق لپاره په ټوله اسلامي نړۍ کې د اسلام په خلاف په یوه بې رحمه پوځي جګړه اخته دي او له اسلام سره یې د هر ډول مذاکراتو دروازې بندې کړې دي او په ښکاره اعلانوي چې په هېڅ ځای کې او په هېڅ ډول ورته د اسلام حاکمیت او د شریعت تطبیق د منلو وړندی او که څوك یې د حاکمولو هڅه کوي هغوئ باید په بې رحمانه ډول ووژل شي او یا له صحنې لیرې شي. نو په دغه صورت او په دغه ډول وضعیت کې ښایي د دغو مرتدینو چې ندوي صاحب هم ورته مرتدین وایي هماغه علاج وي چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خپلې زمانې د ارتداد د له منځه وړلو لپاره کارولی ؤ.

خو دا پدې معنی نده چې د غربي فکرمنونکي دې ټول په یوه ډبره وتلل شي. کېدای شي چې ځینې کشران او ناپوهان یې اوس هم د شکوکو، شبهاتو او غلط فهمیو ښکار شوي وي او یا د کفري هېوادونو او نظامونو د تیرایستونکو تبلیغاتو تر تأثیر لاندې راغلي وي، چې لدغه ډول فکري ګمراهۍ څخه د هغوئ د راوېستلو لپاره لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ډول داعیانو تل د اسلام خدمت کړی، په اموي دولت کې د پنځم راشدخلیفه (عمر بن عبد العزیز) ځرګندېدل د همدغه اسلوب او طریقې نتیجه وه. همدغه تاریخ یو ځل بیا په هند کې د مغولي بادشاه جلال الدین اکبر په وخت کې تکرار شو، هغه چې د اسلام په خلاف را پورته شوی ؤ او تصمیم یې نیولی ؤ چې پر هند د اسلام له څلور پېړۍ حکومت وروسته یو ځل بیا هندوستان د (برهمي) جاهلیت په لور وروګرځوي، خو د دغه حکیمانه دعوت په برکت او د (مجدد الف ثاني) د باحکمته شخصیت په هڅو چې اسلام ته یې په اخلاص بلنه کوله، او په اسلام او د اسلامي دعوت په فقه ښه پوهېده. او همدارنګه د هغه د شاګردانو په کوښښونو هند یو ځل بیا تر پخوا هم په قوي او په ښه ډول اسلام ته را وګرځېده.

وروسته د (اکبر) پر تخت داسې بادشاهان کښیناستل چې په تقوی او د اسلام په مینه کې یو تر بله غوره وو، تر دې چې د هند پر تخت داسې څوک کیښناست چې د اسلام او د اصلاح تاریخ یې په یاد او کارنامو ښایسته شو او هغه (اورنګ زیب عالمګیر) ؤ، هغه چې (فتاوی هندیه عالمګیریه) هم هغه ته منسوبه ده.

د دغه ارتداد مقابله کول داسې یوه فریضه ده چې یوه ورځ ځنډ هم نه مني، نن ورځ د اسلامي نړۍ ځواکمن هېوادونه او غوره بچیان د ارتداد له یوې قوي او خطرناکې څپې سره مخ دي، دغه د ارتداد څپه د مسلمانانو د عقیدې، اخلاقو او ارزښتونو په خلاف یو پاڅون او بغاوت دی. او که اسلامي نړۍ خپله دغه شتمني چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په میراث پرې ایښې او مسلمانو نسلونو هغه په خپلو منځو کې ساتلې او د اسلام اتلانو له هغې څخه د دفاع په لاره کې قربانۍ ورکړې له لاسه ورکړي، بیا نو د اسلامي نړۍ بقا له منځه ځي. دغه موضوع باید د ټولو هغو خلکو د توجه او اهتمام وړ وګرځي چې د اسلام غم ورسره دی.

(پای)

وراوړدول بیا هم د اسلامي فکر د پلویانو او مخلصو داعیانو فریضه ده. (ژباړونکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل مسيحي پوهنتون
(American University)

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخي پس منظر

د اسلام له پیل راهیسې غربیانو تل هڅه کړې چې اسلامي هېوادونه تر خپل تسلط لاندې راولي او د اسلام حاکمیت له منځه یوسي. د همدې هدف لپاره یې اول صلیبي جنګونه شروع کړل او د (القدس) د نیولو په بهانه یې څوسوه کاله په مسلسل ډول لښکرې راتولې کړې او دلته یې په لکونو مسلمانان ووژل، خو دغه هدف یې ترلاسه نه کړای شو لکه چې (ګارډنر) وايي:

(صلیبي جګړو ونشو کولای چې (القدس) د تل لپاره د مسلمانانوله ولکې وباسي او د اسلامي نړۍ په زړه کې یو مسیحي دولت جوړ کړي)).

نوموړی زیاتوي: (صلیبي جګړې د القدس تر نیولو زیاتره د اسلام د له منځه وړلو په نیت ترسره کېدلې)([1]).

وروسته بیا همدغه صلیبي جګړې د استعماري جګړو په شکل کې پیل شوې چې ظاهراً یې امپریالیستي او اقتصادي بڼه درلوده چې په نتیجه کې یې تقریبا ټول اسلامي هېوادونه لاندې کړل او د یوې اوږدې مودې لپاره یې مسلمانان محکوم وساتل او شریعت یې د زور په وسیله د هغوئ له سیاسي او اجتماعي ژوندانه څخه لیرې کړ که څه هم چې د خلکو په زړونو کې یې لاځای درلود.

خو کله چې د شلمې پېړۍ په پیل کې د آزادي غوښتونکو حرکتونو په نتیجه کې د اروپایي استعمار ټغر په ټولېدو شو نو انګریزانو په خاص ډول له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته خپل استعماري نقش امریکا ته

1- له کویټ څخه خپریدونکې دالمجتمع مجله (۲۰۰) یمه ګڼه د (الجامعة الامریکیة بیروت مرکز لنشاط المخابرات والسفارة الامریکیة) مضمون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور وسپاره. ځکه چې نور نو د انګریزانو ستوری په لوېدو او د امریکا ستوری په پورته کېدو وو.

امریکایانو چې د اروپایانو د استعماري دور د حاکمیت له مشکلاتو څخه درس اخستی وو نو يې د اسلامي هېوادنو د نیولو لپاره یوه بله طریقه او ستراتېژي وضع کړه چې بنسټ يې د کلیسا پر کوښښونو او تعلیم ولاړ وو.

امریکا مسيحي مبلغینو ته وظیفه ورکړه چې په اسلامي هېوادونو کې چې زیاتره يې لا ترهغه وخته د اروپایانو تر استعمار لاندې ول د مکتبونو، کالجونو او پوهنتونونو د تأسیس له لارې داسې یو نوی نسل وروزي چې یوازې په نامه مسلمان وي خو نور يې له اسلام سره هېڅ همدردي نه وي. دين، فکر، اخلاق، فرهنګ او د ژوند بڼه يې امریکایي وي، تر څو دغه نوي نسل ته له فراغت څخه وروسته د هېوادنو چارې وروسپارل شي، او د اسلامي هېوادونو مستعمره ساتلو ته دا ځل د Westernization (غربي ګرځولو) په شکل کې دوام ورکړي.

کلیسا په اسلامي هېوادونو کې داسې تعلیمي مراکز او اداري جوړې کړې چې په حقیقت کې د صلیبي استعماري جګړو د اهدافو د تر سره کولو لپاره د جګړې جبهې وې، خو په ښکاره يې د (تعلیم)، (انسانیت)، او (ترحم) نعرې پورته کولې.

لطفي لیفونیان ارمنی الاصله ترکی منصّر وایي: (اروپایي دولتونو چې په صلیبي جګړو کې ماتې وخوړه نو ويې غوښتل د مسلمانانو په خلاف یوه بله صلیبي جګړه دا ځل د تعلیم او تبلیغ له لارې روانه کړي، نو دا ځل يې کلیسا ګانې، مسيحي تبلیغ، مکتبونه، پوهنتونونه او شفاخانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کار واچولې، او په زرګونو مسيحي مبلغين يې په اسلامي نړۍ کې خپاره کړل.)[1]

د امريکا دغه استراتيژي ډېره کاريګره واقع شوه، ځکه چې دا ځل نه يوازې دا چې په اسلامي هېوادونو کې خلکو له دوئ کرکه نه کوله، بلکې په خپلو مصاريفو يې خپل اولادونه د هغوئ مخې ته د زده کړې لپاره کښېنول او د نوي نسل مستقبل يې مسيحي منصرينو (تبليغيانو) ته وروسپاره.

مسيحيت د تعليم تر پردې لاندې

کله چې امريکايي پروټسټنټ مسيحي مبشرين Missionary له (مراکشه) نيولې تر (اندونيزيا) پورې په اسلامي نړۍ کې خپاره شول، ويې ليدل چې په اسلامي نړۍکې خلک د مسيحيت منلو ته تيار ندي، بلکې د اروپايي استعمار د ظلمونو له امله د مسلمانانو په زړونو کې د مسيحيت په خلاف کرکه نوره هم زياته شوې ده، او په ځينو سيمو کې چې لا تر هغه وخته د عثماني خلافت تر کنټرول لاندې وې حکامو هم د مسيحيت د خپراوي مخالفت کاوه. ځکه نو امريکايي مسيحي مبلغينو لاندې دوه مهم کارونه تر سره کړل:

اول: خپل فعاليت يې په هغو سيمو کې پيل کړ چې له پخوا راهيسې مسيحي اقليتونه ورکې موجود وو لکه (لبنان) او (مصر). دغه سيمې يې د نورو سيمو لپاره پدې بهانه د فعاليت مراکز وګرځول چې ګواکې دوئ د دغو سيمو د محلي مسيحيانو لپاره کار کوي او څوک بايد ورباندې اعتراض ونه لري.

1- له کويټ څخه خپرېدونکې د المجتمع مجله (۲۰۰) يمه ګڼه د (الجامعة الامريکية بيروت مرکز لنشاط المخابرات والسفارة الامريکية) مضمون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم: خپلې پروژې يې د بهترينو تعليمي مراکزو په شکل کې پيل کړې چې د تدريس او نظم په لوړو معيارونو ولاړ ول. د دې کار نتيجه دا شوه چې د يوې مودې له تېرېدو وروسته د سيمې په مسلمانانو کې هم د ښاري او شتمنې طبقې خلکو خپل اولادونه په دغو تعليمي مراکزو کې شامل کړل. د وخت په تېرېدلو، د پرله پسې کوښښونو او په محلي حکامو کې د نفوذ او تاثير د پيدا کولو په نتيجه کې دغه مکاتب د عالي تحصيلاتو په لوړو مراکزو بدل شول چې ځينې يې بيا وروسته د American Universities (امريکايي پوهنتونو) په شکل کې راڅرګند شول، چې په دې کتاب کې يې د ځينو معرفي د لوستونکو په خدمت کې وړاندې کېږي.

د امريکايي پوهنتونونو لپاره د اسلامي نړۍ د مهمو مراکزو انتخاب

امريکايي مبشرينو د پوهنتونونو د تأسيس لپاره داسې سيمې انتخاب کړې چې له يوې خوا پکې په خلاص لاس فعاليت وکولی شي، او له بل لوري دغه سيمې د سياسي، اجتماعي، اقتصادي او ديني اهميت له مخې پر خپلو شاوخوا سيمو تأثير ولري، تر څو دغه تأثير د امريکايي فعاليتونو د خپرېدو لپاره هم مرستندوی واقع شي. او دغه سيمې (لبنان)، (قاهره)، (استانبول) او اوس (کابل) په نښه شوي چې د هرې سيمې د اهميت په اړه په لاندې ډول څو کرښې وړاندې کېږي.

لبنان – بيروت:

د امريکايي پوهنتون د تأسيس لپاره د لبنان اهميت په دې کې وو چې له يوې خوا د مديترانې د سمندر پرغاړه اروپا ته مخامخ پروت دی. او امريکا ورته د سمندر له لارې مستقيمه لار لري. او له بلې خوا هلته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیروت کې له پخوا راهیسې نامسلمان اقلیتونه لکه (مارونې مسیحیان) (درزیان)، (ارمنیان) (نصیریان) او (اسماعیلیان) اوسېدل، چې د امریکایي فعالیت لپاره یې ښه زمینه برابروله. او تر دې هم مهمه خبره دا وه چې له لبنان څخه سوریه، عراق، فلسطین، اردن او د عربو جزیره په ښه ډول تر مسیحي فعالیت لاندې نیول کېدای شوه.

مصر- قاهره:

د مصر هېواد چې له یوې خوا د مدیترانې د سمندر پر غاړه پروت دی، او له بل لوري د آسیا او افریقا د دوو بر اعظمونو ترمنځ د پله د حیثیت د درلودلو او د الازهر د پوهنتون او د مصر د تاریخي او سیاسي مرکزیت د لرلو له امله یې د ټولې شمالي او مرکزي افریقا لپاره د یوه علمي او فرهنګي مرکز حیثیت غوره کړی ؤ. د دې ترڅنګ د نولسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په پیل کې د (محمد علي) حاکمې کورنۍ چې د غرب په لوري یې مخه کړې وه مصر له عثماني خلافت څخه جلا کړی ؤ او غوښتل یې په مصر کې هر څه د غرب په فرهنګ عیار کړي، د دې ټولو تر څنګ لومړی د فرانسویانو او بیا وروسته د انګریزانو د استعمار په زمانه کې د مصر ځایي مسیحیانو (قبطیانو) هم ښه وده کړې وه چې دې ټولو د امریکایي منصرینو لپاره د مسیحیت او غربي تعلیم د خپرولو او د امریکایي پوهنتون د پرانستلو ښه زمینه برابره کړې وه.

ترکیه-استانبول:

استانبول تقریبا پنځه پېړۍ په ترکیه کې د اسلامي خلافت مرکز وو، او په دنیا کې د ښکلو مساجدو د لرلو له امله د (منارو) ښار بلل کېده. عثمانیانو له هغه ځایه یو لوی اسلامي خلافت اداره کاوه، هره خوا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فتوحات درلودل، او ان تردې چې په شرقي اروپا کې یې هم ډېرې سیمې فتح کړې وې، خو په پای کې د یهودي او مسیحي توطیو له امله له زوال سره مخ شو. د دغه خلافت مرکز استانبول هم د امریکایي منصرینو لپاره د تعلیمي فعالیتونو په مقصد په زړه پورې ځای ؤ. ځکه خو یې هلته هم لومړی د (رابرټ) کالج تأسیس کړ چې وروسته بیا د سیکولر ترکیې په زمانه کې په امریکایي پوهنتون تبدیل شو.

افغانستان- کابل:

افغانستان چې د تاریخ په اوږدو کې د اسلام د یوې پخې کلا او د جهادونو او قربانیو هېواد ثابت شوی او د تل لپاره یې خلک د ټینګ ایمان په قوت د نړۍ د لویو لویو ځواکونو په مقابل په مېړانه درېدلي، او د دښمن زوال یې هم د همدوئ له خاورې شروع شوی ډېر اهمیت لري. دا هر څه ځکه شوي چې د دې خاورې خلک د تل لپاره په ایمان، شریعت، اسلامي فرهنګ، ملي او اسلامي اخلاقي ارزښتونو ټینګ پاتې شوي او د پردیو رنګ او فرهنګ یې ندی قبول کړی. د همدغه فطریت او خالصتوب له امله یې وکولای شول چې د خپل ستر جهاد په نتیجه کې څوارلس سوه کاله وروسته هم د اسلام د اولې زمانې په څېر یو اسلامي نظام قائم کړي، چې دا کار د غرب او په سر کې یې د امریکا لپاره چې د ((ګلوبلایزیشن)) په نامه ټوله دنیا په خپل خُم کې رنګول او تر خپل بیرغ لاندې درول غواړي د منلو وړ نه وو. نو ځکه یې د خپلو صلیبي ملګرو په ملتیا د افغانستان په خلاف لویه صلیبي جګړه پیل کړه، او د کابل تر نیولو سمدستي وروسته یې په دغه ښار کې هم د یوه امریکایي پوهنتون بنسټ کېښود، چې نور تفصیلات به یې لږ وروسته ذکر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې په اسلامي نړۍ کې امریکایي پوهنتونونه؟

هسې هم د غرب او بیا په خاص ډول د امریکا په پوهنتونونو کې په زرګونو د اسلامي نړۍ ځوانان درس وایي او له محیط څخه یې تأثر هم اخلي، نو په اسلامي نړۍ کې د امریکایي پوهنتونونو د جوړولو څه ضرورت دی؟

د دې پوښتنې ځواب لا ډېر پخوا په بیروت کې د امریکایي پوهنتون مؤسس Denial Bliss په ۱۸۶۲م کې داسې ورکړی ؤ: «**په لبنان کې د عالي تحصیلاتو د یوې لویې ادارې جوړول پدې خاطر ضروري دي چې اکثره د اسلامي نړۍ هغه ځوانان چې د غرب او امریکا په پوهنتونونو کې تحصلات پای ته رسوي هغوئ بېرته خپلو وطنونو ته نه راګرځي چې دلته له امریکایي مبلغینو سره مستقیمه مرسته وکړي. بلکې هماغلته په غرب کې په کارونو او وظائفو مصروفېږي. خو د دې پر خلاف د «سیمون کالهون» د مکتب فارغان چې په ۱۸۳۵م کې یې په لبنان کې جوړ کړی وو ټول عملاً د مسیحي مبلغینو په مکاتبو کې د استاذانو، مبلغینو او اداري پرسونل په حیث په اسلامي هېوادونو کې په کار لګیا دي**»[1].

همدغه وجه ده چې امریکایان او امریکایي تعلیمي موسسې دلته په اسلامي هېوادونو کې د عالي تحصلاتو خپلې ادارې پرانیزي.

1- «التبشیر و الاستعمار في البلاد العربیة» د ډاکټر مصطفی الخالدي او ډاکټر عمر فروخ ګډ تالیف ۹۶ صفحه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلامي هېوادونو کې د امریکايي پوهنتونونو اهداف

مخکې ترد ې چې په اسلامي هېوادونو کې د مشهورو امریکايي پوهنتونونو تفصیلات وړاندې کړو غوره ګڼو په عمومي ډول په اختصار سره هغه اهداف او مقاصد یاد کړو د کومو د ترلاسه کولو لپاره چې دغه پوهنتونونه جوړېږي او په ملیاردونو ډالره وربانديې مصرفېږي.

اول هدف- د مسلمانو هېوادونو سیاسي قدرت تسخیرول:

امریکايي پوهنتون په اسلامي هېوادونو کې په هغو ډګرونو کې شاګردان روزي چې سبا وکولای شي د هېوادونو د تعلیم، سیاست، اداري، اجتماع، اقتصاد، فرهنګ او پوځ د توجیه او قیادت صلاحیتونه تر لاسه کړي. تر څو امریکا د دوئ له لارې په اسلامي هېوادونو کې سیاسي قدرت تسخیر او د خپلې خوښې نظامونه ورکې جوړ کړي. تاریخ او تجربې ثابته کړې چې د امریکایانو دغه منافق شاګردان د اسلام او اسلامي قوانینو او احکامو په له منځه وړلو کې تر اروپایانو او امریکایانو هم ډېر ماهر او سخت زړي دي.

امریکايي پوهنتونونه په ډېر مهارت او په سیستماتیک ډول د مسلمانو ځوانانو د Brainwash (مغز وینځلو) عملیه تر سره کوي او فکر او ذهن يې د غرب د اصولو، قوانینو، فرهنګ او اخلاقي ارزښتونو پر بنسټ ورجوړوي. او په مقابل کې اسلام ورته په درواغو او تزویر د نامعقولیت، ببرته پاتې والي، قساوت، وینو تویولو او خشونت دین معرفي کوي، چې تر فراغته وروسته بیا په زرګونو دغه ډول ځوانان د ټولنې او نظام په لوړو مرکزونو او منصبونو او د لوړو صلاحیتونو خاوندان کېږي، خو د اسلام له عقیدې، اصولو، اخلاقو، فکر او فرهنګ څخه نه یوازې دا چې بې برخې وي، بلکې په ټول شدت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

قساوت د هغو د له منځه وړلو لپاره د حکومتي او مدني ادارو له لارې په کار هم لاس پورې کوي.
دغه خلك د خپلې ټولنې د ټولنيزو او تاريخي ارزښتونو په خلاف بغاوت کوي او د پرديو د قوانينو په تطبيق مصروف شي.

دوهم هدف- د نوی نسل مسيحي کول:

امريکايي پوهنتون په نيويارک کې د پروټسټنټ Protestant مسيحي طائفې د مرکزي کليسا له خوا جوړېږي، تمويلېږي او چلول کېږي. له همدې امله يې تر ټولو ستر هدف هم د مسلمانو ځوانانو مسيحي کول او ياهغوئ د مسيحيت د فعاليتونولپاره ملاتړي ګرځول دي. او دا نور ټول فعاليتونه يې د همدې هدف لپاره د وسائلو په ډول استعمالېږي، چې تفصيلات به يې لږ وروسته ذکر شي.
دغه هدف په ښکاره ډول د قاهرې د امريکايي پوهنتون د تأسيس د وثيقي په دوهمه ماده کې داسې ذکر شوی وو: **(د قاهرې د امريکايي پوهنتون له اهدافو څخه يو دا دی چې د مصر او شاوخوا هېوادونو ځوانانو ته مسيحي روزنه تقديم کړای شي. او بيا په لوړه سويه د يوه پوهنتون له لارې ټولې اسلامي نړۍ ته مسيحي اخلاق او سلوک په عمل کې معرفي کړای شي)**.(1)

دريم هدف ـ د اسلام د حقانيت په اړه ځوان نسل شکمن کول:

امريکايي مبلغينو ته دا هم څرګنده وه چې د مسلمانانو عقيده که هرڅومره کمزورې شي بيا هم مسيحيت نه مني، له همدې امله يې د مسيحيت د بديل په حيث د نوي نسل د اسلام د حقانيت په اړه

1- له لندن څخه خپرېدونکې د البيان مجله (١٨٠) يمه ګڼه، د (أهداف الجامعة الأمريكية بالقاهرة) د ډاکټرې (سهير البيلي) د کتاب لنډيز.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشکمنولو پروسه د مسیحیت لپاره د مقدمې په طور په خپل پروګرام کې شامله کړه. او د اسلام په اړه د ډول ډول شبهاتو او شکونو په مطرح کولو یې د ځوانانو په اسلام بې باوره کول پیل کړل، چې په نتیجه کې یې ځوانان د الحاد، لیبرالیزم، سیکولریزم، هیومنیزم او اخلاقي بې بندوبارۍ په لور راکاږل، چې پدی حالت کې که ځوانان مسیحیان نشي نو مسلمان هم نه پاتې کېږي، او د اسلام لپاره هېڅ خدمت کولو ته تیار نه وي، چې دا بیا په خپله د مسیحیت لپاره یوه فتح ده.
د دغه هدف لپاره دوئ په خاص ډول د بانفوذه او په قدرت کې د شریکو کورنیو او اشخاصو زامن تر کار لاندې نیسي، ځکه چې هغوئ په موروثي شکل په قدرت کې پاتې کېږي.

څلورم هدف : د مقاومت د فکري سرچینو وچول:

امریکایان او اروپایان چې په څومره اندازه له جهاد او جهادي حرکتونو څخه په وېره کې دي تر هغو زیات له اسلامي ویښتابه او د دوئ په خلاف د مقاومت له فکري سرچینو څخه په وېره کې دي. ځکه چې دوئ وایي چې له مجاهدینو سره په وسله او عصري ټکنالوژۍ مقابله کېدلای شي، خو له هغه معنوي او فکري قوت سره چې د جهاد تر شا د مجاهدینو د روزلو او د دښمن د ور معرفي کولو لپاره په کار اخته دی او ګام پر ګام د غرب او امریکا حرکت څاري او جهادي حرکتونو ته مناسبه فکري، سیاسي، اعلامي او پوځي استراتیژي تشخیصوي او د تطبیق پړاوونه یې ورته ټاکي، له هغوئ سره د وسلې په زور مقابله نشي کېدای.
امریکا فکر کوي چې د دغه معنوي قوت د فعالیت د کمزوري کولو لپاره باید په محلي سطحه په اسلامي هېوادونو کې امریکایي تعلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او فکري اداري جوړې شي، او د سيمي خلک ورکې د څېړونکو، څارونکو او تحليل کوونکو په حيث په کار وګومارل شي. او همدارنګه د جهادي فکر د له منځه وړلو لپاره په سيمه يزه سطحه طرحې او پلانونه ترتيب شي، او د موجودو شرائطو او حالاتو په نظر کې نيولو سره کار ورباندې وشي.

د دغه ډول اشخاصو روزل او بيا د دولتونو په مختلفو ارګانونو کې د هغوئ په کار ګومارل د امريکايې پوهنتون له مهمو اهدافو څخه ګڼل کېږي. د قاهرې امريکايي پوهنتون په سيمه کې د آسيا او افريقا د ډېرو اسلامي او جهادی حرکتونو په هکله څېړنې کړي، او تر يوه حده يې ځينې اسلامي مفکرين او جهادي شخصيتونه په بېلابېلو ډولونو په خپلو لومو کې را نيولي هم دي.

همدغه سيمه ييز اشخاص او اداري بيا د جهاد او مجاهدينو په اړه ځوانان په شک کې اچوي او ذهنونه يې ور مشوش کوي، او د جهاد د مشروعيت او افاديت نظريه تر پوښتنې لاندې راولي.

پنځم هدف: **په محلي سطحه د غربي کمپنيو لپاره په امريکايي طريقه د پرسونل روزل**:

دا چې اسلامي هېوادونه په مجموعي ډول په غرب کې د صنعت، اقتصاد او تجارت د پرمختګ له امله د غرب لپاره په استهلاکې مارکيټونو تبديل شوي دي، او د اسلامي هېوادونو اقتصاد د غرب او امريکا د multinational (ګڼ ملتيزو)کمپنيو په منګولو کې لوېدلی، او حتی چې ډېر حکومتونه يې په اقتصادي لحاظ لاندې کړي هم دي، دغه ټولې کمپنۍ په اسلامي هېوادونو او په خاص ډول په هغو هېوادونو کې چې دوئ يې نيول او لاندې کول غواړي په زرګونو داسې مامورينو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلکې پرسونل ته ضرورت لري چې په غربي ډول د عالي اداري او مسلکي مهارتونو خاوندان وي، تر څو له یوې خوا د غرب استعماري او استثماري کمپنۍ په ښه ډول وچلولی شي، او له بل لوري په عین وخت کې په ډېره زیرکتیا دې خبرې ته هم متوجه وي چې ټول هغه اقتصادي او تجارتي فعالیتونه چې ګټه یې ښایي د جهاد او اسلام لپاره وکارول شي وده ونه کړي، اوباید له بېلابېلو خنډونو او بندیزونو سره مخ شي، تر څو له منځه لاړ شي. د دغه ډول پرسونل تیارول هم د امریکایي پوهنتون له مهمو اهدافو څخه ګڼل کېږي.

شپږم هدف : په اسلامي هېوادونو کې د ژوند غربي بڼه رواجول او په مسلمانانو کې د امریکایي مصنوعاتو د استهلاک او استعمال روحیه تقویه کول:

امریکا د خپل فرهنګ له صادرولو مخکې کوښښ کوي چې په اسلامي هېوادونو کې د ژوند کولو غربي ډوله بڼه رائج کړي، تر څو خلک د ژوند په هر اړخ کې امریکایي او غربي مصنوعات وکاروي، چې د دې کار په نتیجه کې اسلامي نړۍ د غربي مصنوعاتو لپاره په یوه لوی مصرفي مارکېټ بدلېږي.

د دې کار لپاره امریکایي لویې کمپنۍ لکه Ford او General Motor او نورې کمپنۍ په لویه پیمانه له امریکایي پوهنتون او USAID سره مرستې کوي، ترڅو په شرق کې امریکایي پوهنتونونه د دوئ لپاره د فرهنګي کمپنیو په حیث د مارکېټ زمینه سازي وکړي، چې پدې کار سره به له یوې خوا د مسلمانانو اجتماعي فرهنګ ورتبدیل کړي، او له بلې خوا به په اسلامي نړۍ کې د صنعت مخه ونیسي او هم به د غرب د اقتصادي پرمختګ لپاره پراخه زمینه مساعده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امريکايي پوهنتون مسيحي پوهنتون دی

په هر اسلامي هېواد کې امريکايي پوهنتون يو مسيحي پوهنتون وي چې په نيويارک کې د پروټسټنټ عيسايي فرقې د لويې کليسا (Presbyterian) لخوا تأسيس او اداره کېږي. د دغو پوهنتونو اعلی مشورتي بورډ يو وي، چې غړي يې د پروټسټنټ عيسا يانو لوی مشران، د لويو کمپنيو مالکان، ملی تاجران او د تعليم او اجتماعي علومو متخصصان تشکيلوي.

په اسلامي هېوادونو کې هر امريکايي پوهنتون اساسا د مسيحيت د خپراوي لپاره جوړېږي، او دا نور هرڅه ورکې د وسائلو په حيث کارول کېږي.

کله چې په ۱۸۶۲ ميلادي کال کې د لومړي ځل لپاره فيصله وشوه چې په بيروت کې د (سوريې انجيلي فاکولته) په امريکايي پوهنتون ونومول شي د دغه نوي پوهنتون لپاره امريکايي لوی مسيحي مبلغ Denial Bliss د لومړي رئيس په توګه وټاکل شو، نو تر ټاکل کېدو وروسته يې په کال ۱۸۶۳ ميلادي کې له لويو مسيحي مشرانو سره د مشورې لپاره نيويارک ته لاړ، او هلته يې په مرکزي لويه کليسا Presbyterian کې مسؤلينو ته يوه وينا واوروله چې په يوه برخه کې يې راغلي وو: (... **شرق زمونږ ديني تعليماتو ته اړتيا لري، هلته بايد تورات او انجيل (بايبل) يو دائمي تدريسي کتاب وګرځول شي**).([1])

هغه د بيروت د امريکايي پوهنتون د رسالت په اړه وويل: (...**د بيروت امريکايي پوهنتون بايد د مسيحي کتابونو له لارې په آسيا او افريقا کې**

---

[1]– (التبشير و الاستعمار في البلاد العربية) د ډاکټر مصطفی الخالدي او ډاکټر عمر فروخ ګډ تاليف ۹۶ صفحه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له میلونونو انسانانو سره زمونږ رابطه ټینګه کړي. او هم باید په هغوئ (مسلمانانو) د مسیحیت نعمت ولوروي).([1])

همداراز د پوهنتون تأسیسي مجلس فیصله وکړه چې د پوهنتون هر استاذ باید د مسیحي دین مبلغ وي.([2])

په ۱۹۰۹میلادي کال کې چې کله د پوهنتون یوې ډلې مسلمانو محصلینو د پوهنتون کلیسا ته په اجباري شکل د مسلمانو محصلینو د وروستلو په خلاف احتجاج وکړ او د پوهنتون له اداري څخه یې غوښتنه وکړه چې مسلمان محصلین باید په زوره د پوهنتون په مذهبي مراسمو کې شریک نه کړای شي، نو په ځواب کې یې د پوهنتون اداري یوه اعلامیه صادره کړه چې په څلورمه ماده کې یې راغلي وو: (**د بیروت امریکایي پوهنتون یو مسیحي پوهنتون دی، د مسیحي ملت په مصاریفو جوړ شوی دی، او د دې لپاره جوړ شوی چې انجیل یې په تعلیمي نصاب کې شامل وي تر څو د مسیحي دین منافع او ښېګڼې د هر زده کوونکي مخې ته کېږدي. هر څوک چې پدې پوهنتون کې شاملېږي باید تر شاملېدو مخکې په هر څه غور وکړي چې په پوهنتون کې به څه ورڅخه غوښتل کېږي).**([3])

همدا ډول د پوهنتون مشورتي بورډ اعلان وکړ چې: (**امریکایي پوهنتون خلکو ته د تورات او انجیل د حقایقو د زده کړې لپاره جوړ شوی تر څو**

1- (التبشير و الاستعمار في البلاد العربية) د ډاکټر مصطفی الخالدي او ډاکټر عمر فروخ ګډ تالیف ۹۶ صفحه.

2- پورتنی مصدر.

3- (التبشير و الاستعمار في البلاد العربية) د ډاکټر مصطفی الخالدي او ډاکټر عمر فروخ ګډ تالیف ۱۰۵ صفحه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې کار سره پوهنتون د مسيحيت د رڼا يو مرکز وګرځي او د دغې رڼا په خپلولو خلکو ته وصيت وکړي).([1])

پر همدې اساس تر ۱۹۲۲م کال پورې تورات (عهد قديم) رسما د پوهنتون په نصاب کې شامل وو او ټولو طلابو ته به تدريسېده.

محتاطانه شروع

دا چې دغه مسيحي پوهنتونونه په اسلامي هېوادونو کې جوړېږي نو مؤسسين يې په شروع کې ډېر احتياط کوي چې له اولې ورځې د مسلمانو ولسونو حساسيتونه راونه پاروی. ځکه نو په لومړي قدم کې محصلين له مسيحي تعليماتو سره نه مخ کوي. پدې هکله د بيروت د امريکايي پوهنتون مؤسس Denial Bliss وايي: **(د تأسيس په لومړيو کلونو کې مونږ خپل تنصيري کارونه په احيتاط سره تر سره کول، ترڅو د پوهنتون له ټينګېدو څخه مخکې د عثماني خلافت غضب راونه پاروو، خو وروسته به بيا ټول شاګردان په مسيحي عبادت او د يکشنبې د ورځې په سرويس مجبورېدل)**([2]).

ولې يې نوم امريکايي پوهنتون دی؟

همدغه ډول مسيحي پوهنتون په هر اسلامي هېواد کې د امريکا د پروټسټنټ مسيحي فرقې د لوی مرکز (N. Y. Presbyterian) له طرفه جوړېږي. او د دې لپاره يې له نامه سره د مسيحي ټکی نه ليکل کېږي چې په اسلامي هېوادونو کې يې پر ضد حساسيت راونه پارېږي. د مصر په (قاهره) کې هم چې امريکايي پوهنتون جوړېده نو د پوهنتون د

1- (التبشير و الاستعمار في البلاد العربية) د ډاکټر مصطفى الخالدي او ډاکټر عمر فروخ ګډ تاليف ۱۰۵صفحه.

2- له کويټ څخه خپريدونکي دالمجتمع مجله (۲۰۰) يمه ګڼه د (الجامعة الامريكية بيروت مركز لنشاط المخابرات والسفارة الامريكية) مضمون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشورتي بورډ د مشرانو ترمنځ د نامه پرسر اختلافات پیدا شول. ځینو ویل چې نوم یې باید په ښکاره ډول (مسیحي پوهنتون) وي. ځینو نورو یې ویل نوم یې باید (د مصر او نړدې ختیځ لپاره د مسیحي زده کړې امریکایي مؤ سسه) وي. او دریمې ډلې یې ویل چې نوم یې باید (د قاهرې د مسیحي کالجونو ټولنه) وي. په آخر کې د ۱۹۱۷م کال د دسمبر په میاشت کې د نامه د تعیین لپاره د بورډ د اعضاؤ ترمنځ انتخابات وشول چې په نتیجه کې یې د پوهنتون لپاره د A. U. Cairo (د قاهرې امریکایي پوهنتون) نوم غوره شو. او دا ځکه چې د مخکنیو نومونو په هکله د مصر په حکومت کې ځینې مهمو شخصیتونو اعتراض درلود. خو له دې هرڅه سره سره بیاهم د مشورتي بورډ غړي دغه پوهنتونونه په خپلو منځونو کې د (مسیحي) پوهنتونونو په نامه یادوي.([1])

د بیروت امریکایي پوهنتون

د بیروت امریکایي پوهنتون په اسلامي نړۍ کې تر ټولو لومړی پوهنتون دی. دغه پوهنتون په تېرو ۱۴۶ کلونو کې د اسلامي نړۍ د خطرناکو پېښنو په بهیر کې عمده نقش لرلی دی. د مسیحیت د خپرولو ترڅنګ یې په غربي او اسلامي نړۍ کې د سیکولریزم (Secularism)د خپراوي او حاکمولو په لاره کې هم ډېر کار کړی. په غربي نړۍ کې د عثماني خلافت د را پرځولو لپاره د (عربي نشنلزم) هڅې هم له همدې ځایه پیل شوې وې. د همدې پوهنتون فارغان ول چې عربي نړۍ ته یې د غرب د افکارو او نظریانو د راواردولو چارې ترسره کړې.

1- په (مجلة التربیة المعاصرة) ۴۹ ګڼه کې د (الجامعة الامریکیة والتبعیة الثقافیة) په عنوان د دکتور کمال نجیب بحث.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه پوهنتون تاثيرات يوازې په عربي کې نړۍ منحصر پاتې نشول، بلکې د سيمې نورو هېوادونو ته يې هم سرايت وکړ، او ان تر دې چې په افغانستان کې هم ځينې افغانان چې څو تنه يې يوازې د امريکا له لوري د افغانستان له اشغالولو وروسته د اشغال په حکومت کې د وزيرانو او رئيسانو په حيث استخدام شول چې له د هغوئ له جملې څخه پېژندل شوې څېرې يې اشرف غني د ولسمشر په حيث، مسيحی رولا غني دلومړۍ مېرمنې او آشيانه و مؤسسې د رئيسې په حيث، انوار الحق احدي د ماليې د وزير په حيث، اکبر پوپل د کابل پوهنتون د رئيس په حيث، يوسف پښتون د ښار جوړونې د وزير په حيث، همايون قيومي د ولسمشر د ستر سلاکار په حيث کار وکړ دا ټول له همدې پوهنتون څخه فارغ شوي دي.

د امريکا لخوا د افغانستان په نيولو کې چې د چاتر ټولو لوی لاس وو او تر اشغال وروسته يې ټولې چارې هم د هغه لخوا پرمخ بيول کېدې يعنې (زلمی خليل زاد) هم د همدغه پوهنتون فارغ التحصيل دی.

دغه پوهنتون د سيمې د نورو امريکايي پوهنتونونو لپاره د مور حيثيت لري، او د آسيا او افريقا په اسلامي هېوادونو کې د پروټسټنټ مسيحي فعاليت لپاره تعليمي او اکاديميک پلانونه هم په همدغه پوهنتون کې جوړېږي. د دغه پوهنتون لپاره زمينه سازي په ۱۸۳۵م کال کې هغه وخت شروع شوه چې امريکايي مسيحي مبلغ (سيمون کالهون) په بيروت کې د نجونو او هلکانو لپاره يو عصري مکتب جوړ کړ. دغه مسيحي مکتب د سيمه ييزو مسيحيانو د اولادونو تر څنګ د مسلمانانو اولادونه هم جذب کړل.

د مسيحي معلمينو د ښې توجه او پراخو وسايلو له امله دغه مکتب ښه وده وکړه، او ښه ډېر شاګردان يې فارغ کړل چې په مسيحي ادارو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعلیمي مراکزو کې په کار وګومارل شول. د (سیمون کالهون) د مکتب د شاګرانو ښې نتیجې له نیوریارک څخه د راغلیو مسیحي مبلغینو د ډلې مشران هر یو Denial Bliss او D. William tomson په بیروت کې د عالي تحصیلاتو د یوې ادارې جوړولو ته وهڅول.

دغو دواړو خپل راپورونه او وړاندیزونه د نیویارک لویې کلیسا Presbyterian ته د مشورې لپاره یوړل. پدې کار باندې درې کاله یعنې له ۱۸۶۲ څخه تر ۱۸۶۵میلادي پورې مشورې وشوې او ترتیبات ورته ونیول شول او هم استاذان هم ورته تیار کړای شول.

په ۱۸۶۵م کې Denial Bliss د پوهنتون لپاره رئیس وټاکلی شو، او بیا په ۱۸۶۵م کال کې دغه امریکایي پوهنتون افتتاح شو. د پوهنتون نصاب، ژبه، اداره، استاذان او هرڅه امریکایي ول. د نصاب په ترڅ کې انجیل، (بایبل) د تدریسي کتاب په حیث مقرر شو چې پوره ۵۷ کاله یعنې تر ۱۹۲۲م کال پورې یې په علني شکل دوام درلود ، که څه هم چې وروسته یې مسیحي زده کړه او مذهبي مراسم اختیاري وګرځول، خو د پوهنتون اداري محیط او استاذان یې داسې برابر کړي ول چې په نتیجه کې یې شاګردان په خپله مسیحیت ته مائل شي چې همدا د دوئ اصلي هدف هم ؤ. پدې هکله د پوهنتون یو بل رئیس (Penrose) چې په ۱۹۴۸م کال کې چې کله پدغه وظیفه وټاکل شو په همدې مناسبت یې په خپله افتتاحي وینا کې وویل:

(دلائلو په اثبات ورسوله چې تعلیمي ادارې هغه تر ټولو مؤثرې وسیلې وې چې امریکایي مبلیغنو په سوریه او لبنان کې د مسیحیت د خپرولو لپاره وکارولې او د همدې غرض لپاره د بیروت د امریکایي پوهنتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

رئيس هم د امريکا د پروټسټنټ مبلغانو له جملې څخه ورته غوره شوی وُ.[1]

د اوسنۍ عربي نړۍ ډېر چارواکي چې خپل هېوادونه او ولسونه يې د امريکا په غلامۍ مجبور کړي دي هم د همدغه پوهنتون او نورو غربي پوهنتونونو فارغان دي. او همدوئ دي چې په ټوله عربي نړۍ کې يې د شريعت د تطبيق مخه نيولې ده. او هر هغه څوک چې د غرب له تسلطه څخه د آزادۍ او د اسلام د حاکميت خبره کوي د همدغو چارواکو او د هغوئ لخوا د جوړو شويو قوانينو پر بنا اعدامېږي، بندي کېږي او يا د وطن پرېښودلوته مجبورېږي.

د قاهرې امريکايي پوهنتون

د قاهرې پوهنتون هم په عربي نړۍ کې د پروټسټنټ مبلغينو Missionary د فکر زېږنده دی. د دغه پوهنتون نظريه په لومړي ځل په مصر کې امريکايي مسيحي مبلغ (چارلز واټسن Charles Watson چې په مصر کې د مشهور امريکايي مبلغ (اندرواټسن André Watson زوی وو په ذهن کې راټوکېده.

(چارلز واټسن) چې لا د مخه يې په مصر کې د کوچينانو او ځوانانو د مسيحي کولو په هدف تعليمي فعاليتونه شروع کړي ول د دغه پوهنتون لپاره پلان جوړ کړ. او دغه پلان يې بيا په کال ۱۹۱۴م له ځانه سره نيويارک ته يووړ تر څو هلته وربانديې په لويه کليسا کې د امريکايي پوهنتونونو مشورتي بورډ غور او بحث وکړي. د همدې کال د دسمبر د مياشتې په ديرشم تاريخ د کليسا د کلنۍ اجتماع په ترڅ کې د دغه

1- له کويټ څخه خپرېدونکې د (المجتمع) په مجله کې د (لماذا الجامعة الامريکية الآن) بحث ۱۹۷۸/۹/۲۵م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنتون موضوع هم وڅېړل شوه. د بحث په جریان کې د خپلو وړاندیزونو په سلسله کې Charles Watson د Presbyterian له مشرانو څخه وغوښتل چې د پوهنتون د تأسیس په لومړۍ مرحله کې باید د پوهنتون په محصلینو مسیحي مراسم او عبادت لاژمي ونه ګرځولی شي ترڅو خپل کارونه د مسلمانانو د حساسیتونو له پارولو پرته په اطمینان سره ترسره کړای شي.[1]

د پوهنتون د طرحي تر منل کېدو وروسته له ۱۹۱۴م څخه تر ۱۹۲۰م پورې په قاهره کې د پوهنتون لپاره د ودانۍ جوړول، د ځینې ودانیو اخیستل او نور ترتیبات ترسره شول، او د ۱۹۲۰م کال د اکتوبر په پنځه لسم تاریخ امریکایي پوهنتنون لومړی د (لنکولن د شرقي زده کړو د کالج) په نامه پرانستل شو چې وروسته یې نوم د قاهرې امریکایي پوهنتون A. U. Cairo شو، او (چارلز واټسن) د دغه پوهنتون د لومړي رئیس په توګه و ټاکل شو، چې بیا تر ۱۹۴۵ پورې په همدې وظیفه پاتې شو.[2]

د قاهرې امریکایي پوهنتون په هغه وخت کې یوازې د امریکا د کلیساګانو په مرسته چلېده، خو اوس د نړیوالو مسیحي مؤسسو په مرسته خپل کارونه پرمخ بیایي.

امریکا په مصر کې خپل پوهنتون ته تر ټولو زیاته توجه کوي، ځکه چې په مصر کې له یوې خوا د الازهر پوهنتون وجود لري چې تر زرو کلونو یې زیات اسلامي علومو ته خدمت کړی که څه هم چې اوس د نورو تعلیمي

1- الجذور التاریخیة لإرسالیات التنصیر في مصر. دکتور خالدنعیم صفحه ۸۵ – ۹۲.

2- پورتنی مصدر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادارو په څېر د یو سیکولر حکومت تر کنترول لاندې دی. خو بیا هم د اسلامي علومو تر ټولو لویه مؤسسه ګڼلی کېږي.

له بلې خوا د معاصرو اسلامي حرکتونو پیل هم د شلمې پېړۍ له اوایلو څخه د امام حسن البناء (رحمه الله) لخوا د (الإخوان المسلمون) په شکل کې شوی ؤ چې وروسته بیا په بېلابېلو فکري او جهادي بهیر نو کې سره خواره شول، خو په مجموع کې ټولو یې دا هڅه کوله چې شرق د غرب له تسلط څخه خلاص کړي او د اسلام د حاکمیت لپاره زمینه برابره کړي.

مصر ته د امریکا د جدي توجه یو بل سبب ښایي د القاعدې په جهادي تنظیم کې د مصري مجاهدینو لویه ونډه وي چې د قیادت چارې هم همدوئ سمبالوي. دا ټول د دې عامل ګرځي چې امریکا دې تر بل هر عربي هېواد مصر ته ډېر پام وکړي.

د ترکیې د استانبول امریکایي پوهنتون

د ترکیې او د هغې د اسلامي اهمیت په اړه مخکې یادونه وشوه. د ترکیې له استانبول څخه تقریباً پنځه سوه کاله عثماني ترکانو په اسلامي نړۍ کې لوی اسلامي عثماني خلافت اداره کاوه چې د غرب لپاره د منلو وړ نه وو.

اروپایانو په ترکیه کې د اسلامي خلافت د له منځه وړلو لپاره د سلګونو کلونو لپاره هڅې وکړې. د شرقي اروپا د فتحه شو ولایتونو خلک یې د بغاوت لپاره راوپارول. مسیحي ارمنیان یې د جنګ لپاره وهڅول، او ډېر څه یې وکړل چې خلافت له منځه یوسي، خو تر هغه یې هڅې کامیابې نه شوې چې تر څو یې د ترکیې د ولس او نظام په داخل کې داسې خلک تیار نه کړل چې له اسلام څخه یې کرکه لرله، د اسلامي شریعت د له منځه وړلو لپاره یې په منظم ډول کار کاوه، او په ترکیه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د اسلام پر ځای د غربي قوانينو او ژوندبڼې د تنفيذ لپاره په فغاليت اخته وو.

په ترکيه کې د خلافت د راپرځولو اصلي مجرمين ټول هغه کسان وو چې يا خو يې په غرب کې زده کړې وې، او يا په ترکيه کې له غربي افکارو او نظرياتو څخه چې غربي مکاتبو او تعليمي ادارو خپاره کړي ول متأثره شوي ول.

دغو مجرمينو ترکيه له اسلام څخه محرومه کړه، اسلامي خلافت يې لغو اعلان کړ، او د هغه پر ځای يې سيکولر ترکيه رامنځته کړه. په اسلامي شعايرو يې بنديز ولګاوه. څلريشت کاله مسلمانو ترکانو اذان وانه وريد ، او همدومره موده د ترکيې مسلمانان د حج د فريضې له ادا کولو منع کړای شول. مدارس وتړل شول، مساجد په موزيمونو تبديل شول، اسلامي حجاب ممنوع اعلان شو، د اسلام د بيا حاکمولو لپاره هر ډول هڅې جرم وګڼل شوې، او بالآخره له ۱۹۲۴م څخه تر اوسه د ترکيې واکمن په مسلسل ډول يو په بل پسې هڅه کوي چې ترکيه په سياسي او نظامي لحاظ د اروپا يو جز وګرځوي، خو اروپايان يې لا تر اوسه ورسره نه مني چې ترکيه دې په اورپايي اتحادکې شامله شي، ځکه چې هغوئ وايي په ترکيه کې لا تر اوسه پورې اسلام شته.

په ترکيه کې د دغه ډول وضعيت د رامنځته کولو لپاره چې کومو جهتونو کار کړی ؤ په هغو کې يو هم د استانبول امريکايي پوهنتون دی. د دغه پوهنتون لپاره امريکايي مسيحي مبلغينو له ډېر پخوا راهيسې کار پيل کړی وو. کله چې په۱۸۳۱م کې د امريکايي مسيحي مبليغينو Missionary لومړۍ ډله ترکيې ته راغله نو د دغه ډلې د مشر په کورکې يو زوی وزېږيد چې نوم يې ورباندې (قسطنطين

(c) ketabton.com: The Digital Library

واشنګټن) کېښود، تر څو يې خلکو ته د قسطنطنيې (استانبول) او (واشنګټن) ترمنځ د رابطې او وحدت د سمبول په حيث تلقين کړي.([1])

دې ډلې په ترکيه کې ډېر وخت تېر کړ او د کلونو په تېريدلو يې په استانبول کې د يوې مسيحي تعليمي ادارې د تأسيس لپاره زمينه برابره کړه.

په ۱۸۶۳م کال کې مشهور امريکايي مسيحي مبلغ (هاملين) له لوی سرمايه دار (روشيلډ) سره مشوره وکړه او ورته ويې ويل: **(ترکانو د استانبول د نيولو لپاره تر جنګ دمخه (روملي) (د استانبول ترڅنګ يو ځای) کې خپله پوځي قرار ګاه او عسکري کلا جوړه کړې وه، چې وروسته يې بيا له هماغه ځايه د قسطنطنيې مسيحي امپراطوري ونړوله. زه به هم په همدغه ځای (روملي) کې يو ثانوي مکتب (ليسه) جوړوم، تر څو له همدې ځايه د ترکانو عثماني خلافت ونړوم).**([2])

روشيلډ هم ورسره ومنله. هماغه وو چې لومړی هلته يو ثانوي مکتب جوړ شو، چې وروسته بيا د استانبول د (رابرټ) په کالج بدل شو، او په پای کې ورځخه د اوسنۍ ترکيې امريکايي پوهنتون جوړ شو.

د دغه امريکايي پوهنتون د ديني هويت په اړه مشهور مسيحي مبلغ او د بيروت د امريکايي پوهنتون لومړی رئيس Denial Bliss وايي: **(د ترکيې د رابرټ کالج (اوسنی امريکايي پوهنتون) يو مسيحي کالج دی. تعليم، نصاب او تعليمي محيط يې په ښکاره مسيحي دی، ځکه چې**

1- (المدارس العالمية الأجنبية- الاستعمارية، تاريخها و مخاطرها) تاليف: بکر بن عبدالله أبوزيد ۲۷ صفحه.

2- پورتنی مصدر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسیحي مبلغینو جوړ کړی او د هر وخت لپاره به یې رئیس یو مسیحي مبلغ وو.[1]

په افغانستان کې د مسیحي فعالیت پس منظر

د برتانیې لخوا د هند تر نیولو وروسته په افغانستان باندې پرله پسې حملې هم د دې لپاره وې چې افغانستان هم د انګلیسي امپراطورۍ برخه وګرځوي، او دلته هم د خلکو په ذهن او ژوند کې د غربي فرهنګ او مسیحي عقایدو د ځای پر ځای کولو لپاره کار وکړي. له همدې امله انګریزانو له پخوا څخه انجیل پښتو او فارسي ته ترجمه کړی وو، او په ۱۸۴۰م کال کې یې د افغانستان سرحدي سیمو کې خپور کړ.[2]

خو دا چې پښتانه په دین ټینګ ولاړ خلک دي او انګریزان یې دښمنان او د هغوئ دین یې کفر ګڼه، نو ځکه یې په هغه وخت کې دعوت ډېر مؤثر نه وو.

وروسته بیا مسیحي مبلغین دې حقیقت ته متوجه شول چې افغانان مسیحیت نه مني، نو خپله د تبلیغ استراتیژي یې بدله کړه او د ښکاره مسیحیت پر ځای یې د دې سیمې په خلکو کې د اروپایي ژبو او فرهنګ رواجول پیل کړل.

د اروپایي مسیحي مبلغینو د مقالو په هغه مجموعه کې چې ستر عالم او لیکوال الشیخ (محب الدین الخطیب) مصري د (الغارة على العالم الإسلامي) یعنې (پر اسلامي نړۍ یرغل) په نامه عربي ژبې ته ترجمه کړې مسیحي مبلغینو ته د توصیې په ډول داسې راغلي: **(افغانان ډېر کلک**

[1] -(التبشیر و الاستعمار في البلاد العربیة) د ډاکټر مصطفی الخالدي او ډاکټر عمر فروخ ګډ تالیف ۹۵صفحه.

[2] - (التنصیر في افغانستان دراسة وصفیة تحلیلیة میدانیة) رسالة مقدمة لنیل شهادة ماجستیر من الجامعة الإسلامیةالعالمیة في إسلام آباد من قبل الطالب نقیب الله محمد صدیق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک دي، د مسيحيت منلو ته نه تيارېږي. د هغوئ لپاره بايدغربي فرهنګ او غربي ادبيات د دوئ په ژبه ترجمه او نشر کړو، ترڅو په کراره کراره له مسيحي او اروپايي افکارو سره اشناشي).[1]

همدغه وجه وه چې د امان الله خان په وخت کې د افغانستان دروازې د غربي فرهنګ او افکارو پرمخ نه يوازې خلاصې شوې، بلکې غربي لباس او فرهنګ هم په زوره پر افغانانو وروتپل شو. دا چې وروسته بيا دغه وضعيت چپيانو او ورپسې کمونستانو په خپله ګټه وکاراوه نو د کليسا پرمخ په افغانستان کې د کار دروازه بنده شوه. او دا ځکه چې کليسا د غرب نماينده ګي کوله او په افغانستان کې حاکميت د روسانو او د هغوئ د ملګرو په لاس کې وو. هماغه وو چې غربي کليسا بيا د افغاني مهاجرينو په منځ کې په پاکستان او اورپا کې د مسيحيت د خپرولو فعاليتونه شروع کړل.

د تنصير درې دروازې فقر، جهل او مرض

فقر، جهل او مرض هغه درې دروازې دي چې مسيحي مبلغين د هغو له لارې اسلامي هېوادونو ته ورداخلېږي او هلته د مسيحيت لپاره د انساني مرستو، تعليم او صحي فعاليتونو تر عنوان لاندې کار کوي. او جګړې بيا هغه څه دي چې دغه درېواړه حالتونه منځ ته راوړي.

افغانان هم د جګړې له امله هجرتونو ته مجبور شول او په هجرت کې له فقر، بيسواد‌ۍاو ډول ډول امراضو سره مخ شول، چې دې هرڅه په افغاني کمپونو کې د غربي مؤسسو لپاره د کار دروازه خلاصه کړه. او د

1- (الغارة على العالم الاسلامي) د محب الدين الخطيب او مساعد اليافي ټولونه او ترجمه. د ۱۹، ۱۸، ۱۷صفحو لنډيز.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار ترڅنګ دغو مؤسسو په پټه او ښکاره په افغانانو کې د مسيحيت د خپرولو فعاليتونه هم شروع کړل.

د مسيحيت دغه فعاليتونه دومره بربنډ شول چې په ۱۹۸۸/۸/۱۶م تاريخ په پېښور کې افغان کمشنرۍ د دغې کمشنرۍ د معاون (سيد احمد اختر) په امضاء په پاکستان کې ټولو غربي مؤسسو ته د مهاجرينو په منځ کې د مسيحي کتابونو او نشراتو د نه خپرولو په خاطر خبرداری صادر کړ. او د پاکستان د جزايي قانون د پنځه لسمې مادې مطابق يې دا کار ديني سپکاوی وګاڼه چې مرتکب يې په بند، جريمې يا دواړو محکومېدلای شي. خو لدې سره سره بيا هم په مهاجرينو کې د غربي مؤسساتو لخوا مسيحي فعاليتونو دوام درلود، چې دا کار په هغه وخت کې افغان کمشنر ښاغلي (رستم شاه مومند) له الجهاد عربي مجلې سره د ۱۹۸۹م کال د فبرورۍ د مياشتې په دوه پنځوسمه ګڼه کې هم تأييد کړ، نوموړي دا هم زياته کړه چې پدې جرم د غربي مؤسساتو ځينې غړي له پاکستان څخه شړل شوي هم دي.([1])

د انګليسي ژبې مراکز او د مسيحيت فعاليتونه

لکه مخکې چې يادونه وشوه د پخوانيو مسيحي مبلغينو د توجيهاتو مطابق د غربي ژبو او د اروپايي او امريکايي فرهنګ د خپرولو په مقصد لاندې مؤسسو چې اصلاً په مسلمانانوکې د فکري بدلون لپاره کار کوي په سلګونو د انګريزۍ ژبې د زده کړې مراکز او کورسونه پرانستل چې په لسګونو زره ځوانانو او پيغلو ته يې د انګريزي ژبې ترڅنګ اروپا او امريکا ته د ورتلو فرصتونه هم برابرول. دغه مؤسسې په لاندې ډول وې:

1- د الجهاد د عربي مجله دوه پنځوسمه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ اي، ار، سي :

آي، آر، سي I,R,C يا International Rescue Committee يوه امريکايي خالصه کليسايي مؤسسه ده چې معنی يې ده: د (نجات (خلاصون) نړيواله کميټه). نجات (خلاصون) انجيلي کلمه ده چې معنی يې ده هر هغه څوک چې مسيحيت ومني هغه به له حساب کتاب او د آخرت له عذابه خلاص وي. ځکه چې د هغوئ د ګناهونو کفاره د دوئ په ګومان الله ﷻ د عيسی عليه السلام چې دوئ يې– نعوذبالله – د الله زوی بولي په قرباني کولو سره مخکې ورکړې ده. چې دا پخپله يوه باطله او کفري عقيده ده.

د I. R. C مؤسسې د مهاجرينو په کمپونو او د پاکستان په ښارونو کې په سلګونو کورسونه پرانستل چې په پيل کې يې استاذان هم په خپله اروپايان يا امريکايان ول، خو وروسته يې افغاني استاذان تربيه کړل چې هغوئ بيا تر دوئ هم انګليسي ژبې ته ډېر کار وکاوه.

آي، آر، سي I,R,C نه يوازې دا چې انګريزي ژبه او د هغې له لارې اروپايي او امريکايي فرهنګ خپراوه بلکې په پېښور کې يې خپله مطبعه هم درلودله چې د سيدجمال الدين افغان د مطبعې په نامه يې فعاليت کاوه. او د دې ترڅنګ يې د مکاتبو د نصاب او د معلم د تربيې چارې هم په غاړه لرلې چې په بېلابېلو وختونو کې يې د معلم د تربيې سمينارونه هم تر سره کول.

۲ـ امريکن سنټر :

امريکن سنټر American center يوه بله امريکايي فرهنګي مسيحي مؤسسه وه چې د پېښور په صدر کې يې مرکز وو او د انګريزي ژبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترڅنګ يې نور فرهنګي او مسيحي فعاليتونه هم تر سره کول چې درس به پکې اکثره د ښځينه امريکايي استاذانو لخوا ورکول کېده.

۳ـ برټش کونسل :

برټش کونسل British Council يوه بله فرهنګي مسيحي مؤسسه وه چې د برتانيې لخوا چلول کېده. د انګريزي ژبې د زده کړې ترڅنګ يې مجهزه کتابخانه، فلمي ننداتون او نور فرهنګي فعاليتونه هم درلودل.

۴ـ (ټيم) او (ورلډ بيليف):

(ټيم Team) او (ورلډ بيليفWorld Belief) دوه امريکايي مسيحي مؤسسې وې چې له هالنډې (زولاک) او کاناډايې World Belief مؤسسو سره يې يوځاى په اسلام اباد کې افغانانو ته د انګريزي ژبې يو لوى مرکز د (E. S. L) په نامه په G/9L سيمه کې چلاوه. دغه مرکز به په ښکاره ډول د انګريزې ژبې د کورسونو په پاى کې فارغانو ته په پښتو او فارسي ترجمه شوي مسيحي کتابونه هم ورکول، او هم به يې په بېلابېلو مناسباتو کې مسيحي فلمونه چې د عيسى عليه السلام ژوند به ورکې تمثيل شوى وو شاګردانو ته د مشاهدې لپاره وړاندې کول.

۵ ـ شلټرناو ا نټيرنيشنل :

(شلټرناو انټرنشنل) هغه مسيحي مؤسسه ده چې عبدالرحمن پنجشېرى ورکې مسيحي شوى وو. دغې مؤسسې د ناصرباغ د مهاجرينو په کمپ کې د کونډو ښځو لپاره د حرفوي زده کړو مرکز درلود چې د حرفوي زده کړې تر څنګ يې د مسيحيت د خپرولو او د فحشا د ترويج لپاره هم په لويه پيمانه په مهاجرينو کې فعاليت کاوه. څو ځلې د کمپ مشرانو ته په اثبات ورسېده چې د شلټرناو مؤسسه د ناروا فعاليتونو ترڅنګ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکز کې په شاملو کونډو د (حمل د مخنیوي) ګولۍ هم وېشلې، پداسې حال کې چې کونډې دغه ډول ګولیو ته هېڅ ضرورت نه لري.
مهاجرینو څو څو ځله افغان کمشنرۍ ته شکایت وکړ خو د نوموړې مسیحي مؤسسې مشرانو د کمشنرۍ وینا ته هېڅ توجه ونه کړه، چې په نتیجه کې په۱۹۹۰/۴/۲۶م تاریخ تقریبا لس زره مهاجرینو د کمکي اختر له لمانځه سمدستي وروسته د دغې مؤسسې پر مرکز یرغل وکړ، او د مرکز هرڅه یې له منځه یوړل، چې د شلتړناو د مؤسسې د هغه وخت د یوه چارواکې (میشال هیل) په وینا چې د الجهاد مجلې له خبریال سره یې د دغې مجلې په اته شپیتمې ګڼې کې کړې وه وویل: چې د دوئ پر ضد په دغه پاڅون کې (شلتړناو انترنشنل) ته یو ملیون ډالره تاوان ور واوښت.(1)
همدغې د (شلتړناو انترنیشنل) مؤسسې د طالبانو په وخت کې په پټه په پراخه پیمانه په کابل کې خپل تنصیري فعالیتونه شروع کړي ول چې د طالبانو د استخباراتو او امربالمعروف له لوري له زرګونو نسخو مسیحي کتابونو او نشراتو سره یې مسؤولین ونیول شول او د تحقیقاتو لپاره دغه مجرمین محاکمو ته وسپارل شول، چې د خوشې کولو لپاره یې د ملګرو ملتو د ادارې په شمول په لسګونو ادارې او دولتونه په حرکت کې راغلل، خو دا چې هغو کوښښونو د شلتړناو د مؤسسې دغه مجرمین راخلاص نه کړای شول، نو ځکه امریکا خپل پوځي برید ګړندی کړ، او د استخباراتي معلوماتو په مرسته یې دغه مسیحیت خپرونکي په یوه غلچکې عسکري برید کې د غزني له ولایته را خلاص کړل.

1- دالجهاد عربي مجله ۱۹۹۰م کال اته شپیتمه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعليمي او مرستندويه مسيحي مؤسساتو تر څنګ امريکايي او اروپايي مسيحيانو له تېرو پنځه ويشتو کلونو راهيسې د پاکستان د مسيحي ټولنې په مرسته د افغانانو د مسيحي کولو لپاره په اسلام آباد، راولپنډۍ کې يوه مسيحي راډيو هم فعاله کړې چې په بېلابېلو افغاني ژبو سهار او ماښام مسيحي خپرونې کوي چې خپرونکي او نطاقان يې ټول هغه افغانان دي چې مرتد شوي دي. دغې راډيو داسې يو ولس ته د مسيحيت خپرونې پيل کړې چې يو فرد يې هم مسيحي نه وو، خو اوس يې په سلګونو خلک مسيحيان کړي دي، البته د يادونې وړ ده چې دغه مرتدين ټول هغه پخواني سيکولر او کمونست عناصر دي چې مخکې يو ډول کفار ول، او اوس يې بل ډول کفر منلی دی.

د راډيو ترڅنګ په انټرنيټ کې هم هغو مرتدو افغانانو چې په علني ډول مسيحيان شوي دي ښه ډېر فعاليتونه شروع کړي دي چې تلويزيوني نشرات هم ورکې شامل دي.

پر افغانستان د امريکا او غرب له صليبي يرغل څخه وروسته خو په ښکاره ډول د افغانستان په خاوره کې کليساګانې هم جوړې شوې چې د يرغلګرو په پوځي اډو کې په کابل، قندهار، مزارشريف، ارګون، جلال آباد، هلمند او بګرام کې موقعيت لري. په دغو کليساګانو کې د غربيانو تر څنګ د دوئ مرتدشوي افغان ملګري هم د يکشنبې د ورځې د مسيحي مراسمو لپاره حاضرېږي. دا څو کاله خو لا د (کرسمس) جشن هم په لويه پيمانه په افغانستان کې لمانځل کېږي، چې د غربی يرغلګرو تر څنګ افغاني مرتدين هم ورکې په پوره دلچسپۍ برخه اخلي، او د کابل د شهرنو د مرغ فروشۍ د کوڅې ځينې غرب ځپلي ګلفروشان ورته کرسمس ټري د (کرسمس ونې) هم د خرڅلاو لپاره برابروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله مهمه خبره پدې لړ کې دا ده چې امریکایان او اروپایان په جنګ کې د مستقیم دخالت له امله عامو افغانانو ته هم د دښمن په حیث ښکاری. نو ځکه یې په پراخه پیمانه د مسیحیت د خپرولو چارې د جنوبي کوریا مسیحیانو ته چې د امریکایانو نږدې ملګري دي ورسپارلې دي.

د جنوبي کوریا پروټسټنټ کلیسا په آسیا کی تر ټولو لویه کلیسا ده چې تر امریکایی پروټسټنټ کلیسا وروسته په نړۍ کې تر ټولو ډېر مبلغین لري چې یوازې (۲۰۰۰۰) شل زره تنه نارینه او ښځې یې په بېلابېلو مرستندویه او تعلیمي مؤسسو کې په اسلامي نړۍ کې د مسیحیت په خپرولو مصروف دي.

د فرانسې د (لیبراسیون) ورځپاڼې د ۲۰۰۷م کال د جولای په میاشت کې راپور خپورکړ چې په ترڅ کې یې راغلي وو: ((د جنوبی کوریا د کلیساګانو د انجیلي تبلیغي ټولنې مرکز چې د دغه هېواد د پایتخت (سیول) د ښار تر څنګ د (بوندانګ) په ښارګوټي کې موقعیت لري په ۲۰۰۶ کال کې (۲۰۰۰) دوه زره کوریایي مسیحي مبلغینو ته افغانستان ته د سفر لپاره د سیاحت ویزې تیارې کړې چې یوازې (۱۵۰۰) یو نیم زر تنه یې د همدغه کال د جون په میاشت کې افغانستان ته ورسېدل او هلته یې په شیعه میشتو سیمو لکه بامیان، مزار، د کابل کارته سخي او قلعه شاده کې د شیعه ګانو په کورونو کې د مسیحیت دعوت شروع کړ)).([1])

دغې ډلې تنکي مراهق هلکان هم له ځان سره راوستلي ول چې د اخلاقي فساد د خپرولو لپاره یې په کار اچول. دغه دسیسه هغه وخت بربنده

1- دالصمود عربي مجله ۲۰ ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه چې دغه مسیحي مبلغین د سیمې د ځینې پښتنو او سنیانو کورونو ته هم د دعوت لپاره ورغلل، چې خلک یې په خلاف د مظاهرو لپاره راووتل.

د توطیې تر رسوا کېدلو سمدستي وروسته د حامدکرزي ادارې دغه مسیحي مبلغین د کوریا په سفارت کې راټول کړل او ازبکستان ته یې ولېږل. خو کله چې د خلکو غوسه سړه شوه بېرته یې یوه برخه په کراره کراره افغانستان ته را داخل کړل.

د کوریایي مسیحي مبلغینو بله رسوایي هغه وخت رامنځته شوه چې په ۲۰۰۷/۷/۱۹م تاریخ یې درویشت تنه د غزني په قرغه باغ کې د قندهار په لاره د طالبانو په لاس کې پرېوتل. په پیل کې د کرزي ادارې هغوئ د خیریه مؤسسو کارکوونکي معرفي کړل، خو وروسته د کوریا حکومت او د یرغمال شویو مبلغینو کورنیو اعتراف وکړ چې ټول یرغمال شوي مسیحي مبلغین دي چې افغانستان ته د امریکایانو تر سوري لاندې د دعوت لپاره تللي ول.

تر ډېرو اوږدو مذاکراتو وروسته دیوې درنې معاملې او دې تعهد په نتیجه کې چې ټول ملکي او پوځي کوریایان به له افغانستان څخه وځي، نوموړی منصرین پرېښودل شول.

غرب او ملګرو یې په افغانستان کې د مسیحیت د خپرلو لپاره په پراخه پیمانه کارشروع کړی چې ځینې افغاني شیعه ډلې، آغاخان فاونډیشن، او کیاني اسماعیلیه یې د ملګرو په حیث په فعالیت بوخوت دي او پدې لاره کې د ډېرو مشکلاتو زغملو ته هم تیار دي.

امریکایي لوی مسیحي مبلغ (زویمر) چې تقریبا پنځه دیرش کاله یې په عربي هېوادونو او هند کې د مسیحیت د خپرولو لپاره کار کړی په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب (Islamic world today) کې مسيحي مبلغينو ته د توصيو په ترڅ کې داسې ليکلي :

((۱ـ مسلمانانو ته بايد قناعت ورکړل شي چې مسيحيان د دوئ دښمنان نه دي.

۲ـ مسلمانان بايد لدوئ څخه د مسيحي شويو اشخاصو په ذريعه دعوت شي، ځکه چې د ونې د غوځولو لپاره بايد د تبر لاستې هم د ونې له شاخ څخه وي.

۳ـ مسيحي مبلغين بايد د خپل دعوت د نتيجې د کمزورۍ له امله له مسيحي تبليغ څخه نااميده نشي، ځکه چې په مسلمانانو کې د اروپايانو علومو او د ښځو د آزادۍ طرف ته شديد ميلان لېدل کېږي.

۴ـ انجيل بايد د مسلمانانو په ژبو ترجمه او خپور شي)).([1])

همدغه (زويمر) د هندوستان په کلکته کې د مسيحي مبلغينو په لوی کنفرانس کې خپلو کشرانو مبلغينو ته له مسلمانانو سره د تعامل لپاره مراحل داسې تعين کړل:

۱. کوښښ وکړئ چې مسلمانان د ښکاره مسيحيت منلو ته تشويق کړئ تر څو ستاسې ورونه شي.

۲. که مسلمانان مسيحيت درسره نه مني نو داسې حالات ورته جوړ کړئ او په داسې کارونو يې اخته کړئ چې له اسلام څخه ووځي که څه هم چې په مسيحيت کې داخل نشي. ځکه چې د اسلام سنګر خالي کول په خپله لوی هدف دی.

1- الموسوعة المسيرة فی الأديان و المذاهب والأحزاب المعاصرة ۲ جلد تنصير ۶۷۹ صفحه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. که مسلمان له اسلام څخه وتل هم نه مني نو کوښښ وکړئ په اسلام کې دننه یې فکر او نظر داسې ورخراب کړئ چې له اسلامي شریعت څخه کرکه ولري او هرڅه چې کوي د ګېډې او شهوت لپاره یې تر سره کړي.

د کابل امریکایي پوهنتون

امریکا په افغانستان باندي له پوځي یرغل سره سم یو لړ نورې هڅې هم پیل کړې چې پدې خاوره کې خپله بقا او د خپلو سیاستونو تنفیذ د اوږدې مودې لپاره تضمین کړي. امریکایان پدې پوهېږي چې حتماً به یوه ورځ ددوئ پوځونه له افغانستان څخه وتلو ته اړ کېږي. خو د دې لپاره چې دلته نظام او حاکمیت د مخلصو مسلمانانو لاس ته ورنشي نو له همدا اوس څخه یې په افغانستان کې د داسې ادارو، ارګانونو، قوانینو، سیاسي ګوندونو او د مدني ټولنې په نوم د اجتماعي جوړښتونو په جوړولو لاس پورې کړی دی چې سبا د اسلام مقابله وکړای شي.

د دغو نوو جوړښتونو او ارګانونو د پرمخ بیولو او ساتلو لپاره داسې کدرونو ته ضرورت دی چې د امریکایانو لخوا د همدوئ په لاس او د همدوئ په روحیه او فکر تربیه شوي وي. چې وروسته بیا د سیاستمدارانو، پوځیانو، فرهنګیانو، مدیرانو او اجتماعي شخصیتونو په شکل کې د امریکا لپاره ښه ځای ناستي ثابت شي، او د تل لپاره دغه هېواد د غرب په تابعیت کې وساتي، او هم د هېواد دروازې د هر وخت لپاره د مسیحیت او سیکولریزم پرمخ خلاصې پرېږدي.

امریکایان په افغانستان کې د خپل مستقبل لپاره ډېرو کرزیانو، خلیلزادانو، اشرف غنیانو، جلالیانو، احدیانو او دغه ډول نورو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکايي پوهنتونونو کې روزل شویو غلامانو ته ضرورت لري. ځکه چې بې فرهنګه ملېشې او لنډغر قومندانان د ډېر وخت لپاره دا ولس او هېواد د امریکایانو لپاره نشي سمبالولی. نو ځکه باید په لوړه سویه خلک وروزل شي، او د دغه ډول یو نسل د روزلو لپاره امریکايي حکومت او د پروټسټنټ کلیسا مشرانو په کابل کې د امریکايي پوهنتون پروګرام تر لاس لاندې ونیو.

امریکا د افغانستان تر اشغالولو وروسته افغاني الأصل امریکایی (زلمی خلیلزاد) په افغانستان کې د خپل سفیر په حیث مقرر کړ. (زلمی خلیلزاد) یوازې سفیر نه بلکې په افغانستان کې د امریکا په لاس د جوړ شوي حکومت چلوونکی وو.

زلمی خلیلزاد چې په بیروت کې د امریکايي پوهنتون فارغ التحصیل او د امریکايي منصرینو شاګرد وو ویې غوښتل چې په بیروت، قاهرې او ترکیې کې له امریکايي پوهنتونونو څخه په الهام په اشغال شوي افغانستان کې هم هماغه ډول یو امریکايي پوهنتون تأسیس کړي. هماغه وو چې د کرزي په لومړۍ کابینه کې د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر (شریف فایز) یې د دې کار لپاره تشویق او توظیف کړ.

د کابل د امریکايي پوهنتون تاریخچه

وروسته له هغه چې امریکا افغانستان اشغال کړ په ۲۰۰۲م کال کې یې تصمیم ونیو چې په افغانستان او سیمه کې د خپلو لنډ مهالو او اوږد مهالو اهدافو د تحقق لپاره د سیاست، حکومت، قانون، اقتصاد، تعلیم او تربیې، ټولنیزو خدماتو او د نړیوالو روابطو په ډګرونو کې د قیادتونو د روزلو لپاره دغه ډول یو پوهنتون تأسیس کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادولو ده چې دغه پوهنتون په خپل تشکیل کې د طب او انجینرۍ فاکولتې چې افغانان او افغانستان ورته شدید ضرورت لري نه لري، ځکه د افغانستان آبادول او افغانانو ته ضروري خدمات وړاندې کول د امریکا په لومړیتوبونو کې ندي، بلکې د هغې اصلي هدف د افغانستان او افغانانو تسخیرول او بیا په خپله خوښه اداره کول دي.

په ۲۰۰۲م کال کې د (کرزي) د ادارې د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر (شریف فایز) د دغه امریکایي پوهنتون د تأسیس وړاندیز وکړ.

په ۲۰۰۳م کال کې دامریکا د جمهور رئیس ښځې (لورا بش) د یونیسکو له لارې له دغه پو هنتون سره خپله مرسته او ملاتړ اعلان کړ. او همدارنګه په کابل کې د امریکا سفیر (زلمي خلیلزاد) هم لدې پوهنتون سره خپل قوی ملاتړ اعلان کړ.

په ۲۰۰۳م کال کې د کرزي په حکومت کې د خصوصي سکتور لپاره د دولت د سرمایه ګذارۍ عالی کمیسون دغه پوهنتون ته د ۸۰ هکتاره په اندازه دوه ټوټې زمکه په کارته سه او دارالامان کې د ۹۹ کلونو لپاره په اختیار کې ورکړه. په ۲۰۰۴م کال کې د دې پوهنتون ادارې د پوهنتون د جوړولو او د امکاناتو د څېړلو او د هغه کارونو ته د کاري چوکاټ (فریم ورك) د جوړولو کارونه تر سره کړل او په همدې کال کې د دې پوهنتون د امناوو د مجلس لومړۍ ناسته د متحده اماراتو په (دوبۍ) کې ترسره شوه.

د ۲۰۰۵م کال د مارچ په میاشت کې د امریکا لومړۍ مېرمنې (لورابش) د پوهنتون له ځای څخه لیدنه وکړه، او لدې پوهنتون سره یې د امریکا د نړیوالې پراختیا د مؤسسې USAID مرسته اعلان کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۲۰۰۵م کال کې يوه جنګ ځپلي ودانۍ بيا ترميم او د کلاسونو لپاره تياره کړای شوه، او په ۲۰۰۶م کال کې د دې پوهنتون شاګردانو ته د انګليسي ژبې د تقويي کلاسونه پيل شول.

په ۲۰۰۸م کال کې يو ځل بيا د امريکا لومړۍ مېرمنې (لورابش) لدې پوهنتون سره څلويښت مليونه ډالره مرسته وکړه.

په ۲۰۰۹م کال کې د دې پوهنتون د امناوو مجلس ډاکټر (مايکل سميت) د دې پوهنتون د رئيس په حيث مقرر کړ.

دې پوهنتون د ۲۰۱۱م کال د مئ په مياشت کې خپله لومړۍ ډله شاګردان د تجارت، معلوماتي ټکنالوژۍ او پبلك منجمنټ (عمومي اداري) په څانګو کې د ليسانس په درجه فارغ کړل. د دوئ د فراغت د مراسمو غونډې ته د نورو اروپايي او امريکايي لوړ پوړو چارواکو تر څنګ په افغانستان کې د امريکا سفير جنرال (ايکنبيري) هم ويناوکړه. هغه د پوهنتون نوي فارغان ډير وستايل او زياته يې کړه چې: ((دا پوهنتون پلان لري چې په راتلونکي کې خپلې محلي څانګې د افغانستان په ځينې نورو ولاياتو لکه هرات او قندهار کې هم پرانيزي تر څو په افغانستان کې داسې يو نسل وروزي چې په افغانستان او سيمه کې د اقتصاد، تجارت، معلوماتي ټکنالوژۍ، قانون او حکومتدارۍ په ډګرونو کې قيادت په خپل لاس کې واخلي)).([1])

په افغانستان کې د امريکايي پوهنتون تمويلوونکي

لکه په مخکې بحث کې چې وليدل شول په اسلامي نړۍ کې امريکايي پوهنتونونه هڅه کوي چې د تمويل منابع هم ځانته په اسلامي نړۍ کې

1 آزادي راډيو ويبسايټ ۵/ ۳/ ۱۳۹۰ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړي، ترڅو يې د ونې د پریکولو لپاره خپل تبر ته لاستی هم د ونې له شاخه وراچولی وي.
امریکایان هڅه کوي تر څو لوی پانګه وال، لویې کمپنۍ بانکونه، شتمن او نفوذ لرونکي جهتونه د سیاسي رشوتونو او هغوئ ته د اقتصادي تسهیلاتو او خدمتونو په وړاندې کولو هغوئ په اسلامي نړۍ کې د امریکایي پوهنتونونو تمویل ته وهڅوي، چې همدغه عملیه دوئ په افغانستان کې هم اجراء کړه او لوی پانګوال او د لویو شرکتونو خاوندان یې د دولت د مالي مؤسساتو ترڅنګ د امریکایي پوهنتون د تمویلوونکو په کتار کې ودرول، چې د هغوئ له جملې څخه څو مهم یې په لاندې ډول دي:

۱ــ د امریکایانو په لاس جوړه شوې د کابل اداره:

د حامد کرزي او د هغه د شمال د ایتلاف د ملګرو په مشرۍ جوړ شوی لاسپوڅی حکومت نه یوازې دا چې پرته له کومو شرائطو د دې امریکایي پوهنتون له پرانستلو سره موافقه وکړه او د هغه د جوړېدلو زمینه یې ورته مساعده کړه، بلکې د کابل په زړه او تر ټولو په مهم موقعیت کې یې ورته د دارالامان د سړك پرغاړه ۸۰ هکتاره زمکه هم ورکړه تر څو دغه د تنصیر او د نوي نسل د غربي کولو مهم مرکز ته د پلازمېنې په زړه کې ځای ورکړي.

۲ــ د افغانستان بانک:

د افغانستان بانك چې د افغانستان تر ټولو لوی او مرکزي بانك دی او باید چې د افغانستان د مسلمان ولس د شتمنیو امین وي هغه هم د دې امریکایي پوهنتون له تمویلوونکو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ـ پښتني تجارتي بانک:

پښتني تجارتي بانك چې د افغانستان له مهمو دولتي بانکونو څخه دی هم د امریکایي پوهنتون له مهمو تمویلوونکو څخه دی.

۴ـ الکوزی برادرز:

د (الکوزی برادرز) کمپنۍ چې په افغانستان د چای، غوړیو او نورو موادو تر ټولو لویه کمپنۍ ده نه یوازې په افغانستان کې د دې پوهنتون د تمویلوونکو له ډلې څخه ده، بلکې همدغه کمپنۍ د پاکستان د لاهور په ښار کې د FCC د مسیحي پوهنتون له مهمو تمویلوونکو څخه هم ده.

۵ـ عزیزي بانک او عزیزي هوتک گروپ:

د عزیزي کمپنۍ چې په (میرویس هوتك عزیزي) پورې اړه لري په افغانستان کې یوه تر ټولو لویه او شتمنه کمپنۍ ده چې په افغانستان او (دوبۍ) کې یې پانګونه کړې ده. افغانستان ته ۷۰ ٪ نفت او ګاز همدا کمپنۍ راواردوي او توزیع کوي یې. په افغانستان کې (عزیزي بانك) په تقریبا ټول افغانستان کې د (عزیزي د تېلو پمپونه)، په (دوبۍ) کې (عزیزي هوټلز) او افغانستان ته د (نسّان) موټرو د راواردولو شرکت د دې کمپنۍ له شتمنیو څخه دي. دغه تر ټولو شتمنه کمپنۍ هم په افغانستان کې د امریکایي پوهنتون له مهمو تمویلوونکو څخه ده.

۶ـ بیات فاونډیشن (بنیادبیات):

بیات فاونډیشن په افغاني الاصله امریکایي وګړي (احسان الله بیات) پورې اړه لري. د نورو ډېرو اقتصادي پروژو ترڅنګ د (افغان بیسم مخابراتي شرکت) او د (آریانا تلویزوني شبکه) هم د همدې مؤسسې له شتمنیو څخه دي. د بیات فاونډیشن د دې ترڅنګ چې په افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د امریکایي پوهنتون له تمویلوونکو څخه دی په عمومي ډول د غرب په ګټه د افغاني ټولنې د ذهنیت د اړولو په کار کې نور هم ډېر پروګرامونه او تعلیمي پروژې تطبیقوي.

۷ـ مقصودي فاونډېشن:

مقصودي فاونډیشن په ازبک نژاده الافغاني الاصل امریکایي وګړي (فرید مقصودي) پوري چې یو لوی سرمایه دار دی اړه لري. فرید مقصودي د امریکا د شیکاګو له پوهنتون څخه په (بزنس ایډمنستریشن) کې د ماسترۍ د سند درلودونکی دی.

فرید مقصودي په افریقایي هیوادونو او منځنۍ آسیا کې هم د ساختمانۍ او سرک جوړونې په ډګرونو کې سرمایه ګذاري کړې ده، وروسته له هغې چې امریکا افغانستان اشغال کړ، په کابل کې د امریکا د سفارت د توسعې او د کابل ـ قندهار، کابل ـ دوشي او هغو نورو هغو سرکونو چې د USAID په بودیجه جوړېږي قراردادونه یې هم له (فرید مقصودي) سره لاسلیک کړل.

د فرید مقصودي د نورو اقتصادي فعالیتونو په جمله کې د (افغانستان د نړیوال بانك پروژه)، (افغانستان فایناسنګ کمپني) او د(افغانستان د مشروباتو د جوړولو صنعت) هم دي، نوموړی تر ۲۰۱۰ م کال پورې په افغانستان کې د امریکایي پوهنتون د (امناوو) د مجلس غړی هم وو. د فرید مقصودي کمپنۍ هم په افغانستان کې د امریکایي پوهنتون له مهمو تمویلوونکو څخه ده.

۸ـ اینده فاونډېشن:

آینده فاونډیشن په افغاني الاصله امریکایۍ مېرمنې (شمیم جواد) پورې اړه لري. (شمیم جواد) په کابل کې زېږېدلې ده، وروسته بیا امریکا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تللې او هلته د (سان فرانسسکو) د (ګولډن ګیټ) له پوهنتون څخه فارغه شوې ده. هغې د امریکا له لوري د افغانستان تراشغال وروسته د امریکا د جمهور رئیس (جورج بش) د ښځې (لورابش) او د سپیني ماڼۍ په رسمي ملاتړ د (افغان او امریکایي ښځو بنسټ) تأسیس کړ چې همدا یې په خپله رئیسه ده.
شمیم جواد چې د غرب په ګټه د افغانانو د ذهنیت د تبدیلولو په لاره کې پوره فعاله ده د امریکا د دفاع د وزارت په مالي او د افغان سندرغاړي (وحید قاسمي) په فني مرسته یې له امریکایۍ افغان پېژندونکې (لویس پاسکال) سره شریکه د نوي نسل د ماشومانو لپاره د (قوقو برګ چنار) په نامه د ماشومانو د سندرو کتاب تالیف، چاپ او ۴۰۰۰۰ نسخې توزیع کړ، او د دې کتاب سندرې یې په تعلیمي نصاب کې هم شاملې کړې.
(شمیم جواد) له مشهورو امریکایي مؤسسو او شخصیتونو سره له پېژندګلوۍ څخه په استفاده په افغانستان کې له تعلیم او تربیې سره د مرستې په نامه د خپلې مؤسسې (آینده فاونډیشن) له لارې ښې ډېرې پیسې هم ټولې کړې. مېرمن (شمیم جواد) په امریکا کې د کابل د لاسپوڅې اداري د پخواني بدنامه سفیر (طیب جواد) ښځه ده. طیب جواد په افغانستان کې د یهودانو د تاریخ په اړه د کتاب لیکوال دی چې د هغه له امله یې د امریکا په یهودي ټولنه کې د خپل ځان او خپلې ښځې لپاره ډېر وجاهت او مقبولیت ګټلی دی. د (شمیم جواد) د (آینده بنسټ) هم په افغانستان کې د امریکایي پوهنتون له مهمو تمویلوونکو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ـ ګلزار فيملي اينډ ګروپ:

د (ګلزار فيملي اينډګروپ کمپنۍ) د (حبيب الله ګلزار) په کورنۍ پورې اړه لري. دغه کمپنۍ هم د افغانستان له مشهورو او شتمنو کمپنيو څخه ده چې په افغانستان او (دوبۍ) کې د (کوکاکولا) د جوړولو امتياز هم د همدې کمپنۍ دی.

د پورتنيو يادو شويو کمپنيو ترڅنګ ځيني مشهور اشخاص هم د دې امريکايي پوهنتون له تمويلوونکو څخه دي چې ځينې يې دغه لاندې خلك دي:

١ - افغاني الاصله امريکايی (خالد حسيني) د (پتنګ باز) دکتاب ليکونکی.

٢ - نعيم مومند.

٣ - زرغونه ولي زاده.

دغه پورته ياد شوي جهتونه او اشخاص يوازې د دې پوهنتون افغاني تمويلوونکي دي او د دوئ ترڅنګ د دې پوهنتون اصلي تمويلوونکی د امريکا د نړيوالې پراختيا (USAID) مؤسسه او نورې امريکايي مؤسسي او مليارډران دي.([1])

د کابل د امريکايي پوهنتون مهمې ځانګړتياوې

١ـ د پوهنتون نصاب په مکمل ډول امريکايې دی. (هماغه نصاب چې په تېرو يادو شويو امريکايي پوهنتونونو کې مقرر دی) هغه چې په ظاهره د ليبرالزم د روحيې او په حقيقت کې د غرب پالنې او مسيحيت پر روحيه ولاړ دی. سره لدې چې دغه نصاب په يو پوره اسلامي هېواد

1 د افغانستان د امريکايي پوهنتون په ويپاڼه www. AUAF کې د دې پوهنتون د معرفۍ له معلوماتو څخه په استفاده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې تدریسېږي خو بیا هم په هغه کې د اسلام او افغاني ارزښتونو په اړه هېڅ نشته.
۲ـ د تدریس او رسمیاتو ژبه په دې پوهنتون کې انګریزي ده.
۳ـ د دې پوهنتون ټول استاذان امریکایان، کاناډایان، استرالیایان او افغاني الاصله امریکایان دي. هېڅ خالص افغان استاذ ورکې نشته.
۴ـ پدې پوهنتون کې زده کړې د پیسو په مقابل کې تر سره کېږي چې په اوسط ډول باید هر محصل په هرو څلورو میاشتو کې (۱۲۰۰۰۰) افغانۍ او یا د هغو معادل ډالر د پو هنتون ادارې ته ورکړي.
که پورتني مواصفات او شرایط که هر یو په بېلابېل ډول وڅېړل شي دا نتیجه په لاس راځي چې امریکایان د افغانستان د دائمي اشغال لپاره خطر ناک پلان تر کار لاندې لري.
امریکایانو د دې پوهنتون نصاب څکه امریکایي انتخاب کړی چې افغاني نصاب د دوئ لپاره په مطلوبه سویه فکري غلامان نشي روزلی.
افغاني نصاب که څه هم سیکولر ته ورته نصاب دی خو بیا هم د افغانیت او وطنپالنې یو څه اثر ورکې لیدل کېږي. او ډېری فارغان یې له دین سره د دښمنۍ په صف کې نه درېږي. د روسانو په ضد په جهاد کې هم ولیدل شول چې د جهاد او مبارزې یو زیات شمېر منسوبین د افغاني پوهنتونونو له انګړونو څخه راپورته شوي ول.
امریکا نه غواړي چې تر دې وروسته دې هم پوهنتونونه د جهاد او اسلامي مبارزې سنګرونه وګرځي. بلکې د دې پر ځای غواړي چې د پوهنتونونو محصلین د تل لپاره له جهاد او اسلام سره خپل روابط پرېکړي. او دا کار یوازې هغه وخت ممکن دی چې تعلیمي نصاب په مکمل ډول له اسلام او افغانیت څخه بې برخې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تدریسي ژبې په حیث د انګلیسي ژبې انتخاب د دې لپاره دی چې امریکایان له یوې خوا د دې ژبې له لارې خپل منحط الحاد وهلی مسیحي فرهنګ افغانانو ته ورصادر کړي، او له بل لوري افغاني ژبو ته د نوې ټکنالوژۍ د علم د راتګ مخنیوی وکړي. که داسې نه وي نو بیا خو د علم او ټکنالوژۍ د خپرولو تر ټولو غوره او اسانه لار دا ده چې ټول غوره او مفید معلومات دې د افغانانو خپلو ژبو ته راواړل شي لکه څنګه چې ایرانیانو او عربو دا کار وکړ. خو امریکایان غواړي چې نوي علوم دې په یوه محدوده ډله کې چې د دوئ لخوا روزل کېږي منحصر پاتې شي.

تر کومه ځایه چې د پوهنتون لپاره د استاذانو د امریکایي والي خبره ده دا پدې خاطر نده چې افغانان پدې پوهنتون کې د استاذۍ سویه نه لري، بلکې اصلي هدف ورکې دا دی چې د پوهنتون استاذان باید د بیروت، استانبول او قاهرې د امریکایي پوهنتونونو په څېر خالص امریکایي عیسایي مبلغین او یا له مسیحیت څخه متأثر خلك وي. ځکه چې پدې پوهنتونونو کې د استاذۍ مهم شرط هم همدا دی. او همدغه شرط د بیروت د امریکایي پوهنتون د **۱۹۵۴**م کال په داخلي لائحه کې په صراحت سره ذکر شوي دی. که داسې نه وي نو بیا خو همدغه افغاني استاذان څنګه د امریکا او اروپا په پوهنتونونو کې د تدریس وړتیا لري او دلته یې نه لري؟

د ډالرو په مقابل کې زده کړه په افغانستان کې یوه بې سابقې خبره ده. په تېرو دریو لسیزو کې د جګړو او بهرنیو پوځي یرغلونو له امله د افغانانو اقتصاد د صفر نقطی ته راټیټ شوی دی او خلک د یوې مړۍ ډوډۍ د پیدا کولو لپاره د وطن پرېښودلو ته اړ شوي دي. د همدې اقتصادي مشکلاتو له امله تقریباً ۸۰ % ځوانانو تعلیم ته شاکړې ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو امريکا بيا هم غواړي په دغه ډول حالاتو کې خلکو ته تعليم د ډالرو په مقابل کې وړاندې کړي. د دې کار هدف دا دی چې په دې مسيحي پوهنتون کې بايد اساساً هغه خلک داخله واخيستلای شي چې له ډالرو سره يې سر او کار وي د ټولنې په ډېرې لوړې طبقې پورې اړه ولري او يا هم بايد هغه خلک ورکې شامل شي چې له يوې خوا امريکايانو ته د خدمت او جاسوسۍ په بدل کې له هغوئ څخه ډالر واخلي له بل لوري يې د تعليم په بدل کې بېرته هغوئ ته ورکړي، چې پدې کار سره به يې په يوه غښتي دوه مرغۍ ويشتلې وي، هم به يې ځانته غلامان روزلي وي او هم به يې د کليسا لپاره ډالر ګټلي وي.

حقيقت دا دې چې امريکايان او نور غربيان هېڅکله نه غواړي چې افغانان دې د علم او پرمختګ پر لاره روان شي. بلکې غواړي چې افغاني ځوانان دې د دوئ د غلامۍ په فکري جال کې ښکار شي او بس. که داسې نه وې نو بيا ولې په افغانستان کې له موجودو پوهنتونونوسره مرستې نه کوي چې هلته په پراخه پيمانه علم خپور شي.

همدا اوس په افغانستان کې د کابل، ننګرهار، خوست، مزارشريف، قندهار، هرات او کاپيسا پوهنتونونه مالي، تعليمي، لوژستيکي او فني مرستو ته شديد ضرروت لري خو امريکايان له دغو پوهنتونونو سره ځکه مرسته نه کوي چې هلته افغاني ځوانان د افغانانو لخوا په افغاني روحيه د افغانستان د مصالحو لپاره روزل کېږي او امريکا ته يې هېڅ ګټه نه رسېږي. بلکې د افغانانو په خودکفا کېدلو کې د امريکايانو سراسر تاوان دی، ځکه هغوئ غواړي افغانان د تل لپاره ځان ته محتاج وساتي.

امريکايان نه يوازې دا چې محلي پوهنتونونونه نه تقويه کوي بلکې په قصدي ډول کوښښ کوي چې نور پوهنتونونه د ضعف او فلج په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وساتي، تر څو د بهترينو استعدادونو د لرونکو ځوانانو توجه امريکايي پوهنتونونو ته ور واړوي.

د لبنان د جنګ په کلونو کې د بېروت عربي پوهنتون په مرموز ډول په بمونو والوزول شو او د پوهنتون ټولو مجهزو لابراتوارونو ته په قصدي او دقيق ډول انفجار ورکړل شو، چې په هغه وخت کې يې خساره شل ميليونه ډالره اټکل شوه، پداسې حال کې چې په همدغه ښار کې امريکايي پوهنتون ته هېڅ صدمه ونه رسېده. د امريکايې پوهنتون فاکولتې او تخصصات

امريکايانو دکابل په امريکايي پوهنتون کې هغه فاکولتې او تخصصات له سره جوړ کړي نه دي چې افغاني ټولنې ته يې سمدستي ګټه ورسېږي، او د افغان جنګ ځپلي ولس ضرورتونه ورباندې پوره شي، لکه د طب، انجنيرۍ، زراعت او يا نورې صنعتي فاکولتې، بلکې د دې پر ځای امريکايانو هغه فاکولتې ورکې پرانستې دي چې په اداري، فکري، فرهنګي او اقتصادي لحاظ زمونږ ولس په امريکايي قالب کې راوستل غواړي چې ځينې يې په لاندې ډول دي :

۱ـ د سياسي علومو فاکولته :

د سياسي علومو فاکولتې د هر ولس لپاره د هغه د مستقبل سياستمدارن او حکام تياروي چې د يوې خاصې مفکورې پر بنسټ د هېواد سياسي نظام او بهرني روابط عياروي او له خپل ملت او نورو ملتونو سره د تعامل داسې اصول وضع کوي چې د دوئ د مفکورې اهداف ورکې خوندي وي. د امريکايانو لپاره ددغه ډول فاکولتې شتون په افغانستان کې د دوئ د دائمي بقا تضمين ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ــ د اقتصاد فاکولته :

د غرب ټول اقتصادي نظام په کپیټالستي (پانګه وال) بنسټ ولاړ دی چې سود ، احتکار او استثمار یې مهم اصول دي. د دغه ډول اقتصادي نظام په مټ یې د ټولې نړۍ اقتصادي منابع په خپل خدمت کې راوستلي دي. د دغه نظام د چلولو لپاره امریکایان په هر ځای کې د پانګه وال (کپیټالست)اقتصاد پر اساس خلک روزي، تر څو د ټولې نړۍ اقتصادي چارې د دوئ په خوښه او طریقه روانې وي.
دا چې افغانستان د لویو معادنو هېواد او د نړۍ د تجارت یو لوی معبر ګڼلی کېږي نو ځکه امریکایان د دې سیمې د اقتصادي مستقبل د خپلولو لپاره له همدا اوسه دلته خلک روزي چې پدې پوهنتون کې د (اقتصاد) او د (بزنس ایډمنسټریشن) فاکولتې هم د همدې هدف د تحقق لپاره تأسیس شوې دي.

۳ــ د ژورنالیزم او د معلوماتي ټکنالوژۍ فاکولته :

ژورنالیزم، میډیا او معلوماتي ټکنالوژي هغه لویې او زورورې وسیلې دي چې په ټولنو کې انقلابونه راولاړوي، نظامونه رنګوي او پر ځای یې نور راولي، ټولنې ته نوي نظریات او افکار ورمعرفي کوي او یا یې افکار او عنعنات له منځه وړي او د ټولنې د هر ډول اخلاقي جوړښت یا ویجاړتیا مسؤولیت پر غاړه لري. له همدې امله په ننني نړۍ کې مېډیا د تنفیذي، قضایي او تقنیني قواو ترڅنګ د نظامونو څلورمه قوه بلل کېږي.
دا چې افغاني ټولنه تر ډېره حده د غرب له لوېدلو او بې دینه نظریاتو څخه لیرې پاتې ده، او اخلاقي او اجتماعي ژوند یې پر اسلامي او ملي بنسټونو ولاړ دی، او د هرې بې دینې مفکورې او بهرني یرغل په مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د مقاومت همت او توان لري، نو له همدې امله امریکایانو او نورو غربیانو ته دغه وضعیت د منلو وړ ندی، دوئ کوښښ کوي د مېډیا، ژورنالیزم او معلوماتي ټکنالوژۍ په ډګر کې هم داسې کدرونه رامنځته کړي چې وکولای شي د راډیوګانو، تلویزیونونو، اخبارونو، مجلو او نورو وسایلو له لارې د افغانانو رابطه له خپلې ماضي سره غوځه کړي، او مستقبل یې په سیکولر غرب پورې وتړي. همدا وجه ده چې په امریکایي پوهنتون کې د مېډیا، ژورنالیزم او معلوماتي ټکنالوژۍ فاکولتې پرانستل کېږي.

۴ـ د اداري علومو (پبلک ایډمنسټریشن) فاکولته:

دا فاکولته هم د دې امریکایي پوهنتون له مهمو فاکولتو څخه ده او د امریکایانو لپاره ډېر اهمیت لري. دا فاکولته د دې لپاره تأسیس شوې ترڅو د امریکایانو لپاره د مدیرانو او کارفرمایانو داسې یو نسل وروزي چې امریکایان د هغوئ له لارې دولتي او نادولتي ادارې تر خپل مستقیم کنټرول لاندې راولي او بیا به دغه نسل افغانستان د امریکایانو لپاره په امریکایي طریقه اداره کوي. ځکه چې که د نظام مدیران او مامورین رښتیني مسلمانان وي نو طبیعي ده چې هغوئ به اداره او نظام هم د اسلام د اصولو مطابق چلوي. خو که هغوئ د غرب په لاس روزل شوي لیبرال او سیکولر خلك وي نو نظام به هم د غرب په خوښه چلوي.

د یادو شویو فاکولتو تر څنګ د حرفوي زده کړو د پراختیا لپاره یو بل مرکز هم د (professional Development center) په نامه لري چې د انګلیسي ژبې، اداري، محاسبې، د بشري ځواك د تنظیم، د معلوماتي ټکنالوژۍ، د کمپیوټر د بېلابېلو کورسونو او د تجارت او سرمایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګذارۍ په ډګر کې د ښځو د تمرينونلو او ورته نورو ډګرونو کې حکومت او خارجي کمپنيو ته خدمات وړاندې کوي تر څو لدې لارې خپله د تأثير لمن د افغاني ټولنې په بېلابېلو ډګرونو کې خپره کړي.

د امريکايې پوهنتون غير نصابي فعاليتونه

امريکايي پوهنتون په ټولو هغو اسلامي هېوادونو کې چې شتون لري د خپلو نصابي او تدريسي فعاليتونو تر څنګ يو لړ نور غير نصابي فعاليتونه هم لري، ترڅو وکولای شي دهغو له لارې په پراخه پيمانه خلک تر خپل تاثيرلاندې راولي. ځينې دغه پروګرامونه يې د څېړنيزو پروژو په شکل کې او ځينې نور يې بيا د اجتماعي پروګرامونو په بڼه کې وړاندې کېږي، چې ځينې يې په مختصره توګه په لاندې ډول معرفي کېږي:

۱ـ په پوهنتون کې د کليسا جوړول او په کليسايي فعاليت کې هره ورځ د شاګرادنو شريکول.

۲ـ ځوانانو ته د مسيحي فلمونو نمايش.

۳ـ لکچرونه: د ټولنې د لوړې طبقې غړو ته په بېلابېلو سياسي، اجتماعي، ملي او نورو موضوعاتو لکچرونه ورکول او په غير مستقيم ډول د اسلام په اړه د خلکو په ذهنونوکي شکوک او شبهات اچول لکه: همدغه د کابل د امريکايي پوهنتون يوه استاذ چې شاګردانو ته دا وسوسه اچوونکی سوال مطرح کړ: چې الله تعالی ته خو ورمعلومه ده چې انسان يو ناتوانه مخلوق دی نو بيا يې ولې په دومره ډېرو اوامرو او نواهيو مکلف کړی دی؟

۴ـ داسې سيمينارونه او کنفراسونه جوړول چې شرعي موضوعات لکه شرعي حدود، حقوق او نور ورکې د انساني عقل په تله تللو ته وړاندې کېږي او عقل ورکې د (وحيې) په مقابل کې د حق او د باطل د پېژندلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

معیار ګڼل کېږي ترڅو لدې لارې په وحیې (قرآن او حدیث) باندې د ټولنې د نفوذ لرونکې طبقې اعتماد متزلزل کړي.

۵- د لیبرال (له هر دیني او اخلاقي قید او بند څخه آزاد) تعلیم، (کو ایجوکیشن د (نرو او ښځو ګډ تعلیم)، په پوهنتونونو کې د سینماګانو د جوړولو او په پوهنتونونو کې په مختلفو مناسبتونو کې د هنري او موسیقي غونډو د جوړولو په وسیله د امریکایي فرهنګ د خپرولو لپاره زمینه برابرول.

۶- د مختلفو تحقیقي او څېړنیزو پروژو او سروې ګانو په ترڅ کې د ټولنې د هغو عاداتو او عنعناتو څېړل چې په اسلامي هېوادونو کې د غربي فرهنګ د خپرېدلو مخنیوی کوي. امریکایي پوهنتون د دې کار لپاره بېلابېلو اکاډیمیکو اشخاصو او مؤسساتو ته پروژې ورسپاري او بیا یې نتائج په امریکا کې له هغو ادارو سره شریکوي چې د اسلامي هېوادونو په هکله د امریکا د حکومت بېلابېلو ادارو ته پالیسۍ او تګلارې جوړوي او د لنډې او اوږدې مودې لپاره اهداف ورته تعینوي.

۷- د حکومتي ادارو د مامورینو او کار کوونکو لپاره د انګریزي ژبې اوږد مهاله او لنډ مهاله کورسونه جوړول ترڅو وکولای شي لدې لارې هغوئ هم تر خپل تاثیر لاندې راولي.

اقتصادي استثماري پروژې

د دې لپاره چې په هر اسلامي هېواد کې امریکایي پوهنتون په مالي او اقتصادي لحاظ پخپلو پښو ودرېږي او په نیویارک کې د مرکزي کلیسا (Presbyterian) پر اوږو دروند بار نشي او یا د مالي وسائلو د کمښت له امله له سقوط سره مخ نشي نو په هماغو هېوادونو کې یو لړ ډېرې قوي اقتصادي پروژې هم په کار اچوي چې له یوې خوا د هغو هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصاد په خپل کنټرول کې راولي او له بلې خوا د پوهنتون د چلولو لپاره په محلي سطحه د تمويل سرچينې هم برابرې کړي.

د مثال په ډول په مصر کې امريکايي پوهنتون د (سيون اپ) د مشروباتو فابريکه اخيستی وه. همدارنګه يې په مصر کې د (پيرامايډ) په نامه مشهور هوټل چې د خارجي سياحانو لپاره کارېده اخيستی وو. د دې ترڅنګ يې په قاهره کې د ښاري بسونو پروژه هم چلوله. همدارنګه يې په مصري ښارونو کې په ډېرو مهمو ځايونو کې زمکې اخيستې وې چې وروسته به يې بيا په ډېر لوړ قيمت او حيرانوونکې ګټې خرڅولې. ددې ترڅنګ يې د پوهنتون له چوکاټ نه د باندې د فکري تأثير ګذارۍ او اقتصادي ګټو لپاره په مختلفو ښارونو کې د کمپيوټر او انګريزي ژبې کورسونه هم پرمخ بيول چې همدغه فعاليتونه په ډېرو هېوادونو کې همدا اوس هم پرمخ بيايي.

همدغه امريکايي پوهنتون په مصر کې د امريکا د پراختيا د نړيوالې مؤسسې (USAID) په مرسته د انساني نسل د تحديد لپاره دوه ميليونه مصري جنيه د حمل په مانعو ګوليو او لاړو چارو مصرف کړل.

اوس خبره دا ده چې که چېرې امريکايي پوهنتون په کابل کې هم خپلې پښې ټينګې کړي نو همدغه ډول به په افغانستان کې د هېواد په اقتصادي منابعو منګولې خښې کړي او د مسيحيت د خپرولو لپاره به د افرادو د جوړولو ترڅنګ د خپلو کارونو د پرمخ بيولو لپاره مالي وسائل هم د افغانانو له جيبه تر لاسه کړي ترڅو موږ هم زموږ په خپله چاړه ذبح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امريکايي پوهنتون او د C. I. A لپاره جاسوسي

امريکايي پوهنتون د دې ترڅنګ چې د مسيحيت او غربي کولو لپاره کار کوي د امريکا د مرکزي استخباراتو له سازمان C. I. A سره هم پټ او ښکاره روابط لري او په مسؤولينو کې يې د دغه سازمان غړي ځای پرځای شوي دي. د مثال په ډول (کرستوفر ثورن) د ۷۰ – ۱۹۶۰م کلونو ترمنځ لسيزه کې د قاهرې د امريکايي پوهنتون رئيس او د C. I. A ايجنټ هم ؤ چې په مصرکې يې د دغه سازمان لپاره کار کاوه.

او همدا ډول په بيروت کې د امريکايي پوهنتون يو رئيس (مالکوم کير) د C. I. A غړی و چې په لبنان کې يې د دغه سازمان لپاره کار کاوه.[1]

امريکايي پوهنتونونه په لاندې ذکر شوو ډګرونو کې د C. I. A لپاره فعاليتونه کوي:

۱ـ د اسلامي هېوادونو په پوهنتونونو کې اسلام ته د توجه د ګراف معلومول او د هغه د اسبابو، عواملو، مؤثرو جهتونو او شخصيتونو په هکله C. I. A ته د معلوماتو لېږل چې پدې ډګر کې مهم نقش لري، ترڅو يې د مخنيوي لپاره مناسب تدابير ونيول شي.

۲ـ په اسلامي هېوادونو کې د اسلامي تنظيمونو د فعالتيونو او نفوذ معلومول او بيا د هغو په هلکه C. I. A ته راپورونه تيارول.

۳ـ د جهاد او جهادي مفکورې په اړه پراخې څېړنې ترسره کول او نتائج يې C. I. A ته سپارل.

دا چې نن امريکايانو افغانستان اشغال کړی او زموږ د دين او ملت په مقابل کې يې يوه بې رحمه جګړه روانه کړې ده نو کوښښ کوي چې ددې

1- (مجله التربية المعاصرة) ۴۹ ګڼه، (الجامعة الأمريكية والتبعية الثقافية) د دکتور کمال نجيب بحث.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنتون له لارې چې له جګړې سره په یوه وخت کې زموږ د ملت په تسخیرولو بوخت دی د نن ځوانان هم چې د سبا رهبران دي په C. I. A پورې وتړي تر څو د سبا ورځې دغه رهبران د سبا سیاستګذارۍ او پلانونه د امریکا او غرب د غوښتنو او پالیسیو مطابق عیار کړي.

خاتمه

په تېرو پاڼو کې ولیدل شول چې امریکایي پوهنتون یو خالص مسیحي پوهنتون وي چې امریکا او کلیسا یې د خپلو دیني، استعماري او اقتصادي اهدافو د تحقق لپاره په اسلامي هېوادونو کې جوړوي ترڅو له یوې خوا د اسلامي امت د مخورو او بانفوذه کورنیو بچیان د هغو له لارې مسیحیت ته دعوت کړي او یا یې لږ تر لږه په خپل جال کې راولي، او له بلې خوا د اسلام د خپربدو او د هغه د حاکمیت مخنیوی وکوي.
دغه هڅه اوکوښښ اوس په افغانستان کې هم د کابل د امریکایي پوهنتون (A. U. F. A) په شکل کې روان دی. که چېرې د دې ملت بادرده او با احساسه ځوانان او اسلامي خوځښت د دغې لویې فتنې مخنیوئ له همدا اوس څخه ونه کړي، نو کېدای شي چې دغه پوهنتون په افغانستان او سیمه کې د اسلام د مستقبل لپاره تر ټولو د لوی خطر په حیث رامنځته شي.
دا چې د دې کرښو لیکونکي ته د دغه پوهنتون د حقیقت، تاریخ او اهدافو په اړه یو اندازه معلومات حاصل شوي ول نو هغه مې ترتیب کړل او د خپل انفرادي مسؤولیت د رفع کولو په خاطر مې د خپل ملت د با احساسه، بایمانه او مؤمنو ځوانانو مخې ته کېښودل، هیله ده چې د هېواد د مخلصو بچیانو د توجه وړ به وګرځي او د دې آزادي خوښوونکي او اسلامپال ولس د بچیانو پام به د کفارو او مستعمرینو شیطاني دسیسو ته ورواړوي.

پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library